# ژبپانگه

# ژبپانګه

سرمحقق دوست شینواري

سرمحقق دوست شینواری

Download from:aghalibrary.com

Download from:aghalibrary.com

# ژبپانگه

سرمحقق دوست شینواری

۱۳۷۷ هـ ش کال

PROPERTY OF ACKU 7444
PROPERTY OF ARIC Established 1989
AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00007444 2

بسم الله الرحمن الرحيم

ACKU

د کتاب پېژندنه

* د کتاب نوم : ژپانگه .
* لیکوال : سرمحقق دوست محمد دوست شینواری .
* د چاپ کال : ۱۹۹۸م/۱۳۷۷هش
* د چاپ ځای : پېښور .
* د چاپ شمېر : ۵۰۰ ټوکه .
* د چاپ سمبالوونکی : دانش کتاب پلورنځی ډهکی نعلبندی قصه خوانی .
* د پوښ جوړوونکی : فقیر گل شینواری .
* کمپوزر : مجیب الله .
* کمپوز : سبا کتابخانه- ډهکی نعلبندی، قصه خوانی .

د چاپ اهتمام : ستانه میر زهیر

Download from:aghalibrary.com

# ددې اثر په هکله څو خبرې

دا اثر چې نن ستاسو په لاسوکې دی او د ژبپانګې په نامه نومول شوی د «زرې پانګې» د کار ادامه ده، چې زما د مرحوم پلار د افغانستان د علومو اکاډمۍ د غړي ارواښاد سرمحقق دوست محمد دوست شینواري د اوږده زیار او زحمت محصول دئ. مؤلف د دغه کتاب د تالیف له پاره کلونه، کلونه، شپه او ورځ په ځان یوه کړې وه. ددیرو کتابونو پاڼې یې اړولې د سر نه تر پایه لوستلې او په هغو کې یې د پښتو ژبې زرې کلمې چاڼ او راټولې کړې. تر هغه ځایه چې محققین او څېړونکي پرې ښه پوهیږي دا کار دومره ساده او اسان نه دی ددې کار له پاره هغه د ډیرو کتابتونونو دروازې ټکولې او ډیرې ستړې او



Download from:aghalibrary.com

سرګردانۍ یې په ځان تیرې کړې دي.

کله چې په ۱۳۷۱ هـ ش کال د ثور په میاشت کې کابل د مجاهدینو لاس ته ورغی مؤلف د زړو کلاسیکو متونو د کتلو کار تقریباً خلاص کړی و او د کلمو د معنی په پیدا کولو او د الفبا په چوکاټ کې د هغو د ترتیب په کار لګیا و. په دې ورځو کې د افغانستان د علومو اکاډمی د ژبو او ادبیاتو مرکز د وسله والو ډلو د استوګنې ځاله وګرځیده.

کله چې ارواښاد دوست شینواري یو سهار د اکاډمی د نورو غړو سره یو ځای دفتر ته لاړه ویې لیدل چې د دفترونو دروازې ماتې وې، میزونه توته، توته پراته و. کتابونه، قلمي نسخې، علمي پروژې او نور هرڅه د دفترنو په غولو او دهلیزو کې خواره واره پراته وو. ځو شپې او ورځې وسله وال کسان پرې ګرځیدلي راګرځیدلي و چې یوه زړه بوږنونکې منظره یې تشکیل کړې وه. دوست شینواري او د اکاډمی نور ټول غړي د دې صحنې په لیدلو حیران دریان ودریدل. دوست صاحب ویل چې زه ډیر خواشینی شوم، اول مې د همدې کتاب (ژبپانګې) د پاڼو په راټولولو پیل وکړ. ډیرې مې راټولې کړې خو یو څه یې ورکې وې، له نیکه مرغه د هغو پاڼو نقل په کور کې راسره و.

وروسته مونږ ټول د وسله والو کسانو د ډلې مشر ته ورغلو او هغه ته مو له دې وضعې نه شکایت وکړ خو هغه په ځواب کې راته وویل: «د دې کتابونو وخت تیر دی، دا نور په درد نه خوري.» ټول نا امیده بیرته خپلو دفترو ته راغلو او خپل خواره واره کتابونه مو راټول او په الماریو او



Download from:aghalibrary.com

میزخانو کې مو ځای په ځای کړل. مونږ دا فکر کاوه چې اوس خو به یې غوصه سړه شوې وي نور به ورسره څوک کار نه لري. خو کله چې سبا سهار بیا دفتر ته لاړو د پرون ورځې نه مو بدتر حالت ولیده چې د هغه حالت لیکلو ته د قلم ژبه اجازه نه ورکوي. مؤلف مجبور شو چې د دې کتاب پاتې د دفتر نه کور ته راوړي.

که څه هم په هغو ورځو کې د علم او فرهنګ له پاره د کار زمینه ډېره تیاره ښکاریده خو بیا هم ارواښاد دوست شینواري نا امیده نه شو او د دې کتاب د بشپړتیا له پاره یې په کور کې خپل کار ته دوام ورکړ. کله چې د همدې کال د سرطان په میاشت کې په کابل کې یو ځل بیا جنګ ډېر تود شو نو د کابل د نورو ښاریانو په څیر دوست صاحب هم جلال آباد ته کډه راوکړه. یو څو شپې یې په پېښور کې تیرې کړې خو بیرته ژر جلال آباد ته راستون شو او دلته یې هم خپل لوی مصروفیت د همدې کتاب بشپړتیا کارو. کله چې په کابل کې د جګړه مارو ترمنځ اور بند وشو او وضعه لږ څه آرامه شوه نو دوست صاحب هم بیرته کابل ته لاړه او په خپل کور کې یې خپل عادي ژوند ته دوام ورکاوه دا چې په دفترونو کې میز او چوکۍ هر څه له منځه تللي وو او مامورین به یوازې په اونۍ کې یو ځل د حاضرۍ امضاء کولو ته ورتلل نو دوست صاحب د دغه وخت نه په استفادې سره په ډېره چټکۍ د دې کتاب په بشپړتیا باندې کار وکړ. سره له دې چې په دې وخت کې یې دسترګو دید ډېر کمزوری شوی و د یوه قوي لوپ (ذره بین) په ذریعه به یې د کتاب متن کوت هغه به یې

ماته وايه او ما به هغه د کاغذ به مخ ليکه.

ښه مې په ياد دي چې يوه ورځ د کابل په ښار د راکټو باران وريده زمونږ د بلاک د مخامخ بلاک په يوه کوټه کې راکټ ولګيده د يوې کورنۍ اته کسه چې د کارته نو د سيمې نه ميکروريانو ته راتښتيدلي وو چې ګوندې دا به محفوظ ځای وي ځای په ځای مړه شول. زمونږ د بلاک اوسيدونکي هم ډير وارخطا شول په دهليزو کې د ښځو او ماشومانو د ژړا او انګولا انګازو غوږونه کڼول. ټول د زيرزمينو (تهکاويو) په لور منډې وهلې. ما دوست صاحب ته وويل چې ځی مونږ او تاسو هم کوز شو هغه چې د همدې کتاب په ليکلو اخته و په ځواب کې يې راته وويل ځه ته واړه ټول زيرمينيو ته بوځه زه چې دغه لږ کار خلاص کړم زه هم درځم.

لنډه دا چې دوست صاحب تل په همدې هلو ځلو کې و چې کتاب بايد ژر خلاص شي. هو! د کتاب کار يې خلاص کړ. خو د خپل ژوند د وروستيو سلګيو سره يو ځای، د ۱۳۷۲ کال د حمل د مياشتې په لسمه نيټه په داسې حال کې چې د (ی) د رديف وروستيو لغتونو معنی او تشريح ته يې د پای ټکی کيښود، ده ته د زړه ناروغۍ پيښه شوه او په سبا يې چې د حمل يولسمه نيټه وه له فانی دنيا څخه د تل له پاره سترګې پټې کړې. (روح دې ښاد وي).

د همدې کال د جدی په اوله نيټه يو ځل بيا د کابل فضا د باروتو لوګيو او د جګړې د اور لمبو په خپل غيږ کې ونيوله. مونږ مجبور شو چې په توره شپه له خپله کوره تش لاس ووځو، جګړه ډيره اوږده شوه مونږ

دري، څلور میاشتې په خیرخانې مېنه کې تېرې کړې خو کله چې په جګړه کې لږ څه سړښت راغی نو د کور د لیدلو له پاره راغلم. د کور ټول سامان د لوټمارانو له خوا لوټ شوی و. د دوست صاحب د کتابتون په منځ کې یو راکټ هم لګیدلی و چې تقریباً ټول کتابونه یې د اور د لمبو خوراک شوی و او څه یې هم وسله والو ډلو له ځان سره وړی وو. خو له نیکه مرغه د همدې کتاب مسوده د کور په یوه کونج کې محفوظه پاتې وه. موږ هم دا د تعویذ غوندې وساتله او د ځان سره مو پېښور ته راوړله. دوستانو او آشنایانو ته مو وړاندې کړه هرچا به چې ولیده ویل به یې د پښتو ژبې د غنا له پاره ډېر ښه کتاب دی باید چې ډېر ژر چاپ شي، خدای مه کړه چې ضایع نه شي. خو هغه څوک چې به ددې کتاب په ارزښت پوهیده د هغو سره به پیسې نه وې او هغه چا سره به چې پیسې وې بیا به د کتاب په ارزښت نه پوهیده او ځنې کسه به بیا پوهیده او امکانات به هم ورسره و خو د خپلې تنګ نظرۍ په حلقه کې به راګیر و. ځینو خو تېر وواهه چې ته ترینه خلاص یې زه یې درته چاپوم خو خبره به چې سپینې ته راغله ځان به یې کوڼ او ړوند واچاوه.

په هر حال، پخپله مې متې راونغاړلې د پښتو ژبې د پیاوړی محقق او نومیالي لیکوال ګران ورور زلمی هیواد مل سره په تماس کې شوم. د هغه پوره تشویق او ګټور و لارښوونو په رڼا کې مې د مهاجرت او غربت په دنیا کې د چاپ دلګښت له پاره یو څو روپۍ پیدا کړې او دا کتاب مې پرې چاپ کړ. په پای کې د ډېر قدرمن ورور زلمی هیواد مل او خپل ماما

انجنیر ستانه میر زهیر څخه یوه دنیا مننه کوم چې د کتاب د چاپ په کار کې یې له ما سره نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې دي.

همدارنګه د دانش کتابخانې د متصدي اسدالله ساپي، کمپوزر مجیب الله او صحاف فقیر ګل شینواري څخه هم زیاته مننه کوم چې ددې کتاب په چاپ کې یې ډیر زیار او زحمت ایستلی دی.

ددې یادښت په پای کې یوه ضروري یادونه دا ده چې: په کتاب کې ځنې لغتونه شته چې مؤلف یې تر هغه وخته پورې ورته فونیمیک الفبا نه وه لیکلې ښایي وروسته به یې ورته لیکله خو مرګ یې دا هیله نیمګړې کړه. هیله ده چې دا عذر به ومنئ.

په درناوی

فضل الله دوست شینواری

د مې میاشت ۱۹۹۸ کال

پېښور ښار

## د مهتمم یادونه:

د اروابناد مؤلف د ناڅاپي مړینې له امله د کتاب ځنې لغتونه په فونیمیک الفبا نه دی کښل شوی او هغه لغتونه چې په فونیمیکه بڼه راغلی دی د تصحیح په وخت کې په ځنو تورو باندې پاسنې نښه لکه (ǵ, ź) سهوداً لیکل شوې ده چې سم شکل یې دا سې (ǧ, ž) دی.
د لغتونو د سم تلفظ لپاره مونږ ضرور وګڼله چې د پښتو ژبې منلې بشپړه فونیمیک الفبا دلته راوړل شي، ترڅو درانه لوستونکی د کتاب د لوستلو په وخت کې د ستونزو سره مخامخ نه شي.

| د پښتو ژبې بشپړه فونیمیکه الفبې | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| معمول توري | فونیمیک توري | مثالونه | فونیمیک تلفظ | معمول توري | فونیمیک توري | مثالونه | فونیمیک تلفظ |
| ا | a | سر، اتل، | sar, atál, | چ | č | چاکو | čākú |
| | | شپه | špa | ځ | j | ځای | jāy |
| آ | ā | آس، ویار، | ās, wyār, | څ | c | څوک | cok |
| | | سبا | sabá | ح | h | حاصل | hāsil |
| ب | b | بار | bār | خ | x | خور | xor, xor |
| پ | p | پښتو | paṣtó | د | d | دود | dod |
| ت | t | تور | tor | ډ | ḍ | ډېر | ḍer |
| ټ | ṭ | ټول | ṭol | ذ | z | ذکي | zakí |
| ث | s | ثابت | sābit | ر | r | رب | rap |
| ج | j | جوړ | joṛ | ړ | ṛ | ړوند | ṛūnd |

| معمول توری | فونیمیک توری | مثالونه | فونیمیک تلفظ |
|---|---|---|---|
| ز | z | زور | zor |
| ژ | ž | ژوند | žuənd |
| ږ | ẓ | ږغ | ẓaġ |
| س | s | سم | sam |
| ش | š | شلومبې | šlūmbé |
| ښ | ṣ | ښاغلی | ṣāğəlay |
| ص | s | صادق | sādíq |
| ض | z | ضرر | zarár |
| ط | t | طاقت | tāqát |
| ظ | z | ظالم | zālím |
| ع | ʕ | عادت، وعده<br>موضوع | ʕādát, waʕdá<br>mawzó |
| غ | ğ | غمی | ğamáy |
| ف | f | فاصله | fāsılá |
| ق | q | قانون | qānūn |
| ک | k | کار | kār |
| ګ | g | ګډ | gaḍ |
| ل | l | لاس | lās |
| م | m | مور | moṛ |
| ن | n | نن | nən |
| ڼ | ṇ | منه | maṇá |
| و | w | واده<br>ژړول | wādá<br>žəṛawə́l |
| ه | h | هر<br>سحار | har<br>sahā́r |
| ي | y | یور،<br>مېلمستیا<br>ویاړ | yor,<br>melməstyā́<br>wyāṛ |
| و | o | کور، اوبه | kor, obə́ |
| و | ū | سور | sūr |
| پېښ | u | سُر (په موسیقۍ کې) | sur |
| ناپر | ı | اِبره<br>امضا | ıbrá<br>ımzā́ |
| ي | i | ویر | wir |
| ې | e | تېر<br>مستې | ter<br>masté |
| ی | ay | سړی | saṛáy |
| ۍ | əy | هلۍ | heláy |
| زورکی | ə | نیکه<br>زړه | nikə́<br>zṛə |

• د پښتو ژبې د فونیمیکي الفبې لارښود" نومي کتاب څخه - د شیرزوال سکندر عبدالکریم حقاني اثر.

# الف- A

**ابره ibrá :**

دعا ،پ. ت. ق(د زمکې حاصل ، گته، یقین ، اعتماد ) په معنا وو اخیستی دی، خو دلته ددعا معنا لری. له بیتونو وروسته هغه مشهوره مسنونه دعا لیکله شوې ده چې هدیرې ته د ورتگ په وخت کې سنت ده.

چې څوک لاړ شی اهل صبر — په زیارت د چا د قبر
دوگانه لمونځ دې وکاندې — په الحمد، کرسی باندې
بعد از آن دې هغه ځوان — په ادب شی ور روان
چې داخل په مقبرې شی — دې گویا په دا ابرې شی

(شرعه ۲۲۸ مخ)



ACKU

**اتراغ otrág:**

اړونه، موقتی مینه نیونه، تیکاوء ترکی الاصله پښتو شوې کلمه ده.

ورنه بار یې کړ اسباب تمام د حسن
قافله یې شوه د خط په مخ اتراغه
لار شو، بار شو هر اسباب د یار د حسن
قافله وربانديې شوه د خط اتراغه
بار یې په یو واري که د مانه رخت د صبر
ستا د غم بهیر مې چې په زړه وکه اتراغ

(نعیم دریواړه ځایه)

**اتکل atkál:**

واک، اراده، اختیار د (۱- تخمین، گومان، ۲- اندازه، مقدار) په معناو پ، ت، ق اخیستی. په دویمه معنا په روښانی آثارو کې زیات راغلی دی. (و گ. زړه پانگه)

که یاری وه د عاشق په اتکل څه شی
چې د ښکلیو په اتکل کې نه وه نه شوه (علیخان)

**اجړ ajar:**

۱- شادیوان (پ.ت، ق) ۲- توی، دوز ورمه.

د مطلب انسانیت مې حاصل نه شو
په کنډک پسې روان د بزو اجړ یم (میا جناب کاکا خیل)

اجړ به مې قطار شي پکې وي به لوي وزان

د پاره د کوتن به له ما پیرې قصاب ...

لواړ اجړ به خرڅ کړمه روپۍ به شي بسیار

(ا. س. ا. ټ ۲۹٦ مخ) (حافظ عظیم گنده پور )

**اچول acawal:**

د اغوستل په معنا په پښتونخوا کې تداول لري.

د غضب جامې دې واچولې خړې
نه پوهیږې شپه او ورځ په خپله سترې
د مانده هسې په هرچا پورې نښلې
پاک عالم پلیتوې لرگی ککړې

(پټ ستوری ۲۵۳ مخ)

**اچیدل acedal:**

لویدل، اچول کیدل (د اچول لازمي فعل)

مکړه خدای د پاره ستم واوره ستمگرې
غوړ راته و نیسه، کوم تا ته څو خبرې
زه که چیرې مړشوم څه به کړې د خدای ځواب
ماته ستا له عشقه اچیدلی اور د سرې

(اس. ۲ټ ۱٦۱ مخ)

**ادار adar:**

داروگر، روغتیا پال، طبیب.

دا عمــل هم دردول کــا       داعــمل دارو ادار
د بیدرد لـه شهد و قند ومی توبه دد
د مین حنظل دارو دی ، می ادار (گگیانی دواړه ځابه)

**ادرم adrám:**

اغیز ، اثر ، تاثیر (پ.ت.ق)

... بیا یې خپل زنګون دده پرورانـه سربیره کړ چې ګونډي دده تـه بـه خوند ورکي ، خو جلات خان لکه شڅه هیڅ ادرم نـه پرکیږي.
(م. هـ نوی چاپ ۱٤۸ مخ)

**اډ aḍ:**

شریک ، ګډ

زه ختیک پـه بیجا پور ، آشنا پـه روه دی
ولایت موسـره اډ د هندو بـــار دی (هجری ٤٥٦ مخ)

**اډاب áḍáb:**

محشی د ګــروی معـــنا ورکـــړې دلتـه د (منت، احسـان) مـعنا ترې ښکاري.

وه لورې سوال درته کــــــومه
که مې سوال اخې اډاب دې وړمه (انګی ٥٧٥مخ)

**اربوده arbodá:**

موږ ، پښتو تشریحی قاموس اخیستی دی.

که نن شپـه دې اربوده پـه سپینه خوله کـړم
بیا دې خوار شم که مې غـــم د ســـبا وخـوړ     (شمس الدين کاکړ)

**ارجل arjál:**

بندی، تړلی .

یا به دې غوږ د برندو سترګو په قصاب نه کاندی
ځو دې ارجل د تورو زلـــفو په طناب نه کـاندی (حسین ۱۱۶ مخ)

زړه ارجل په تور زلفو نه خلاصیږی
ځو ک پوهیږی په دې غوټو پرنستو (حسین ۳۸۳)

که مې روح سفر د تن له سرایه وکا
خلاص به نه شی ستا د زلفو له ارجله (حسین ۰ ٤٥ مخ)

**ارجل برجل:**

نښتی، اړ و پیڅ.

چې توبرې پکی د عشق ارجل برجـــل دی
سورې سورې مې پرې ځکه درست ګوګل دی (بیاض)

**ارخچین araxčín:**

یو ډول ښځینه خولۍ ده، د ارخچینه په فورم هم راغلی دی.

لـیلی په نرمـــه خـــوله لیــږلی دی ګلچــین
زمـا د پاره کـمـیس جـوړ کـړه کـمـرچـین
د تـا له پاره خـــوبـه جـــوړ کـــړم ارخـچـــین
چې د ځـوانانو ســره کـښیـــنی په ربـــاب (ا. س. ۲ټ۱۶۹مـخ)

ټن دی قطار کړی دې روپۍ په ارخچـــینه
وکړه لږ نظر ،محبوبې زړه مې شو غمګینه (ا. س. ا . ټ ۷۶ مخ)

**ارغال argḡāl:**

برغل، برید، حمله .

وای په ځان د هغه چا چې په ده گرم و
ورځ و شپه یې کاوه باندې ارغـــال (عبدالقادر ختهک ٤٦١ مخ)

وړاندې تر مالا ړل و دربار ته په ارغـــال
وبې کړ بخشی ته له دې حاله قیل و قال (خوشحال ترکیب بند)

**ارغوښت argôṣt:**

غریونیولی، زیړرنگی، زیرکی (محشی) .

یا رحمت ارغوښت عاشق پر کشمیر ناست دی
یا رحمـــــان ســـړه بنی پر پیـــښـــور کـــې (رحمت داوی)

**ارکان:**

په جوړ صورت مې هیڅ خواړه د گمان بیا نه مونده
چې چونگ ایره شوم ستا د عشق هله ارکان و ختم (حسین ١٢٤ مخ)

د اجل په ورځ دواړه برابـر شـــی
که گدا وی کند په غاړه یا ارکان (حسین ٣٦٠ مخ)

مــړه خـــوالـه خلقه پته پـــادشـــاهــي کـا
سپیره سر د وهی ته ناست ملنگ ارکان دې (حسین ٤٧٠)

**ارکه arkā:**

یو ډول هیلۍ ده.

د سوتا ښـــایســـته غـــاړې چې یـې وویـنـــې و ویـــاړې

...

لــــه دریـانه ترگـــودره　　　لـه گـــودره تـر کـــمره

په ارکه ومــــالامـال دی　　　سونا هم په کې خال خال دی

(فراقنامه ۴۷مخ)

**ارگ arg:**

کوټ، حصار، له ارگه پریوتل= ذلیل کیدل، د زړه له ارگه پریوتل =له توجه او پامه لویدل.

پر فقیر دولت به چیرې دلسوزی کا

مرگی ځو پادشاهان پرې ایستل له ارگه　(دولت لوانی ۱۴۴ مخ)

بادشهان د زمانې به کوزوی له تخت و تاجه

امراگان د ولایت به پاځوی له ارگ و برگـه　(مست بابا ۳۹ مخ)

**یادونه:** ارگ د حصار په معنا په پهلوی کې هم موجود و، ضمناً په زړه پانگه کې د کمره او پان په معنا تصحیح شو.

**ارل arǝl:**

تړل شوی، بند شوی، تپ شوی، د میرزا خان په شعر کې اورل هم وگوری.

هر کلام یې په سنگ کښیووت　　　د خپل جهد په صیقل شی

د حضرت له نظر پریووت　　　ناقبول کتــاب ارل شـی

(واصل ۹۵ مخ)

**یادونه:** ارلی= هغه اوږده لکړه چې لاره په بنده وی او پ. ت. ق اخیستی له دغې ریښې ده.

**اړاو araw:**

آزاد لاسی، خلاص لاسی. د ننګرهار په ځينو سيمو کې تداول لری، وايي چې فلانی په لاس کې ډيره اړاو دی، يعنی سوګټ او ممسک نه دی.

بې اړاوه = بې خرته، بې اندازې.

د دنيا د دولت ويش د چا په لاس دی
چې يې ورکا بې اړاوه ګيدی خرته
که زما په لاس او دست د دنيا ويش وای
ما به ورکړای يو چونګ خاورې بې هنر ته (خ. متفرقه ۱-۹ مخ)

**اړدو urdu:**

اردو، پوځ، لښکر. د اردو ترکی الاصله کلمه په تاريخ مرصع کې څو ځايه مثلاً په (۱۲۳-۲۷۹-۲۸۲... مخونو) کې د ( ړ ) په غږ ثبت ده.

... له دې غيرته حبيب خان خپل غلونه واستول د بهارې د سرای نه عين د پادشاه د اړدو د بزازانو چې ورپسې بې رخت وړه ډيره رخت يې پټ کړ. (ت. م. ۲۷۹مخ)

**اړل aral:**

مووت، موود، اړه، کسبګر ته په فصل کې ټاکلی اندازه.

د شيطان ياری په زور دی نادان نفس ورسره ورور دی
مايه نه لری له کوره دده کور د اړل پور دی
(واصل ۱۱۷ غزل)

**يادونه:** اړه د مووت په معنا د پښتنو ټولنيز اقتصادی جوړښت په ۱۱۹

مخ کې راغلی د علومو اکاډمی - پښتو څېړنو بین المللی مرکز خپرونه.

**اړو پړ:**

زړه زما د عنکبوت په شان رانه اړوپړ
د عشق په جال کې ونښاته (عبدالعظیم رانیزی)

**اړو پېڅ ar- o- péc:**

که سوربړی بې نانځرې په یوه دابه دوه ، درې
نشته باک په داکې هیڅ نه گناه ، نه اړو پېڅ
(شرعه ۸۵ مخ)

چې پیرزو په بنده شرکا خدای یې خلاص د لې بشر کا
ورته نه پیښوی هیڅ په دنیا کې اړو پېڅ
(شرعه ۲۰۳ مخ)

په ناقل د نقل هیڅ نشته حرف د اړو پېڅ (شرعه ۳۲۹ مخ)

**اړوړ ar- war:**

تړلی ، بند ، مسدود.

که ته نیت وکړی د خوابه بسم الله وایه احبابه
دروازه کړه اړه وړه په پردې اویا په دړه
(اسرار العارفین ۵۱ مخ)

**اړه:**

موت ، مجازاً قلنگ.

دغه واړه ستا دحسن برکت دي
چې جاري دي په هر چا باندې اړه دده (بیاض)

**اړیا aṛyá:**

اړ، ایسار، بند (د وړیا، لګیا، بسیا په څیر صفت دی) •

مصری اړ یا نه دہ، نه په غوټ، نه په واړه (د مروتو کسرونه ۲۷ مخ)

په مخ یې توښې توښې نیازی وو

اړیا نه دی د توشـو په ګـډول (د مروتو کسرونه ۹۷ مخ)

اړیا کلـه په فقیر لا په قاضـی ده

دوی زلمیان ځکه حاکم څخه پټیږینه (د مروتو کسرونه ۱۱۸ مخ)

**ازره:**

چې پې مینه پیزوانی په لار روان کا

څه ازره د شاجهان یاد اورنګ شوې (حسین ٦٥٤ مخ)

**ازلانه azlāná:**

ستوغه خبره، سخته خبره (محشی) •

یو به د یونو ازلانی کـیږی په ما به لور له لوره جګیږی

(انګی ٦٤٢ مخ)

**اژدر azdár، اږدر azdár، اګدر agdár:**

ښامار، اژدها. پ، ت، ق اژدر اخیستی په زړو متونو کې په دریو اړو فورمونومونډل کیږی. دغه کلمه چې په اویستا کې د اژیدهاک=(اژدها) په فورم موجود ده په پښتو کې دمار د صفت په حیث هم راغلی ده.

اژدرمار=لوی مار.

مخ یې ګنج دی دواړه زلفې یې مارونه

سـربازان به ګنج اخلی لـه اژدرو (عبدالقادر خټک ۱۳۸ مخ)

واوډواد ســــړيه د تا کــــارونه
پهخپل همت کړی څه کوپارونه
پهدام له سينده ماهی راکــارې
پهدام له سوړی اژدر مــــارونه
(عبدالقادر ختيک ۳۸٦ مخ)

د مرده په دود بې دمه زير زرغون شوم
چې مې وليد ستا د زلفو د اږدر مخ (بيدل)

داهپ کړی يم ښامار چې نن بې دم يم
که د يار د زلــفو تــور اګــــدر دی دا (حسين)

د زړه سر يې د حرص په زهرو وچوی
هپ دی نه کا څوک اګدر دډې دنيا (حسين)

**اساده:**

آسوده، آرام.

چې هر څوک يې اساده و په سايه کې
هغه نخل د ښــادی وخـوت له ولـــو (پټ ستوري ميا نعيم، ٦۰مخ)

**اسامی asāmáy:**

سامی، بډای شخص چې يو څه ترې په يوه ذريعه بوديدای شی او طمعه ورته کيږی. د نارينه او ښځينه دواړو له پاره يو شان استعماليږی.

... هلته راغلل، په دې خيال چې دا هم غوړه اسامی ده، ګيرول يې په کار دی، خو په ما يې دم ونه چليده ( زما ژوند او جدو جهد ۹۷ مخ)

**یادونه**: اسامی او د علیخان په راتلونکی شعر کې سامی اصلاً په یود معنا دي چې هلته د شطرنج د گوټک په معنا ده خو د دواړو سره څه بود او خدمت فکر ته راځی. شعر دا دی:

هرچې یې پیاده فانی شی ځان باقی کا
خوار عاشق د یار هغه کړه ســـامی ده (علیخان)

**اسایښت asayést:**

هوساینه، استراحت. له آسایش څخه پښتو شوې ده.

د لتاړ په دیوان کې لږ تر لږه شپږ ځایه راغلې ده، یو مثال یې دا دی:

اســـــایښت به په دوه کـــونو کا یارانو
که لتاړو ته څرگند کاندی خپل یار مخ (لتاړ ٤٤ مخ)

**استواځی astowazáy:**

استازی، قاصد • داستول له فعله - قاموسونو استازی اخیستی دی.

ځوانی چې لاړه بیا نه ځوانیږو — اوجـاړ شـــو بویه چې ودانیږو
په مخ استواځی د طلب راغلل — تاسو خدای ساته، موږ روانیږو
(عبدالقادر ختک ۳۷۳ مخ)

ته وکړه، وکـــړه ســـامان د تلـــلو
پخـــوا تـــر هغـــه چې د بلـــــلو
استواځی راشی چې اوس رادرومه
وخت د حســـاب دی وخت د تللـو
(عبدالقادر ختک ۳۷٦ مخ)

**استون astún:**

معاشرت، گوزاره، روزگـار.

څوک چې قطع پیوستون کا فرشتې ترې قدم ســـتون کا
چې له خپلو ښه اســـتون کا له هغو خدای پیوســـتون کا

(شرعه ۱۶۷ مخ)

**اسیگی asegáy:**

بیوزلی، خوار وزار، اسکیرلی.

... یوه گړۍ پس کـه یې کتل چې د طالبانو په یاېځوړ کې یو سپیره اسیگی او اسکیرلی طالب راغی... (م. هـ ۲۰ مخ طالب جان او گلبشره)

**اگوچې کول agućik:**

۱- خـا پوړې کـول. ۲- څـه بودول، څـه تر لاســه کـول. پ. ر، ق اخیستی دی.

سنک له لوړې اگو چې کوي = سنک له لوړې خا پوړې کوی.

(پښتو اصطلاحات ۲۰۶ مخ)

**الاو aláw:**

وریتیدنه، سوون (له الوی، لوی سره یې ریښه یوه ده)

بې هوده فخر رها، فکر د ځان کړه

چې وریت نه شې په لمبو کې د الاو (هجری ۴۲۸ مخ)

**التای altáy:** برعکس.

... نو دې ظالم له راغی او ورته یې نصیحت شروع کړ... دې ظالم په ځای ددې چې دا نیک نصیحت منلی وای التهای په ده راسور شو او ډیرې

رتې پتې بې ورته وویلې (انوار سهیلی ۳٦۹ مخ)

**الغه algá:**

کړی، حلقه، الغه کول = تیر ایستل، غولول، پ. ر. ق په الغه کښیوتل = په کړی کې نښتل.

... زما زړه خو اوس ستا د تورو زلفو په الغه کښیووت. (م. هـ ۳۷ مخ نوی چاپ، ٤۸ مخ زوړ چاپ ښادی خان او بیبو)

**الواک alwák:**

هلواک، نارام، مظطرب، نا قرار. د «ا - هـ» د غبرونو په بدلون د (هډه، اډه، هډوکی-اډوکی...) په شان الواک او هلواک یوه کلمه ده چې په معنا کې هم توپیر نه لري. پ. ت. ق د لید، دید، نظر، تیوري، نظریه په معنا اخیستی، چې د تأمل وړ دی.

دغه سترگې به دې قوت شی د چینجیو

چې له کبره پرې کاته کوی الواک (التاړ ۸۷ مخ)

نه یې خوب نه یې خوراک وی

لکه خوږ غرڅه الواک وی (فراقنامه ۲ ٥ مخ)

په هر کال به چې راتلل د سوات بازونه

چې مې زړه پسې الواک و واړه تیر شو (فراقنامه ٦ مخ)

ده به وی ماغزه د سر زما دی د ستمگر

د ظلمونو په خوراک دی زما ماغزه الواک

(مناقب جمیل بیگ ۲٤۸ مخ)

**یادونه:** په همدغه معنا د هلواک په باب زره پانگه مثالونه لري.

**الوند alwánd:**

حایل، حاجب. لومړی معنا یې (ډیر لوړ) ده (زره پانگه)

د صافی قصور په قدر د کنځلی
د زره سترگو ته په مخه کې الوند شو (غزونی ۲۱۷ مخ)

**الونیا aluniā:**

پناه، له نظره پټ.

... دلته ستا مینه اوردی چې ماسوځی، تر دې دغه ښه دی چې سترگې مې الونیا وی. (م. هـ ښادی خان ٤٥ مخ زوړ چاپ، ۳٥ مخ نوی چاپ)

**الوی alwáy:**

نارامی، ناقراری، اضطراب (له الواک سره یې ریښه یوه ښکاری)

په موږ گډې مسوې الوی مخلوک خبرسو زموږ په بوغی
(انگی ۲۲٥مخ)

وې تر سهاره زموږ الوی رب دې کی ور د جنت ښادی
(انگی ۲۲٦مخ)

**اله باش alabə́s:**

لټون.

زره مې ورک کړ د دلبر په اله باش
بیا مې نه موند په تدبیر او په تلاش (علیخان ٦٥ مخ)

**امنه amná:**

د مرگی له غمه هسې پریشان شــوم
خوار خسته وچه امنه گل د خزان شوم (ابوالقاسم ۱۹۳ مخ)

**امی amáy:**

خپل خپلوان، د خپلو خپلوانو مجموعه.

که کلکه دامي د گرد کلکه
پښې مې باندې خوړ سي - پلاره ملتاني کپی راوکه
(فولکلوري سوغات ۹۳ مخ)

**انبول anból:**

۱- وير، ماتم. ۲- ژړا ساندی (پ. ت. ق)

چې پرون پرې غږیدې سندرې د ول
نــن یې وار دی په ژړا او په انبــول (حمید ۱۸۵ مخ)

**انج anj:**

یو غرنی تریخ بوټی دی. (محشی)

په سر واره مو دی زره روښان
لالک مــامــا دی د انجــونار (انگی ۵۹۵ مخ)

**انځور anjór:**

۱- رسم، کښیده، نقش، نښان. ۲- ښکلا، ښایست، جمال.

دویمه معنا یې مجازی ده. پ. ت. ق یوازې په لومړۍ معنا اخیستی.

د دویمی معنا مثالونه:

زه مدام د یار په مینه ښایسته وم
اوس نیمګړې کنبیده یم بې انځوره (انصاری ۱۳۵ مخ)

که په مخ کې پتی (خاپ) تور شی
د خوبانو ورک انځور شی
لکه ابر په قمر شی
مبدل یې ښه بشر شی
(د صدیق طب)

که چا مار ولید په کور کې
دا سنت دی په انځور کې
چې دا هسې دې درې ځله
ورته ووایي په ځله ...
(شرعه ۱۷۷ مخ)

**یادونه:** په وروستی بیت کې معنا زیات غور غواړی.

**اندار andár:**

ورک، نایاب. اندار کیدل= ورک کیدل، نایاب کیدل (محشی) ۰

څه د یرې بدې وشی ربه زمونږ په زمانی کې
هر څاڅکی اندار سو اوبه نه مومو کوزې کې
(د مروتو کسرونه ۹۸ مخ)

**اندام andám**: برابر، سم، سمون لرونکی.

فدوی! نه بې اندام سوی
ته چې نه وینې عرفان د دې دنیا (ج. فدوی)

که زما په غاړه نه وای ګریوانه
بیا به وه هره خبره اندامه (انګی ۳٦۵ مخ)

**اندرغل andar ĝal:**

خلل لرونکی، هغه څه چې ظاهر یې سم خو باطن یې روک نه وي.

ستا لومه شوه اندر غله        نه خلاصیږی لـــه خلله

(واصل ۸۹ مخ اتمه قصیده)

**انډوخر:**

بیګا شپه په انډوخر کې د خـــوبانو

څول څول تلی رانه کندد ګدایي دي (بیاض)

**انګروزه angroza:**

انګازه، آوازه.

ګلمکی یې په زیر زمینی کې واچوله او دا انګروزه یې ګډه کړه چې ګلمکی ناجوړه ده.        (م. هـ- ۱۵۰ مخ)

انګزه= انګوزه

**انګی angáy:**

ځانګړی فولکلوري سندرې دی چې د کاکړستان په تاریخی سیمه کې یې ناویانې د خپل واده په وخت کې د ساندو په توګه وایی، تکی په تکی مـــعنا یې (غـــږ، آواز) ده. د (الف- هـ) د پیل نه غـــږ د انګی (پژواک). انګو ~، انګ وهل (انیـدل)، انګه(آوازه، ډندوره)، انګهار (د ناوې ژړا) انګور په مجـهـول واو (ګـونګوسـه)، دغـه ټولې کلمـې د (انګ، هنګ) له ستنی جوړې دی چې انګی هم له دې جملې څخه ده. د انګی د لرغـونتیـا په باب یو ځای د انګی نومی کـتـاب مـحـترم مؤلف

لیکي: «د پښتنی فوکلور د غه لرغونې سندرې و موږو تاسو ته د آریایی دورې څخه د خپلو ښځمنو په وسیله سینه په سینه راپاته دی او ترڅو پورې چې د سنجر خیل دنیا آباده وی نو تر یوې اوږدې مودې پورې به د انگیو تاریخی سلسله جاری وی» (انگی ۵۱ مخ)

**انگی angáy:**

د هلکانو یوه لوبه ده. پ. ت. ق. پاچا خان دخپل وخت د لوبو په باب یو ځای داسې وایی:

... نورې لوبې هم وې، لکه: انگی، شرنگی، لنډیماری...

(زما ژوند او جد و جهد ۳۳ مخ)

**انگوزه angozā́:**

هنجه.

ښه دارو دی دا د گیدې که دې درد شی دا د گیدې
انگوزه، ښپیرکی، چوکهار هم نمک سنگ واخله اشخار هم

(طب نامه ۱۷ مخ)

انجدان، انگدان وروره انگزه، انگوزه گورد
واړه هنجه ده هوښیاره درجه لری ای یاره

(طب دلیل العلیل ۲۰ مخ)

**یادونه:** دغه کلمه د انگزه، انگوزه، انگیزه په بیلو بیلو فورمونو راغلې ده.

**انگیر angér:**

سوځوونکی، انگار، اور.

ستا په لمنــــه پورې نسبتي حافظ پورې باســه
چې سکونت يې په جهنم غوندې انګير نه شي (الپوری ٥٦ مخ)

**انه aná:**

نه، نهـه، د اتو او لسو تر منځه عـدد. په تاريخ مـرصع کې هرځـای انه انسـود (٩٠٠-٩) ليکل شوی دی چې د ختيځو او ځينو کرلانيو قبيلو لهجه ده، مثلاً:

... پس له سلطنتــه د لوديانو چې اووه او يا کـاله يې سلطنت په هند وکړ په سن د انه سود شپږ څلويښت کـال سلطنت په سلسله د سوريو يعنی شيرشاه او سليم شاه پيوند ونيو (ت. م ٨٩ مخ)

په سنه انســو انه اتيــا (٩٨٩) کـې چې اکـبـر بادشـاه له کـابله راوجاروت... (ت. م. ٢٤٧ مخ)

**انې انې ané- ane :**

توته، توته، مـيدد ميدد، پ. ت. ق (انړ= کـمزورتيا، ړنګرتوب، انل، اوړه کـول، انلی= اوړه شوی، انـه= اوړه کونه... ) په مـعناوو اخـيستي دی.

غـافلان د تا له حسنه خبر نه دي عـاشقان د تا پـه مخ انې انې دی
(لتاړ ٦٠٢ مخ)

**اوتار awtár:**

خلل، خاريکی اچول شوی.

یاره ستا چې راته تل وچولی تر یووی

د یارۍ خوږد نشه به مې او تار کـړی (علیخان ٤٥ مخ)

**اوتو utú:**

اوتو کول = بد گڼل، لعنت پرې ویل، پیټ وراستول.

چې شی ویښ له بده خوبه مؤمن دِ ک زړه له اشـویه

په کینې لور دې لاړې توکا د شیطان مخ دې او توکا

(شرعه ۸۰ مخ)

**اوجاړه:**

ویرانه، خرابه.

چې راغلی ستا د سرو سترگو داړه ده

راښکاره داسې مې ښهر اوجاړه ده (بیاض)

**اوجاغ ujág:**

۱ - ستانه، روحانی کورنۍ، درنه او پتمنه کورنۍ ۲ - نغری، اورغالی. پښتو شوی ترکی الاصل کلمه ده، چې د (اجاق) د (ق) غږ یې د غ په غږ اوښتی دی، په ننگرهار کې یوه اصطلاح ده: (فلانی که د اوجاغ زوی شی هم زه یې نه منم) په کندهار کې متل دی (ښځه له اوجاغه غواړه، خور او لور لنده بل ته ورکوه) (وگ. د حاجی جمعه بارکزی د دیوان لغتنامه)

ورک اهل تمیز شو ددې د هر په بازار کې

قدر و قیمت کم شو د اصیل او د اوجاغ (نعیم)

د بد اصل آشنایی د ځان زوال دہ

آشنایي کړه که دانایي د اوجـاغ (جمعه بارکزی ۷٦ مخ)

**اوچې ucé:**

بې معنا کارونه، بې ځایه هلې ځلې، پ. ت. ق او چې پوچې.
oče puče د (چتې خبرو، او توبوتو) په معناوو اخیستې دی. یوازې
او چې په متونو کې ډیر لږ استعمال شوی دی او اوچی پوچی زیات
راغلی دی.

عـالمان په کامل فکر — وایی دې ته د مرگ ذکر
چې ډیر مړه، مین همزولی — کنبینوی د زړه په غولی
هم یې ځیر کا د ژوند برگ — هم خواری زاری د مرگ
خوبه شي ورښکاره پوچی — ترمرگ پورې د ژوند اوچی

(شرعه ۲۱٤ مخ)

له پوچی سره زیات راغلی دی:

په تلوار دې څوک خبره — ترخولې نه باسي ببره
ښه دې تراش د فکر ورکا — برابر دې زیر و زور کا
دغه پسه دې یې صافه — ترخولې باسي نیک او صافه
اوچې پوچی ماغزه پوچ کا — څنې عقل لاس په کوچ کا

(شرعه ٦۰ مخ)

د ناپوه له اوچو پوچو بې پروا یم

بیهوده ماتې میچنی ته څه وایم (علیخان)

**اودسي audasí:**

اودس لرونکي، هغه څوک چې اودس يې په اوبو کړی وي.

... د اودسي لمونځ د تيممي پسې روا دی. (خير البيان ۶۲ الف مخ)

... د اودسي لمونځ روا دی، چې په تيممي پسې وګذارينه.

(روښاني رساله ۳۳ مخ)

نيمې شپې ترڅو به پس دی سـنت راغلـی بس
د اودس چراغ دی بل کا نفل لمونځ دی پري قبل کا
دوګـانه دی اول ځـله اودسـي وکـا په ځـله (شرعه ۷۸ مخ)

**اوډر uḍə́r:**

پټ، مستور، مخفي د وډر په ليک دود هم راغلی. (وګ، وډر)

زما سپيريو ځان مو اوډر کړ ما ځان په لنګې زايپی بدل کړ
(انګی ۴۴۷ مخ)

**اور ur: هور.**

يک باره د مهره ګان لښکرو اور کړ
په وغايې ځان ګلونو ته حضور کـړ (هجري ۴۹ مخ)

**اورځي urjáy:**

دې سارانی بوټی دی چې خورا ښايسته ګلان کوي او انسانان او ژوی يې خوري. (محشي)

د سپينې خونې پر وره اورځي دی
باران وريږي غــرونه لانــده دی (انګی ۱۶۶ مخ)
د ادرګې په سـر کې اورځي مغزی دې مـات د پلانکی سی
(انګی ۲۶۸ مخ)



PROPERTY OF ACKU 7444

**اور ډنډی urḍanḍáy:**

د زلمیانو او تنکیو زلمیانو لوبه ده چې د لتویا بل څه غونډسه په تیلو کې لنده کا بیا اور ورته کا او د شپې یې هوا ته غورځوی.

... کله به یې شتې او اور ډنډی آسمان ته ویشتې

(زما ژوند او جد و جهد ۳٦ مخ)

**اورګډی orgāḍay:**

شریر، فساد کاري. پ. ت. ق اخېستې.

... بلو خوشي یو اورګډی سړی دي مخامخ قطب خان راڅخه مړ نه کی.
(م. هـ، قطب خان او نازو ۹٦مخ)

**اورل orál:**

مربوط، تړلی، اړه ورکړه شوی. د میرزا خان انصاري د دیوان په ځینو نسخو کې د «اورل» او په ځینو کې د «ارل» په فورم ثبت دی. په چاپی کې«مل» دی. د شعر عروض هم «اورل» یعنی دوه سیلابه ایجابوی. غالباً د ناقلانو د تصرف او د کلمې د معنا نه د بې خبرۍ له امله دغه بدلون پکې راغلی دی. (ارل) هم وګورئ.

دا دوستی به و دوستانو ته وروړی

او دښنی به له دښنو سره ارل کړی (میرزا خان لمن لیک ۲۲۹ مخ)

**اورنګ aurāng:**

د شونډو رنګ، هغه مایع رنګ چې شونډې پرې رنګوی، لبسرین.

اورنګ، نو رنګ دې دواړه په لبان اینبی دی

لاچې لونګ او عطر دی په ځان اینبی دی (ا. س. ا. ت ۸۹ مخ)

**اوړی پاوړی:**

ځـــو به تل وي دا اوړي پـــاووی
چې دی په زړه وي په خوله یې راوړی
ځـــويې ونه خـــوري کله به اوړی
چـــې بلا غـــــواړی په بلا واوړی (خ، رباعیات ۲۵۶مخ)

**اوږه کی uẓakáy:**

هوږکی، سارانۍ هوږه، په عربی طبی کتابونو کې د ثوم الحیه، ثوم البری، اسقور دیون په نامـه راغلی په فارسی یې مریم نخودی وحشی بولی، یونانی نوم یې sxordion دی. دا یو بوټی دی چې لوړوالی یې تر دیرشو سانتي مترو رسیږی او په یونانی طب کې د معدې د تداوی لپاره استعمالیږی. په اختیارات بدیعی کې لیکلی:

ثوم الحیه: ثوم بری او اسقور دیون هم ورته وایی پښتانه یې اوږه کی بولی، یعنی صحرایی هوږه (اختیارات ۱۹۹ مخ)

**یادونه:** باید وویل شی چې دا پیازکی نه دی چې په عربی طبی کتابونو کې د اسقیل او عنصل په نامه راغلی او په فارسی یې پیاز موش بولی.

**اوړی uẓáy:**

غوړیانی، غنم گل، شمندروزی. یو گل دی چې د گل رنگ یې د شمندروز په رنگ دی، پاڼې یې اوږدې دی، فرهنگ عمید گل گندم د قنطریون په معنا اخیستی دی. دغه گل زیات د غنمو په فصلونو او غونډیو کې کیږی.

د میرې غـاړې نازیرې په اوربو

بېده خان فخر په گل د پیغمبر کا (هجری ۱۸ مخ)

د میری زمکه مهینه سراسر واړه وریښمینه...

شگفته پکی اوری          دهربوټی ځو سبزی (فراقنامه ٤٤ مخ)

**اوسپنخور ospánXór:**

بلو، بیلو، هغه ډبره چې چړې پرې تیروې. غالباً نایان ترې کار اخلی.

حجر آهن: پښتانه یې اوسپنخور او بلاهو بولی

(اختیارات بدیعی ۲٦۲ مخ)

**اوستربل ostorbál:**

وروستنی صف، وروستنی لیکه. (اوستر= وروسته + بل= لیکه، صف- مرکبه کلمه ده)

چــې نــادر تــر غــره ایســتلې رســالې دی

سیدال باندې ور ووځی او ستربل باندې حملې دی

(د خلکو سندرې ۱۵۲ مخ)

**اوکی óke:**

وعده، ژمنه، لوز. پ. ت. ق د (هو، هوکې، ښه...) په معنا اخیستی. په راتلونکو بیتونو کې د ژمنې معنا لری او په دویم شعر کې د «هو!» په معنا دی.

چې له چا وکړی اوکــې          زر یې کړه په ځای روکې

چیرې نه شی په تاخــیر          د وعـدې د وفــا خــیر

حضرت بولی د اشگاف | منافق، وعده خلاف
په دروغ وعده بدکار دی | شرعی کړی ترې انکار دی

(شرعه ۹۵ مخ)

نن په دغه ملک کې عجبه جن ده
په رنګ د حورو، په خوی د جن ده
په سوال کې او کې بې ایانه کا
هیڅ نه خبرېږی د چا له جنده

(عبدالقادر ختټک ۳۷۹ مخ)

**یادونه:** د ختټک د دیوان په یوه نسخه کې د «اوکی» په ځای «هوکې» راغلی.

**اول ul:**

چته، چوکاټ، برید، حد، له اوله وتل = له چتې وتل، بې حیا کېدل.
سنک له اوله وتلی دی = سنک از چته برآمده است.

(د پښتو اصطلاحات ۱۱۱ مخ)

**اولچکین olćakin:**

قید، بست، د اولچک. ولچک له کلمې څخه اخیستل شوې ده.

حرکت له مانه نه شی په ځای پروت یم
شپه او ورځ د محبت په اولچکین کې (رحمت داوی)

**اولکه olká:**

قلمرو، مملکت، ځمکه.

... قرار په دي وشو که سلطان ابراهیم همایون له قیده خلاص کا مونږ واړه امرگانان به له اولکي د سلطان ابراهیم روان او ملک ته به د بل بادشاه روان شو. (ت. م. ۹٦مخ)

... حسن خان زوي د عادل خان میواتي په ولکه کې د راجه ډونگر په قتل ورسېد. (ت. م. ۱۲۰مخ)

**اهار ahā́r:**

هار، امیل (لهجوی ده).

تاول ښند دی په طناب د زلفو ښه یم
ماول بند به ستا اهار کـــم تاول ښه (ج. فدوی)

نه مې صبر شو لنگر آب د گوهرو
نه د سرو اوښکو اهار د مرغـــلرو (ج. فدوی)

**ایر:**

ایره، ښنسټ (وگ. ایره)

نه پوهیږم چې عالم دی گرفتـــار
او که پروت دی زما په زړ باندې دایربند (ج. فدوی)

**ایرغ:**

... اوس چې دی هرڅه د لاسه کیږي ویې که، که کوم ایرغ میرغ لرې تیره یې که ځان دی سره سم که، سبا ماسپښین زما او ستا جنگ دی.
(م. هـ. ۳ټ ۱۳۱ مخ)

**ایره Íra:**

ښنسټ، تاداو، تهداو، په ایرابه (له کښته د زیم ایستلو ویاله پ. ت. ق)

ایراو (د دیوال په تهداب کې دانګې نه د اوبو وستلو موری) ننګرهار کې دغه کلمه شته.

راشه وګوره مانۍ د هغو تیرو
سر په ښکته څرنګ توېي په ایرې شوې (هجری ۴۸۲ مخ)

برهنه یې ملوکان له تخته بوتله
په ستنه یې طبیلې، فیل و دیرې شوې
د فرقت بار یې ثقیل شو په مانیو
په ژړا ژړا نسکورې په ایرې شوې (هجری ۲۱۴ مخ)

... نقل دی چې یوه مرد په زمانه کې د سلطان سکندر ایره د دیوال کنده او په وخت د کندلو د یوه، څلور ګوتې راښکاره شوې...
(ت، مرصع ۸۵ مخ)

**یادونه:** په موندل شویو متونو کې د ایره د الف د پاسه د مد نخښه لیدل کیږي.

**اینامه ināma:**

ناڅاپه، نا ببره، مفاجاتاً.

له دښمن څخه دې کومه وه باوه
سر دښمن دې اینامه ترمنده سو (د مروتو کسرونه ٦ مخ)

ماسپښین چې سپریده مازیګر مړه سوه
ښکلې ژنۍ واینامه را په زړه سوه (د مروتو کرونه ۳٦مخ)

په شهاب خیلو کې عزت، غفوری مړه سوه
ښکلې ژنۍ وو اینامه را په زړه سوه

مـــدتی گـــوره تـه راځـــه خـــوب دی تیـــاره ســـو
گل احــمـــد د کـــالـه ســـتــوری وگـــرلنگه

(ا. س. ا. پ)

**اینده Indá:**

ځل، ساه.

ځینی وخـــتي اوبه ځـــښه پـه یوه ســـاه وایه ښـــه
چې حضرت دې اوبه کښلی پـه یوه اینده هم ځښـــلی

(شرعه ۳۳ مخ)

**اینه پراینه eńa. pár, ene:**

تکی په تکی، کټ مټ، هو په هو.

... دوی اینه پر اینه دا خپل کیفیت ورته (قاضی ته) ووایه

(م. هـ. ۳ پ ۱٤۲ مخ)

**ایوان aywā́n:**

(حـیـوان) مـاشـوم طفل، ایوانی = مـاشـومـتوب، ووکـتـوب. طفولیت. په ختیځه لهجه کې د عربی د (حیـوان = ژوی) ځخه پښتو شوی متداوله کلمه ده چې د ماشوم په معنی د ایوان په غږ استعمالیږي. د حسین په دیوان کې د «ح» په غږ راغلې ده.

اوس په سپینه ږیره ځرنگه ترې توبه کړم
یمه عشق سره آشنا پـه حـــیوانی کـــې (حسین ۳ - ۲ مخ)

# ب B

**باتل bātál:**

په خدای ولو باتل = په خدای قسم ورکول، په خدای لوړول:

بیبۍ ظریف خان ولید، شک یې پرې راغی او ناره یې پر وکړه
که په وروځې د آس سپوره څرنګ ورو ورو ځې
ما په خدای قسم درکړی چې ته په اصل په نسب څوک یې
ظریف خان په ځواب کې ناره پر وکړه:
که پوکې، پوکې نجلۍ پوکې
ما ته په خدای ولو باتلی چې په اصل په نسب څوک یې
نجلۍ ناره پر وکړه:

که څوک یم، څوک یم، سړیه څوک یم.
تا په خدای ولو باتلم د میرویس لور یم، د ورک ظریف خان خور یم.
(م. هـ . ظریف خان او ... ۷۰ مخ)

ظریف خان ناره پر وکړه:
که غلطه ساوېه غـــلطه

ما په خدای ولو باتلی چې دا دې خور ده که اور ته
ساوې ناره پر وکړه:

که غلطه، غلطه، سپاره غلطه نه مــې خور ده، نه مـــې اور تــه
تا په خــدای ولــو بــاتلـــم ما ساتلې د ورک ظریف له نیته
(م. هـ ظریف خان او... ۷۱ مخ)

**باتور bātúr:**

د باز د کورنۍ یو ښکاري مرغه دی (پ. ت. ق) اخیستی.

... د باز غـونډي بهـادر، د طاؤس غـونډي ښکلی، د همـای غـونډي نیک بخت، د شـاهین غونډي زړه ور او د بهاتور (باتور) غونډي زوره ور مـرغـان ورک شـول. چې دا مـردار (گـونگی) تـاسـو د بادشـاهۍ د پاره منتخب کړی دی.

(انوار سهیلی ۲۱۳ مخ)

**باتی:**

تشې خبرې. په اردو کې هم بات د خبرې په معنا شته.

چې مې ستر گې د باور کړې سره لواتې
په جهـــان کــې خــو نیکي ده نورباتې (خ، غزلیات)

**باتینګڼ bātingáṇ :**

بادینګڼ، بادنجـــان، تور بانجـــان. په زړو مـــتــونو کـــې په دواړو لیکدودونو راغلی دی. پ. ت. ق باتینګړ د رومي بانجانو، سرو بانجانو په معنا اخیستی، خو په زړو متونو کې یوازې د تورو بانجانو په معنا دی. په اختیارات بدیعی کې لیکي:

بګڼ= حیصل، حدقه هم ورته وایي پښتانه یې بادینګڼ بولي

(اختیارات ۳۸ مخ)

د البیروني د صیدنې د روسی شرح په ۱۸۹ مخ کې الحیصل په باتنګان= بادنجان شرح شوی دی، رومي بادنجان یو نوی راغلی بوټی دی. په شریعت الاسلام کې د باتیګڼ په املا داسې راغلی دی:

چې به دوست خوړ باتیګڼ — په یې وصف کـــاوه ګـــڼ
دا چې دی په خـــاصـــیت — باتیـــګـــڼ تابع د نـــیت
که یې ځوک نیســـی دارو — شی دارو، د رنځ جـــارو
باتیګڼ ښـــه ترکـــاری ده — د شفا په ســـازګاری ده

(شرعه ۲۹ مخ)

**باجو bajō:**

باجُوړ که، توره بلبله، د باجوړ که سپک شوی فورم دی

توره کوتې راغله توره ده لکه باجـــو

لکی یې چا وهلې د که راغله له لانجو...

اوس یو ساعت به ګورې چې معلوم کړمه خپل زور

شمې ورته راغواړي مړنې ده د درو (ا. س. ا. ټ ۲٦۸ مخ)

**بادامه bādāmá:**

سیلۍ، تیز باد، گردله، پښتو تشریحي قاموس اخیستې دی.

بادامې دې چې را الوزي — په هر لوري د بدلو
چې په خپلو زړه ښه نه شو — ښه به نه شي په پردیو

(خ. متفرقه ۹۱٤ مخ)

**بادکښی bādkaṣ̌i:**

عیب پوښی، د ویار پټونه.

مومنان دې په خوښی — یو د بل کا بادکښی
څو یې توان وي دې هم — سر کوي حاجت و مهم

(شرعه ۹۲ مخ)

**بادگوله bādgolā:**

په گیډه کې د بادغوټه. پ. ت. ق د (قولنجو ناروغی یو ډول ناروغی ده چې په کولمو کې باد پیدا شي او درد کوي) په معنی اخیستې دی، خو په راتلونکی بیت کې د (لیکه= قولنج) سر د هغې ذکر کول دا معنا لري چې له قولنجو توپیر لري. د قولنجو په بحث کې لیکي:

قولنج رنځ دی برادره — په روده کې شي دلبره
په پښتو یې نام لیکه دی — راته غوږ کړه حال یې څه دی
بادگوله وی که لیکه وي — دا د ارو ورلره ښه وي

(د صدیق طب)

**بادی bādi:** باد له (زره پانګه)

ما په دا سترګو کړې په ځیر لیدلي

په سایې پیوسته بادی طرې شوې (هجری ۲۱۳ مخ)

**باری:**

لوي تپوټک.

خپل خپل شان ور ته غلیم و په وخت کړی

که باري کــه جزاییل و که لــښکـــر (ګنګاڼی)

**باړ bāṛ:**

عشق، مینه. (محشی)

اوبه لـــویږی تـــر ګـــوجراته

د بابا کـــوره شـــکــر نبـــاتــه

دا ډیرې شپې مې په تا کې وسوی

نه مې باړ کم سو نه مینه مـــاتــه (انګی ۵٤۷ مخ)

**باړه bāṛa:**

منډو، د پټی نه تاوې شـــوې غنې، باړه پ. ت. ق د مـــذکـــر په فـــورم اخیستی دی.

باړه وتړه هله کښت و زراعت کړه

تقوا دار شه هله طمع د جنت کـړه (رحمان بابا ۱۵۲ مخ)

**یادونه:** د حســین په دیوان کــې د «پ» په توری لیکل شوی چې چاپی غلطی به وی هغه دا دی:

عقیده دی کړه وسواس تر قدم لاندې

لړه لــوړه دې بیرون کـاندې لــه پاړه (حسین)

**باړه bara:**

د کور سره نږدې ځمکه یا باغچه.

اخیستو ته یې د هـرچـــا خوا اغـــزیږي

سپینه خوله ستا نرۍ غاړه جوړ باړه ده (بیاض)

**بازار لګیدل bāzār:**

بازار جوړیدل، مطلب هغه موقتی بازار دی چې په اخترونو او خاصو وختونو کې جوړیږي.

ولتاړو ته ناري کړه که سودا کا

لګیدلی نن بازار دی د اخلاص (لتاړ ۷۱ مخ)

**بالڼ bālaṇ:**

خس او خاشاک. پ. ت. ق د (۱- خاشاک، خس. ۲- یو ډول قورمه) په معنی اخیستې خو ما یوازې په لومړۍ معنا موندلې دی.

بې مرشده به ورنه شی تر مقصوده

نه یخیږي دیګ د هیچا بې بـالڼه (ملالتاړ، ۱۷۰ مخ)

په تنور د محبت کې هسې وسوم

لکه سرې لمبې چا پیر شی له بالڼه (میا نعیم)

**بامبو bāmbú:**

عالمونه، زښت ډیر خلک. پ. ت. ق د (۱- د مچیو او بامبو بنهار،

۲- د څارویو ګڼې رمباړې. ۳- بانس) په معنی اخیستی چې په لومړیو دوو معناوو کې د کثرت او ګڼې ګوڼې معنا ضمنی ده.

... سهار چې هلکان راکښته که ګوری دښت ټوله شنو خیمو نیولی دی، یو بامبو پروت دی. (م. هـ. ۳ ټ ۳٦ مخ)

**بانکه banká:**

پایله، پایزیب (پ. ت. ق)

سپینې دې پښې سپینې د بانکــــــی

د پلار په غولی ګرځیدی رنځور دې کړمه (پښتو لنډۍ ٤۰۳ مخ)

**بانډه bānḍá:**

پجه، کولالی لوښی، دا ارزانی په قلمی نسخه کې (مانډه) ده (چې زړی پانګې اخیستی دی) سم فورم یې راته څرګند نه شو.

ګهی ساز ګهی یې مــات کا دی د کل بهاوندو (بانډو) کولال دی (کریمداد)

**بانډیڅی bānḍicáy̆:**

اعرابی، صحرایی، د بانډې ساده اوسیدونکی. (پ. ت. ق) بانډیڅی او بانډه وال د بانډې د اوسیدونکی په معنا اخیستی خو دلته د ساده ګۍ او بیړاتوب ضمنی معنا پکې پرته ده.

یو سړی راغی جــانانه بانډیڅی و بې ایمــــانه
بانډیڅی وې زه نه وایـم په ښه شان خبر په تـا یم
بانډیڅی چې دا خــبرې بدې وکــړلې ظــاهرې

پاک حضرت ورته نور وویل　　　باندېځیه! دا دې ځـــه ویل
(پټ ستوری، مولوی احمد)

**بانور banōr:**

یو غرنی بوټی دی (محشی)

تور دي لونګ تور دي　　　شین خالی کالی مینځلي په بانور دي
دا کالی لیا جـــوړ دی　　　چې اورونه لګوی هغه لـــیانـــور دی
(ف. سوغات ٦١ مخ)

**باوه bāwa:**

خطر، ډار. د (بو) سره يې ریښه یوه ښکاري

له دښـــمن ځخه دی کومــه ولـــه باوه
ســــر د ښمن خو دي اینامه ترمنده سو
د مروتو کسرونه ٦ مخ)

**باوېړی bāweṛáy:**

بابیړي، بیړی ، د ناروغتیا بیرته راګرځیدنه.

د هجران په باویړي مې شـــوه بیا تبه
ستا د وصل اوس په کار ماله ګاړه ده (بیاض)
چې حاصل بې له خوراکه باویړی دی
په رنځور د ډېر خوراک مهرباني ځه (یونس)

**ببر babár:**

د زیږ، خشن، شډل، ناصیقل په مجازی معنا.

نیک نه کا هسې خبرې　　　چې په چا لګـــی ببرې (شرعه ٥٨ مخ)

په خوراک کې دې خبرې نه که څوک زښتې، ببرې

(شرعه ۱۳ مخ)

مور و پلار ته دې فرزند ناچــوی د زړه گــزند

کا دې ورو ورته خــبرې نرمې نرمــې ، نه ببرې

(شرعه ۱٦۱ مخ)

چا ده کړې دا خــبره په ځای نه زشته ببره (شرعه ۱٦۷ مخ)

په تلوار دې څوک خبــره تر خــولې نه باســی ببره

ښه دی تراش د فکر ورکا برابر دې یې زیر و زور کا

(شرعه ۲۰ مخ)

**ببره bābra:**

مرانده .

د غریب هجری چاره نشته بې صبره

چې د زړه یې هسې پریکړه فلک ببره

د گردون خوداروش چې کینه کار دی

ته مې ولې ورتوې په هجران گــبره (هجری رباعیات ۵۷۵ مخ)

**ببول babauál:**

ډارول، ویرول، بوږنول: د ببو = ویره، ډار څخه.

مرگ یې سل ځله بهتر دی تر ژوندونه

په هجران کې عاشــق مه ببوه خــدایه ( عبدالقادر خټک ۲٤٤ مخ)

**یادونه :** (ببوه ) چاپ شوی چې سم نه دی.

**بت bat:**

مصره! هله د عشق پښتې په بت وله
چې اول په میدان کیږدی سر و مال
(مصری خان گگیانی)

**بتک batak:**

پتکی، مجازاً لوښی.

مرتبې د کم خوراک — درې دی پوه شه په ادراک
ادنا دا ده چې کړی ډک — دوه حصې شکم بتک
(شرعه ۱۸ مخ)

**بتکی batkāy:**

د بت (اړ، اهاړ) له کلمې څخه، د کنډ (صمغ) یو هرم ډوله مصنوعی کنډوکی دی چې ښځې یې په کنډولی کې سولوی بیا سر پرې ښویوی.
(محشی)

یوه گونګټه وه پولې تر خوا پټه وه، سر یې ښوی کړی و، بتکی یې پری وهلی و، میړه ته یې زړ شوی و. (د خلکو سندرې ۱۵ مخ)

**بتکی butkáy:**

۱- طلایی سکه، د سرو زرو سکه. ۲- مجازاً صنم، معشوقه. پ. ت. ق یوازې په لومړی معنا اخیستی. په زړو متونو کې ما یوازې د (بتکی) په لیک دود یعنی بې له (و) موندلی چې له دې ښکاری باید په مجهول (و) وی.

د کلمې ستنه یا بت، بوت (مجسمه، صنم) ده او یا بت، بوت (ځیره، مخ) ده چې د بوتنه او بوتان کلمې هم ورڅخه جوړې دي. بوتکی هم هغه چاته ویل کیږي چې بلوغ ته نږدې وي چې دا د تشخیص او ځیرې نیولو مرحله ده. بوتنه د مخپتونې او بوتې د مخ، ځیرې په معنا (زړه پانګه) لري. بوتان یا مخونه به معمولاً په طلایي سکوکې ضربیدل ځکه د بتکۍ په نامه یادیدل.

په ګوتو دي ګوتمې کړې، په غاړه پهلوۍ کړې
د سرو زرو بتکۍ کړې
راتوي دا شنه خالونه دې آشنا زما په لمن که
ښکاره د مخ ګلشن که (ا.س. ۲ ټ ۱۷۵ مخ)

... شهزاده پر آس سپور سو، څه روپۍ او بتکۍ يې ورسر واخیستلې. (م. هـ ۳ ټ ٤٥ مخ)

... زمری ورته وویل چې هوغه پانۍ (پاسنۍ) ډبره وینې، د هغې ډبرې سره دوه خمه بتکۍ ښخې دي. (م. هـ ٥٦ مخ زوړ چاپ)

... دولس سیره یعنی دولس منه بتکۍ دې ماته راکې خور به ورکم او که نه هیڅ. (م. هـ ١٦٣ مخ)

... مومن خان یوه زرګر ته ورغی، څو بتکۍ یې له جیبه راوویستې، زرګر ته یې وویل چې ماته د سرو زرو داسې مالونه جوړ کړه. ...
(م. هـ مومن او شیرنو ۱۷۱ مخ)

... باچا او وه غاترې په بتکیو بار کړې... (م. هـ ۱۸۰ مخ)

**یادونه :** په دغه توگه لس دولس ځایه یوازې د ملي هنداري په بیلو بیلو ځایونو کې د بتکۍ کلمه ذکر ده.

**بته baṭá:**

دبکرې په بخرى پنډ پیدا کا

د بتې بخرى نه دى چا لیدلى (خ. متفرقه)

**بخملی گل:**

چرخولک ، ، چرخولۍ (چرگ خولک، چرگ خولۍ) په فارسي يې تاج خروس او بستان افروز بولي. د ابوریحان په صیدنه کې د دغه بوټي په باب لیکل شوي دي. « د بغداد اوسیدونکي يې بستان افروز بولي او په میا فریکین کې د زینت الریاحین په نامه یادیږي او په ځینو سیمو کې همدا رنگه د داح په نامه یادیږي... » د صیدنې په روسي شرحه کې يې لاتین نوم Amaranthus tricolar .L ښوول شوی دی. افغان قاموس بستان افروز په چرخولک او چرخولي ترجمه کړی دی. دا یو کلن بوټی دی چې غټې زړې پاڼې لري. لوړوالي يې ترنیم متر پورې رسیږي، گلان يې سور رنگي دي، دغه بوټی څو ډوله لري، یو ډول يې اوږده ځوړند گلان لري، بل ډول يې سره پیوسته گلان لري، او د چرگ د کرکرې په څیر دي، بل ډول يې سور رنگې پاڼې او ارغواني گلان لري.

بخملي گل په اختیارات بدیعي کې داسې راغلی دی:

حوار: سفندار، بوستان افروز هم ورته وايي، پښتانه يې بخملي گل بولي. (۳۰۷ مخ).

**بدان badan:**

جَنج، ورا، د زوم کورنۍ، د ودونکي کورنۍ غړي چې د ناوې پسې تللي وي. معمولاً د جمع په فورم استعمالیږي او گرامري تغیر هم نه مني. محشي د بدان په باب لیکي چې دا هغه چاته ویل کیږي چې ناوې پرې ودیږي.

وه سیپو! اوس به سخته لگــیږي
وخت د ماسپښین دی بدان لگیږي (انگۍ ٤٠٤ مخ)

د بدان داړ به راتلي په شپو — نن یې هوس د دوی په ډلو
(انگۍ ٦٠٣ مخ)

وه ترلې! نه دې وی میراث خور — سکه د پلار وې سکــني ورور
وی ستا په ونډه د بدان کــور — وه ترلې اوس که اختیار در تول
(انگۍ ٦٠٥ مخ)

وارث کیږي مې نه پښو کیږي — بدان ولاړ دی زیاتي رمیږي
(انگۍ ٤٤١ مخ)

**بدرېږ badriz:**

بدریش.

وکــوهي ته یې په بیــړه — ویاسته کړه د بوکې ویره
بســــم الله یې وویلــه — نــوریې دلــو واچــــوله
چې یې پریښــوه بدریږه — بوکــــه ورغـله په تیږه
(یوسف او زلیخا ١٤١ مخ)

**بدريش badriś:**

بديژه، بدريږه، بدريزه، سربانډې، سربانه، سربانی، پری، پ. ت. ق د بدريشه کلمه نه ده اخيستی، خو د تناو په تشريح کې يې استعمال کړې ده. د بروس، عبوس په معنا هم استعماليږی.

هر حيوان چې له قطـــاره ســـره نه ځی
تل يې کلک بدريش ختلی ترورشنډی (واصل ۱۱۳ غزل)

**بدليوه:**

نالت، خرپشو، سرکوزی، بدځناور، خنزير. (بدليوو ليکل شوی)

... په لاره کې يو بدليوه په ده (ښکاری) پيښ شو، ښکاری په ده هم د غشی گوزار وکه، بد ليوه اگر چې سخت زخمی و ولې په ښکاری يې حمله وکړه او دی هم سخت ژوبل که...

په دغــه وخت کــې يو وړی شـرمښ راورســيــده. ده چې بنی آدم او بدليوه او هوسی دريواړه ومونډل... (انوار سهيلی ۱۵۹ مخ)

... هسې نه چې د هغه بدليوه کانه درسره وشی... د ورځو نه يوه ورځ چې يو خنزير د ښکاريانو نه خلاص شو، دی ځنگله له راغی...
(انوار ۳۷۲ مخ)

**بدورده badwárda:**

۱- بدنام، افشا، ۲- بدمرغه، ناکام. پ. ت. ق (بدورد= بدخواه، مخالف) او (بدورده= بد اخلاقه، بدمرغه) په معنا اخيستی دی. په دغه متن کې اصلاً د بدنام او رسوا په معنا دی.

... اینځی قسم واخیست چې والله که مو پریږدم، په هر چم چې وی چې زه تاسې سره بد ورده نه کم (م. هـ طالب جان او گل بشره ٦١ مخ)

**بدونگی badungay:**

زړه غورځوونکی (؟)

که څوک وینې دل افروزه مبتلا له رنځ و سوزه
بدونگی ویل آفت وی د تا خون د حراست وی

(اسرارالعارفین ٢ - ٤ مخ)

**بدیشی badeŝay:**

منفور، د کرکې وړ، له (بد ایسیدل) څخه د (س. ش) د غبرونو په بدلون.

... زه دا منم چې بدیشی حکومتونه بغیر تشدد او د خلکو د ویرولو چلیدای نشی خو... (زما ژوند او جد و جهد ١٦٦ مخ)

**بدیشی badeŝi:**

تنفر، کرکه، بدنیتی.

... د نیک بخت سره د هیچا بدیشی نشته. (انوار سهیلی ٣٧ مخ)

... لږم ورته ووې چې زه د بدیشی په خیال نه یم لگیا، دا خو زما خوی دی. (انوار سهیلی ٩٥ مخ)

د خپلو متعلقینو سره د بدیشی خیال د سړو کار نه دی.

(انوار سهیلی ٣١٨ مخ)

... ای بادشاه زما ویره نه وزی، ممکنه ده دوی دا ځل د نصیحت په

جوړ زما په بدیشی موقع بیا مومی او د مخلصانو په جامه کې تا د خپلې رضا نه واړوی. (انوار سهیلی ۳٦۰ مخ)

ستا د تکبر اوس دا حال شو چې تا زما په چینه پسې هم د بدیشی نیت وکړ... (انوار سهیلی ۲۱۷ مخ)

**بډمولی badmólay:**

چې بهـا یې نیم جـونـه وی　　ځه کـلام کـاله بډمـولی
چې په عرش کرسی یې غواړی　　نه دی پټ دی پـه کـنډولـی
(ارزانی)

**بډه badá:**

که نظر پرې لږ د تـا د بډه وشی
دی هغو زړونو مونډلی ترا بد نور (و، خ، نواز ختیک ۵۳ مخ)
حریص نوس چې حرص لوی کالکه لگډه
په گومان کې خپل ځـان له نـورو بډه (دولت لوانی ٤۰۱ مخ)

**بر bar:**

تربرنیول = تر ویښتو نیول .

سنک یې د سرتربډو ونیو = سنک را از موی سر گرفت

(اصطلاحات ۱۹۹ مخ)

**براتی barati:**

حواله وړونکی، محصل، ماسل، برات وړونکی.

عبدالقادر د ظالمو حاکمانو په باب وایی:

د مجـــرم جرم لا نه وی ثابت شـوی

براتیان یې (کا) په کور باندې تعین (ع. ختهک ۴۳۳ مخ)

**برجنه:**

برژنه، مثمره، میوه داره

چې اثر د بې خودی، ترې پیدا کیږی

تل برجنه اوســــه ونه د عــنب (عبدالقادر، ۱۴۱مخ)

**برخه baráxa:**

کوڅو ډوله لباس چې سپین روبو به اغوسته.

که یې واغوستی برخې جوګـتو شـول

ډیر افسوس کیږی ګنده وی نو میزردی (هجری ۱۹۱ مخ)

**برش bráŝ:**

ډول، قواره. پ. ت. ق اخیستی.

عــایشه بی بی صــاحبه خوری د خــدای قسم په ژبـه

چې حضرت له دې په هـــته خدای پرې نه بنو هفته درسته

په دنیــا کې څــو یې بوت نوری نه شو جل کــوت (؟)

پس مومن دې سیک برشــو نور څه نه خوری بې اوربشــو

(شرعه ۵ مخ)

**برکند barkānd:**

په مینډه، ګړندی، چټک. پ. ت. ق اخیستی.

چې وړکنی (وړه کی) لیونی وه، اوس چې راپوه شوه جلکی

له مانه برکنده تیریږی زلزله شوه په آسمان (ا.س. ا. پ ۸۴ مخ)

**برگ barg:**

۱- قطار وزمه، د کارتوسو ملا بند (زره پانگه) د چا په برگ کیدل د چا ملاتړ کول. ۲- توښه، څورځ، د لارې خرځ.

...اما پښتـانه وایي زه د تا په برگ ته زما په مرگ، ددوی بل خیال په خاطر و. (ت. مرصع ٤٤٥ مخ)

بادشاهان د زمانې به کوزوی له تخت و تاجه
امراگان د ولایت به پاځوی له ارگ و برگـــه (مست بابا ۳۹ مخ)

ښه توښه د آخرت درسره واخــله
پونده په دالار تگ نه کا بې برگه (دولت لوانی ١٤٤ مخ)

مجالس بیغمه مه کاته یارانو
د قیامت د لارې اخانې برگونه (هجری ٤٤٧ مخ)

**برگټ bargáṭ:**

ښایي د گرېټ مقلوب وي. د حمید په دیوان کې د برگوټ په لیک دود راغلی دی. په هر صورت یو ښکاری مرغه دی چې له باز څخه زیات لیکمن دی.

د بادشاه په لاس د هر مرغه ځای نه وي
د شـــاه باز په دود پسـو کښیني برگټه (واصل ۳۵ غزل)

دا چې نن بنې بنې په زرکه ناست دی
دغـــه باز به کا برگـــوټ بنــه بنــه (حمید ۳۲٤مخ)

**بریا barya:**

بریالیتوب.

سید میربیتنی مـــــړی په برېا کـــړل
لوهانی وشی (نوم دی) سرونه یې لگیا کړل

(د مروتو کسرونه ۹ ـ ۱۰ مخ)

**بریڅه** :barica

وزیایې ، وزه، وز، د منیای مقابل.

... پس له هغه لس کسه مهمندی وبونیر ته ولاړل شیخ نسک یې راروان کړ، رایې ووست، یو سیر غوړی، په کاله دوه غنبی (دوه غابنی) خوسی، دوه بریڅه پسه په رمه یې د شیخ نسک نذر قبول کړ. په دې نذر دوی پښیمانه شول، خوسی له غواوو، ورغومی له بزو یو له بله جدا شول... نذر یې هم ورکړ او سل میرې نورې هم ورکړې، هاله هغه قحطی ترې ولاړه او غوا خوسی او بزې ورغومی یو له بله ورغلل.

(ت. مرصع ۵۵۹ مخ)

**بریړه** :barera

په پښتو یې بریړه بولی، په عربی طبی کتابونو کې د بلیلج په نامه یاد شوی دی. پ. ت. ق (داریړی یو ډول) اخیستی دی، خو دا اریړه نه ده دا یو جوز دی چې د بوټی لاتینی نوم یې (terminalia belleria) دی. دا هندی میوه ده چې سرې، خړ رنگې یا زړ رنگی دانې لری چې څوکې یې تیرې دی په دانه کې یې مغز واقع وی چې د بادامو یا ځنگلی غوزانو په څیر وی او زړه بدوونکی دی.

(د البیرونی د صیدنی روسی ترجمه د بلیلج کلمه)

د دولت لوانی په شعر کې داسې راغلی ده:

هرېړه، برېړه، سونډ، لــــونګ، جـــــوترې
پان، چونډ، سپاري، کت، جايفل، کوکنار مست

(د دولت د ديوان ۸۱ مخ)

**برېښند bresand:**

برېښن، ځلند، ځليدونکی. پ. ت. ق اخيستي.

که څوک امن امان غواړي له شهرته دې ځان نغـاړي
له سړو دې يو ســــړی وي نه دې برېښند، نه خړي وي

(شرعه ۳٦ مخ)

**بړ bar:**

مبارک، نيک، په خير. په بړ بړ راشه کې دغه کلمه ده.

د تقوی په بړستن بړ شه له بدعته ځــان نګاه کړه

(په مخزن کې د کريمداد برخه)

**برابړ bārabar:**

د يوه ځنګلي بدبويه بوټي نوم دی (محشي).

عود، چندڼ يې وګڼم دماغ مې ورته ويښ شي
خيرې بړ ابړ و دماغ واقع شي په نقصـــان کې (الپوري ۹٦ مخ)

**بړنګ:**

۱- حيران، وارخطا، تکنی. ۲- ارت، واز، آزاد..

پ. ت. ق د ب په سکون اخيستي خو د ب په فتح سم ښکاري، په دويم

بیت کې د ارت معنی ور کوی. بړنګ ، بړونګ ور= بیخی خلاص ور. د ننګرهار په ځینی سیمو کې معمول دی.

چې مې وران کړ ودان کور له خپله لاسه
په ډیر عقل دانایي کې بړنګ چــا کړم (ملالتاړ ۳ . ۱ مخ)
چې تمـــامه خلـــقه ده پې ګـــــیره
دشهی د مخ پیزوان هومره بړنګ دی
(مطیع الله پیره خیل ۲۱۲ مخ)

**بزغنج bozǵánj:**

پوچه پسته، د پستی ونه چې یو کال مغز لرونکی دانی نیسی او بل کـال پوچی وی، چې په دباغـی کـې په کـار یږی، پوچی ته یې بزغنج ویل کیږی. په زړه پانګه کې سهواً بادام ورته لیکل شوی دی. دا عربی کلمه ده چې کله کله د بزغنه په فورم هم ثبت ده. په پښتو زړو ادبیـاتو کې کله کله لیدله کیږی. بزغنجه یې پښتو شوی فورم دی البته د بزغنج په فورم هم لیدل کیږی.

زړه مې چاود لکه قلم دی ستا د حسن په رقم دی
که کمتر وی ستا په در کې د بزغنجی ترمقـــداره (ج. فدوی)
هر باغ چې نا ثمر شی باغبان پرې مقـــرر شی
که نه وی در په در شی که پسته وی که بزغنج (احمد ځدران)
نه مې باغ شته نه مې راغ شته نه مې للمه
نه مې غز، نه مې پســــته، نه مې بزغنج (احمد ځدران)

**یادونه:** په بادام یې تشریح سهوه دد.

**بېزېدل bazedál:**

داسې بهیدل چې بژهار کوی، په پژهار بهیدل.

همیــشه مې تر پرهار وینې بربېږی

که هرڅو باندې دارو ږدم نه لږېږی (خوشحال غزلونه)

**بغره bağára:**

لاس چې تور شی که یې سپین مخ وی هم تور شی

له حــرامــو که څوک ډکې کــا بغـــرې (ج.فدوی)

دریا طاعت وی مــــل له تعصبه

سوی پر سر باندې واهه شی په بغرې (ج. فدوی)

**بک bak:**

متوجه،څیر، برند. (محشی)

که بکې پښتــــنې نجــونه وی بکې

نادر لوړې تر شاه برج کړې زنبور کې (د خلکو سندرې ۰ ۱۵ مخ)

**بکس bakás:**

چتې، بې گټې، بې فایدې، عبث. پ. ت. ق د (۱- د اوبلن څیز پاتې شونې برخه او خیری. ۲- لږ، کم) په معنا اخیستی دی د عبث او بې فایدې په معنا هم راغلی دی خصوصاً د پوک سره په ترتیب کې:

پوک بکس د جهالت واړه ترې بیل شی

هرچه ووزی د کامل استاد تــر چــــانړ (مصری خان گگیانی)

که د میني بنګ دې نوش کړه کار همدا دی
نور کـــارونه د جهـــان دی پـــوک بکـــس (مصری خان ګګیانی)
بې د (پوک) نه هم راغلی لکه:
سړی هغه دی چې کس دی          هرچه کس نه دی بکس دی
(کریمداد)

**بګاړ bagár:**

هغه څه چې کار نه ورکوی، د بیکاره مترادف (بګار لیکل شوی دی) زړه پانګه بیګاړ لری.

هغـــه وخت و داهـــاړ          سیند بیـــکاره و بګـــاړ
لور په لور یې څپې تللې          په غورځنګ به غریدلې
(مناقب ۱۲۶ مخ)

**بلابوغمه:** بلابشر.

... کـه (باز) له بازه سره جفت شو شهباززراوړی... کـه چرغ، لګړ، تپوس، کارګه، بلابوغمه داهسې مرغونه ورسره جفت شی هم د هغو په مزاج یې راوړی.          (دستارنامه ۳۷ مخ)

**بلاهو balāhú:**

بلو، بیلو، هغه ډبره چې معمولاً صیقل شوې وی او غالباً نایان، ډمان، پرې چړې تیروی. په فارسی یې فسان یا سنګ فسان بولی. په اختیارات بدیعی کې دوه ځایه راغلی چې یو ځای یې سم او بل یې د تأمل وړ ښکاری. هلته لیکی:

حجر آهن: پښتانه يې اوسپنخور او بلاهو بولي
(اختيارات بديعي ۲٦۲ مخ)
حجرت المس: په فارسي يې سنگ فسان او په پښتو يې بلاهو بولي.
(اختيارات بديعي ۲۷۲ مخ)
د ـه بايد وويل شي چې حجر آهن، حجر الحديد فارسي قاموسونو د مقا ـس په معنا اخيستې دی.
(وگورئ فرهنگ عميد د حجر الحديد کلمه)

**بلرغو** balargū:

مخالف، نا موافق.

د دې کلي خلک بې اتفاقه او بلرغو عالم دی، يو يې آس له خپله کښته وباسي د هغه بل په کښت يې ايله کوي. (م. هـ ۱۵ مخ)

**بلاهور** balāhor:

په خاطر مې غم راوړی هومره زور دی
چې صورت مې له دې غمه کرو کور دی
په وصال پسې مې ملک د زړه خراب شو
نه پوهيږم چې ترکوم مې بلاهور دی (عليخان ۱۲۸ مخ)

**بلکښ** bālkaṣ:

په پرديو متکی، پردی پال، هغه څوک چې خپل او خپلوان پرېږدی او په پرديو تکيه کوي. د (بل + کښ) مرکبه کلمه ده، په کندهار کې دغه کلمه متداوله ده. مقابل يې خپلکښ دی. د سعيد په ديوان کې بيلکښ

ثبت ده چې سمه نه ده. سم فورم یې همدلته ثبتیږی:

دا خپل ځان کړه توري خاورې　　　　کینه وکاږه بلکنیه

(احمد شاه بابا ۱۲۵ مخ)

اوس مې عقل د هغه جنون بلکښ کړ

چې نسبت د جهالت کاو حکـــیم ته (سعید ۱٤۹ مخ)

**بلگ blag:**

د ونې پاڼه، برگ، پاڼه.

بیا یې سدرة منتهی ته　　　　ورورستلم ودې ځـــای ته

یوه درخته مې لـــیده　　　　هومره لویې وه مـــیوه

دا مـــــیوه وه برابره　　　　د منگبو له هجـــــــره

(هجرکوم ښار دی)

ددې درختې وبلگونه　　　　لکه وی د فیل غوږونه

(یاقوت السیر ۱۷۳مخ)

**بلودل:**

حقیقی معنا یې لمس کیدل، پرې لگیدل، مړل کیدل ده خو مجازاً د چوخیدل، څرخیدل په معنا هم راغلی ده.

چې هرگز پرې چیرې خار نه وی بلودلی

حـــواله به ډیر چـمجی په هغه تن شی (ملالتاړ ۲۰۳ مخ)

**بلوک bluk:**

قریه، د استوگنې وړه سیمه. پ. ت. ق (د عسکرو پنځوس کسیزه ډله)

په معنا اخیستی ، په فارسی کې د څو قریو مجموعې ته وایي ، د بلاک کلمه هم دغه شان ورته معنا لري. یاقوت السیر د بي بي حلیمې له خولې وایي:

| | |
|---|---|
| تعجب یې زما په حال کړ | دوی وماته دا مقال کړ |
| تاله بل شانې قصه ده | دا هم ډیره عجیبه ده |
| چې پرون وې ته ضعیفه | هم ډنگره هم نحیفه |
| نن یې ته د بل بلوک | گویا لور یې د ملوک |

(یاقوت السیر ۴۳ مخ)

**بلوک baluk:**

د بوستان درختې ساکتې له ثمره
څو نازیږي په ثمر سره بلوک (ج. فدوی)

**بنات banāt:**

د پخوانی زمانې یو ډول جامه ده. د الپوری محشی دغه شان تشریح کړی دی؛ د پښتو تشریحی قاموس (دوبره وړین تهوکر ، ماهوت ، ماغوت ، ماغوتی رخت) په معنا اخیستی دی.

که لباس د چا بنات ، نبات خوراک شی
کړی سورلی په تازی آس ، ځای به یې خاک شی (الپوری ٦٦ مخ)
په هر حال شکر گذار شه څو ژوندی یې
که اغوستی دې شړی وی که بنات (ملالتاړ ۲۱۵ مخ)

**یادونه:** د لتاړ دیوان کې د (نبات) په فورم چاپ شوی دی.

**بنده** **:bánda**

وندِه، برخه. له برخې سره يو ځاى راځى. پ. ت. ق اخيستى دى. مناسب دا دى چې ستم پر پرده او بخره بنډه د دوى هم مقرره کړه.

(ت. م. ۱۱۱ مخ)

**بنګړيواتى** **:bangṛiuati**

د يوې لوبې نوم دى. فخر افغان دخپل وخت د لوبو په باب وايى:... نورې لوبې هم وې لکه انګۍ، شرنګۍ، لنډيمارۍ، پټ پټانى، بنګړيواتى، ګيټکه، پټه کونجکه، چندرو او نور.

(زما ژوند او جد او جهد ۲۳ مخ)

**بناى**:

مهربان، د لطف خاوند.

که منوى شمس الدين آزادى وه

چې په تا اللّه بناى نه وه نوريه لى (د مروتو کسرونه ۱۲ مخ)

**بنل** **:banál**

تنظيمول، آراسته کول.

چې يې نه ځنبى بانه ملالې ستر ګې

سترى غشى يې بنلى دى پوهيږم (حسين ۳۳۷ مخ)

**بوت** **:bot**

بوتکى، تنکى زلمى، ځوانى ته رسيدلى.

حجاب لرې زليخا کړ          د هودج څادر يې واکړ

هم هغه خوب صورت بوت و　　　چې په زړه باندې يې پروت و
(يوسف او زليخا ۱۵۸ مخ)

**بوتاوه:**

... زما مور سره د ميښو ساتلو ډير شوق و، اکثر به يې په خپله د هغو خسمانه کوله او اکثر به يې ورته په خپل لاس واښه اچول او بوتاوه به يې ورله جوړوله.　　(زما ژوند او جد او جهد، ۲۰ مخ)

**بوجه boja:**

د تالاو، تناره د مورې د بندولو آله. همدارنګه د کوزې او بوتل د خولې د بندولو سربوښ. پ. ت. ق يوازې په دويمه معنا اخيستی.

... نو چې کوچ به يې ترې (له تالاوه) راټول کړل نو بيا بوجه به يې د تالاو وايستل، هغه شلونبی به يې ميرې ته خوشې کړی، ټولی به وبهيدلی.　　(کليد افغانی، ګنج پښتو ۱۰۸ مخ)

**بور baur:**

بورا.

سياه خال يې په عارض باندې جلوه کا
که په ګل د ګلاب بور يا ميری دی (هجری)

**بور báwár:** پړانګ.

مخ له ډاره جار ايستل خندل رقيب ته
واه واه واه عجب ښاری ده عجب طور
هسی ښار عبدالقادر په بخره بيا مونږ
چې صورت يې د سړی خصلت د بور　　(عبدالقادر ۵۹ مخ)

زه رحمت غواړم امان له هسې خلکو

چې صورت يې د سړي وي خوی د بور (رحمت داوی)

**بور bor:**

کامل، بشپړ، پوره.

د سفر زادو توښه درلره بويه

چې پر کور له دست و پايه لابور نه يې (ج. فدوی)

**بورجل borjál:**

کور، استوګنځی.

پس له دې به مهربانه په ځان زما شی

و رقیب و ته په بد ويل ګويا شی

لکه ګل به د ګلابو په خندا شی

عاقبت به تر بورجله زما راشی

زه پوهيږم په اختيار د خپل آشنا (التاړ، ۲۳٤مخ)

و منصور ته د دار سر بورجل د يار شو

عاشقان دی نه کا ډار د دار له چويه (عبدالقادر ۱۵٤مخ)

کوم کمبخت سړی پښيمان کړی چې رانغلی

تا ويل چې زه به درشمه بورجل ته (عبدالقادر ۱٦٦مخ)

بيا مې شي زاړه غمونه په زړه نوی

چې د ښار په بورجل راشم ښارمې نه وی (عبدالقادر ۳۱۸مخ)

لاړ به نشم زه په خبر ستا له بورجله

ما دنګلي په اختيار له خپله سره (کليد- بهرام او ګل اندام ۲۷٤مخ)

**بورنی boranáy:**

بور، کامل، پشپړ، بې نقصه.

بورنی په دواړو کــونو هـــم هغه دی
چې یې زړه په محبت کې اساس ونیو (گلزار روه، اشرف)

**بوړ boṛ:**

منگری(؟)

...(زمری) خویو جبار او قهار، بدخویه او بې پروا بادشاه دی دده د خدمت اول سر خوږوی لیکن وروستی نتیجه شرم او خواری ده. د بوړ مثال یې دی چې په ظاهره ښه ولی دی ولی دننه له زهرو ډک دی.

(انوار سهیلی ۱۰٤ مخ)

**بوړند boṛənd:**

په رنډ، په ورنډ.

یو په زوره پرې کــوی چې هـله پاڅــه
بل یې کلک ترڅنگه کښینی بوړند دی (واصل ۱۱۳ غزل)

**بوزم bozám:**

د بازیوه نوعه ده، بزم د ب په پیښ لیکل شوی دی.

تریناک بوزم تولک ترچوزکم نه دی
په وهنه ترچــوز لا دی افـــزون تره (خ، قصیدی)

**بوزی būzi:**

۱- ایل، مطیع ۲- اړ، محتاج. پ. ت. ق (بوزی بنده) په مرکب ډول

په دويمه معنا اخيستی دی.

پخوا وخت ځينی بزرگانو  د خدای بوزی بندگـــانو
په سبب د دې پوښـــتنې  پورې د رورد پوښتـــنی
(شرعه ٦٠٢ مخ)

هر باغی بوزی بنده کاندی اخلاص
هر بې شرم شرمنده کاندی اخـلاص (حميد ١٤٢ مخ)

**بوږ:**

د بادی لـه پاره وروره  غوشابی دلبره گـوره
هغه زر بوږ کـاهږونه  ښه يې پروينځه اخونه
(د صديق طب ٧ مخ)

مروتو په مخ ورکـــوږ که  نيازی پسې ځان وربوږ که
گيدړ غوندې غار ونيو په غار ننوتل (د مروتو کسرونه ٨٦ مخ)

**بوږ bož:**

جمع، غونډ، ټول.

د خپلې خوښې ديـــوال که کـــوږ وی
د خپلی خـونې په ښــبتن خـــوږ وی
زيست و روزگار بې پکې خوندی وی
لوښی کالـــی بې په ده کـــې بوږ وی (خوشحال رباعيات ١٩٢ مخ)

**بوسو لاندې اوبه بيول، تيرول:**

د يوې ظاهراً ښی چارې په پلمه بدکار کول. دا اصطلاح متداوله ده.

چې په بوســـــو کې او به راڅـــخـــه بیـــا یې

وایی مخ پټ کړه، شوډې ځای کې سیلی ځول پیښ (علیخان)

**بوغی bugáy:**

بغاره، رمباړه، کوکاره، چیغه.

زه به خوی لویې وهم بوغی شپیانه نو څـــله راڅـــوئ

(انگی ۱۷۳ مخ)

د سپینی خونی پروره روپی وه ترلې څـــله وهی بوغی

(انگی ۱۸۳ مخ)

په موږ گـــلې ســـوی الـــوی

مخلوک خبر سوئ زموږ په بوغی (انگی ۲۲۵ مخ)

موږ به په دواړو وهو بوغی دا کاگـــا نو واړه ښـــادی

(انگی ۲۲۸ مخ)

**بوکه búka:**

بکه لیکل شوې خو د ملوکه له قافیې ښکاری چې بوکه ده.

حال را معلوم کړه لورې

زما د سترگو تورې زیاتی پیری ترحورې

رنگ دې سوزیږ تر بوکې

ښکلی د نیاز ملوکې (ا. س ۲ ټ ۳٦ مخ)

**بولا bola:**

ساده شخص، ساده.

ستا په در کې برابر په خاورو رغړي

که په اصل شـــهزاده وی که بولا (حسین ۱۵مخ)

**بولول bolawə́l:**

غولول، تیر ایستل، بولیدل، غولیدل، تیروتل.

د شیطان په نصیحت بولا وه نه شی

ما وره مـا وره مســلې د تاریکی (پټ ستوری ۲۵٤مخ)

**بونه buná:**

وهنه، ټکونه. پ. ت. ق د (زیاته وهنه ټکونه، زیاته ډبونه) مـــعنا ورکړې ده. دلته همدغه معنا څه مناسبه ښکاري.

کـــاندی په یوه نظر بونه د یار په مـخ کـې

بازچې د چشمانو ځی په ښکار د خوږو زړونو

(پټ ستوری، میاخادم ۲۳۸مخ)

**بونډی bonḍáy:**

هغه بدنامه ښځه چې تیري پرې وشی دا اعتراف وکی، وژل کیږی نه، بلکی پلورل کیږی او پیسې یې په اولس خوړل کیږی. دا کلمه او دا دود په مومندو کې موجود دی.

خو په خوله ورته ویل شی چې بونډۍ وه

کنه عین د قـیامـــت بده بونــډۍ وه (نیرنگ عشق ۱۷۹مخ)

**بوی boy:**

*خاصیت، خصلت. په (خوی بوی) اصطلاح کې هم دغه معنا شته

يعنی (خوی خصلت).

... دا مې هم اوريدلی چې جلال الدين د پير روښان يود بنګښنه وکړه. روښانيو ورته وې چې بد دې وکړل، بنګښ په خوی کې سپک دی، ننګ ناموس د افغانی نه لری، د مغلوښوروا خواره دی. که فرزند دې وشی د بنګښ په بوی به وی، د مغلو ښوروا خور به شی. (دستارنامه ۳۸مخ)

**بهښت bahә́ṣt:**

جنت. د عربی د جنت د کلمی له منلو د مخه به غالباً همدغه کلمه په پښتو کې متداوله وه چې په فارسی کې بهشت دی. په پښتو زړو متونو کې زياته راغلی ده.

په بخيل باندې مطلق بهښت حرام دی
د اميد تخم يې پاتی شی پينه (واصل ۱۰۰ غزل)

... په هر زړه کې چې د بهښت محبت وی هغه زړه په مانند د باغ دی چې پکې رنګارنګ د بهښت نعمت وی پريوان. (خيرالبيان ۱۲۶ مخ)

| | |
|---|---|
| د مومن چې په څه دوک | ورژيړی چيرې نوک |
| هغه نوک يې په درنښت | خدای داخل کا په بهښت |

(شرعه ۲۰٤مخ)

**بهله:**

دواړه پښې دې پريشانې ختانه وې
په بهله باندې دې جوړ ناستې دده وې (بازنامه ۹۷مخ)

**بهی baháy:**

پوتی، د يادښت کتابچه. (؟)

د ډیر غم حساب په خوله نه شی لتاړه

کړه بهی د حساب جوړه و حســاب ته (ملالتاړ ۱۲۹مخ)

**بیاتو byāto:**

بیاتی، کاز، قیچی.

| | |
|---|---|
| په قیامت چې نمانځی خدای | د دنیا په رنځ گـدای |
| دا آرزو به کـا هـمیل | د دنیا سـلامت خـیل |
| په دنیا وای زموږ پوسـت | تر بیـاتو ختلی وروسـت |

(شرعه ۲۰۲مخ)

دلته باید وویل شی چې قیچی یا کاز په شرعه کې (بیاتی) هم لیکل شوی دی. مثلاً سفر ته د توښې د اخیستلو په باب توصیه کوی:

بل دې واخلی ځان سره (مسافر)

څـو کـالی کـره سـره

مړنځ، شیشه، بیاتی، مسواک

ستن، سپنسی، چاکلی تریـاک (شرعه ۸٤مخ)

او د پوزې ویښته زویه په بیاتی اخیستی بویه (شرعه ٤۳مخ)

**بیارته biyārta:** بیرته.

چې لم حاله د وگـړی خبردار شـوم

له همه و په زړه بیارته وار په وار شوم (عبدالقادر ۱۱۳مخ)

لرې له مامه ځه ځـی چې ځی ارواح لـه تنه

ومرم که ونه مرم چې بودم شي له ما بیارته (عبدالقادر ۱۵۹مخ)

**بیت bet:**

۱ - جاذب، جالب، ۲ - مناسب، وړ. ۳ - معطر غوړ، خوشبویه تیل.

هم یې هومره مــــریونه چې همه ښایسته وونه

همګی زرین کمــــر وو په مخ ښکلی له قمر وو

هر یو بیت په دلبــری و په هر کار کې هــنری و

سیه چشم دلــــــفریب و شکر لب و زنخ سـیب و

(یوسف او زلیخا ۸۷مخ)

بدن بیت په پومــبه وی طبیب کس په لاس ډیوه وی

(طب دلیل العلیل ٤١ مخ)

هغه ژوی چې ادهــــان کا سم دې ځان په دابرهان کا

له اولــه دې غـــوړ لاس راکاړی په ورو ځــو پاس

بعــد از آن دې ږیره بریت کاندي غـوړ په زیبابیت

(شرعه ١٤مخ)

دی خربیل د تولــو بریتو ناروا په روا بیتو (شرعه ٤٢ مخ)

تخرګ، نوکونه، ږیره، بریت زیر ناف اخیـــــستی بیت

(شرعه ٤٣مخ)

**بیتل betál:**

بې جوړې، بې ساری، بې مثله.

که مرد یې له جوازه وافضل ته وهه ځغل

که دواړه سره نه وی سرې نه یې ته بیتل (خ. متفرقه)

هر نفس مې لکه ستن په زړه چوکه شي
د خسرو ترستم تیر هجري بیتل شـــو (هجری ۱۳۵مخ)

**بیټ bet:**

ملاتړ، مرسته. (پ. ت. ق)

ای فدوی توري پر بیټ وهلې کیږي
ځکه فرق شي د کم اصل و د اصیـــل (ج. فدوی)

**بیڅانی bećanay:**

سبوس.

... او هغـه تغن چې سـبوسـه یعني بیـڅانی یې ډیر وی زر له نسـه راوزي. (اختیارات بدیعی ۳۱۳مخ)

**بیڅکه bećká:**

څنه، زلفه.

توري بیڅکې تـــور مــــاران دي
د سیینې غاړې خزانې نه راتاو دینه (پښتو لنډۍ ۸۸مخ)

**بیغ:**

ترازه، قاش، درز، سماعي مونث ده. په ننګرهار کې ویل کیږي چې پیاله یا ګیلاس بیغې بیغې لاړ یعنی ترازې ترازې شو.

جندر کـــړه ورته رنـــډه چـــقه واړه په ده پنـــډه
جندر په وینو سور دی لکه بیغ په هندوانه کې
(د مروتو کسرونه ۹۹مخ)

**بیځل beʒāl:** ګرونجي.

که معراج یې په هزار پایه بلند دی

په عارف باندې آسان دی تر بیځله (واصل ۹۲ غزل)

**بیدو bedū:**

په قضیه کې شامل، په یوه فقره کې دخیل غړی.

... آخر دا چې منزری (زمری)دا ټول بیدوګان او مدعیان راوغوښتل او د هر یوه نه یې جدا جدا د معاملې تحقیق وکه او له هر یوه سره یې وعده وکړه چې که رښتیا ووایی نو معاف به یې کړم. (انوار سهیلی ۳۵٤مخ)

**بیر byār:**

بیرته، دوباره.

| | |
|---|---|
| هرچا چې نن کښت وکړ | فردا ټول به یې کا په بیر (ارزانی) |
| له دنیا یې مهر کم کړ | چې خبر له دې سوپر شو |
| هغه ټول ښکلی ځایونه | ښه رنګونه یې بیل بیر شو (ارزانی) |

**بیره:**

د بیره له لاسه مه خوره شربتونه

شربت نه وی شراره وی د تنور (ج. فدوی)

د بیره انګبین نه وی بې له زهرو

آخر غم وی که اول یې وی سرور (ج. فدوی)

**بیرګه:**

د پاسه دوه کوترې راغلې

لکه بیری چې د مرغانو ښکار کوینه (پښتو لنډۍ ۱۸٦مخ)

**بيړه:**

سودا دخيل سړي به کله وي بيشانه

اچوخيلو په پټکي اينبي بيړۍ دي (بيدياني **گلونه ۱۵۲** مخ)

**بيړه berá:**

دا دنيا بيړه لــــه پـانه پوشيده ده له چـوپـانه

دا بيړه هغو اخيســتی چې يې برخه له عرفانه (ارزانی)

**بيړه گل:**

د نيلو بوټي تازه لښتي لښتي شو

هم پلی هم بيړه گل وړی په غـــاړه (مطيع الله پيره **خيل ۱۶۳** مخ)

**بيړۍ beṛə́y:**

زولنی. پ. ت. ق اخيستی.

اول روغ په توکل کا د ځان ځلی

بيا له پسه په ياغی بيړۍ اخـلی (دستارنامه **۱۱۱** مخ)

**بيړۍ beṛə́y:**

يوه ډول سگرټ دی چې د تنبـاکـو له پاڼو جوړوی او په منځ کـې يې هم تنباکو وی.

څوک راوينې دی له بيړۍ لوگی وباسی

څوک دکان ته ځېر د چايو په حســــرت (غزونی **۲۸۸** مخ)

**بيس bes:**

اوس به وا نغوندم جوگی د تا له بيسه

چې خارج کړمه فلک له خپله ديسه (هجری ، رباعيات **٥٦٤** مخ)

**بیس Bes:**

تکی په تکی.

...ای زویه! عالمانو د رازد پټولو سخت تأکید کړی دی. که دا خبره عیب نه وای نو ما به تا ته بیس په بیس حال ویلی و، او ته به مې له دې غمه خلاص کړی وی. (انوار سهیلی ۱۳۵مخ)

**بیګاړ begár:**

بې اتفاقی، په ننګرهار کې ویل کیږی چې «دغه خلک سره بې ګاړه دی) یعنی سره بې اتفاقه دی.

دا ژنې څوک دی سترګی د یرې لری

څنې بې څنګه مخ ته بیګـــاړی دی

نجونی بنګلو کې ورته ولاړی دی

(پټ ستوری، خدای نظر ۲۸۲مخ)

**بیګر bigár:**

غرنی چرګ. پ. ت. ق. اخیستی دی. په فارسی مرغ زرین ورته وایی.

کوړ کوړی، قمری و چوپیا، بلبل وجل شداګن

هم شتر مرغ او بس مرغه، مرغ زرین بیګر است

(نصاب الصبیان ۳٦مخ)

**بیګه begā:**

د مساحت یوه اندازه ده.

د شانهرو فوارې دی په هر کـــور کې

د بازار به یې څه کم بیګه وســـعت و (خ، د ډیلی په صفت کې ۵۹۵مخ)

منشیان په ملک پره شو　　　　په هر کلی کې د یره شو
څنځیر او پیمانه، کنال، بیګه یې کړه همغاړه
راجمع یې کړه واړه　　　　(ا،س. ا. ټ ۱۸۱ مخ)
**یادونه:** کنال د جریب څلورمه برخه ده. (پ. ت. ق)

**بیل byál:**

جلا، جدا. پ. ت. ق د (ب) په زیر، د (ی) په سکون اخیستی په لرغونو متونو کې ډیر زیات د (ب) په سکون د (ی) په زور لیدل کیږی.

نصیحت به م ړړ ته وکا په بیل بیل
د حضرت په قول به وکړو موږ عمل
(د څوکنو د میاعمر خلاصه، کیدانی ۴۹ مخ)

**بیلوته belota:**

چې رندانو آشنایی راسره وکړه
اوس چې هره بیلوته وایمه پند شو　　　　(غزونی ۲۱۷مخ)

**بیله bela:**

د سیند له اوبو څخه یوه وړه جلا شوی برخه چې بیا بیرته پرې ورګډیږی. پ. ت. ق د ټاپو، د سیند په مینځ کې وچه چې څلورو خواوو ته یې اوبه وی په معنا اخیستی چې دا معنا د غور او تأمل وړ ده.

ما د عشق د بحرلهر هسې ولید
چې بیله یې نه ښکاریږی قلزم ماته (سکندر ختهک ۶۷مخ)
چې دې توان رسی په لوی دریاب کې ګرځه
په بیله کې دې زوال وینم نهنګه　　　　(خوشحال)

**بینیاوی:**
بې عدالتی، نیاو = عدل.

وزیر د رنجیتی کـــا په زلمـیو باندې زور
دسکهانو په عمل کې بینیاوی وینم په کور (ا. س. ۲ټ ۲۱مخ)

**بیور:** پلمه، بهانه.

عداوت کوه له نوسه له شیطــــانه
پخلا ځان په څه بیوره تری مرور کړه (التاړ ۱٤٥مخ)

**بې‌ورس bewarás:**

همیشه یم ستا د هجر په مــلا پړ
بې ورس، بې گفتگو په قضا پړ (ج. فدوی)

ACKU

# پ P

**پادېښ pādiś:**

سزا ، د عمل مجازات (درېږ ، ظلم، تيرى په معنا يې په زړه پانگه کې مثالونه شته)

... د ديو (دوى) جزاء ، سزا په خداى سپارلې ، که حق پوښتې او کفران يې د نعمت کړى وى هغه هسې پاداش ، پاديښونه به پرې کيږى. (ت. مرصع ۲۹۳)

**پار pār:**

لحاظ ، خاطر، مخ و خاطر. پ. ت ق د مثال له وړاندې کولو پرته دغه معنا ورکړې ده.

...گلبشری د طالب جان پسې ناره وکړه چې د خدای پار دی چیرته ځې! (م. هـ. ا. پ ۱٤مخ)

...د مور یې لاس ونیو، ویل یې د خدای پار دی لاس مې را ایله که.
(م. هـ. جلات خان او شمایله ۲۰۲مخ)

...دې ورته وویل چې د خدای پار دی دغونه مې پریږده چې زه تا ته اصل حقیقت او کیفیت ووایم. (م. هـ. دریم تهوک ١٤٤مخ)

**پاره pārá:**

...لښکر د سلطان محمود ددوی (ن ایلک خان د لښکر) سره مخامخ شو... بیا دواړو لښکرو لکه د دوه و دریابونو د پارې یو بل ته مخ کړ او له شوره د آسونو یې کور د زمکې په زلزله کړ.
(ک. افغانی، د سلطان محمود تاریخ ١٤٤-١٤٥ مخونه)

**پازه pazá:**

اثر، دم، افسون.

چې پازه یې شو د عشق په تا د پاسه
لکه زه ته هسې پاته هک حیران شوې (بیاض)

**پاس:**

توبه هاله ښه ده په گناه چې لاس رسي
چې لاس په هر چیرته په کوز و پاس رسي
چې لاس و نه رسي توبه څه سود لري
خالي خبرې په خوله د پاس رسي (خ. رباعیات ۷٤۳مخ)

**پاسو pāsú:**

کمینه، بداصل، کم ذات، د ساوو (ساهو) ضد. (ریښه یې «پس» ده).

... درست مجلس د صحبت د ضیافت د ملوک په خشبویی معطر بویه، ننه ورچنی خوشبویی عامه بویه ترساوو، تر پاسو دی هرڅوک د ملوک خشبوی وی. (دستارنامه ۷۸مخ)

**یادونه:** په متن کې یو (سو) زیات دی یعنی پاسو (سو) لیکل شوی.

**پاشنه pašná:**

ماته، ټوټه. پ. ت. ق د ټمبی د مرغکی په معنا اخیستی.

... بلو ته لا درد ورغی، تر له ووت و دروازی ته وجوړیدئ چې پاشنه یې کئ. (م. ه، قطب خان او نازو، ۹۹مخ)

**پال:**

پلو، لوری، سمت، خوا.

خلقـو له دې وکړنه - د نوم نشـان پوښـتنه - څه نوم، نشـان دی سـتـا - چیرته مکان دی سـتـا - او څه گـوزران دی سـتـا - راځی له کـومه پاله، وایم له زړه خوشحاله... (اولسی سندرې ۲ټ۳۵مخ)

بیا فقیر وړځنی وپوښتل له حاله
ای زلمیه! ته راځی له کومه پالـه (اولسی سندری ا. ټ ۲۷۸مخ)
ورځئ چـې پسـې ولاړ سـو
خدای دی گډه کی بدی له هره پاله (فولکلوری سوغات ۱۰۷مخ)
له کـومه پاله راغلی ظـالمـه
ټوپک دې ډک کئ ودی ویشتمه (انگی۱۵۸مخ)

چې دی راخلاص شی د مچ له پاله

بیا زه پخپله راضی ، خوشـحاله (انگی ۱۹۸مخ)

وه زموږ سرداره وه پلانکی خانه

کام دی راتول کئ له هـــره پاله (انگئ ۳۱۰مخ)

**پال:**

پیل ، شروع.

کار آسان دی، پال یې گران دی. (پښتو متلونه ۳۲مخ)

**پال چینگه pālčingā:** تیز تیز کو.

یوه وړوکې خزنده ده چې سوربخن وزرونه لری چې تور تکی پکې وی، وزرونه یې کلک او پاسنی تنه یې په کې پټه وی. له واړه گونګټه لږ څه وړوکې ده ، خلک یې ځای په ځای رانیسی په گوته یې وهی او پال پرې گوری. په ورغوی او په گوته باندې گاز خوشې کوی او گاز یې هغه ځای ته زیړ ، سوربخن رنگ ورکوی. دا خزنده د منی په وخت کې د جوارو په فصل کې زیاته لیدله کیږی. د ننگرهار خلک یې تیز تیز کوبولی ، د پال کتلو په وخت کې ورته داسې وایی:

پال چینگی پال واچوه ، پال چینگی پال واچوه تر پښـو به دې پښو تری درکړم تر لاس به دی لاسو تری درکړم ، پال چینگی پال واچوه.

(د خلکو سندرې ۱۵مخ)

**پانpān:**

مـشـهـوره ونه ده چې پلنې پاڼې لری او د هند په نیـمـه وچه کې یې خلک

ژوی. پ. ت. ق اخیستی. غالباً د کلمې اصالت د پښتو (پانه) ښکاري.

لکه زه یم ستا په غم کښې ک له وینو لړمون هسې
نه به پان نه به حنا وی پُر په وینو درون هسې
(پښتو غزل، دلسوز د طورو)

په نازکو شونډو بار د پانو مه ږده
خدای چې شونډې و تا سرې بې پانو درکړې (عبدالقادر ختټک)
سینه یې گلجړی ده د جانان تیر و کمان ته
پان موري په لبانو په خرام ځی گلستان ته
(اولسی سندرې- ۲ټ ۱۸۷مخ)

هریړه، بریړه، سونډ، لمونگ، جوتری
پان، چوند، سپاری، کت، جایفل، کوکنار مست
(د دولت لوانی ۸۱مخ)

**پانسه pansá:**

گوره وپانسو ته د ښو د خوبرویانو
دوی وهی د زړو مرغی، د سترگو په باښو (ورکه خزانه، خوږدل)

**پاو pāw:**

پاولی چې مشهور پسول دی، (پاو) ریښه او (لی) لکه په غوړلی، گلالی، شنیلی... کې وروستاړی دی.
په دویم شعر کې د فلز معنا ترې ښکاري.

| | |
|---|---|
| وه نجـــلی ژاړي په ارمـــانونه | ته به پرېږدې د نیستی کورونه |
| هورې نه لوړې سته نه غمونه | پر ســـاتنا نو گـــنده پـاوونه |
| جانانه جار دې سم وغاښـونه | نیم یې زر دی نیم یې پـــاوونه |

(انگی ۵۲۹مخ)

**یادونه:** ساتن یو ډول تهوکر دی.

**پاوړسنگ pāwaṛ sáng:**

زینه، اندرپایه، پارسنگ، پارچنگ چې په فارسي یې نردبان بولی.

پ . ت. ق پارسنگ او پارچنگ اخیستی دی ددغې کلمی لـومړی توکی paor دی چې په پوړی کې موجود دی.

... موذن سنگدل چې دا خبره واوریده، راغی تر پښو یې ونیولم او ویې څکولم، سر مې په پاوړ سنگ برابر شو، مات شو او وینې مې له سره روانې شوې. (ت. مرصع ۵۲۱ مخ)

* دغه کلمه بل ځای د پوړسنگ په فورم هم راغلې ده:

...او په اتفاق مړنیو د اهل اسلام پوړسنگو نه کوټ ته تکیه کړه، په څلورو واړو اطرافو د قلعه راوختل. (ت. مرصع ٤٨مخ)

**پاوه جاوه pāwa jāwa:**

| | |
|---|---|
| فـــرمـــایلی دي دروغ | پیغامبر په جنگ کې روغ |
| بل دې کــــا پاوې جاوې | یون په کبر لکـه نـــاوې |

(شرعه ۲۰۰ مخ)

**پایڅوړی pāycóṛay:**

پایڅوړ، وروستی سړی، له کاروانه یا له رمی گلې پاتی وروستی شخص

یا مال. پ. ت. ق پایڅور اخیستی دی.

کاروان ولاړ پایڅوري پاتې شو تکیږي
مخ په لوري د فنا ځـــی نه تم کـیږي (جانان. فدوی)

**پایندی pāynday:**

نیکمرغ، مبارک، بختور، مونث یې پایندۍ ده.

مور به په دواړو وهـــو بوغۍ دا کــــاګانو واوړه ښـــادۍ
په مور یې غوښتی ښې ناوکۍ خالق یې مه که ورپاینـــدۍ
(انګی ۲۲۸مخ)

زما دې بیلتون کی په اوس ګړۍ
خدای مې دې نه کئ درپایندۍ (انګی ۴۹۹مخ)
ما دی خدای نه کی ورپایندۍ
تاسی امین کئ ګـــردې نړۍ (انګی ۵۳٤ مخ)
بسه! مــــاتې دې ســـه بتۍ چې یو مې نه سی په نن ګـــړۍ
چې شپه مې وسی پر پلار ګنۍ چې مې خدای نه کی درپایندۍ
(انګی ۵۸۲مخ)

**پتر patár:**

د مړی د لمبولو تخته. محشی په پتارۍ تشریح کړی.

د بنګڼ(نوم) ناوکۍ سر دی غوړولی
سر دې په پترسی چې پنګڼ یې له ښکیه راوړی ځو کریلی
(فوکلوری سوغات ۷۳مخ)

**پته pata**: دفتر

د هــرچـا پاڼې پرېتــه نوشـتــه لـــه معــرفته
هــره پته ده گــويـــانه د صـــانع لـــه ښه صــفته
هــره پته صـــانع ســتايي هرڅوک خپل گوی په مخ بيايي
(ارزاني دواړه ځايه)

مطلب د فارسي ددغه بيت مطلب ته ورته دی:
برگ درختان همه در نظر هوشـيار
هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

**پتېر pater**:
سخت زړی، ظالم، تيری کوونکی. محشي همدغه شان شرحه کړی.
ورينداري څله ژاړېدی، ډېره ... ستا خواښکې نه ده له دې پتيره.
(انگی ۲۰۹مخ)

**پټ څټ**:
پټ، نهم. مخفی. څټ لفظي تأکيد دی.
دی د سترگــو تورولـو فايدې ډيرې اهــل دلو
د حديث له خوله بياني پټې څټې نه، عياني
(شرعه ۱٤مخ)
ورتــه ووې پيغـــمبر ناخبر دوســت کړه خبر
محبت له خپل محبوبه پټ څټ مه ساته ميزوبه
(شرعه ۱۰٥مخ)

**پټ سپاهي** :

وسلوال سپاهي، په زغره يا بختر کې نغښتی سپاهی، له ښېو تر سره پټ سپاهي.

د لاژاکې نجونې پټ سپاهي پرېپاسي

چې په قهر غوصـــــه راشي قهرژنې (خ. متصرفات ۸۱۸مخ)

د آه غشی مې ويشته په قوس د صـــبر

ولې زخم يې پرې نه کړ پټ سپاهيان وو (هجری ۴۲۲مخ)

... نور يې (شيرشاه) وفرمايل چې اوس واړه د يرې ته وجاروزئ، سبا به واړه پټ سپاهيان شئ چې له دوړه (يرغل) د مهارت... اندېښنا ک يم. (ت. مرصع ۱۳۹مخ)

... وايي چې اسلام شاه پخوا له ورتلو د عادل خان ځو ځوانانو ته چې په تهور او شجاعت يې اعتماد و پټ ويلی وو چې تاسی پټ سپاهيان شئ. (ت. مرصع ۱۶۸مخ)

... او په هغه روش چې پوځونه مقرر شوی دی پټ سپاهيان دې حاضر شي. (ت. مرصع ۱۸۱مخ)

... ساقی بيگ پټ سپاهي و، په ختيه کې پياده تلای نه شو.

(ت. مرصع ۲۷مخ)

د ابليس خبيث حرص درته يقين دی

پټ سپاهي کړه ځان د خير په سلاح (هجری ۳۱۶مخ)

د اخوند درويزه په مخزن الاسلام کې پچی سـپاهی زما په فکر

همداسې معنا لري. هلته لیکي:

... هرچې د شریعت په زغره پټ او پچې سپاهی شو.

(مخزن الاسلام)

**پټه pát̤a:**

بټي، پهه، د زخم پلستر. پ. ت. ق اخیستی. د ملالتاړ په دیوان کې څو ځایه په همدغه معنا راغلی:

په هغه پرهر مې پټه ږده طبیبه!

چې له درده یې مدام په واویلا یم (التاړ ۹۸مخ)

په پرهر باندې مې پټه ږدی د زهرو

زړه سوی نشته یو ذره دسنګدلانو (التاړ ۱۱۷مخ)

هیڅ صحت مې نشی درد مې لا پسې زیاتیږي

اینبې مې طبیب د زهـــرو پټه په پرهـــر ده (التاړ ۱۳۹مخ)

څله مې د زړه په پرهر پټه ږدې طبـــیبه

نه راځر ګندیږي هیڅ اثر ستا په مرهم کې (التاړ ۱۹۲مخ)

**پټه کونجکه pat̤á konjə́ka:**

پټـــه ګـــوتـه. دا یـوه لوبـه ده چې د دوو تنو او هم د برابرو دوو ډلو ترمنځـه کیږي. په دې توګـه چې یو تـن یا یـوه خوا ګوتـه، کـونجکه یا بل شی په یو لاس کې پټ نیسي او مقابله خوا یې باید په ځیرکۍ سره وښیي او که نه مقابله خوا یوه نمره بایلي.

... په حجرو کې به تتې کیده، پټه کونجکه به د شپې په حجرو کې کیده. (زما ژوند او جد و جهد ۳۲مخ)

... نورې لوبې هم وې لکه انګۍ، شرنګۍ، لنډیماري، پټ پټاني، بنګړيواتی، ګیټکه، پټه کونجکه، چیندرو، او نور...

(زما ژوند او جد وجهد ۳۳مخ)

**پټۍ paṭý:**

ځیری، لیک.

د عمل پټۍ دې توره په ګـناه کـړه

هجری وینځه یې د اوښکرو په باران (هجری ۱۱۰مخ)

**پجه pajá:**

د کلالانو د لوښو پخولو ځای. پ. ت. ق د پجه کلمه اخیستی او په پجن یې حواله ورکړې ده. حال دا چې د پجن کلمه له یوې خوا دومره آشنا او متداوله نه ده او له بلې خوا د کرغیړن، پچن، غولن، د هغو صفاتو فورم لري چې د عیب او نقص معنا پکې مضمره وي.

هسې کانې له تقدیره پرې راخلاص شو

چې شکست یې په پجه د تدبیر ګـډ که (علیخان ۸۱مخ)

**پچاوړه:**

د وصال په پچاوړو باندې پرې کیږي

چې تر غوړه تیره وي د هجـر کانګه (قمبرعلی)

**پچوتایي pačotāyí:**

...ده ناقابل په سبب د پیشکش هم د قبیلې د ناشدنیانو له غمه پچوتایي کړ. (ت. مرصع. ۴۲۰مخ)

**پچول pacúl:**

بنگری، تونده.

عوج فرزند د عنق هسې قد بلند و

چې اوبه یې د طوفان وې تر پچو له (دولت لوانی ۴۳مخ)

**پچی سپاهی:** (وگ پټ سپاهی)

**پڅن pacán:**

چارنځور ته وې له څنه — کړې دا آه فریاد پڅنه

وې یې ستا له ډیرو ناستو — نه د خپل رنځ له ناراستو

(شرعه ۲۱۴مخ)

**پرایه prāyá:**

پردی، اجنبی، بیگانه.

له دې هسې کبرجنه په څه وایم

چې خپل دوست هسې گنی لکه پرایه

(مطیع الله پیره خیل ۱۵۴مخ)

**پرتوت partút:**

زوړ، بوډا، سپین روبی، د پرتیت خاوند.

پرده پوښ د مومنانو بنده گانو

که صغیر وی که برناوی که پرتوت

**یادونه:** پرتیت په زړه پانگه کې د لحاظ، خاطر په معنا راغلی، ددواړو ریښه یوه ده.

**پرچال parĉál:**

بلې. پ. ت. ق اخیستی.

پریـــام خـــو هسکه تیته کـیږي
د زنې خال دې په پرچال و سولاونه (پښتو لنډۍ ۳۷مخ)

**پرخانه:**

چې د چا د قسمت لوښی پیمانه شی
نور یې بیا یې تبه رنځ یې بهانه شی
د ښو تیر دې آزاد هسې تر زړه ځـــی
الــــوده په وینو لکه پرخـــانه شی

(سکندر ختک ۱ - ۲ مخ)

**پرسین:**

محبت هـــسې برســـتن ده چې پر هر څه د زړه ستن ده
خلاص د عقـــل له بخیو د حباب په دود پرسین ده

(شمس الدین کاکړ)

**پرغز pargáz:**

پ. ت. ق د (۱- جګجـانی (یو ډول غـشی) ۲- غـصـه، قـهر. ۳- د ناروغ د بیهوښۍ حالت. ٤- دوکه مار) په معناوو اخیستی. په لومړیو دوو موردو کې یې معنا لټون غواړی.

دوی زهمن دغـــه لوی خـــان د کندهار دی
شـــــاه حســـــین او شـــاه مـحـــــمـود

حاجي ميرخان دد نامه وه
دی پرغز او تمام کاره

(نافع المسلمين ۱۱مخ)

کل تفصيل له خپله ازکا  يو چندڼ، اګر بل غز کا
يو پناه شی حق ګويی کا  بل ويده مست په پرغز کا

(ارزانی قلمی نسخه)

غابن يو نه لرم په خوله کې جوړ نيولی يم پر غز
هر چا يمه ليدلی په نصيب مې دی مرض

(د نوره دين چاربيتی ۲۸مخ)

**پرغول pargŏl:**

ستا په در مې دی نيولی مات کنډول
يکې واچوه دلبره دووی بول
ځان به خلاص کړې له خودۍ له سړه لړې
که راسم کړې په اوږو د عشق پرغول (حسين ۲۹۳مخ)

**پرکاله:**

شيرعلی له ځايه پاڅيده په قهر
اس يې زين کړ سپين ميدان لره يې راوست شهسوار
څلور څلويښت پرکاله جامه يې واغوسته
خوشبويی وه د مشک او د عطار

(د زقوم ق. ن ٦مخ)

ثلور ثلوينبت پر كاله جامه يې پوشيده كړه

له جـــــامو يې اوېزان لعل وگـــوهـــار (د زقوم ق. ن ١٤مخ)

**پركوټ parkūt:**

نيم ژواندى . محشى د (وزر پريكړى مرغه) په معنا اخيستى.

... د باز مـــرغى چې اول لـه جـالې والوزى اول مـــور و پلار تـه تارو ، تمځرى وغيـره ښكار ونيسى ، ژوند يې پركوټ كا ، ورته يې پرېږدى چې هغه ونيسى ښه پرى گيراشى. (دستار نامه ٣٩ مخ)

**پرگټه pərgáṭa.**

ځرگنده،په ډاگه.

د عارف چې د باطن سترگې بينا شوې

په هرڅه کې تل محبوب وينى پـرگـټـه

(ميرزا خان انصارى ١١٦مخ)

**پرماينبت parmāəṣt:**

بل راغلـــى روايت دى | له حضرته حکايت دى

چې ده وكړ پرمـــاينبت | زه واقف سوم په بهښت

(ياقوت السير ١٨١مخ)

**پرنډ-prənd:**

پنډ ، اورټک ، چقماق.

له لمدو لـــرگـو اور نه بليـــږى دله

د خپل زړه اور لره پرنډو پومبه بويه (جانان ، فدوى)

**پروان:**

لاس لکه مچ په ارمان مروړمه د یار د شونډو
له ډېر شوقه مې پرې څرخ وخوړ پروان وختم (حسین)

**پروښتون parwaxtún:**

پرورښت (محشی).

سیدال خان ویل په کلمو مې پروښتون دی
دنیا د غم په ورځ پیدا ده
د نیازمنو ځـــای په ځـــای بیلتـون دی (دخلکو سندرې ۲٤۷مخ)

**پرولل prolál:**

پلورل، خرڅول.

دوی هم وواهـــه دا جـار — خبر دار یې کـــړ بازار
چې پر دوی دې نه پرولي — لړ او ډېر لـــه خـــوردني
(یاقوت السیر ۱۳٤مخ)

دی مالک دی زه مملوک یم — که مې پرولی نه دی گرم
(شمس الدین کاکړ)

**پرولول prolawál:**

پرولل، خـرڅول. قـامـوسـونو پلورل، پرولل اخیـستـی. د کلمی آریایی ایتیمولوژیک اساس (پرو) دی چې په فارسي کې (فروش) له همدغې ریښې دی او په نورو آریایي ژبو کې ورته کلمې ترې جوړې دي.

هرچې دین یې پر دنیا وی پرولولی
څـــرگند زیان یې برخـــه شـوی (مخزن الاسلام)

**پروی:**

تنګ، په فارسی کې یې چسپوک بولی. هغه نمری چې له غړیو پورې نښتی وی.

خره توده، پریوان هم فراوان است بسیاری

ارت باشد فراخ و لیک پروی امد چسپوک

(نصاب الصبیان ۹۰ مخ)

**پرهتل parhaṭəl:**

مښوکې پرې لګول، شوکارې ګول.

هر ساعت مې یې د زړه مخ     بې نوکونو پرهاتیه (دولت ۸۷مخ)

**پریان paryấn:**

نه خبریږی د فدوی له درد و سوزه

هغه یار چې پرپریان باندې مسیږی (ج. فدوی)

خوګیانی سیدان نه دي

په خوګیاڼ کې پریانه دي (مناقب ۱٤٦مخ)

**یادونه:** په یوه بله نسخه کې داسې دی: په خوګیاڼ کې پیران نه دی.

**پریت prit:**

۱- شرم، حیاء. ۲- ادب، احترام. په زړه پانګه کې په شرم، حیاء شرحه شوی.

په ژګه (ماینه) باندې د میړه د حقوقو په باب داسې راغلي دي:

د خدمت حق دی یې دا     نه ګنی په دا ادا

که يې وځنې زرد ستوی    هم د پوزې وينې زوی
يا کا بوتی پوخ بل وريت    ورته ونيسي بل پريت
(شرعه ۱۵۲مخ)

**پرېکوڼ prekūn:**

پريکون، قطع، مقاطعه، پريکړه. په شرعت الاسلام کې د «ڼ» په غبر زښت ډير ځايونه راغلي دی. لکه:

کله کله دوست دښمن شي    دښمن دوست، چمن ايمن شي
له دښنه د خدای پريکوڼ    نه شي کړای په عشق ړوند، کوڼ
(شرعه ۱۰۵مخ)

هم هغه په دماغ کوڼ    چې له خپلو کا پريکوڼ (شرعه ۱٦۰مخ)

ددې خلقو صحبت زښت دی    سپکوونی د درنښت دی
په پيوند کې يې هيڅ گوڼ    نشته، ښه دی ترې پريکوڼ
(شرعه ۱۷۲مخ)

په نورو زيا تو متونو کې د «ن» په غبړ دی، لکه:

هم دا هسې د مخلوق خوبونه نور شو
په هردم ځبله د مينې کا پريکون (ملالتاړ ۱۰۹مخ)

**پريوان prewán :**

پريمان، ډير زيات. پ. ت. ق اخيستی.

په اصحابو به پريوانه وه بې حده
په کفارو به وو زوړ که ښه وي دا (عبدالقادر ۳۱مخ)

ډ جنت ته یې روان په ډیر اعزاز کړ

پرې پریوان یې کړ انواع انواع نعم (عبدالقادر ۱۰۷ مخ)

... په هر زړه کې چې د بهښت محبت وي هغه زړه په مانند باغ دی چې پکښې رنګارنګ د بهښت نعمت وی پریوان.

(خیرالبیان ۱۲٦ ب مخ)

**پریوتل:**

وژل کیدل، پریستل= وژل، دا یې لازمی معنا ده په دغه معنا په تاریخ مرصع کې زښت ډیر راغلی دی، لکه:

... یو ښه زلمی د ختیک له لوری د نازو خان نمسی په توپک وویشت شو، پریوت هم هوری پاتو شو. (ت. مرصع ۲۸۲ مخ)

... قضاءً دوی دواړه سره راوتلی وو، و بله برابر شول، پنځه سواره یې ځینې پریستل. (ت. مرصع ۲۹۰ مخ)

... جنګ یې په ښه روش آغاز کړ، مغول یې پریستل فوځ یې مات کړ. (ت. مرصع ۳۰۳ مخ)

... یو جنجوخیل بل رځړ دواړه ښه سواره دا ځای د بهرام له لوریه پریوتل څو پلی سواره زخمی شول. (ت. مرصع ۳۰۷ مخ)

... مغول مات شول، شمشیر خان د دریا خان له لاسه په خاپښ کې پریووت. (ت. مرصع ۳۲٦ مخ)

... بهرام شکست وخوړ څو سواره ځنې پریوتل. (٤۹٥ مخ)

**پرت part:**

۱- بند، ۲- ډ ک. محشی همدغه معنا ورکړی او لیکی چې دا نږه

کاکړی لهجه دد.

د ده بچی دی لوي کـــی بـاري چې وار ور تیر و دښـمن ته کی
زمور به د ګړدوسی زړه سوزي کندوان به پرت د بابک غه کی
(انګی ۳۷۸مخ)

**پرده:**

فضل (محشی).

های پرده بې دری پلاری زنوله مخه (د مروتو کسرونه ۳۱ مخ)

**پره وره prạ wrạ́:**

قضاوت، نیاو، محاکمه. دوره پره په فورم هم راغلی ده.

پره وره دی وګوری منصفانو له بایده دي
نه چې د بدرنګو په کړه وره کا اعتراض (علیخان ۶۸مخ)

کله شـــو لا کلـــه زه رقیـب سره د عـــوایو
پره وره مو ښکاره کړه په دعوه برهان د چا یی (علیخان ۱۲۲مخ)

حق ګویی او ویره طمعه کله اوسی یوځای جمعه
چې ساتی د خلقـــو زړه هغه کړی نه شی وره پره
(شرعه ۱۸۲مخ)

**پسته زار pastá zār:**

نرمه او پسته دښته، د پښتو د «پسته» او د فارسی د «زار» له وروستاړی جوړه ده.

... په مـیدان د کندوز او نارین (نهرین) پســته زارونه ډیر په نظر

راغلل.                (ت. مرصع ۲۱۲ مخ د خوشحال خاطرات)

**پسند، پسندل pasánd, psandəl:**

په سند، په رایه موافق، د خوښې وړ. دا کلمه پښتو قاموسونو په دې اشتباه چې اصالت به یې فارسي وي په خپلو لغوي زیرمو کې نه ده اخیستې. ددغې کلمې اصالت پښتو او ریښه یې سند sand دی چې د پښتو په کلاسیکو ادبیاتو کې زښته ډیره راغلې ده (زړه پانګه وګورئ) او «په» د پښتو همدغه متداوله خدمتي کلمه ده. دغه خدمتي ادات د فارسي، حتی پهلوي د نورو کلمو په ترکیب کې هم لیدل کیږي. لکه: پنهان= نهان، پدید= دید، پدرود= درود، پازند (د اویستا شرح) = زند (د اویستا متن)... څرنګه چې «په» د فارسي له خدمتي ادواتو څخه نه دی او نه هم (سند) په فارسي اسنادو کې شواهد لري نو زه یقین لرم چې دغه کلمه له پښتو څخه فارسي ژبې اخیستې او خپله کړې یې ده.

دا کلمه د پښتو په کلاسیکو متونو کې هم د صفت او هم د فعل په فورم زیاته استعمال شوې ده چې دلته یې څو مثالونه وړاندې کوم:

الف- د صفت په فورم:

مه درومه رحمانه په خلاف د دانایانو
مینه د دنیا پسندلې نه ده هیڅ دانا (رحمان بابا ٤مخ)

کار و بار ته د هغه جهان پسند کړه
شپه او ورځ په سجده پریوزه و مولا ته (لتاړ ۱۲٦مخ)

چې بې سواله ورکړه کا منت په ځان بړدی
سخاوت دې د هغو پسندلی ما (ع. قادر ختک ۳٦مخ)

د پسو غوښې دي پسندلې　　　په خوراک کې معتدلې
(شرعه ۲۲ مخ)

ب- د فعل په فورم:

چې په ما به یې نظر د حقارت کړ
هغو واړو په هنرو پسندلم (خوشحال ختک)

... هر چا ته په ښه نظر گوره، هر چې په ځان نه پسندی په بل یې مه پسنده . (عبدالقادر ختک، د دیوان مقدمه)

... په داورځو کې د سلطان سکندر په خاطر الهام مأثر تیر شو چې په کناره د آب جون هسې ښهر آباد کا چې سلطانانو او پادشاهان یې وپسندوی. (ت. مرصع ۷۸مخ)

**پسندی psandaý:**

ځای په ځای ، بیا په خپل کور ، بیا په خپل مسکن.

کوز به هیچا ته له کبره تندی نه کړم
که دلبر له خپله دره پردی نه کړم
وړی زړه زما دلبره د چا په لمسه
په گوگل کې به یې بیا پسندی نه کړم (حسین ۳۲ مخ)

په خپل کش را ښکلی زړونه تورو زلفو
بیا به کله په خپل ځای شی پسندی (حسین ۲۳ ٤مخ)

په فریب فریب لوټلی زړه خوبانو
یوځل بیا په خپله خونه پسندی شوی (حسین ۳۸ ٤مخ)

**پشت خار:**

حمید د سفر د لوازمو په باب وایی چې مسافر باید دغه شیان له ځانه سره واخلي:

بل دی واخلي ځان سره ځو کالی کره سره
مرنغ، شیشه، بیاتی مسواک ستن، سپنسی، چاګلی تریاک
آئینه، پاکی، پشت خار لینده، تیغ، ځپلی، دستار
رانجه، نوسی، رینه هم وړي بویه په دا مهم
(شرعه ۸٤،خ)

**پشکی pašakáy:**

د مارډول دی (محشی).

تنبتی سوری له د زلفو له منګوره
که نیله، که منګری، که پشکی دی (علیخان ۱۳۱مخ)

**پشنانه:**

یار چې وژاړی زما په ژړا پوری په نظر د بردبارانو پشنانه شی
(پټ ستوری، یونس)

**پښی ویستل:**

تښتیدل، د خطر له ځایه په تلوار وتل (ژوندی محاوره ده).

... نو ده ډیر افسوس وکه چې ولی مې سستی وکړه او لکه هغه هوښیار ما هی می پښی ونه ویستی. (انوار سهیلی ۹۳مخ)

**پکوّ pakó:**

تر پوزی رسیدلی، سخت تنګ شوی. پ. ت. ق اخیستی، په محاوره

کې ژوندي دد خو ادب ته لار نه لري.

خو دله غمه شین د ځان پکو ناست یمه واعظه

شیخ او محتسب دې ژبې سمې غبروي (علیخان ۱۳۰مخ)

**پکه pə́ka:**

د جوارواغبل شوي وره چې په موټي کې کنډوکې کېږي او کورنیو مرغانو ته د خوړلو له پاره اچول کېږي. په ننګرهار کې دغه کلمه متداوله ده.

قناعت د ژوندون برګ دی

د حاجت غوښته سور مرګ دی

څو سړی په صبر شخوند کا

هومره زیات په خوله کې خوند کا

هغه دم د خواست پکه

د وقار خوله کاسپکه

(شرعه ۱۱۷)

**پګړه pagə́ṛa:** هرزه، بې ګټې، بې فایدې شیان.

ښځه زوي رسم و رواج خو لوی حجاب دی

له زره وباسه او له دا پګړه

(مطیع الله پیره خیل ۲۹مخ)

**پګنډه pagə́nḍa:**

کوم طبي بوټی دی.

بیخ د یگـــندی هــمــدمـــه　　　　　مـــیده کــــړه پنـــځه درمـــه
حامله ښـــځه دې وخـــــوري　　　　　چې پریوزي غم دې نه خـوري
(طب دلیل العلیل ۹۰مخ)

**پل pal:**

بخښلی، معاف. صفت دی، پ، ت. ق د (معافونه، بخښنه، بخشش) په معناوو چې حاصل مصدر دی اخیستی چې سمه نه ده.

ما خپل خون ورته پل کړی　　　　　کـه زما د مرگ عذاب شته
(خوشحال)

خـــون به زه وتا ته پل کــړم شکــــرلبې
په دا شرط چې په بوسه مې لب خواږه کړه　(پیرمحمد کاکړ)

که د مستې د غمزې د تیغ مشتاق یې
اول خپله خونبها کــــړه ورته پله (خوشحال)

که کــامات لـــــوښی ویی　　　　　په خطـــا وینځـــه مـــرییی
لــــه وهلــو دې یې پل کــا　　　　　یا ددې عجز، تقصیر خپل کا
(شرعه ۱۷۰مخ)

**پلالی palāli:**

طلبگار، غوښتونکی. پ. ت. ق (پلال= طلب، غوښتنه) اخیستی دی.

یو تر بل اغزین وشالم خان پلالی　　　　　(د مروتو کسرونه ۸۱مخ)

**پلاڼه plāṇá:**

۱- په ژی کې له لرې ځــایه راوړل شــوې اوبه. ۲- ژی، د اوبو لوی مشک.

دلته لومړۍ معنا ورکوي چې پ. ر. ق اخیستی. پ. ت. ق په دویمه معنا اخیستی.

نور چې شپه شوه پاک سرور
درې کسان کړه مقـــــرر
د قـــریشــــو چـــې خبر
راوړی دوی ترپاک ســرور
ولاړ، نور ولید درې کسان
د پلانې څـــــواوښــــان (یاقوت السیر ۲۶۰ مخ)

**پلتره platra:**

والی، لښتی، موندری. پ. ت. ق د جمع په فورم اخیستی.

زړگــــی مې داسې راته وایی
د پلترو سره یې وژویه غوږونه (پښتو لنډۍ ۲۷٤مخ)

**پلزن palzə́n:**

منډ پیژندونکی، د پله پیژندلو متخصص، پلپوه.

مـشرکــــانو یو پلـــزن | چې مــــاهر و ددې فـــن
له څــــانو سره رفیق کــړ | نور روان یې پر طریق کړ
دوی نور وکړ جســـتجو | څو چې مــوند اثر د پښو
پلزن وروست په ډیر غور | دغه پل تر غـــره د ثــور
چې نزدې شوه دوی وغارته | پلـــزن وویل کفـــار ته

(یاقوت السیر ۲۱٤مخ)

**پلسبه palsbá:**

یو راز گیلتی لوښی دی. (محشی)

د سپینې خونې پروره اورځی

ښایستی سپینه وی تر پلسبی (انګی ۱٦٨مخ)

**پلستی palástay:**

ځوان، زلمی. (محشی)

سترګې یې تورې کاږه بریتونه

د لالا کـــم دی پلســتی ورونه (انګی ۲۹۲مخ)

**پلستکی palastkáy :**

ځوان، زلمی، پلستی.

زاړه شرغشیه، باددې ښورو ینه

د پیغلـــی په غــوځـــــې کې پلستکی ژنې خوب دی زنګوینه

(فولکلوری سوغات ۸۰مخ)

و پلستکو راکئ رخصت زه ئن د ګردو په اجــازت

(انګی ۱۸۹مخ)

د پلستکــو نښته خــوندونه ددوی په زاولوډ ک دی جیبونه

(انګی ۲۸٤مخ)

**پلګه palgá:**

پوړی، د زینی اړیکی. (محشی)

برګډیې مړ که په دا شپه دیک شنبه کې

زینه یې کښیښوه ورته وخاته پلګه کې (بیدیانی ګلونه ۱۱۷مخ)

**پلن اچول:**

پټ ساتل، نه ښکاره کول.

... مونږ به پاچا ته وو ایو، دغه دی حلال مو که!، حال به پلن واچوو نه به وایو چې راځخه ولاړ... لنډه دا چې پاچا هرځه پورته، کښتـه سو د لور پته او خوان یې ورک سو، باره یې حال پلن واچاوه.

(م. د. ۳ ټ ۱۷۲ مخ)

**پلوشه** palwaṡá:

۱- شـوغله، ۲- وړانگه، نور، تجلی. ۳- نرگـوبس، نرخـوبس، چنگک، د کب نیـولو سونډه. پ. ت. ق یوازې په لومړی دوو مـعناوو اخیستی دد. دلته د دریواړه معناو مثالونه وړاندې کوم:

پلوشې مې له جوسې نه پورته درومی

د شهی د سپین جبین د تیک غمی یم (عبدالعظیم رانیزی)

هغه اور د کوم مظلوم په اوښکو مړ شو

چې یې لیرې غر اوسم ســـوه پلـوشو (حمید ۲۲۸ مخ)

د حرص په پلوشو دې ځان بندی کړ

د مـــاهی په دود راووتې لـه آبه (لتاړ ۱۲۳ مخ)

آزادي دې په خپل ځان کړله حرامه

زړه دې بند که د حرص په پلوشوکې (لتاړ ۱۹۶ مخ)

**پلوگی** palógay:

بدمرغه، بدبخت. (محشی)

ښيري کومه واوره سيحان — په بلـه ورا دې نه سـي روان
ورسور پلوګی مه که نيکان — سلامت مه سه ما پښين روان
(انګی ۵۹۸مخ)

**پلوه palwá:**

له پلوو چې ورته کوز سولی آدمه
دامير زويه په تـا مـو وللـه‌تمه
مه خيلو په بلوو ايښي د يوی دی (بيدياني ګلونه ۱۵۲مخ)

حميد د بادار له خوا د مريانو سره د ښه چلند کولو په باب وايي:

په دا رنګ دی پرې که ښه کا — ددوو کـارو حکـم نه کـا
چې کتموی کړه هم تبی کـړه — په دا کار وروستی، ورنبی کړه
هـره ورغ دې اويا ځـله — ترې پلوې خـواړی په ځـله
(شرعه ۱۶۸مخ)

**پلياړ palyā̠r:**

وياړه، پيکل،دلوخو يا د غنو ديوال، منهو.

هزی المر (نوم) مې وکړه پلياړونه (د مروتو کسرونه ۳۰مخ)

**پليت palit̡:**

له حق سره يو ځای استعماليږی، حق پليت= خدای په امانی ، مخه ښه. اصل معنا يې حق بخښنه ده ( يتit ) لکه په ډليت کې زيات شوی دی، د پل معنا معاف، بخښل شوی ده.

... فتح خان راغی، رابيـاته يې وويل چې اوس نو ورسـه حق پلينت

ځنې واخله، را بیا راغله له ښځو سره یې خدای په امانی وکړه.

(ملی هنداره ۱۳مخ)

... ملنګ ورته وویل چې د مور او پلار شخه دې حق پلیت را اخیستی که یه؟ ده ورته وویل چې یه، ملنګ ورته وویل چې ورسه له مور او پلار څخه دی حق پلیت را واخله. (ملی هنداره ۳۰۲مخ)

**پمک pamák:**

ډیر غمک مې ستا د عشق په آب خوړلی

پر پمک د زړه یې ګرزوم هر داغ (ج. فدوی)

**پنځر panǰə́r:**

سوری، وت. ریښه یې پنځ ښکاری، پ. ت. ق درپو rapu په تشریح کې د پنځرک کلمه د پیوند په معنا اخیستی خو د پنځرک لغت یې نه دی اخیستی. تروی (تودری) ښه هغه وی چې لرګی یې سپین، ګرداو مجوف... او پنځر یې واړه وی. (اختیارات بدیعی ۱۷۵مخ)

**پنځری panǰə́ray:**

سوری سوری، هغه څیز چې واړه واړه سوری ولری، وت لرونکی.

... طریقه د سوول د ویښتو دا رنګه ده چې سره کنهوی له ویښتو ډکه کا او داسې سر پرښ چې پنځر پنځرې وي پرې کیږدي.

(اختیارات بدیعی ۸۱۷مخ)

په (۵۳٤مخ) کې دغسی سرپوښ په (سوراخ دار) ښوول شوی دی.

که ورته ځیر شی په شان د ځرې        نظر انداز کړې د سپر پنځري

(شیدا ۱۷۹مخ)

**پنځشنبه pánjśanbá:**

پنجشنبه، د زیارت ورځ، د اوونۍ شپږمه شپه او ورځ. له دوو توکو (پنځه + شنبه) مرکبه ده. لومړی توکی شمیر او دوهم توکی هم په اینډو اروپا یی ژبو او هم په سامي ژبو کې مشترک اساس لري. مثلاً په عربي کې سبت، په روسي ژبه کې سوبوته، په ساساني پهلوی کې شونبت sunbat دی چې د اوونۍ لومړۍ ورځی ته وایي، او شنبه په پښتو، فارسي او د سیمې په نورو ژبو کې متداوله ده. نو په دې اساس لکه چې په پکتیا کې د اوونۍ ورځی د(... لومړی، دویمه، دریمه...) یادولی شو، دغه شان (یو شنبه، دره شنبه، دری شنبه... هم باید مروج شي.

یو ځای د پنځشنبه کلمه داسې راغلې ده:

ناخن اخله بیادره        پنځشنبې پس له دیګره

بیا په دا ترتیب خوشبویه        د نوکونو پریکړه بویه...

(شرعه ٤٤ مخ)

**پنځک pinják:**

پنځمه برخه، خمس.

... خالد (رض) به خمس د غنایم یعنې پنځک د اولجې له حقیقت د فتحې په درګاه د صدیق اکبر استاوه،        (تاریخ مرصع ٤٢مخ)

... دی دی حساب د بیت المال له خالده طلب کا او له پنځک د اولجی هرچی باقی راشی هغه دی ترې واخلی. ( ت. مرصع ٤٨مخ)

... نور پنځک یې تری جدا او باقی یې برابر په ځوانانو تقسیم کړ او متاع د پنځک یې په اویا اوښانو بار کړه او عرضداشت د فتحی یې په خدمت د امیرالمؤمنین عمر واستاوه، فاروق متاع د پنځک په اصحابو او په کورونو د شهیدانو او مهاجرانو او انصارو قسمت کړ.

(ت. مرصع ٥٠مخ)

... دا تاخت یې په سارنگو (خیل دی) کړی و، هومره مال یې راووست چې دری زره روپی یې د پنځک حساب جوړ کړي.

(ت. مرصع ۲۷۷ مخ)

... چې کورته راغلو، اولجه مې حکم کړه چې پنځک یې ویوست شی. (ت. مرصع ۳۱۸ مخ)

**پنځه panʒa:**

... امیرخان ډیره آرزو زما د بللو کوله اما زه ورنه غلم، چې د ماخط ورغی په هغه زمان یې پروانه او پنځه وکښه د ... په لاس یې راواستوله.

(تاریخ مرصع ٤٩٧)

**پنډ pand:**

کراړ، سخت، کلک، ټنډ.

معرکه د غم زما په زړه شوه پنډه ولې نه راځي دلبره په زړه پنډه

(رحمت داوی)

**پند pand:**

پونده، د اوسپنې کونده.

همیشه له لکه پند پکې ایشیږم

صحبت که رااور بسـتر زمـا (خانګل خلیل)

که د عشق له کړه خلاص شوم زهٔ نظر کاندم غـړی

د عشق اورهسې ستی کړم لکه پند او اوسپه خړی (پښتو غزل فیض کاکړ)

**پنر panár:**

چاړه. (محشی) امکان لري پنر د کوه ی ... د تاریخي سیمې نوم وی چې توري او غشي به پکې جوړيدل، لکه مصري توري چې مصر ته منسوبي دي.

عید او زکات د مـلا د پاره

پنر را وغـواړی له بازاره (انګی ۲۸۳ مخ)

له میرو تللی ده مرتبه د اوس میړو مو پنر درسته (انګی ۳۵۹ مخ)

د پیرمحمد کاکړ په دیوان کې دوه ځایه د کوم دول توري په معنا راغلی دی.

د غمزونه دې ترکومې زړه سیر شو

همیشه وربانديې توري د پنر خورم (پیرمحمد کاکړ)

خدای دی نه کا چې به ستا له لوری ستون شی

پاس په سر که عاشـق توري د پنر خـوری (پیرمحمد کاکړ)

همدارنګه د پنر غشی:

یا سـتا کج بانوګان دی یا غشـی د پنر دی

(اولسی سندری، ۱ټ ۱۱۷ مخ)

**پڼ pəṇ :**

اوبه، د پښتو (پڼه کول= اوبول) او د هندي ژبو پاڼي همدغه ريښه لري.

دا اوره له اوبو پــــاڅـــي          بيا اوبه شي کوزو ښاخي

عـــارف آب، ابريووينـي          دا ديد پڼ دې لــوړ کاڅي

(ارزاني قلمي نسخه)

**پوټ puṭ:**

غم، اندوه. (محشی)

په دويم بيت کې يې معنا د غور وړ ده.

عبث غم دی په تندی باندې انبار که

بيا به نه مومی هيڅ سود له دغه پوټه (التاړ ۳۹مخ)

د اخلاص مزه به نه مـــــومی لـــه پوټه

آه، افسوس به وی ورپاتې له دی لوټه (حميد ۳۰٤مخ)

**پوچ لوبه:** يوه لوبه ده.

... په حجرو کې به پوچ لوبه هم کيده او د لوبې په گټلو به شرط هم لگيده. (زما ژوند او جد و جهد ۳۳-۳٤ مخونه)

**پورمندی:**

آسمان ناري کړي زمکې فـرياد دی

پور مندی حسين (رض) مې ياد دی

ازميښت د خدای دی په دې پوهيـږم

جې نياو بردار و وړکی (؟) تشنه شوی (ا.س. ۱. ټ ۲٤٦مخ)

**پوړ por:**

لوی او پلن پوزی. پ، ت. ق اخیستی.

که څوک بل کا چراغونه　　پرې رڼا کا مسـجدونه
یا په پوړو غـورړوینه　　چې نمونځونه پری کوینه
یا جارو کا مسـجدونه　　خدای به ورکاندی اجرونه

(کیمیای سعادت ۱۰۶مخ)

**پوړسنګ paursáng:**

پاوړسنګ، اندرپایه، زینه.

... او په اتفاق میړنیو د اهل اسلام پوړسنګونه کوټ ته تکیه کړه په څلورو واړو اطرافو د قلعه راوختل. (تاریخ مرصع ۸٤مخ)

**پوړی پوړی:**

لکه پتنګ وربانديې راشه پوړی پوړی　　فراموشه د فانی واړه جنبه کړه

(ګلزار روه، ګلمیر)

**پوست post:**

د کوکنارو د غوزی پخور.

... ملوک بویه چې د هر قسم غله... ده په کور کې مهیا لری، بلکې په غیر انګوری شراب نور هر قسم اشربه دی هم موجود لری لکه بنګ، لکه پوست، افیون، مفرح. (دستارنامه ۲۵مخ)

**پوښتیدل pūṣtedál:** پوښتل.

دوی چې راوستل بندیان

و حضرت ته يې کړل عيان حضرت دوی وپوښـــتيدل
د قريشـــو له منـــــزل (ياقوت السير ۲٦۱مخ)

دوه يې خسران دوه يې زومـــانو
شپه او ورځ به يې له حال پوښتيده (د زقوم قصه ۳٦٤مخ)

... ملک سليم او شاه مراد ځنې يې هم دا مصلحت وپوښتيدل.
(تاريخ مرصع ۳٥۲مخ)

چې مې خپل عقل تمام کړ پوښـــتيده مـــې يار آشنا
(عليخان ۳مخ)

**پوکنۍ pukanə́y:**

مثانه. پ. ت. ق اخيستی.

باتينګې ښه ترکاري ده د شفا په سازګاري ده...
غوړوی د حکمـــت باغ مـــربی ده د دمـــاغ
پوکنۍ قـــوی کـــوی د جماع زور زياتـــوي
(شرعه ۲۹مخ)

**پول:**

لا ينفی له غيره سول کړه دحـــق ذکر د دل پول کړه (ارزانی)

دغه پس سلطان شاه له خپله پلاره سره کنبيناست
وزيران يې سره تول کړه
عقل راکاني کم، تخت و بادشاهي راڅخه درومی
همه واړه ګرفتار د ډيران پول کړه (د زقوم قصه ۲۳مخ)

**پون pawān:**

موږ به هم ورکو د غسی پارسل

گرد به پون وی په مــیان کی زر (انگی ۲۸۹مخ)

**پونجی ponjí:**

د سپینو زرو غوټه؟ پ. ت. ق پونجی یعنی د «ج» په ځای د «چ» په غږ اخیستی غالباً دا او هغه یو څیز وی.

د هــمه عیب گنجی یې　　　د همه صدیق پنجــی یې

د همه مرگ جاوجی یې　　　د هرچا مایه پونجــی یې

(دولت لوانی ۲۳۸مخ)

د اکلام د دل کــونجی دی　　　د ایمان راستی پونجی دی

(پنجی لیکل شوی)

د راســــتی په بــاب ویلی　　　لوی حضرت صدیق پنجی دی

(ارزانی ق. ن)

**پوند:**

یو خــورا نازک بوټی دی چې خلک یې د شــونډو د تداوی له پاره پکاروی محشی همداسی تشریح کړی.

بابا ویل نه دې ودومه　　تا د پوندو په شان ساتمه (انگی ۱۵۷مخ)

**پونډه pūnḍa:**

د اوسپنی کونده، د اوسپنی هغه ټوټه چې کوم څیز تری جوړ شوی نه وی.

... مثلاً اوسپنه پیدا ده چې توره شي، که د استاد ترلاسه ورغله توره ورځني سازه شوه، په صیقل شوه، تیره شوه، موتی میان يې مرتب شول... او که نه دا هیڅ نه وی هم پونډه پاتې شي، په نقصان کې پاتی شي. (دستارنامه ۱۵مخ)

جدا چې نه شي تر اوسپنځړی ترې پاتې نه شي د پونډی زړی

(خوشحال)

پونډه په اور کې گونه گونه شي کاني په اور کې گچ یا چونه شي

(خوشحال)

لکه پونډه وي واورته و اوبو و ته قرطـــاس (خوشحال)

چې د دیوشیطان له اصله وي ناري دي

همیشه به په اور ســوزی لکـــه پونډه (دولت لوانی ۲۶۰مخ)

**پوهان:**

پوه، عالم، د پوهی عالم، د مفرد مذکر له پاره په زړو متونو کې زیات لیدل کیږي. بوازې ملالتاړ شلماني په دیوان کې شپږ ځایه راغلی:

بې فایدی روزگار به کل لاندې تر پښو کړی

که پوهـــان د محبت په کـــارو بـار شي (ملالتاړ ۱۸۲مخ)

کله ماو ته ویل د مال و مـــــلک کـــړی

چې عزت په مال و ملک کې دی پوهان شته (خ. متفرقه ۸۳۸مخ)

سیر د معنا کړه، دا خبری په زړه اوره
شه خاموش په حرف د احمد شاه پوهان عاشقه
(احمدشاه بابا ۱۲۶مخ)

بیا یې ثاثکی د رحمت په خوله کې کښیښو
پاک نبی یې په همه علم پوهان که
(پټ ستوری، غلام محمد ۳۸۹ مخ)

د غافل فکر و نظر نه ورسیږی
فدوی څوک چې د انسان په سر پوهان شی (ج. فدوی)

**پوهړ puhaŕ:**

چټل کاری، د هغه چا صفت دی چې کار یې پاک نه وی، پواړه، ناپاک، هغه څوک چې پخلی، خوراک، کالی او ځایگی یې چټل وی.
پ. ت. ق د بی عقل. ناپوه، ساده، بیرا په معنا اخیستی.

په جهان کې هر بادشاه له پاخه گډ لاړ
نور پرې خدای خبر سړ تره او که پوهړ لاړ (مطیع الله پیرهخیل)

د پښتو متل دی: څه رړه حیشته پیشته، او څه میرمن پواړه.

**پوهنده pohəndá:**

پوه، عالم، عاقل، د پوهې خاوند.

هم دینداره هم عادل و — هم په عقل کې کامل و
هم عالم و د تفسیر — پوهنده و په تقریر
(پټ ستوری، احمد، ۶۱۷مخ)

د کشور بادشاه صالح نامه وزیرو

په هر کار کې پوهنده، ښه يې تدبير و

(کلیدافغانی، بهرام ۲۸٤مخ)

**پویل:** شریل.

دا د ویبن په لباس بند دی په تش لاس اویه پویی

له اوبو غوړی نه خیژی په لباس دی نه کالو یي

(ارزانی ق. ن)

**پویه poyā:**

په منډه، په زغاسته، ډیر ژر، نیغ، مستقیم، ترو.

... درخانی چې د آدم خان له مرگه خبره سوه ناره يې پر وکړه:

زما د صبر برخه لویه جدا کیږم د پردی موري له زویه

که مینه په رښتیا وم یاره زه درپسې درغلم په پویه

(ملی هنداره ۱٦۷مخ)

... توغ او نغاره او پیاده دایې له ځانه سره کړه، سواره يې په پویه ورپسې ورغلل، جنګ يې ورسره آغاز کړ. (تاریخ مرصع ۲۸۹مخ)

... چا راته وویل چې څلور سواره اوس د پاسه په پادشاهی لاری په پویه راغله. (ت. م ٤۷۸مخ)

... معلوم شول چې څه آسیب و خان ته ورسید، په مجرد د لیدو پویه و سرای ته ورغلم. (ت. م ٤۹۳مخ)

**په ځان:** یوازې، تنها.

دلته له ځایه معلومیږي چې معنا یې خپله، پخپله نه ده، بلکه یوازې ده:

...د لیرخان په ځان په هاتي سور ورغی، عذر یې ورته وکړ.

(ت.م ۲۲٦ مخ)

**په ځان پسې تلل:**

یوازې تلل، تنها تلل.

...د پالکۍ نه یې تر پلل، توره یې وکښه په ځان پسې روان شو.

(تاریخ مرصع ۲۰٦ مخ)

**په ځان کیدل:**

د مرګ حال ته رسیدل، په ډېر بدحال کیدل.

په حلقه د زلفو بند زړونه رها کـړه

عاشقان دي په ځان شوي له یارۍ دي

(هجري ۵۰٦ مخ)

... په کوټ کې هغه خلیل تانه دار، یو څو مهمند زي باره خیل په ځان شوي وو، لاس پښې یې وهل، چې پیژندګلوي یې وشوله چې پښتانه دي ترحم مې پرې وکړ، له مرګه پاتې شول. (تاریخ مرصع ۳۱۸مخ)

**یادونه:** دهجري په بیت کې د زلفو په ځای زړونه دي چې یقیناً تیروتنه ده.

**په‌داګ ډګ وېشتل:**

تورزن فکر مې عالم په ډاګ وويشت
نن شمله يم زه حسين په پښتنو کې (حسين ۲۱۲مخ)

**پهزان pahzán:** د ختهکي يو ډول. (محشي)

د دنيا پهزان يو شان تللي نه شي
خربوزه د کندهار د هند لــه پوټه (قنبرعلي)

**په غوړ وهل:**

غوړول، غلي خبرول، په پټه خبرورکول.

په خولې ريبار وايم ريبار مې نشته
په غوړ دي ورو ورو وهم غلي غلي (اولسي سندرې. ۱ټ۹۰۱ مخ)

**پيا ړ peyár :**

۱- ډېر، زيات، ۲- پراخ، ارت. (محشي)

ستا بلا واخلم مــا ما ولــيا ړه تا شيطاني کئ ددې له پـــاره
تا ويل مړې به پرې خورم پيا ړه ستا بلا واخلم مړې آســــانه
(انګي ۲۷۷مخ)

دسپيني خوني پرو ړه چــــيلمه
زما ورونو زياته درڅــخه ځمــه
زه د اړخ کــــانې يـم وختـمه
غولي غايت دی درپيا ړه به يې کمه (انګي ٤٤٦مخ)

**پياز pyáz:**

اوم، خام. د پيـازه په فورم هم د تاريخ مرصع په (٥٠٦) مخ کې راغلي

چې په زړه پانگه کې ثبت دی.

... خان علیین مکان هم هغه اوان پیر شوی و هغو بدبختو به ورته ویل چې بهرام پیاز و اوس څه خو پوخ شوی دی.

(تاریخ مرصع ۴۹۳مخ)

**پیاس payás:** تنده.

خوله مې درنگ په درنگ وچیږی په هجران کې
ښــکــاری دا د څنــکــدن راته پیــاس

(پښتو غزل - دلسوز د تورو)

**پیاو**

د عشق اور کې چې څوک پریوزی — د دیو په لاس کې کیوزی
فریاد ترې پیاو نیــوزی
بهیږی له سترگو ساعت په ساعت اوښکی رنگینې

(پټ ستوری، سرور بنگښ ۱۵۰مخ)

**پیپړې pipṛé:**

چیچړې، د غوښې هغه برخه چې نه خوړل کیږی. پ. ت. ق اخیستی.

وایی وه یــــوه پیـــشو — د یوه بزرگ په ورشـــو
ده به دې لــره پیـپـړې — له قصابه غوښتی، وړی

(شرعه ۱۸۱مخ)

**پیتی pitáy:**

د تړیک یو ډول دی. پ. ت. ق اخیستی.

چې منګې واخلې د ګودر په لور سفر چې که ‏ ‏ په مازیګر چې که

پیتې په لاس ورسره ځې کــشرې وروړ نن ‏ ‏ غاغ يې سمسور نن

پیتې په لاس ورسره ځې وروړ يې احتیاط کا ‏ ‏ څه لوی پسات کا

(اولسي سندرې ۱. ټ۵٦مخ)

**پیټیمو** petemó:

پټیمو، پیټ، لعنت، نفرین.

پیټیمو شه د بیاض په عمر باندې

چې لا بیابه دی استوګنه کـاندی دلته (بیاض)

چې د یار پسې مړ نه شو ژوندې پایې

پیټیمو شه د بیاض په دغــه ژوند دی (بیاض)

**پیچونې** pečūnay: پیچومی.

د میني لار ده کـــندې کـندې زړ پیچونې لــرې

زړه مستقیم کړه قدم کلک کړه چې خطرونه خورې (حسین۱۳۲مخ)

**پیچونې** pečúnay:

پځونې، پټونځې، کمین، د پیچومی په څیر يې اساس پیچ دی زما په فکر اصله کلمه پځونی ده چې په کلاسیکو ادبیاتو کې زیاته راغلې ده قلمې تیروتنې ترې پیچونې جوړ کړی دی.

له پیچونې دې د غم سواره ښکاره شول

دهوس لښکر دې درست درهم برهم کړ (عبدالقادر ختک ٦۳مخ)

**پیځل** pejál:

پیزل، او بدل، پیرل.

پیڅه دُر د شـــعر د اشـــعارو په لړی کې

صراف دی دا یاقوت په تله تول کا د مرجانو

ژړ[illegible] د شعر په کړی کې

مفـــیده دا ننی په طبـیعت د عـاشـقانو

(اولسی سندرې ۲ټ - ۱۰۰مخ)

**پیڅ pec:**

۱ - تحمل، زغم، ۲ - عیب، ویار.

دا و پیڅ د تکبر چې ښکلیو بیا موند

ځکه نه پیڅی په کفر کې اسلام خط (حسین)

ننداره د خپل نګار کا پس له مرګه

په پریکړی سر پیڅی ملنګان خط (حسین)

**پیڅانګه picánga:**

ښانګه، د ګوډی، مشک، غړه کې، خیګ هغه برخه چې په پوستکی کې د ژوی د ښې برخه وی، ریښه یې پیڅ په (پیڅه، پیڅکه) کې ده او «انګه» لکه په ښانګه، غړانګه کې سوفیکس دی.

په راتلونکو بیتوکې د شاعر مطلب داسې دی:

ناراسته ښځه په میچن غنم داسې زیره اوړه کوی چې د اوریشو او. تري جوړ شی، هغه هم د زیاتې ناراستی له امله د ګوډې له خولې نه، نه بلکه د ښانګې له لارې باسی... بیتونه دا دی:

ناراســـته ښــځه غنم اوربشــې کا
تر پیښانګیو اوربشې تشــې کـــا
پیشی ترې پې څتی د اور ته ګورې
هومره پرې نه شي چې پشو پشې کا (عبدالقادر ختک ۳٦۸مخ)

**یادونه**: قلمی تیروتني له (پیښانګه) نه (بیښانګه) جوړه کړې چې بې اساسه ښکاري.

**پیر per:**

۱- ډول، قسم، طور. ۲- دوره، بارګشت. ۳- ځل، کرت. ٤- برید حمله، ګوزار. پ. ت. ق په ورته معناوو اخیستی دی.

۱- چې نژدې سوو دوی وغارته پلزن وویل کفـــارته
له دې غاره نه دي تیر مطلوب ستاسې په هیـــڅ پیر
(یاقوت السبر ۲۱٤مخ)

چې کاته وخپل عاشق په بل پیر که
وچ په سترګو کې یو دم د کسیو نم که (ج. فدوی)

۲- چې ساکن کړم خدای د مینې په لمبو کې
ځکه اوښکې مې تل پیر خوری په لیمو کې (رحمت داوی)

چې هردم د هجر اوښکې پکې پیر خوری
ځکه ولویده مژګان زما د ســـترګـــو (رحمت داوی)

نور دې شی روان په سخ چې وخیر په هغـه مخ
نه دې خوری په بیرته پیر د جاهل خلق په ځیر (شرعه ۲۰۹مخ)

۳- ده قسم خور په دا پیر        نه به سم تر ادب تیـــر
(یاقوت السیر ۱۲٦مخ)

٤- هر ساعت که په سلام در ته ولاړ وي

ددښمن ســـلام خـــالي نه دی له پیره (ج. فدوی)

... خواص خان وویل چې په رکاب کې د شیرشاه امراګانان کم دی، نه بویه چې فوځ د مغول په پیر وکا. (تاریخ مرصع، ۱٤۷مخ)

... په مـوړ پسې یو سور له فوځـه را ییل شو، پیـر مـو پرې وکړ، شمشیر (نوم) په توره وواهه، توره یې پری ماته شوه، وتښ، په فوځ ورننه ووت. (ت. م. ٥۰٥مخ)

... او فوځ یې شکست موندلی و بیا یې پیر وکړ او لـه هره طرفه یې حمله په نصیرخان راوړه. (ت. م. ۱٥۱مخ)

(دلته پیر د دور معنا هم افاده کولی شی)

که څـه پیر په عاشـــقۍ کـوی رحمـته

خلاص به نه شی په هیڅ رنګ د غم له پلنډه (رحمت داوی)

... د ظریف خان یوبل سړی و، فکر یې وکړ چې دا مینه ده، زهره به یې وچوي ناره یې په وکړه:

... کڼ پیر کڼ خدری (نوم) پیر کڼ

دروغ مې ښه ګڼه رښتیا مې پرېږده

مـــا به رښـــتیا خبـرې وکــړی

خدری ظالم دی سر به مې پـریکـی        (ملی هنداره ٥٨مخ)

... دوهم یې کرم خان په دې پیر کړی دی چې د وښځی یې دا دی، تن یې دا دی: تن یې نسته دی. (ملی هنداره ۸۸مخ)

**پیرل pirál:** ارزښت ورکول.

په هغه قصه کې چې حضرت عمر (رض) دخپل مریی سره د شام په سفر روان و او په اوښ باندې یې د سپریدلو وار کړی و، حضرت عمر خپل وار تیر کړی و او مریی پراوښ سپور و کله چې شام ته نژدې شول او د شام مشران دده استقبال ته راووتل عبیده ابن جراح حضرت عمر ته وویل:

چې صاحب عمده د شام　　　راغله ستا په احتشام
په دا حال ستا سی لیده　　　نه پیری، نه دې بایده

(شرعه۱ - ۱مخ)

**پیرمنی permánay:**

لاړم لاړم دوری به مړه سم　　　پیرمینه نه یم چې به ښکاره سم
نه به دوروتو ترڅنگ ویده سم　　　نه به دا دې په دید مړه سم

(انگی ۱۲ ۵مخ)

**پیروپلور:**

بیع و شرا، خرید و فروش. پیروپلور په منفرد ډول استعمال شوی خو په گډ ډول کم دی.

که عمل که وکالت، که پیرو پلور دی
دهوښیار له لاسه ښه یشی کارونه

(خ. لومړی قلمی نسخه ۵۹۲مخ)

**پیرودون:** پیرودنه.

راځی به پیرودون ته نوابان اوراجګان
په لس زره بوه تا به له ما پیری په تلوار

(اولسی سندرې ۱ . ټ ۳۹۷مخ)

**پیروښون piroṣun :**

که د شاه نته د خپل ځان پیروښــــون کــړی
مرګ دی نشته ستا ژوندون علی الدوام دی

(مطیع الله پیره خپل ۹۰۲مخ)

عـــاشـق د شـــاه د نتی پیروښــون دی
چې تل پروت وی پر داسپینو شونډو باندې

(مخزن الاسلام)

**پیرول:** پیرودل.

په فروخت په پیــرول کې — په ولاړ په پریــوتــل کې
په آسان او په مشکل کې — د خپل یار لــــری هــوا

(خ. معشر ۹۵۰مخ)

**پیریدل pireda̍l:** ارزښت لرل.

مقــبرې ته په دعـــا — لاس نیوه دي مــدعـــا
بې دعا چې ترې تیریږي — هغه بدکا ، نه پـــیریږي

(شرعه ۲۲۸مخ)

**پیژلی peźə́lay:**
غونج، سره ورغلی، سره کلک. پیژی لینده په زره پانگه کې شته ریښه بې یوه ده.

| | |
|---|---|
| میلمنو ته دي سرچونگ | چوپه خوله نه کبنینی گونگ |
| نه دې وي تر یو تریخ په قهر | خورې دي قند غوندې دا زهر |
| که بې وي دوی ځوک وژلی | هم دی نه وي بروس پیژلی |

(شرعه ۱۲۵مخ)

**پیک pek:**
عادي وگړی، هغه څوک چې خان، ملک، ستانه نه وی، بلکی له عادی قشره وی. پ. ت. ق د (ځری، استازی، قاصد) په معنا اخیستی.

| | |
|---|---|
| نیک عمل که هغه نیک | چې ځان پیک گڼی، نه بیک |
| خان خانی، بیک بیکی څه که | شاه شاهی، نیک نیکی څه که |

(شرعه ۷۱مخ)

**پیلکی:** پیکی(؟)

پیلکی کتار دی زما
څوک خریدار دی زما
په زړه ویشتلی به ورځی له دی دنیا نه
سری شونډې شربت لرم جانانه

(اولسی سندرې، ۱ټ، ۷٤ مخ)

**پینه pinǻ:**

پوج، هغه تخم چې پوچ وی او زرغون نه شی.

په بخیل باندې مطلق بهښت حرام دی
د امید تخم یې پاتوشی پینه (واصل ۱۰۰ غزل)

**پیه پټ paya- pǻṭ:**

زایل، نابود.

شرعت الاسلام د غازی په باب وایی:

که غلیم د جنگ د پاره ورله راغی بدوپاره
نور دې هلته شی وروړاندې په محکم اختیار باندې
توکل دې په خپل خدای کا په غلیم دې مټ گدای کا
په دعا زاری دې مټ کا مغروري دې پیه پټ کا
(شرعه ۱۹۸ مخ)

پیه پټ که مې مال لاړ سر مې واهه شی
زه په داکه وصل موجم موصول شه یم (بیاض)

**پیه توب paya tōb:**

۱- زوال، نابودی، ۲- سستی، کسالت.

د مړې گیډې د پاسه خوراک بد دی ناسپاسه
یو حرام وی بل اتوب راولی بل پیه توب
(شرعه ۱۸ مخ)

د اینځر خلال دی بد اویا ورځی کا خواست رد
د گلاب د گل په چوب پاځی کوهړ، پیه توب

(شرعه د غاښونو د خلال بحث ۱۹ مخ)

دي د سروینی وکښه
او ورنځوله ښه
سر خوږ، غاښ خوږ، لیونتوب
پیه توب، کوهړ، ډیر خوب
هم کا ورک د سترگو دوند
هم کاسپک په صورت دروند

(شرعه ۲۱۳ مخ)

# ت T

**تابین tābin:**

تابیا ، تیاری. په زړه پانگه کې د ( ۱- ترتیب، ۲- تابع، ۳- تابعیت ) په معناو و شته.

شپږ شپیته یې وهلی دی خالونه په جبین کې
سترگی یې وروی له خیاله گوری په تابین کې

(اولسی سندرې ۱ . ټ ۲۲۶ مخ)

**تاپینی tāpini:**

ملک ، منصب ، جاگیر زما تغییر شول مال همال
ولس منصبدار مې تا پینی شول پایمال

(خ. ترکیب بند ۹۳۸ مخ)

**تات:**

پټ، د غړولی ضد، د تت سره ریښوی او معنوی رابطه لری، سترگی تاتول = سترگی پټول.

ته چې سترگې غړوې په جهان لواتې
عاقبت به يې د ځان په لورکړی تاتې (میرزاخان انصاری ۲٤۱مخ)

**تاجری tājráy:**

څادري، چوړی، برقع. (محشی)

په سره لستوڼی (د) درایی ددی دستار وي بې تاجری
(انگی ۲۸۰مخ)

**تارورکول :**

خبر ورکول.

پښتنو ورکئ پلانکی له تار
یا په تازیله دې راسی یار (انگی ۲۹٦ مخ)

... په قیدی غریب به هیبت راغی، کور ته به يې خپلو خپلوانو ته تار ورکړو چې هلئ روپی راوړئ. (زما ژوند او جد وجهد ۲۰۷مخ)

**تاړ tāṛ:**

چپاو، تالان، تاړاک.

محشی د (غلوډله، د شوکمارو ټولی) په معناوو اخیستی خو دلته دا معنا وې نه لري.

د لباس پر پیروی زیرو زبر شوې
سر کړه هسک د غم له تاړه په اخلاص (رحمت داوی)

**تاړی tāṛáy:**

چکچکی، لاسونه پړکول؟.

که به وکم یا غټ و هل به یې تاړی، غوښتې

غزلې ویلې به یې په ستې (اولسی سندری ۲ټ ۳۵مخ)

**تاز tāz:**

چرچرک، په . ت. ق د (جـجلداغ، پتـه تـاز، چینگی تاز، بزبزه کی په معنا اخیستی.

د ځیمخار په ځیر وړوکی حشره ده چې د ونو شیری خوری، په ساړه منې کې په زمکه ننوځی، په تاوده پسرلی کې راوځی، دونو په ستـو کې پوست بیلوی. د واصل روښانی په دیوان کې دری ځلور ځایه راغلی دی:

د حباب په دود یې بادله سره ووت

چې د تا پُه دود زنـده و په هـوا

(واصل لومړی غزل)

سړی تل په آواز حـرف کا تش خـالی آواز د تـاز شی

(واصل ۱۳۲غزل)

سـربازی د عاشـقانو په گـل مینه مـه کـړه تازه

ترسرتیری خبرې دپتنگ دی د تاز خبرې مـه کړه بد آوازه

(احمدشاه بابا ۴۳مخ)

**تازار:**

جزا، سزا، د عمل عاقبت.

که کښینې څوک په بازار کې / د شي چارې په تازار کې
نشته هيڅ په داکې پاک / پاک وي پاک، ناپاک ناپاک

(شرعه ٤٩مخ)

د ميرې وژله هم زښت وي / ناروا د دين په پښت وي
دې په شرح وقايه کې / دا بيان په داپايه کې
چې دې درست بعد ازازار / د ميرې د مرگ تازار
تر ازاره وې پخوا / دده وژله ناروا

(شرعه ١٧٥-١٧٦مخ)

څلور واړو ورته ووې مه ويريږه بابا پلاره
اوس قرار بيغمه خوب کړه ترسهاره
چې سبا شي سپين لره به ورشو
شيرعلي به لاس تړلی ورحضور کړو
چې بې مرگه يې بل نه کيږي تازار

(د زقوم قصه ١٢مخ)

**تازر tāzár:**

څادر، پ. ت. ق اخيستی.

نوم مې نه اخلې په ژبه په پوهيږم
د حيا تازر په مخ لرې د لدار (ج. فدوی)

**تازيله tāzila:**

تلوار، تا دي، عجله، بيړه، د تعجيل پښتو شوی فورم دی.

په‌ورامې راغلې ګرانه‌ما مکه

پرمـــا دې ځنـــګه تازیله‌وکـــه (انګی ۳٦٦مخ)

هدیرې ته لاړ شه‌دیر په تازیله

پر کاکـــو ناره که‌په‌بســـم الله (انګی ۸۰۳مخ)

**تازه توزه tāzá:**

اوړی ژمی مې د یار قد تازه توزه شو

دغه‌سروی اخـــلی نم د زړه له‌جویه (حسین ۸۰٤مخ)

**تاس tās:**

طاس، د نرد په‌لوبه کې کعبتین. د نردد (۳۰) ګونتهو څخه دوه له هغوکو مکعبی ګونتی چې په‌شپږو مخونو یې له یوه څخه تر شپږو پورې خالونه انځور شوی او له‌دوو څخه یې د نرد په‌لوبه کې کار اخیستل کیږی چې کعبتین ورته‌وایی.

په‌څو رنګ نقش پیدا په یوه دم کا

د فلـــک دورونه‌تاس ګنـــه‌د نرد (هجری ۰٤مخ)

**تاس له بامه پریوتل:**

رسوا کیدل. (؟)

دا نتیجه‌ده زما د وســـــواس    که‌مې اغوستی د عـــشق پلاس

دا وســـوســـه‌به‌خپـــله ســـاتمه    که‌مې پرې نه‌ووت له‌بامه تاس

یا مې پرې نه‌شو د صبر آس (ج. فدوی مخمس)

**یادونه:** دغه مطلب شمس الدین کاکړ داسې افاده کړی چې د تاس

په ځای تشت راغلی:

عاشقی تشت زما له بامـه پریوت

اوس ختي نه شم و سر ته د بام هیڅ (شمس الدین کاکړ)

**تاسه tāsá:**

پتاسه، د شلمه، خوږه. احتمالاً د پتاسه اوښتی فورم به وي.

ته هـغه زمـــا میـــن يې | چې تل نوش کړې لب تاسه
---|---

(احمد شاه بابا ۷۳مخ)

**تانبول tānból:**

امیل، د غاړې مشهور پسول.

... آدم خان ددې (درخانۍ) مخ اونته او پیزوان ولیدل. بلوېې د سرو زرو لاس وندي ولیدل او میروېې د غاړې امیل ولید، نو اول میرو خان ناره پرې کوي:

يو لـــه بله زمــــوږ بول دی | درته وایم دادم سره زمــــوږ تول دی
---|---
بی بی لږه نخښه دې دا ده | چې په غاړه دې دسرو زرو تانبول دی

(ملی هنداره ۱۳۸مخ)

**تاڼ tāṇ:**

تار، مـــزی، اودل شـــوی، تار او پود. پ. ت. ق (تانی=وړوکی تغـــر، کمپلګۍ) اخیستی.

د ارزانی په اشعارو کې (تانه بانه) او (تاپڼ) له دغې ریښې دی، همـدارنـګه په (تان د تو کـر توپ) کـې همـدغـه مـعنا اصـالت لری. د

« تهان » کلمه هم له دغې ريښې څخه ده او « تنې » هم له « تړل » څخه نه بلکې همدغه ريښه لري.

معرفت دې د موسی يد بيضا کړ
د فرعون د گومان تاڼ دی تغيره (واصل ۵۸ غزل)

**تانه tāna:** پوسته.

... خان جهان دا عذر کاوه چې د جهانگير په ملک غليم زړه ورشو زما زورور و نه ورسيد څکه مې تانې راپاڅولی. (ت.م ۱۹۹ مخ)

**تانه بانه:**

تاڼ، تار او پود ، تنسته او پوده.

چې د معرفت بوی يې بلودلی دی عارف په څير ليدلی
چې کليات تانه بانه دي دی يوه صانع او دلی
(ارزانی ق. ن)

چې يې تن پانه پانه ده
بايې د ښور بد (بوده ) وتانه ده (ارزانی ق. ن)

**يادونه:** پانه (خج په دويمه هجا ) وړوکی ښکلی تو کر دی چې ناوې گانې پرې مخ پټوی او مخپانه يې بولی. (د شينوارو اصطلاح)

**تانه کول:**

په څوکی تاکل، په څارنه مقررول، څوکيدار کول. تهانه کول هم ليکل شوی دی.

... او قطب خان چې په ميان د دواب يې په مقابله د خواص خان تانه

کړې وه.                (ت. م ۱۸۰مخ)

... ما هم بولاقوته حکم ورکړ او خپل جزائیل بردار مې هم پکی تهانه کړه.                (ت. م. ۸۰٤مخ)

... مستحکمه مورچه بندي مې وکړه... یو څو نور بې ننګه د قبیلی مې په... تهانه (تاڼه) کړه.                (ت. م. ۱۵ ٤مخ)

**تاوا tāwá:**

ناروغی، مرض.

تاومی زړه ته پریووت له دې غمه مې تاوا شوه
څـــو به وړم خـبرې د رقیب غـوندې تربره   (علیخان ٤ ۳۷مخ)

**تاوکښ tāwkás:**

رېړ، تنګسه، عذاب، تکلیف.

ســـم څــه علیخــانه په مقــام د عــاشـــقی کې
کوم غشی چې کوږ شی په تاو کښ کې یې تیر مات که

(علیخان ۸٤مخ)

که په اوښکو لوندد مینی په تاو تود وم
بچاو کله شـــوم د زلفو له تاو کـــښه (بیدل)

غنیـمت ګـــنه جــانی          د درمـــاندو کامــــــرانی
به د هـــر قــدم په قـــدر          ورکا خدای د نیـــکی صدر
په جنت کې به یې دور ته          درجې کا هســـکـــې پورته
په نیکی به یې تنګ نه کا          بند و بست به یې رنګ نه کا

ورکــوی به بې تاوکـــښــه فراخ رزق ، زندګي خوښه

(شرعه ۱۱۸ مخ)

وکـړ آه یوې فــــــرشتې د مــــومن په ســـــرشتې
چې آســــمان ته پورته لاړه ډکه خــــوالـــــه دې ویلاړه
خدای وروښود په جنت کې د مومن ځای په جنــــت کې
د کافر یې په دوغـــــښ کې وربښکاره کړ په تاوکښ کې
فــــــرشتــــــه پس له ثنا شوه ګـــــــویا په داوینا

(شرعه ٤٠٢ مخ)

**تاینات tāenāt:**

تاکل شوی، مقدر شوی. د تعیینات لفظاً او معناً اوښتی فورم دی.

که تاینات په خزانه وای د حسن
رقیبانو به کړ هومره شور په څه (خانګل خلیل)

**تاینې tāén:**

تار، مزی، تانې.

کل تاینې دی حق وریشــلی په قسمت یې دی ویشــلی
ســـتا به برخه نـوره نه کا که په لس یاکه په شـــلی (شلی یی)

(ارزانی، ق. ن)

**تباه tabāh:**

فاسد (شرعی حکم).

هـــرچې یو حـکــم خطـا کا
تروبه هغیو نمونځ تباه کیږینه (روښانی رساله ۳۵ مخ)

**تباه کړوني:**

مفسد، فاسدوونکی (شرعی حکم).

د ئمانځه تباه کړوني به دربیان کړم

چې ســــــړی یې زده کــــوینه

اووه تباه کــړوني د ئمــانځه دي

چې د شریعت چار نقــصانوینه

(روښاني رساله ٤٥مخ)

**تبند** :tábənd

یزید پروت و لکـــه تبند پرسـیدلی

هر اندام یې گوښی گوښی دیگران و (د سید حسین جنگنامه)

**یادونه:** په بله نسخه کې تبنه دی.

**تبین** :tabín

ای احمده تل په ښه پسې بیا غم وي

تبین مه شی د خزان د ارمــان برگـه (احمد شاه بابا ٦٧مخ)

**یادونه:** په غور چاپ کې تبین یعنی په (ث) لوستل کیږي.

**تپا** :tapā́

١ – تپ، تاو. ٢ – نارامي. ناکراري. پ. ت. ق په دویمه معنا اخیستی

کښت د صبر مې په سره تپا کي وسو

چې دې اور ود ستم باندې خپور کړی (بیدل)

هجری څه به زړه تړې په دانا بوده

تر لالــه یې لا اومــه د بود تپاه ده (هجری ١٢٦مخ)

**یادونه:** په دویم بیت کې پتا چاپ شوی چې یقیناً سم نه دی.

**تپاره:**

تپور لرونکی، د تتمر د گنډ کمیس، د تپور مغیره حالت دی.

پروسږ کال پر دې مینه خوری پروسږ کال پر دې میشته وو
کمیس دې تپاری وي د نابودې دنیا غم راسره نه وو
(فولکلوری سوغات ٥٦ مخ)

لا یقو مجونو تپکری موشنه دی
دا کمینسان ہو د تپاره دی (انگی ٥٧٤ مخ)

**تپاری tapáraу:**

د مږي د وینځلو ځای، ولانگه، محشی همداسې تشریح کړی دی.

لالکه! جگ یې لکه تیلی ثنگه موژږ کې لکه ناړې
خور دی خپره سه پر تپاری (انگی ٥٠٤ مخ)

د لالا کوتیې ده سورغمی ملاځینی وکښنه پر تپاری
د بابا پری سوی د زړگی زی (انگی ٥٤٤ مخ)

**تپر tapár:** جیب (محشی).

دا زمور د کلي مجونه په پیتاوه سره (ثخه) راغلی
د مجونو به لونگ وو ددوی له سپرو ډ ک دی تپرونه
(فولکلوری سوغات ٦٩ مخ)

زمور د کلی مجونه له پیتاوه سره (ثخه) راغلی لکه پسونه
د مجونو به لونگ وو ددوی ډ ک دی له ریچو ثخه تپرونه
(فولکلوری سوغات ٨٠ مخ)

**تتری tatray:**

په هیڅ دستور د عشق له ستغو جارو تونی نه یم
مخ نه مې دانګي بیهوده ګوره ناصــح تـتري ته (حسین۶۳مخ)

**تته tata:**

کاسه، پیمانه، تتی.

ساقي! تحویل دې وکړو ته پاڅــه راواخلــه هغه تته
(خوشحال، رباعیات ۸۹مخ)

**تتی tati:**

... دلو بوسره د خلکو شوق هم ډیر و، قسما قسم لوبي او ساعت تیرې وې، حجری به د خلکو نه ډکې وې، په حجرو کې به تتی کیده، پټه کونجکه به دشپې په حجرو کې کیده. (زما ژوند او جد وجهد ۳۲مخ)

**تځار tajar:** تدبیر (محشی).

نواز خانه تځــارونه دې کــول
نوکران به دې ترجنګه ښورول (د مروتو کسرونه ۷ مخ)

**تخته بند taxta :**

مات ترونکی، شکسته بند، هغه څوک چې مات هډوکی په ځای کوی او تړی یې.

چې یې زړه وی د فراق په خنجر دړه
هــرګــز نه وینم له دهــره تخته بند (جانان فدوی)

**تخم taxám:**

باسی، خراب شوی، فاسد شوی. پ. ت. ق د (خولی څګ، د کتهوی

ځګ) په معنا اخیستی. تخم په ځدرانو کې هغه حالت ته ویل کیږی چې د یوې جرګې په پریکړه کوم جانب قناعت و نه کړی او د بلې جرګې غوښتونکی شی. د دواړو ریښه یوه ده.

زاهدان په عبادت کې سودا یې شول
لکه پوخ طعام چې پاتی شی تخم شی (واصل ۱۳۸ غزل)

**تخمخ taxmax:**

آرام، خوښ. پ. ت. ق د (پښیمانه) شرمنده، خجل، په معنا وواخیستی دی.

| | |
|---|---|
| که مونده شی غواړه بکره | ژاړی ستا په غاړه بکره |
| خالی ذهنه وی له بله | وی هم ستا د ګل بلبله |
| قبله ګاه یې د ستا مخ وی | ستا په مخ یې زړه تخ مخ وی |

(شرعه ۱۳۵ مخ)

**یادونه:** ۱ - دغواړه په ځای غوړه لیکل شوی چې یقیناً قلمی تیروتنه ده. ۲ - پ. ت. ق د کوم نامعرفی شوی شاعر (م. پ) بیت د مثال له پاره وړاندې کړی هلته هم تخ مخ د شرمنده او پښیمانه معنا نه ورکوی او نه( سړه سمخه )د چوپې چوپیا . بیت دا دی:

هم هوری به شوه ګولی سړه سمخه
دشاه خوا به په ویشتو شوه تخه مخه

**ترارَ tarār:**

ګواښ، ترهونه، ډارونه، ددغې کلمې اصل ترهار دی چې د غرهار،

ډزهار... په څېر د پېښې د تکرار معنا افاده کوي. تراره هم له دغې ريښې او په دغه معنا ده. پ. ت. ق د «ت» په سکون او هم په فتحه اخيستي او د «ويره، ډار» معنا يې ورکړې ده.

که وهي حکمت و پاره ځوک مريي ادب د پاره
پرې دې نه کا گوزارونه زيات تر دريو تراورونه
(شرعه ۱٦۸مخ)

تراره هم دغه معنا لري:

کړه د مچ له بونهارې که هوښيار يې
د زمرې د تنهارې تراره (حميد مومند ۲۷٦مخ)

## ترابنه traṣa:

دا صورت لکه کوته عقل چراغدان دی
دده ترابنه باندې سوزي غورپرکه (واصل ۸۸غزل)

## تراندل tar-andә́l:

يقين، باور د (تر+اند+ل) څخه مرکبه ده (اند=فکر) دی.

نفع، ضرر له خدايه کېږي بابوجانه
چې يې خداى وي په يگانگي ترانډلي (بابوجان لغماني)
حرام کسب لکه څوک په ځان ستړي کا
په کسب يې فرضو ته نه وي تراندلي (بابوجان لغماني)
هغه په کسب يقين نه کا بې له خدايه
چې خداى پرې راضي وي زر تراندلي (بابوجان)

**يادونه**: په وروستي بيت کې د « تر » په ځای « پر » دی چې زما په خيال قلمي تيروتنه ده.

**ترپړ** trapəraw:

خيرنه، زړه جامه، خيرنه بړستن، پ. ت. ق ترپړ اخيستی دی.

فخر افغان د انګريزی زندان په باب وايي:

... خو زما خوش قسمتي دا وه چې زما په چکۍ کې يو اخورو په هغه کې پلاله پرته وه، ما به ترپړي پکې واچولو او په هغې به څملاستم.
(زما ژوند او جد وجهد ۱۹۲مخ)

... يوه ترپړي او يوه کمبله يې راکړه خپل بارک ته لاړم، بستره مې وغوړوله او ويده شوم. (زما ژوند او جد و جهد ۲۲۳مخ)

**ترخان** tarxan:

هغه سړی چې د کلنګ او ماليې څخه خلاص وی (زړه پانګه) د (خوشحال فرهنګ) کې د (هغه سړی چې په توره خان شوی وی) يعني (تر= تور) په معنا راغلی چې دا دير سم تحليل دی.

د اکوړي په سرای توده ډيری چنبې دی
پري تول شوي څو بې ننګ د قبيلې دی
چې حيا و ننګ يې ګورم باور وکړه
په څو رنګه مسخره ترخان برې دی (هجری رباعيات ۵۷۸مخ)

**ترخم** tərxám:

خم او خام د ختيځی لهجې په غرنيو سيمو کې د ( لوری غونډۍ يا غرګی

په لمنه کې نسبتاً هموار، ځوړ ته مایل) ځای ته وایی. که د غه غریا غونډۍ تور رنګي وي هغه ځای ته تور خام، تورخم وایي او که سور بخن رنګ ولري هغه ته سور خام، سورخم نوم اخلي او که تشخیصوونکی رنګ ونلري د خم، خام، خامګی او په داسې ورته نومونو یې یادوي چې په غرنیو برخو کې داسې سیمې ډیرې دي. ترخم د تورخم اوښتی فورم ښکاري.

دی له ډیره شرمه ځان لیدلی نه شی
هغه زمکه چې دی کښینی ترخمه ده (خواجه بنګښ)

**ترخوان:**

مه کوه سکـــندره په آزارکې فـراقونه
وروړ که د چا و مری ترکې ترخوان نه کا (سکندر ختک ۶۲مخ)

**ترخه‌مندکه:**

...ادم‌خان پر ورګډ سو، غلیم یې داسې ورژول لکه ترخې مند کی.
(ملی هنداره ۱۶۵مخ)

**ترخه‌منه:**

مړه غوني، منه غوني، حنظل.

د بل و عیب و ته ډیر مه ګـوره     سازکړی چا دی وروره هغه ګوره
د ســـلو رنـغ و زحــمت دواده     قیاس له داو کړه منه ترخه ګوره
(سکندرختک ۲۹۶مخ)

**ترخه‌هندوانه:**

دهقـان چې کرونده وکړی، نو دی خو دا تخم پټ کړی، ځوک تری

خبر وی چې څه به یې کرلی وی، لیکن څه ورځې پس دا تخم سروی او دنیا ته ښکاره شی چې گنی ویا ترخه هندوانه. (انوار سهیلی ۳٦٤مخ)

**ترخی tərxáy:**

... که خبره رسوا سوله بادشاه به زما او ستا ترخی وکاږی.

(ملی هنداره ۳ټ، ۲٤مخ)

**تره tarra:**

منډه، ځغل.

گـــډې بزې د ونو ســیورو ته ولاړې

څه به تره تره راغلې د شپون خواته (غزوني ۲۰٦مخ)

**ترستل trəstə́l:**

تور خوړل، توریدل، ترهیدل، ترستول= ترهول په ځینو کوچیو قبیلو کې متداوله ده.

ستا د وصل دا مثال دی که څوک وایی

اوښ له باره سره ترستی په شم وخـوت (قنبرعلی)

**ترغل tarǵəl:**

تلول، تویول. پ. ت. ق ترغه د (تیت و پاشان، تالا او لوټ) په معناوو اخیستی.

ساقی! مې په غبردنی را ترغه وړاندې

چې خزان د باغ گلو د بازار می کا (سعید ٦مخ)

**ترکه turka:**

۱- د ترکیې اوسیدونکی ښځه، هغه ښځه چې په ختیه ترکه وی.

۲-مجازاً ښکلی او زړه وړونکی. د پښتو په کلاسیکو ادبیاتو کې په دویمه معنا یوازې د ښځې صفت دی. په پ. ت. ق کې د مذکر په فورم راغلی، خو مذکر یې یعنی ترک د ښکلی په معنا زما په نظر نه دی راغلی.

ما عبدالرحمان غوندې سلام کړ ورته سلو
خدای خبر چې کوم یو هغې ترکې ویلاړه (رحمان بابا ۱٤۹مخ)
معشوقی د ایران دېری ترکې شوخې
خدای به راکه ترکې هند ته دوباره ځم (احمد شاه بابا ۷۳مخ)
ننداره بهد گلـرنگو سترگـو وکا
په دنیا که شی د ترکو طلبگار څوک (لتاړ ۸۸مخ)

البته مذکر یې د صلابت او خشنتوب سمبولی معنا له ځانه سره لری نه د ښکلا او لطافت دا مثال وگوری.

له اوله یې خصـلت بې پروا یی ده
و ترکانو خدای ورکړی صلابت دی (پښتو غزل، ورکزی)

**ترگ** **tórg:**

څوک به څه کوی د ترگـو اختلاط
د زړوړندو شین ورگـو اخـتلاط
اختلاط مې له چانه شی نه پوهیږم
فدوی څوک کوی د ترگو اختلاط (ج. فدوی)
په ازل چې یې نصیب نه وی لـه سـرگه
په کوشش به ځان څوک خلاص نه کا له ترگه (دولت لوانی ۱٤۳مخ)

**ترمنده tarmanda**: پيدا (محشي).

له دښمن څخه دې کومه وه باوه

سر دښمن خو دې اينامه ترمنده سو (د مروتو کسرونه)

**ترنګ trang**:

په هر لور دې د هوس زين کړی کورنګ دی

د لغت ميدان يې نشته عمر تنګ دی

زلمی، جونه يې غوتېه کړل ترابده

نس د ګور که مختصر، بس يې ترنګ دی (هجری ۲۲۲مخ)

**يادونه**: په ترنګړا و ترينګلی کې همدغه ريښه شته.

**ترنړه trənda**:

۱- ډير، بيشماره (محشي) ۲- ډله، د خلګو ګڼه ګوڼه (پ. ت. ق)

۳- ترنړې، تړپونه، منډې ترړی.

ګوری خدای رحمت کی په شاغليو ميړو باندې

له ترنړو سره جنګ کوی بيتيغه، بې تلواره

(د مروتو کسرونه ۷۲مخ)

بادشاهان اميران ګوښې ګوړته د رومی

څه شو نن که ورسره ګرځي ترنړې (مطيع الله پير خيل)

ښکاريان په ښکار درومی په ترنړو ترنړو

غوبلی د ښکار راوړی په پنړو پنړو (خ، رباعيات ۲۸۸مخ)

**ترنظره تيرول**:

مجازی معنا يې بخښل، هبه کول.

... پښتني ابله ورته ودریده، هدیه یې هم د شیخ جیوقریب تر درې زره روپیو تر نظره تیرې کړې. (تاریخ مرصع ۲۱۸مخ)

... «بابر» چې په علی مسجد ورغی، معروف نومیده، دلازاک و او یعقوب خیل اوو لس مړونه اولس خرواره وریژی، اته اوښان یې د بابر تر نظره تیر کړل. (ت. م. ۲٤٤مخ)

... یو آس یې (د شهباز خان) عراقي و چې دده تر سورلی لاندې راغلی و، هغه آس یې ورته راووست، په رضا د خدای تعالی یې د شیخ رحمکار تر نظره تیر کړ، شیخ جیو امر د هغه آس د حلالولو وکړ.
(ت. م. ٥٦٩مخ)

**تروټ trot:**

نقصان، تاوان.

په خرید د هغو خلقو کې تروټ نشته

له اخــلاصه چې د مینې سـودا وکا (لتاړ ۲۹مخ)

**تروه tarwa:**

ښوره، هغه زمکه چې مالگینه وی.

د نیکی گل به زرغون شی له بدیه

که گلونه زرغونیږی په تــروه کې (ج. فدوی)

**تره tara:**

ستا د شونډو دور څه کړمه په دور

دلاله تر پانو یې ترې هــم نری دی (هجری ٥٠٦مخ)

**تره tara:** جمبړ خیال.

د یارانو جدایی مثال چاړه ده

د زړه سرمی پرې قلم لکه تره شو (هجری ۱۱۰مخ)

**ترهان tarahān:**

تریدونکی، په ویره کی، په ډار کې، (؟)

تل د مرگ په طلب اوسه، زیرمه وکړه

منافق د مرگ له لوریه ډیر توهان دی (نافع المسلمین ۸۳مخ)

**تره تی taratay:**

مخ یې ږدرد گردون دې راشه گوره

د آسمان تلی تره تی دی په پسر کې (هجری ۶۰مخ)

**تری:**

د عنبر و رنگ دی بوی د زلفو مات کړ

تر سنبلو ډیری تیری په تری دی (هجری ۶۰۵مخ)

**تریښ treṣ:**

حمید د غیبت کولو د عذاب په باب وایی:

په قیامت به گوی ناگوی وخوری خدای په غیبت گوی

د هغه غوښی په مړونی چې خوره یې په ژوندونی

په خوراک به یې وریښ شي درنگ، رنگ عذاب تریښ

(شرعه ۶۳مخ)

**ترینا ک tarinák:**

هغه ښکاری مرغه چې کریز یې نه وی کړی

نوخطان دي دلبران تــر ســاده رويو
چیرته ښکار د ترينا ک چيرته د چوز (حميد مومند ۱۱٦مخ)

ترينا ک، بوزم، تولک، تر چوز کم نه دي
په وهنـــــه تــر چـوز لا دي افــزون تره (خ، قصيدی)

چې کال تير شي ستا د سترگو ظلم ډير شي
ترينــا ک بازونه لا شــوخ دي تر چـــــوزه (خ)

**یادونه:** د خــوشــحــال په لومړي بيت کــې (بزم) د «ب» په پيښ ليکل شوی.

**ترتکه:**

غمـــاز نن بيا کـــــړه توره ږنه راپــرې به نـــه ږدې د آب ښـه
خود دهجران په بټ کې پروت يم و هـــم ترتکې لکـــه چـــــنه
(حسين ٥٠٤مخ)

د عشق ناسور به مې وچ نه شي تر قيامته په زړه
که د هجران په بټ کې خـــورم لکه نينه ترتکه (حسين ۲٦۳مخ)

**ترگی targáy:**

۱- تالاب، ۲- خوړگی (محشی).

سريې زياتې که چې ترگی ته يې وردنگ کنه
ترگی چې تانبه په سر نيولی (د مروتو کسرونه ۳۱مخ)

**تزاری tazāri:**

که جوياد بلندی يې پست شه، پست شه
شــبنم ځـــای کــړ د نمرويد په تزاری کې (سعيد

**تک tək:**

په عاشق پورې خندا کـه لـوی هــلک
لــیونی وی په نظـــر د خلــقو سپک
ډیر به ما غوندی په چاودې سینه ژاړی
غنــمرنگ حســـن د یار نه لـری تک (حسین ۲۷۵ مخ)

**تک tak:**

تکړه، تیار، ډېګ، پګړی، لغ، لغړ... په څیر په تکړه کې هم ریښه (تک) ده او (ړ) سوفیکس دی، تکی هم دغه معنا لری. متل دی: چې یکه دې وی خو تکه دې وی.

په لږ تاو مـــه شه نادانه لکه ډول و شـــرته تک
(حمید مومند ۱۷٤ مخ)

**تکړه tukṛá:**

درغن، هوارکانی، ښوی کانی، تطاړه. پ. ت. ق اخیستی.

د لړم لاشه به څرخه ستا په لاس شی
ته چې اړوی په لاس هره تکــــړه (ج. فدوی)

**تکی takāy:**

تکړه، ماهر، تیار.

په هر قوم چې څوک پیښ شی په سلام دې د دوی خوېښ شی
هســی رنگ دې لا ســـلام تـــری بیلـیږی په ســـلام
چې په هـــر خیـــر کـــره وی شـــریک لــه دوی سـره

هم خدای زر زر نیکی        به هر هر ویخښبی تکی (شرعه ۱۵مخ)

**تکیا:**

ځینې ناست مراقبه څوک تکیا خدای دی
په قـــیامت به برخــه یوسی خپله خپله (حسین ۹۵مخ)
په انتظار یې چارچشــمه لکه ذره رپیږی
د حسین زړه نه کا تیکاو هغه تکیا راولی (حسین ۱۰۳مخ)

**تکیر takir:**

صبر ستا سنګ پارس و ماته بس دی
څه طلب به د کیمیا ، اکسیر ، تکیر کا    (سکندر ختهک ۱۲۵مخ)

**تلاو، تلاوه tlaw, tlawa:**

۱- سیک، قوت، ۲- غرهار، پ. ت. ق تلاوه د (۱-زور، زیاتی، ظلم، جفا. ۲- تنبیه، بیدارونه، ویښونه) په معناوو اخیستی د تلاو په لیک دود هم راغلی دی چې معنا یې غښتلتیا ، قوت، سیکمنی ده.

لکه زمری په میدان راغی قهـر ولی
په تلاو یې د کوټ کجې کړی ګنګری    (دِ سیدحسین جنګنامه)
په تلاووپې غرونه زمکه آســـمانونه
په لړزه شو یو له بله خبر نه وو فهــمدار (د زقوم قصه ۱۲ مخ)
د کافرو، د اصحابو انبوهی وه ګوښی ګوښی له اوله
په میمنه په میسره چــې تلاوې وی د کفــار (د زقوم قصه ۱٤مخ)
په نارو په تلاوو یې د قیامت نشان پیدا که
په نـــارو په تلاو و وې درې ورځې په شـمار (د زقوم قصه ۱٦مخ)

**تلاونډیtalawanday:** خم، مټ.

تشنه شوی په فراق کې لرغــونی یم
په پیالو مې تنده نه د رومی منگی را
که په یوه منگی مې تنده ما ته نه شي
لبالب د مــیو ډ ک تــلاونــډی را (گلزار روه، منصور)

**تلنگی شلیدل talangi:**

په لټون کې زیات ستړی کیدل، تلی ختل.

په اور لگیتو پسې مې تلنگې وشلیدلې نه مې کړ پیدا.
(پښتو اصطلاحات ۱۲۳مخ)

**تلوار وړونکی:**

تلواری، عجول، تلوار کوونکی.

... (دی به) لاس د تاسو په مرگ دراز کا چې ډیر عـجول او تلوار وړونکی دی.

**تلی ختل talay:**

دومره د یو څه پسې لالهانده کیدل، گرزیدل، چې د پاپیوښ تلی پسې وشلیږی. په لویدیځه لهجه کې د (پسې تلنگې شلیدل) سره سمون لری.

په وصال یې یا نصیب څوک مشرف شي
دوگړی پسې وختلې تلی (عبدالقادر ختک ۳۵۱مخ)

**تمبی کړل:**

لښکر تنظیمول، دجنگی ډلی سمبالول، تمبه(تنبه)= لښکر جنگی قطعه.

... هور ته مې تمبی (تنبی) وتړلی، روان شوم، واړه سره کم و زیات ثلور زره لښکر به و تیر سو، څو نسو سواره، نور پیاده، دری تمبې وتړل شوې. (تاریخ مرصع ۳۱۳مخ)

**تمغه tamga:**

مډال، نښان، پ. ت. ق اخیستی.

... په اوتمانزو کې د ټول قوم یوه عظیم الشأنه لویه جلسه وشوه چې په هغې کې ماله د قوم د طرف نه یوه سپاس نامه راکړی شوه، یوه تمغه او جویه هم د قوم د طرف نه راکړی شوه. (زما ژوند او جد و جهد ۳۰۸مخ)

**تناوچه:**

یو شی دی کمری دی

خبر نه یم تناوچه ده که کوندری (دسترخوان دی)

زه چې ورته راغلم دی ژوندی دی

اوس نوځغلي گل محمده تر شانه گوري

(بیدیانی گلونه گل محمد اڅکزی ۱۸۳)

**تن پالنه:**

تن پروری.

تن پالنه د سر پنډ سړی مانده کا

نه شی تلی پیتی په سر سټړی ستومان (حسین ۳۵۲مخ)

**تندره tandra:**

هغه روکې (نغدې) پیسې چې د خپلو خپلوانو او گاونډیانو له خوا واده

والا ته د نیمه پور په ډول د واده په وخت کې راټولیږي. په پښتونخوا کې دا دود شته.

... د پښتنو ودونه له رواجونو ډک وو، ما د هغو اصلاح غوښتله، نوځکه مې له ځانه شروع وکړه او د شریعت مطابق مې اول ډولی راوړه، په سبا مې ولیمه وکړه... خلکو راته د تندري په دود روپۍ را اچولی، خو ما و نه منلی، که څه هم په ډیرو زمورږ پورې وې.

(زما ژوند او جد وجهد ۱۶۷مخ)

**تنلی tanday**: مخه، مخ.

د زمري پر تندی مه ورځــــه د لیره
چې زړه کاږي په منګولو له ګوګله (ج. فدوی)

**تنزتی tanzə́tay**: تکوهلی (محشی).

اتنه! که ته نل یې زه پروتې
که ته د نیلی سپور یې اتنه! زه نیزه یم در تنزتی

(فولکلوری سوغات ۱ ۵مخ)

**تنګوړی tanguṛay**:

وړوکـــی تنګې ـ غـــرونو په منځ کې تنګـــې لارې ته تنګـــی وایی خو د وړو غونډیو تر منځه تنګـــې لاری ته تنـګـــوړی او یا تنګوړی ویل کیږي.

توندی، تیزی عوزی کوه د اهاږ سوه به راشی
کوتاه تنګوړیه! ستا دی بیا تنها او خوږ یږي (الپوری ۹۵مخ)

**تنه tana:**

د کمیس هغه مخکینی او شا ... چه چې تن یې پټ کړی وی، له لستونو او تر ښځو او گریوانه پرته د کمیس د مخ او شالویې تختې.

دم قدم کړه موافق چې مخ دی روڼ وي

... ځو دې اوږده مه شه تنه (حسین ٤٠٦ مخ)

**توبول tobawal:**

توبه پری ایستل.

که یو ځل چیرې غلط شم توبوې می

په ورځ سل غلطی کړی نه یې شمارونه (ع.قادر ختک ۲۳۲مخ)

**توپ تک:**

نیغ، سیده، مستقیم.

...څه سردې گرزوم شمال خان توپ تک د میان خان کره راغی.

(ملی هنداره، آدم او درخانی ۱۵۲مخ)

**توتک:**

تلویز (محشی)

اتڼ چې د بوری (نوم) نجونه کوینه پر ملا کړې وړې سی .

توتک یې د نامه غوټې وهینه (فولکلوری سوغات ٤٨مخ)

**توخته toxta:**

صبر، تیکا، قرار، آرام، پ. ت. ق اخیستی.

سلطان ويل ښځکو! تاسو لښکی (لرکی) توخته وکو.

(د مروتو کسرونه ۸مخ)

**توده تبه towda taba:**

محرقه، وچکی، تبګی، لویه تبه، ترټکی.

... په دا کال کې هوا او حرارت تر هسی حده سرکشی او طغیانی وکړه چې اکثر خلق په توده تبه او سخت رنځ ګرفتار شول.

(تاریخ مرصع ۷۸مخ)

**تورتی غله tortay:**

صافه، سپیڅلی، پاکه، تورت سړی= پاک سړی، سپین سړی.

دا تورتی غله چې په زور ته غـــواړی نا یبه اوس
روح دی د نوکر خوار چې یې باســې له قالبه اوس

(اولسی سندرې ا. ټ ۲۲٦مخ)

**تورخریری tor xareray:**

د خــــریریو یو ډول دی چې د چتـــر لاندینی برخـــه یې توره وی. دابوریحان د صیدنی په روسی ترجمه کې د (فطر= خریری) په باب د ابوالخیر قول نقلوی او د خوراک وړ خریریو په باب وایی چې ډیر ښه یې (نولیطا) وي چې ســپین وي وریســې (اما بیطا) دی چې رنګ یې نه ښیي، زه فکر کوم چې تور خریری هم دغه دویم دی. (صیدنی ٦٨١مخ)

| | |
|---|---|
| خریری هــم ښه نعمــت دی | من نومړی پاک حضرت دی |
| ځینی تور خریری ښه بــولی | ځنی سپین ښــه بهتر تولــی |

(شرعه ۳۰مخ)

**تورکلول tor kalūl:**

کلول چې لاتيني نوم يې Lathyrus sativus دی په عربي طبي کتابونو کې د (ملک) ذ(م) په پينن خار او جلبان په نومونو ياد شوی دی. په پ. ت. ق کې يې شننه سمه نه ده هلته يې دا نه د غوښتونه هم نرۍ ښوول شوې ده حال دا چې دا نه يې له ميو څخه هم غټه او ګرده نه، بلکه پلنه ده. پ. ت. ق د ژويو خوراک بللی دا هم سمه نه ده، بلکه دا د انسانانو خوراک دی. کلول دوه ډوله دی: سره کلول او تور کلول، که مطلق ذکر شي مطلب ترې تور کلول وي لکه:

عالم کرکا د اوربشو د غنمو

تا د زړه په پټي وکرل کلول (ملالتاړ ۹۰مخ)

کله د سره صفت هم ورسر زياتيږي:

بخت دی نسکور، رنګ به دې سور لکه کلول شي

په های ســــوران غـم به نزول شـي په تاباران

(بيدياني ګلونه، ۵۲مخ)

تور کلول بيخي بل شی دی، تور کلول د ننګرهار خلک د شولو د پټيو غاړو، پيخکو کې کري. بوټی او پلی يې د سرو کلولو بوټي او پلي ته زيات ورته وي، دانه يې هم د سرو کلولو د دانې په څير څه پلنه ده، خو رنګ يې تک تور دی، پلي يې زيړ او اغزي بخن ليشکي لري، دانې يې په کټوه کې نه ايشوي بلکې په تبۍ يې وريتوي او خوري يې.

مه کـــود عـــرضـــونه په ریبار نه به قبـــول شی
بخت دې نسکور، رنگ به دې تور لکه کلول شی
(اولسی سندری. ۱ټ ۱۵۲مخ)

**تورکی tōrkay:**

هجا، د کلمې یو سیلاب. اصل یې توری ښکاری چې حرف ته وایی (زړه پانگه)

.هجا باشد تور کی مانند ایزگی
بود مخـــرج و توځی ای نیلوفر (نصاب الصبیان ۵مخ)

**تورنمری tor- nmaráy:**

د تورو کالیو اغوستونکی چې په فارسی یې سیاه پوش بولی. نمری = کالی (زړه پانگه)

په دې ویر د غور وگړي تور نمری سول
په دې ویر رڼا تیاره ســوله د نبـــار (پټه خزانه - اسعد سوری)

**تور وانځه tór wanja:**

تور وانجو، په پښتو کې په همدغه نامه یادیږی (زړه پانگه) په فارسی یې (سیاه دانه) په عربی یې «حبة السودا» او «شونیز» په هندی یې «کالونجی» بولی او لاتینی نوم یې «nigella satia» دی. په پښتو متونو کې د «ج» او «معروف واو» په غږ ونولیدل کیږی، د «ځ» په زوره کی هم راغلی دی.

علی هم به تور وانځه په صحت، علت نمانځه (شرعه ۲۶مخ)

**توره tora:**

۱ - د قومي لښکر راټولونه. ۲ - د ملي لښکر غونډه. په لومړۍ معنا د پښتو د اصطلاحاتو قاموس او په دويمه معنا پ. ت. ق اخيستې دی. د دود او قانون په معنا ترکي الاصله کلمه ده چې تورهٔ چنگيز خانی= چنگيز خاني قانون، تورات= قوانين مشهور دی.

چې گټل، خوړل، بخښل کا ځوان هغه
چې توره لــــري د تورې ځـــوان هغه (خوشحال غزلونه)

... مسند عالي عيسی خان حجاب چې پاندار د شيرشاه او په توره کې د پښتنو هيڅ خدمت برتر تر تنبول داری نه و. (ت. م. ۱٦۲مخ)

د خوشحال په راتلونکی بيت کې يې معنا غور غواړي:

نور پښتانه ډير دی خـــو يو زه يکــې توره يم
واخلم، ورکړم، بند کړم، پريږدم ووژنم تر دمه (خ، قصيدی ۵٦۸مخ)

**توره اخيستل:**

د قانون غوښتل.

... دوی مصلحت وکړ چې دلير خان ته درسره مل کړه، يا يې قيد کړه نور موږ ورسره په پادشاه باندې توره اخلو چې... (ت. م. ۲۲۷مخ)

**توره بلبله tóra balbə́la:**

توره انا، تورانگه، تورانۍ، بړيته. يو ډول توره مرغۍ ده چې خوږ آواز او اوږده توره لکۍ لري لا تيني نوم يې dicrurus دی.

په زړه مې راغـله توره بلـبله ـــــ چې د ګل ثنا يې هميش کـوله
خزان را پرياسته د باغ ګلـونه ـــــ په ارمان ارمان سره ترې والوتله
(احمد شابابا ۲۳مخ)

پورې عجب لوی لـوی غـرونه دی
يکې سره شنه رنګارنګ ګلونه دی
که تاسـو و پوښتئ تـوری بلبلی
څو دی ګلونه، په دوی داغـونه دی ـــــ (احمد شاه بابا ۲۳۵ مخ)

**توره کونځله** tóra konjála:

جلسان، يو ډول په زمکه خپريدونکی ګلاب. کونځله چې په عربی طبی کتابونو کې د «سمسم» او «جلجلان» په نامه ياد شوی او لاتينی نوم يې sesamum orientate ثبت دی او په سانسکريت کې يې تيله، او په هندی يې تيلی بولی. په دوه ډوله ده: سپينه چې په همدغو نومو ياديږی او توره چې د جلسان (د ج په ضمه) په نامه ياده شوې ده. د البيرونی د صيدنی په روسی ترجمه کې د ابوحنيفه څخه روايت کوی چې: عـرب توره کـونځله (سـمـسم) نه لری، بلکی سپـينه لری چې جلجلان ورته وايی. (صيدنه ۵٤۸مخ)

د صديق د طب په فرهنګی برخه کې توره کونځله په جلسان ترجمه شوی ده چې دا اصلاً د البيرونی د صيدنی د (ورد= ګلاب) په بحث کې يو ځای د المشاهير د مؤلف له قوله ليکی چې: «د ګلاب هغه نوعه ده چې د زمکی په مخ خپريږی» (۸٦۰مخ)

بایدوویل شي چې د صدیق د طب په همدغه برخه کې سپینه کونځله په «چوکهار» ترجمه شوی ده چې غالباً هندي کلمه ده.

**توره لنبته کول:**

توره ایستل، توره پورته کول، ما یوازې د توري له کلمې سره موندلې دی.

... ټولو په مغولو پسې توري لنبتی کړی، داسې چړیې پر ګډ کړ چې ګرده یې مړه کړل. (ملي هنداره ۲۵مخ)

... خیر خو توره یې پسې لنبته کړه، د بوډۍ سر یې غوڅ پرې کړ.
(م. هـ. ۱۳۳مخ)

... ګوجرخان میر ما مې پسې توره لنبته کړه، څو واره یې پر وکړه، ځنې خطا سو. (م. هـ. ۱۶۳مخ)

**توري تپې tóre tape:**

عذر او زاري. پ. ت. ق اخیستی.

... ګلبشري که هر څو مره توري تپې ورته وکړې چې او س که ظالب جان یې ما د بادشاه پر زوی نیولی یې د خدای پار دی.
(م. هـ. طالب جان او ګلبشره ۱۵۵مخ)

**توغه toga:**

یو ډول ونه ده چې لرګی یې کلک او دانې یې خوږه لوږې او تر شنیو غټې دي. پ. ت. ق د (تاخوم، تاغو، تاغه، تاغګه) په عباراتو تشریح کړې ده. عجیبه دا ده چې دغه ټولې کلمې پرته له «تاغګه» چې حواله یې په «تاغه» شوې په ځانګړي ډول په بیل بیل ډول تشریح شوې چې یوه له بلې زیات توپیر لري.

د اسلانوف په پ. ر. ق کې تاغه په کرکاسِ karkac ترجمه شوی چې د کرکاس معادل عربي نوم د البیروني په صیدنه کې میسن maesan ښوول شوی دی. د توغه کلمه د صدیق په طب کې د جراحت د علاج په بحث کې داسې راغلې ده:

د توږیک دارو هم ښه دی　　د توغه پي هم بد نه دی
د کیکر شراب دا شان دی　　ډیر مشکل نه دی آسان دی
(صدیق طب)

فارسي قاموسونو مثلاً «فرهنگ عمید» د عربي په حواله د «میسن» لغت اخیستی دی چې معنا یې توغه ده.

**توغل:**

په هر علم سره ډک و　　په منطق کې لا زیرک و
توغل یې په حکمت و　　کړی ډیر یې پرې همت و
(د جمیل بیگ مناقب ۱۱۹مخ)

**توکس tokəs:**

هغه سگ ورته (پښتنو ته) ملک وی　　چې کولمې وږی لـه محلته
خان هغه چې توکس پریوزی　　په ځانگو یې وهی لته
(خ. متفرقه ۹۳۸مخ)

**توکه tokā́:**

۱- د اعتبار خاوند، معتبر، مهم. ۲- اعتبار ځیری، اعتبار لیک د اوسني چک په معنا.

... او توکه معرکه (مرکه) یې هم د خپل وراره سره بادشاه ته

واستوله. (تاریخ مرصع ۲۹۵مخ)

... ایمل خان، دریا خان د مغول سره دروغی پیوستون کړی و، تاتار خان د دریاخان وررور چې توکه توکه افریدي ورسـ . مغول څخه وو.

(ت. م. ۳۰۵مخ)

... په تقلید یې د تغلق شاه ور د غزنی پرانته او خلق یې په ډیر انعام بهره مند کړه او وې ویل توکه د پونسو تورو (پیسو) سازه کړی او په هر لور به یې گوزاروله. هرچا کره به چې توکه پریوتله پونسو توري به یې هغه ته ور کړی او توکه به یې ترې واخیسته. (ت. م. ۱۸۷مخ)

**یادونه:** دلته تکه لیکله شوی ده.

**توکی tókay:** څیز، شی.

ته په کوم توکی دماغ کړې خپسر وگـــوره چې څه یې

(خوشحال، غزلونه)

چې دا دری توکـــی لــری اتکل می وشی

چې به خدای، رسول راضي نه وي له ده نه (خوشحال، قصیدی)

**توگه:** بڼه؟صورت؟

دا زمور وجود ته اریانی (حیرانی)

چې توگه څنگه خدای راکوي (انگی ۳۱۸مخ)

**تولای tulayi:**

توشک، نیالی، نالی.

. آخر پرپوزی سپیره مخ د بې ارزی په خاورو

ن د آرام نوې برستن سره تولاي به څـــه کړې

**تولک:**

د چمن لطافت واوښت رنگ يې تور شو
د سهيل په دور ستړی پلی ســـور شو
مې گلـــزار لکـــه منی يې انځـــور شو
چـراغـان د لاله زارو په ياد جـور شـو
دام تور په ځـــای بله تـــولک ســـوی (واصل ۱۱۵ مخ)

**يادونه:** د دغه شعر مفهوم گونگ دی.

**تومنه tomna:**

تخم، بذر.

دهقـــان تومنــــه اچـــولی
د درويش فصل هم سور دی (واصل ۱۱۸ غزل)

**تونبړی tunbray:**

کلی، ترازه، تړته، (په زړه پانگه کې لفظی او تشريحی غلطی لری چې دلتـه سمه شوه ) په تونبـړی کـی (ړی) د لغ، لغړ، پگ، پگړی، تکی، تکړه په څير سوفيکس دی.

په کيـــن لاس د ښــــی مـــدد په خـــوراک کـــې نـــه دی بـــد
دی حضـــــرت دارنگه تړلی ختـــکی، روتی خـــوړلی
په ښی لاس کې يې مـــــړی وه په کين لاس کې يې تونبړی وه
(شرعه ۱۱ مخ)

**تونبه tunba:**

محشی. ۱ - څیری، ټوټه، ترازه. ۲ - تنی په معناوو اخیستی. (و ګ: تونبړی)

په مخ یې تونبی، تونبی نیازی وو

اړیانه دی(د) تونبو په ګډول (د مروتو کسرونه ۲۷مخ)

**تهانthān:**

واګی، قیضه، لګام. د تاڼه کلمه وګوری.

د اختیار واګی دې وختی له ګوتو

د باور براق دې پرانت شوله تهانه (لتاړ ۱٦٤مخ)

**تهل tahál:**

شګلنه زمکه، ریګستان (محشی).

بـــډای زوی یې بخــمل و

ژغ یې اوری (هوری) په تهل و (د مروتو کسرونه ٤٥مخ)

مـداغرب ویل اتله          اوبنی مـه بیا یه له تهله

(د مروتو کسرونه ٤٨مخ)

په لوک تهل دی ښکار که          له دښمنه دی څــډار که

(د مروتو کسرونه ۷۱مخ)

**تیارtayār:**

مخکنی ځای لرونکی، پیش، وړاندینی ځای لرونکی.

... داسړی ډیر دولتمند و، د پاچا سره هم تیار و.

(ملی هنداره - ۱۰ مخ)

**تیارلګ tayarlág:**

مخکنی ځای لرونکی، تیارخور.

... څه ورځې لا تیرې نه وې چې مورک ته د مورکانو لښکر جمع شو، یار، اشنایې دیر شو د مصاحبانو او مجلسیانو خوهلو شمار نه و میلمستیا ګانې وې او د تیارلګو مورکانو پرې سرو.

(انوار سهیلی ۲ ٥مخ)

**تیاری tayáray:**

تیلی، د اورلګیت تیلی. د انګی محشی د هغه مترادفات (خاشه کانې، کاړی او تیلی) اخیستی دی. (دانګی د ٤ - ٥ مخ حاشیه)

**تیپه:**

که ښوروا د چینډخی واخلی او دروغن ګل او موم سره یې په تیپو د دانو پوری کا نهایت موافق دی. (اختیارات بدیعی ۳۸ ٥مخ)

**تیرت tirát:**

ذات، اصالت، په (زړه پانګه) کې د (رعیت، ایل) په معنا هم راوړاندې شوی دی.

د مشرک چې د یقین طهارت نه وی
په څه بهه دې د هنـــدوانو لـه تیرته (واصل ۳٥غزل)

**تیرماری termári:**

د خـــــرقی بخی بې واړه تیرمـــاری دي
چې ښکاره په هر دیار شی بې قیدان اوس (سکندر ختیک - ۲٤مخ)

**تیرۍ teray:**

که د مرګ په ګل کې سم تیر شوې حافظه!
د عقبی په لـویه لار کـې تیرمې نشـــته (الپوری ۸۳ مخ)

**تیزغانه tezgana:**

د هــوا په ســمند مه ځغله پیاده شـه
چې په مخ دې د مرګ تنده تیزغانه ده
(پټ ستوری، میامحمد وسیم ۵۷ مخ)

**تیړی teṛay:**

څــوک به تا سره یاری کـا کــه ســـړی وی
نه یې خــوب نه یې خــوراک وی رنځــړی وی
شــرم ، ننګ به یې ونه وینی چــې لــوی شی
که دي زوی وي که دې ورور وی چــې تیـړی وي
(سکندر ختک ۲۱۱ مخ)

**تیک tyak:**

په داسې حالت کې دریدلي چې خیټه او سینه یې : سر او پښو په انډول لږ څه وړاندې وی ، په دغسې حالت کې ویل کیږی چې فلانی تیک ولاړ دی. پ. ت. ق د (ت) په زیر اخیستی خو سم تلفظ یې د (ت) په سکون د (ی) په زور دی. حمید د شعر په باب وایی:

هم دی نه خوړوي زړه څوک ډیر د پوچ شعر په کړه څوک
چې د شعر کسب زښت دی د زړه رنځ ، د روح کهښت دی

ښه دی شکم له زووړ ک　　　نه له شعره ړ ک و تیک

(شرعه ٦١مخ)

**تیکی tekay:**

د بهشت گلونه ډیر ښایسته وایی

تر تیکیو کله ښه ستا د ریشو دی (سکندر ختک ۱٦۳مخ)

زمـــا ښه او د بل بد ورته یو لـید شی

د اغماز نامرد یو هسې تیکی چود دی(بیاض)

**تیلنګ:**

سری رسالی دې د پیرنگـو دی

زه دی قـابم یمـه په زور باندې

څوکی دی د ناستې د تیلنگو دی

ویی نیومه ستا په تـــور باندی (اولسی سندری ۱، ټ ۱۲۱ مخ)

**تیلی tilay:**

د غشی لاستی؟

په اند ک تاو د اور کړه تیلی تیر گر کاسمه

ځیگر سوځی د حافظ سـمیده ولی نه شی (الپوری ۱٦مخ)

**تینکtinak:**

د عارف له بختـه هیڅ نیمگـړی نه وو

د وصال له هـوا تاپر یوسـت مـور کـه

په جهان د آزادانــو ســـر حلـــقه وو
کاشکي خلاص واي د هوښيار وله تينکه

(واصل ۸٦غزل)

**تيينی والا**teyəni wala:

لړمون پلورونکی، د لړماښ پلورونکی، هغه شخص چې د لړمونو نو پلورل يې کسب وی، «تيينی» پ. ت. ق اخيستی.

هغه وخت چې شونډې دي غمی او مرغلرې وې
ناړې دې شکرې وې
کله کښينستلی د طالب او د ملا سره
اوس چې د هوسۍ په شان صورت دی کاړی واړی سو
خپل ځان دې د غاړی سو
راسه چې مزدور دې کم د تيينی والا سره

(اولسی سندرې ۲ټ ۱٦۳مخ)

## ټ t

**ټاټه:**

خوله دې د ټاټو ترګل نازکه　　و ماته دې رانه که

سبا به یې چینجي خوري یا زمکه ( فولکلوري سوغات ۶۷مخ)

**ټاس:** ۱ -ټپوس؟ ۲ - ببر.

غواړم هما سوري چې موروث د بخت دولت دي

لغو سعې نه کړم وسایې د ګــــونګي، ټاس ته　( الپوري ۸٤مخ)

زه وایم همای دی، طلبګار یې شم د ســـــوري

ټاس وي یا ګونګي وي بې حاصله په مرغان کي　(الپوري ۹۶مخ)

هیڅ دې نه ګرځي په زړه د مرګ وسواس

چې پګړۍ دې د غرور کړه په ســـــرټاس (حسین۱۷۸مخ)



ACKU

**تاله tālá**:

لحاظ، خاطر، تاله کول= لحاظ ساتل (محشی). پ. ت. ق د عمده پلورنی په معنا اخیستی.

تاله راڅخه وکه موږه له تا سره وروری (د مروتو کسرونه ۸ ٤مخ)

**ټانګه ṭanga**:

بتنګ، پ. ت. ق د «بتنګ، ټانګ، ټانګو، ټانګه» کلمې بیخي په ګډه وډه تشریح سره را اخیستي دي هلته لیکي:

بتنګ: د ناک او نشپاتي غوندي یو ډول میوه ده.

ټانګ: یوه غرنۍ میوه ده

ټانګو: غرنی ناک، یو ډول میوه ده.

ټانګه: د ناک د ونې په ډول یوه ونه ده، خو میوه (یې) د ناک سره توپیر لري.

د پ. ر. ق مؤلف اسلانوف له توقع خلاف د «بتنګ» لغت نه دی اخیستی او د «ټانګ» حواله یې په «ټانګو» ورکړې او «ټانګو» یې د «ځنګلي ناک» په معنا او ټانګه یې د باغي ناک په معنا او ناک یې د ټانګه غټ سورت لرونکی نوعه بللی ده چې د بتنګ سره ترادف پیدا کوي او ناشپاتي یې د ناک په معنا اخیستي.

خبره دا ده: ناک یا نشپاتي چې په عربي یې کمشري بولي او لاتیني نوم یې pyrus communis دی او فارسي فرهنګونو لکه «فرهنګ عمید» د امرود او ګلابي په نامه اخیستي دي. د البیروني د

صیدنی محشی هم د کمثری د تشریح په ترخ کې لیکي چې په فارسي یې امرود بولي. (د ۷٦۸ مخ لمن لیک)

اصلاً ټانګ، ټانګو ځنګلي ناک دی د ټانګه او بتهنګ مترادف دي خو د ناک سره یې توپیر دا دی چې د ناک میوه مخروطي ډوله او د بتهنګ د میوې له نیمایي اندازې هم وړه ده. د بتهنګ میوه نسبتاً ګرده ده چې واړه واړه خالونه هم لري او زیات خوراک یې اسهال پیدا کوي، او د ځنګلي ناک نوم په عربي طبي کتابونو کې د احرادوس په نامه راغلی چې د یونانی له اخرادوس axrados معرب دی.

(دالبیروني د صیدنی د ۷٦۸ مخ لمن لیک)

ټانګه د بتهنګ په نامه دحافظ الپوري په یوه بیت کې داسې راغلی ده:

که په خوله مزه کوي نادیده خلقه
حلاوت د ټانګو نه رسي وناک ته (د دیوان ۱۵۹ مخ)

**ټاه tāh:**

ټینګښت، مقاومت، پ. ت. ق د (کړت، خبره، ګړیده، ګړیدا) په معناوو اخیستی، ښایي ټینګښت یې مجازي معنا وي.

چې یې فتح د سلوک له جنګه راوړه
د ملوک لښکری نه کاورته ټاه (د مست منتخبات ۳۸ مخ)

**ټپ tap:**

بند، تړلی، مسدود، پ.ت. ق یوازې د «کتاب» سره اخیستی (کتاب بندول)

ته که د مکر ډیر سورې ورته جوړ کړي لیکن هغه به ضرور په تدبیر د مکر دا سوری تپ کړي. (انوار سهیلی ۸۵مخ)

... ده (ښکاری) دلومبړې سوړه معلومه کړه، د هغې په خوله کې یې یو ډوغل وکنست او په وښویې تپ که. (انوار سهیلی ۱۰۵مخ)

**تپ tạp:**

ضعیف، کمزوری.

... او بیا یې ورته ووې چې اې وروره چې د اولی دومره خواروزاراو تپ تیپ یې راته ښکاری چې ناړه یې... زما د توبرې او گیاه غم ورسره نشته پخپله تپ یم، چې محنت کوم او راحت په سترگو نه وینم.

(انوار سهیلی ۲۷۷مخ)

**تپاټ tạpā́ṭ:**

ډاډ، اطمینان، د ډاډ لفظی تأکید ښکاری.

... ای بادشاه! ته (که) هر څومره کوشش کوی، او ما له ډاډ تپاټ راکوی او عذرونه راته کوی زما وارخطایی به لرې نه شی.

(انوار سهیلی ۳۲۳مخ)

**تپوک tạpúk:**

پوستین. پ. ت. ق د (۱- پوستین. ۲- تومانچه، ۳- څپیړه) په معناوو اخیستی. پ. ر. ق یوازې د پوستین په معنا اخیستی ما هم یوازې د پوستین په معنا موندلی.

گـــو به پښـــتو قدیفه راتازر

هم تپوک پوستین به ضبط بیار (نصاب الصبیان ۱۳مخ)

**ټک tak:**

فوري ، فوراً ، سمدستي ، بلافاصله. د (له، د) سره استعماليږي.

احمد چې زلمی وليد له ټکه پوه شو چې... ناڅاپه يوه ټکره په لومبړه برابره شوه او د ټکه مړه شوه. (انوار سهيلي ۷۲مخ)

... شهزادګۍ خواره د دارو د خوړلو سره په ټک مړه شوه.

(انوار سهيلي ۱۵۹مخ)

... شرمخ په ژړ شروع وکړه ، ده چې ژړ له غاښ وروړل نو دواړه ژړ وشوکيده د ليندۍ سره د شرمخ په زړه برابر شو او د ټکه مړ شو.

(انوار سهيلي ۱۹۰مخ)

... د پاسه پرې ښکاري راغی او يو غشی يې په زمري راګوزار که، په زړه يې برابر شو او د ټکه مړ شو. (انوار سهيلي ۳۶۵مخ)

**يادونه:** د ټکه په ځای تقه ليکل شوي لکه چې د توکه او چکړې په ځای توقه او چقړي ځای په ځای ليکل شوي.

**ټک ټک tak tak:**

ټک ټک پايي ، ټکنی (هبه تبه وګورئ).

**ټکنه:**

تيزي شغلي مې د ټکنو په منځ کې لال وهي
غبرګي موندري مې د اوږو د پاسه تال وهي

(اولسي سندري . ۱ ټ ۱۵۵مخ)

**ټکنای ṭakaṇā́y:**

کوټه(محشی). دلته د بخت صفت دی.

یارکه! (نوم) بخت دی ټکنای سو

ختیک باندې دې نه چلیږي توره (د مروتو کسرونه ۲۰مخ)

گوره پهلوان (نوم) په محمد یاد کـــړی دی واری

چې بخت یې ټکنای سو توری توری هیڅه نه خواږه

(د مروتو کسرونه ۲۷مخ)

**ټکور ṭakór:**

۱- ټوکرکی، ناڅیز شی. ۲- ټوکر (؟)

... کلیله ووی چې د دنیا دولت فـانی دی او جـاه او جـلال لـه یې څـه اعتبار نشته نو د دې نعمت او کلفت په مقابل کې دا په هیڅ نه راځی، تا که د دنیا په دې ډول ټکور پسې کوشش نه کولی نو نن به ولې د آفت دی کوهی ته پریوتی. (انوار سهیلی ۱۵۶مخ)

جامې به درله وکړم په ټکور د باجـــوړ

طاقت زموږه نه شی د کونړ عمر شوخړ

(اولسی سندری ۲ټوک ۱۴۳مخ)

یاد دلبر د گونگورو شـــور دی　　یا سیل د بلبلو ځـــی

تور یې وربل په وروځو خور دی　　شاه په سیل د گلو ځی

وریسی جوړ د غم ټکـــور دی　　جنگ له د منگلـو ځی

(اولسی سندری، ۱۰ټ. ۱۱۶مخ)

ACKU

**تکه غرمه** ṭáka ǵarmá:

تکنده غرمه .

چا شکوه د پښتو له بریښنه د عمر غوږ ته کړه پیښنه
وی یې خیر دی ته مه پرزه خو په تکه غرمه گرځه

(شرعه ۲۱۲مخ)

**تکی** ṭakáy: منقش.

چې په طاق کرښو تکی وی خوږ به هغه ختمکی وی
منافع دختمکی په ناقص عقل تکی
نه شی پیژاندی لا لنه د حدیث کوه پالنه

(شرعه ۲۸مخ)

**تکیدل** ṭakedál:

ورو ورو لاړو هل. (و گ. پایخوږی)

**تلگری** ṭalgaráy:

شریک بانی، ملگری، هغه څوک چې د چا تل وی.

... سمندر د شپی خپل ملگری، تلگری سره داور او د مسالی د ځان سره روان کړه. (انوار سهیلی ۷۹مخ)

**تنده** ṭə́nda:

غونډه، ټولنه .

... خو سهیلی (نوم) نه منل بیریدې چې مبادا یو تنده به یې راته کړې وي. (ملی هنداره ٤٤ ۱مخ)

**ټنډه:** انعام، پاداش، (محشی).

... سـهـیلی ژغ وکړ! څـوک به ټنډه واخی، او جنگ ته به ورسی هیچا ژغ ونه کړ. (ملی هنداره ۱۳۹مخ)

**ټوغه:**

د هیچا زړه به سیلاب په رحمت نه شی
څـو ونه کاږی د زړه نه د غـیر ټوغه (مطیع الله پیره خیل ۱۱۶ مخ)

**ټول tol:**

ټول کیدل= تجمع ، غونډه کیدل. پ. ت. ق د صفت په توگه د (۱. غونډ، ۲- راغونډ) په معنا اخیستی. د اسم ذات= غونډه په معنا هم راغلی دی.

... د الله داد په کلي کی ورته ټول و شو، هغه مادر به خطا خبر شو. (ت. م. ۳۲۰مخ)

**ټوله tolá:** ټولنه، جامعه.

په ټولـــه د یوســـفزی مظفر په هر میدان شـوم
(خ. متفرقه ۸۲٤مخ)

**ټوله نیول:**

غونډه کول، ټولیدل، غونډیدل.

... ایمل خان، دریا خان په خیبر ټوله نیولی وه. (ت. م. ۳۲٦مخ)

**ټونډ tund:** شل.

د غه سستی به ما سست نه کا ناصحه!
بس کړه چپ شه د همت په لاسو ټونډه (بیدل)

**تونده tunda**: ښنګري.

بې یقین د ځان دښمن پر لار په څـــو ځي
په خپل لاس یې پریکړه پښه د باور تونده (دولت لواني ۲٦۰مخ)

**تونه tuna:**

تو‌ټکه، جادو، کوډې.

کوم ســــحر ګر وکړی په تاتونې
چې دا هسې یو فساد پر بله مونې (انصاري ۲٤٦مخ)

**تیتاری titaray:**

تیکله، تیغی، تیتغی. پ. ت. ق اخیستی.
یو مرغه دی چې د یر جګ الوزي او مخصوص آواز لري.

قارغه لمځی دی ، تیتاری، چـــرګی
واړه همدا دی کــــم په کی باز وینم (سعید ۲۱۵مخ)

**تیغ tig:**

تیغکه، تتغه، د ښکاري مرغانو له کورنۍ څخه یو ه مرغۍ ده چې واړه مرغان او خزنده خوري.

وار شو د زاغانو د تپوس او د تیغـانو
بند شول کجیران د بیلتانه په جال خزي (الپوري ۱٤۳مخ)

**تیکه teka:**

تیکاو، تیکاونه، ارامي.



ACKU

نه مې بل ځای د تیکی شته نه مې بل ځای د امید
که ستا کوځی لره درنه شم، کومې خوا لره ځم

(پښتو غزل ، علامه عبدالعلی)

**تینګی tingay:**

شاتینګه، شاتینګی، د چرګانو او الوتونکو دریمه معده. پ. ت. ق تینګه په دغه معنا اخیستی.

... قانعه! په فارسی یې سنګدان بولی، پښتانه یې تینګی بولی.

(اختیارات بدیعی ۶۲۱مخ)

# J ج

**جاجنه jājә́na:**

اندیښنه، تشویش. محشي ورته د «کړه» معنا لیکلې، فکر کوم د «جاج» له کلمې څخه دی.

اصـــل دی گـــنه کـــوږ و

خپل نصیب درپیښه کړه جاجنه (احمد شاه بابا ۲۱۸ مخ)

**جاخ جاخه jax jaxa:**

دونو او بوټو څانگې چې یو په بل کې ننوتې او تاو راتاو وي. پ. ت. ق (جاخه) اخیستی.

... زمری هم له ډیره قهره وریسې روان شو. پړانگ په یوه جاخ کې دده نه ځان پټ کړ، زمری چې دد ې جاخه ورواوریده... (انوار سهیلی ۳۶۷مخ)



ACKU

**جاخې jāxəý:**

جاخې په جاخې = لاس او گريوان، کش او گير، سره نښتې. د جاخ سره يې معنا نژدې ده.

تاچې کــوځـــــه کې تيوخې وکــه
زه د موزې سره جاخې په جاخې ومه (پښتو لنډۍ ۸۲مخ)

**جار ايستل jār istə́l:**

گرځول، ستنول، جارول. قاموسونو په ډيرو معناوو اخيستې دى خو د جار ايستل او جارول ترمنځه يې د معنا نژديوالى ته کومه اشاره نه ده کړې. د کلمې ريښه (جار) ده چې ايتيمولوژيکه معنا يې (تاو) گرځيدلى گرځولى دى. جار اساساً د قربانۍ په معنا نه دى، بلکه هغه يې مجازى معنا ده. پښتانه وايى: «درنه وگرځم، له سره دى وگرځم» معنا يې دا ده چې «جار دى شم، قربان دى شم،» عملاً هم په ځينو سيمو کې مروجه ده، لکه چې څوک د چا نه پسه يا غويى يا بل څيز قربانوي هغه د هماغه شخص له سره يا ځانه تاووي بيا يې قربانى کوى په دې اساس د جارلومړۍ او اصلى معنا (تاو، گرځ) دى چې بيا يې په جار ايستل، جار باسل، جاروتل، او جارول کې د معناو څه توپير را منځ ته شوى دى. په «جار» کې حتى د «ج» غږ کله په «ځ» او کله هم په «ز» اوښتى چې دا وروستۍ تحول دى او څرنگه چې د جاروتل، چار ايستل، فعل ارخاييکه بنه لرى نو له دغه تغيره ژغورل شويدى. د جار ايستل فعل په خپله لومړۍ معنا په زړو متونو کې زيات راغلى دى يومثال يې دا دى:

لکه طفل یې جار ایسته له خپله سره

نور په زمکه یې ارتاو کړ ناګهـانه

(ک. افغانی د شهزاده بهرام او ګل اندامی قصه ۲٤٦مخ)

**جاروتل jārwatə́l:** ستنیدل.

لوی هلک به واړه اخر تاته وجاروځی

ځـان که لکـه مزکـه کـړی عبدالقادر ه پست

(عبدالقادر ختهک ۴٤مخ)

**جاره واره:** خوا او شاه (محشی).

جار دی سم واغاړه

چې وړی پر ګرځیدلې جاره واره (فولکلوزی سوغات ٦٤مخ)

**جاړه jāṛa:**

په نصیب به د بیاض څرنګ غاو (خاو) نه وی

بې ګناهه تری خپل یار کـړې جـاړه ده (بیاض)

**جاړه ګیر jāṛagir:** غاصب.

غیبت دی لـغوکـسه | که یې کانی نیک نفسه
لـه فاسـقه مجـاهره | چې ګناه کاندی ظـاهره
له ظالمه جـاړه ګیره | له ګمراهـه شیخه، پیـره
چې یې شی بدی څرګنده | خلق یې ځان ساتی له ګنده

(شرعه ٦٤مخ)

**جامگی jamgáy:**

تور بانه دی تور تهپک کړه وطالـــب ته

پری د پاسه دی د غم جامگی سورې کړي (ملالتاړ ۱۷٦مخ)

**جامه jāmá:**

څیره، قواره . ، جامه اړول= قواره اړول.

سنک(نوم) ډیر وخت مسافر وو، اوس راغلی دی جامه یې اړولی ده .

د سنک جامه ولوخاں ته ورته ده= چهره ، سنک به چهره ، ولوخان شبیه است. (پښتو اصطلاحات ۱۳۵مخ)

**جامه اچول jāmá:**

نمري اغوستل، جامه اغوستل، د لرې پښتونخوا اصطلاح ده.

د غضب جامی دې واچـــولې خـــړې

نه پوهیږې شپه او ورځ په خپله سترې

(پټ ستوری، رسول شاه ۲۵۳مخ)

**جاوو ، جاوو کې jāwu jāwukāy:**

جاوو بوټی، یو شین، بې اغزیو کلک، لرگین سارانی بوټی دی چې وړې وړې پاڼې لري. ډکی یا لرگی یې خړ توربخن دی. خوړ وړم لري. له کودې څخه یې د ربیځ (جارو) کار اخلي او په یوه لمبه سوځي، د خواړه وړم له پاره یې په کورو کې هم ساتي. (په ٰ ره پانگه کې سهواً سم نه دی تشریح شوی) جاهو هم ورته ویل کیږی. پ. ت. ق جاوود (یو ډول تریو خوندی بوټی) په معنا اخیستی دی.

ښنګ به وکړم ګفتګو د یار له حسنه
چې په مخ یې شم لمبه لکه جاوو کی (حسین)
صبر و هوش یې کوم ګناه د زلفو وکا
چې یې مومی په هر زړه کوریې جاهو کا (هجری)
په منګولو چې د یار ایرې رانغلی
په لمبو د بیلتانه لکه جاهـو لاړ (بیاض)

**جاوه jawa:**
د پاوه سره د لفظی تاکید په ډول استعمالیږی (وګ: پاوه جاوه).

**جایه jaya:**

| | |
|---|---|
| هـــر سړی چې بیمــــار وینه | په بد رنځ ګـــرفتــــار وینه |
| په کاغــــــذ دې دا دعــــا | نوشـــته کــــا وایــــم دا |
| چې یې بزرګه شی جـــــایه | چې یې نه کـــیږی پــــــایه |
| هغه کس چې یې وخـــورینه | له دې رنځه به خلاص شینه |

(کیمیای سعادت ۱٤مخ)

**جبره jabara:** خبره.
د مروتو په کسرونو کې څو ځایه راغلی دی.
ښتبه د مــاښه خـــدایه قادر یې
نن مې په زړه باندې راغلی جبرې (کسرونه ۱۰۱مخ)
رضا خانه د ښاغلتو (ب) جبری لاړې ترګری (نوم دی)
(کسرونه ۴۳مخ)

**ججه jaja:**

باج، کلنگ، جزیه. پ. ر. ق یوازې د جزیې په معنا اخیستی خو پ. ت. ق په دریواړو معناوو اخیستی دی.

له راتلونکو عبارتونو څخه څرګندېږي چې یوازې د جزیې په معنا نه دی ځکه چې جزیه به یوازې له غیر و مسلمانو کسانو څخه اخیستله کېدله.

... یکی یې لیکلی وو: د پروسږ کال ججه هم دربانديې پاتی ده هغه زر را تحویل کړه دا خط د یوه بادشاه و چې په دې پاچا زور ور و او هر کال به یې ججه ځنې اخیستله، مومن خان پاچا ته وویل چې ججه نه ورکوم، زه هیله د خدای لرم چې له دې ججی څخه دې خلاص کړم. زه پښتون یم، دا بې ننګی پرځان نه قبلوم ترڅو تا له دې ججی خلاص نه کم...

(ملی هنداره ۱۷۱مخ)

... ده (مومن خان) وویل چې له پلانکی پاچا څخه به ججه نه اخلی او زه راغلی یم چې پوښتنه در څخه وکړم چې ته له ده څخه ولی ججه اخلی؟ (م. هـ ۱۷٦مخ)

**جرګتو jargatú:**

جرګه مار، غونډه کوونکی. پ. ت. ق د جرګتو په فورم اخیستی.

که یې واغوستی برخی جرګتو شول

ډیر افسوس کیږی ګنده دی نو میزر دی (هجری۱۹۱مخ)

**جرلگ jar lág:**

ځلرگ يو خړ رنګی کلک اغزی دی. په کندهار کې ډير پيدا کيږی.

پ. ت. ق اخيستې.

ما د شـــمشـــاد لښـــته ګـــټلې

د جرلګ ځوزوی زما زړه دی زخمی کنه (پښتو لنډی ۱۸٤مخ)

**جراجړ jaṛā́ jár:**

څپڅپاندی، نوساني، لوړی ژوری.

اتلس لکه ديرش زره لښکر مې و په لاس کې

څه به وايم د دنيا لـــه جـــراجـــړه (د زقوم قصه ۳۲مخ)

**جساول jasā̄wə́l:**

ساتونکی، محافظ، ترکی الاصله کلمه ده.

داندوه جونګړی مې ورانه کړه يارانو

د ښادی په ملک مې وکـــړه ودانی

د خاطر چمن مې پرشوله ګلـــــزاره

ځنی لاړه جســـــاول د خـــــزانی (التاړ ۲۲۹مخ)

**جسته jastá:**

يو ډول زرغـون رنګی پڼـه، مـوچڼـه ده. پ. ت. ق اخـيسـتی او له تشـريح څخه يې ښکاری چې اوس له استـعمـاله وتلی او دارخاييـزم په کتار کې راځی.

دوې دې نجونې دوې دې

د اتڼ ناری کوی سره ترلـېـ دي　　د يـوې د خــيال کمــيس دی
د بلی زرغونی په پښو جستی دی (د خلکو سندرى ٧٤مخ)

که دوې دي نجــونی دوې دي　　د اتڼ ناری کوی سره ترلې دي
ديوی د چيټ کمـــــيس دي　　د بلی زرغونی جستی په پښو دي
(فولکلوري سوغات ٨٩مخ)

**چک وهل:**

چټی خبری کول، بيهوده بحث کول. ظفر اللغات هم ترجمه کړی (جگ زدن). پ. ت. ق (جک= د اوبو يو چينجی؟) اخيـــستی چې واضح مفهوم نه لري.

جک هغه ماشی ډوله مچ يا مچ ډوله ماشی دی چې تل داوبو له پاسه دومره ټيټ په آرامی سره په هوا کې الوزی چې کتونکی فکر کوی داوبو په سرگرځی خو څوک چې لاس ورنږدی کا په گړندۍ الوتنه ترې تښتی. هغه په لاس نه وهل کيږي او که څوک دا کار کوی په حقيقت کې په يوه چټی کار لگيا کيږی.

نه دی وژنی اهل عهــدو　　هيڅ مومن مچۍ د شهدو
نه هد هد ملا چرگـــک　　چې دا کار کـا وهـی جک
(شرعه ١٧٦مخ)

چې په شــوبې کار څه وايی　　پوچ پوچ وايی وهی جــک
(حميد ١٧٤مخ)

**جګټ:**

د مولا له یاده مه شه روګـــردانه
د قیامت هول آسان نه دی جګټه (ج. فدوی)

د مظلوم غوښې شکوې بې پروا ګرځې
د مظلوم د آه تهیه نیـــــسه جګـــټه (ج. فدوی)

... د جګټ په مهم په مورچل باندې تمام
لښکرد جګټ سره راباندې لـــوښتی و (دستار نامه، ٤٦مخ)

**جګړه لګول:**

په جنګ پیل کول، جګړه نښلول، د مروتو لهجه ده.

جګړه سره لکه کړه روحانو (کسرونه ٣٤مخ)
سبا ته سره لکه سوه جګـــړه

تورو تیوبکو جیګه سوه لوخړه (کسرونه ١٥مخ)

مازیګر یې سره لکه کړه جګړه (کسرونه ١٠٠مخ)

**جګړېدل:**

ستا د عشق له درد و غمه چې ژړېږم
لکه پل د شـــګـــو دم په دم ـــړېږم
چې مدام بې په کومک راځې دلبره
نه پوهېږم د رقیب سره جګـــړېږم (حسین ٣١٢مخ)

**جګول:** تومبل.

... د سوداګر زوی یې وګاټه، وروسته یې جادو پر ووایه، یوه ستن یې

کئ، پرگریوان یې ستن جگه کړه. (ملی هنداره ، ۳ ت ۳ ۰ ۱مخ)

... بیا پرهغې بوډۍ پینښ سو چې دده وروړ یې گنلی و او ستن کړی و او پر گریوان یې ستن جگه کړې وه. (م. هـ ۳ت ۹ ۰ ۱مخ)

**جگيِ، جگيِ :jәgi , jә́gi**

د زارۍ کلمه، د فارسي د جان! جان! معادله. غالباً تکراري راځي. د ننگرهار په ځینو سیمو کې متداوله ده. پ. ر.ق د (ج) په زوره کې او معروفه «ی» اخیستی چې دا تلفظ سم دی خو خج یې په «ی» ورکړی حال دا چې خج په زوره کې دی نه په «ی». پ. ت ق یې تلفظ سم نه دی لیکلی. د «ج» په زور او مجهوله «ی» یې اخیستی چې سم نه دی. او لومړۍ معنا یې چې ورکړې یعنی (هرکله راشی ، ښه راغلی) هم سمه نه ده ځکه چې هیڅکله دغه معنا نه لري خو دویمه معنا یې (د خواست کلمه) ورته لیکلې چې سمه ده.

دغه څو بیتونه د مثال له پاره وگورئ چې د «هر کله راشی او ښه راغلی» د یو معنا هم نه لري:

په مقراض دی که څوک دواړه شونډې پرې کا
جگی جگی ښکنځل مه کوه وچاته (عبدالقادر خټک ۳مخ)

ستا دیدن رمق را پاتو دی څو پایم
جگی جگی یاره ناست او سه راڅخه (عبدالقادر خټک ۷۳ ۱مخ)

چې رقیب و ته ښکنځل کوی زه سوځم
جگی جگی بې لـه مانه بل مـه زوره (عبدالقادر خټک ۱۹۱مخ)

که خبره که خندا کړی جګی جګی

هره چار تر حساب مه کوه بیرونه (خوشحال)

جګی جګی معمولاً تکرار راځی ډیر لږ بې تکراره هم لیدله کیږی خو دلته یې معناځه زیات غور غواړی.

دا دوه سړی غلیم دی د هرچا په حقیقت کې

که فهم فکر وکړی جګی بد تر غلـه زانی (خوشحال)

**جګی jagáy:**

زاری، پ. ت. ق اخیستی.

... مور و پلار یې ډیری زاری، جګی او بلغاکی ورته وکړی چې پاته سه مه ځه خو ښادی ویل نه ځم. (ملی هنداره، ٥٤مخ)

**جل jal:** ګډ، خلط.

تاریکی او بینایی مې سره جل شوه

بیګانه یم په ګډی کې له وراګډ (ج. فدوی)

کله کړم رضا د ځان کله د یار خپل

اتفاق مې له اخلاصه سره جل دی (ج. فدوی)

باران د اوښکو مې تازه ګلزار د زړه ګرځوی

زه په صحرا د زړه خزان جل په بهار لرم (ج. فدوی)

د دنیا لذت له غمه سره جل دی

اصل نه لری بې اصله دا بدل دی (ج. فدوی)

ځی کینه له بخـله سره جـله

عظیم ځه د بد بختی دی په غلط (ج. فدوی)

**جلبنگ jalbáng:**

سوړکی، جلبنګی= سوی، سوزش.

پ. ت. ق د (۱- یو ډول خوشبویه وابنه. ۲- یو بوټی دی چې د لرګی نه یې سورنی جوړوی.) په معناوو اخیستی خو د سووکی معنا یې نه ده ورکړې او حتی د سووکی لغت نه لري.

پ. ر. ق جلبنګ، جلبنګی د (۱- سووکی، ۲- دورمه، کړکی) په معنا اخیستی او ظفر اللغات د (یو چیچونکی بوټی چې پاڼې یې پخولی شی او خوړلی شی سورپلی) په معنا اخیستی دی. سورپلی هم پ. ت. ق او هم ظفراللغات د سووکی په معنا اخیستی دی.

سووکی په عربی طبی کتابونو کې د انجره، عقار، قریص په نومونو یاد شوی چې لاتینی نوم یې urtica pilulifera دی په فارسی یې ګزنا، ګزنګ، او ګزنه بولی. ګزنا ته افغان قاموس سووکی لیکلی، سورپلی هم قاموسونو اخیستی. دا یو بوټی دی چې غالباً د رودونو، ویالو په غاړو او نمجنو ځایونو کې زرغونیږی، لوړوالی یې تر (۴۰ - ۵۰) سانتی مترو ته رسیږی، پاڼې یې بیضوی او کنډو کنډو دی او د وینښتو په څیر لښې لري. کله چې د بدن په کومه برخه باندې د هغې لښه لرونکی پاڼې ولګیږی لښې په بدن کې ننوزی او سوزوونکی ماده په بدن کې خوشی کوی چې دسخت درد عامل ګرځی پاڼې یې په غزنیو سیمو کې خلک د سبو په دود پخوی چې سابه یې ډیر خونده ور دی.

په لاندینی بیتونو کې د آشنا خوی لکه سووکی، سوځوونکی او

دردونکی ښوول شوي دي.

له هیــبته مې شی اور په وجود پــورې
چې را یاده کړم شوخ چشمه! جلبنگی ستا (حسین)
ککرۍ مې له دهشته ځړیکی وکا
چې را یاده کم د ښکلیو جلبنــگی (حسین)
پس له دی د حسین عمر تول ضرور دی
چې یې یار له کبره خوی د جلبنگ واخیست (حسین)
و اغیاروته د راز خبرې مه کــړه
د یقین په پتنی مه کره جلبنگ (التاړ ۹۰ مخ)

**یــادونــه:** له پورتنیو بیتــونو نه مـعلومـیږی چې جلبنگ او جلبنگی د قــامـوسی تشـریحـاتو پـه خلاف یو شی نه دی. جلبنگ= ســووکـی او جلبنگی یې خاصیت یعنی سوی، سوزش دی.

**جلې بلې jale bale:**

جلبل، سوی، وریت. صفت دی چې فورم یې گرامرې تغییر نه خوري.

د عاشق کمال سوختن دی ډیر ښه وشول
چې پتنګ د عشق په اور شو جـلې بلې (عبدالقادر ختهک ۲۵۰ مخ)
نښــانه د خــدای د قهــر بد حــاکــم وي
چې هیڅ عدل، انصاف نه لری ظالم وي
د عاشق کمال سوختن دی ډیر ښه وشول
چې پتنگ د عشق په اور شو جلې بلې (عبدالقادر ختهک ۴۹۷ مخ)

**جلین:**

ځه رنگ و تا په لاس د بې جلین کړم
چې مې سپي ګانه هغه رابانديې شیر دی
(پټ ستوري، غلام نبی ۷۷مخ)

**جمبی ګل :** چمبیل.

فکر کوم دلته د قلمی تیر وتنی په اثر د «چ» په ځای«ج» لیکل شوی دی.

... چندنې خو بو ځل په مخ پوری کیږی، د جمبی ګل خو بو ځل له کونځلو سره پریوځی. (دستارنامه ۷۲مخ)

زما په فکر په زړو متونو کې همدغه کلمه د «چ» په توری راغلی چې اوسنی تلفظ یې هم په «چ» دی.

په رنګ د چنبی ګل و چې تری تیل شی د اجمیر
(خ، متفرقه ۸۳٤مخ)

په بدن رشک د چنبی ګل دی حسرت په لبو هزار د مُل دی
(سعید ۲۱۳مخ)

**جمنی jamnáy:**

کومه ونه ده.

د دولت لوانی په دیوان کې دوه ځایه داسې راغلې ده.

ارغنی، نارنج، ترنج، کټهل، بیسیر وی
تبهول، سری، سرو، کرنی، جمنی، سفید ارمسک (دولت ۸۱مخ)

بهی، نشپاتی، گورگوری، سپنگیر
جمنی، اوښته، بړ، پیپل که چنـار (دولت ۱۱۱مخ)

**جنجال janjāl:**

جړ، جړېړ.

یارمې پرانیسته د زلفو جنجالونه
ځکه الوزی خوشبویه شـمالونه (حسین ۳۵۸مخ)

**جندره jandrá:**

دا جوړی جندری دی کل واړه عبث دی
په تخته به ترې عریان شی آخـر هیـڅ (پښتو غزل، عبدالرحیم)

**جنګیځ لوان:**

میراحـمد غـازی ترښاروت د بـانـدې
که کته (یې) انګریز پروت پرجونې بانـدې
سـورلښکر د پرنـګی ولاړ د بـانـدې
اوریدلی یې له خپلو خوندو (خویندو) ساندې
توره کش کـړه مـیراحـمد جنګیځ لـوانه!
(اولسی سندری، ۱ ټ ۱٦۲مخ)

**جویه:**

... په اوتمانزو کې د ټول قوم یوه عظیم الشأنه لویه جلسه وشوه، په هغې کی ماله دخلکو د طرف نه یوه سپاسنامه راکړی شوه، یوه تمغه (مدال) او جویه هم د قوم د طرف نه راکړی شوه (زما ژوند او جد و جهد ۳۰۸مخ)

**جوپ:**

د غفلت په اور دې خپل سرلوغړن که

د وحدت له جوپه گــــرځی په هیــواد (لتاړ ۴۸مخ)

**جوپان:**

... دوباره یې جــوپان او ســړی ولیــږل چې ورسئ رایې ولئ... خلق راغله، گل مکی یې په زوره په جوپان کې ویوړه.

(ملی هنداره ۸۴ مخ نوی چاپ)

**جوټه jota:**

د مـیـنـې هغـه غـټـه بچـی چې لالنگـه شوې نه وي خـو د بلاربیـدو د پاره تیاره وي. پ. ت. ق اخیستی.

نور عالم کا کار د دین ته د دنیا کړې

بې گـــورمه ځـــروی د یقین جـوټه (لتاړ ۳۹مخ)

**یادونه:** دغـه لغت د کتـاب په ویی پانگه کې (۱- غـمگین، خپـه، ۲- فضول، چټی) په معنا راغلی خو لغت زما په نظر دا معناوې نه لري.

**جوده:**

که جودې دی د ټوپکو خولې جودې دی چې لونگی سیرې وهلی

د هغو مړو پر سترگو نښانی دي (فولکلوری سوغات ۹۴مخ)

**جورکه joraká:**

چورکی. پ. ت. ق د (د یو ډول مرغی نوم په معنا اخیستی دی). دا د هیلی له کورنی یوه وړه په اوبو کې لامبو وهونکی مرغی ده.

... وروسته سپیرکونډی خپلې همسایه جور کې ته وویل... جور که هم رهی سوه تهوله مرغان یې په دغه نکل خبر کړه.

(ملی هنداره ۳ټ ۲ ۰ ۲-۳ ۰ ۲مخونه)

**جوړ jor:**

۱- نو، گویا. ۲- سمدستی، فوراً. ۳- ډول، قسم، طرز. پ.ت.ق د (۱- روغ، ۲- تیار، ۳- شاید، ٤- موافق، ٥- پیوند. ٦- جوړه، ۷- موافقه) په معناوو اخیستی. دا یوه تغییر نامنونکی کلمه ده چې د مفرد، جمع، نرینه، ښځینه تهولو له پاره یو شان استعمالیږي. څو مثالونه یې وگورئ:

... خره وویل مصلحت دا دی چې بیگاه له گیاه مه خوره، غوایه وویل چې ښه ده، جوړ د شپې یې هیڅ خوراک و نه کړ.

(کلید افغانی، گنج پښتو ٤١ مخ)

... په هغو کې یو طوطی و، خو چې ما خیره خلاصه کړله جوړ هغه فی الحاله مړ شو. (کلید، گنج ۷۱مخ)

... شرمښ وویل چې صاحبه! ته هم لوی یې او دا گاوز هم لوی دی نو جوړ دا ستا شو او زه هم میانه یم او دا هوسۍ هم میانه ده نو جوړه دا زما شوه. (کلید، گنج ۱۱۱مخ)

دغه کلمه د کلید افغانی، گنج پښتو په نورو زیاتو مخونو کې لکه په ۱۷، ۱۸، ۲٤، ۳۰، ۳٥، ۳٦... کې هم راغلی چې هلته هم کله د «نو» او کله هم د (فوراً، سمدستی) معناوی ورکوي.

چې بې نه په وفا یاد نه په جفـــا وي

جوړ رحمان د هغه یار له دله هیر شی (رحمان بابا)

احمــده! خبری د یار گلـــــــونه دي

د اغیار خبرې جوړ په زړه خارونه دي (احمد شاه بابا ۱۸۲مخ)

... وزیرانو پوه شول چې بادشاه په هیڅ جوړ ددې سفر نه نه منع کیږي نو... (انوار سهیلی ۴۲مخ)

... دا ټول ستا شرارت او مکارې ده، هغه اور دی بل کړی دی چې په هیڅ جوړ نه مری. (انوار سهیلی ۱۱۴مخ)

... زمـا مـرگ تاتـه روا ښکارې او زه خـپـل ځنکندن په ډاگـه ډگلی وینم، نو بیا به په څه جوړ تا ته در نزدې شم. (انوار سهیلی ۳۲۸مخ)

**جوړ:**

جوړښت، سازش.

جنس له خپله جنسه سره جوړ کا دا دستور دی

زړه مې کښیده شو ستا د مینې په انځـور کې (حسین ۲۱۳مخ)

جنس له جنسه سره جوړ کا مناسب دی خر، کـــولال

(حسین ۳۰۱مخ)

عاشقی، عقل، اور اوبه دې جوړ په یو ځای نه کا

چـــلاوه نه شی دا بیری په دې او مــــومیـــزرو (حسین ۳۸۲مخ)

عشق او صبر سره جوړ په یوځای نه کا

دا چې ته یې درمان بولې درمان نه دی (حسین ۴۸۷مخ)

**جوړ jawər:**

بینوایې په منقح (باک) کړی هغه وینی
په ریاض یې د میده د جـــوړ ســور که (هجری ۱ ۵مخ)

**جوړ jor:**

تنظیم، تدبیر.

پلار یې جوړ د واده وکړ — تر شاهانو یې لا ښه کړ
په زرگونه خدمتـــگارې — حور سرشته پریـــوارې
(یوسف او زلیخا ۸۶مخ)

**جوراب jūrāb:**

ښکلی، ښایسته. پ. ت. ق د (ښکلې ځوانی، ښـه څیره، ښه قد و قامت په زړه پورې ښایست) په معناوو اخیستی. د ښکلی په معنا هم راغلی دی.

د حسین جامه پری سره شوه تر سر و گلو
که ســور غمی جوراب دنتی لال شـــو (دسید حسین قلمی شعر)

**جوړی joṛáy:**

شمله، نیغه شمله، د پگړۍ هغه شمله چې پورته خواته وي.

سپین یې کالی څخ څک (شخ شخ) جوړیان
تېوېک په څنـــگ دی کوی تېکـان (انگۍ ۲۷۹مخ)

**جوکه:**

اثر په تورو زړونو د نیکـانو د صـحبت څـــه
که اوسپنه اوبو کې شی گوزار، نو اخلی رنگ

په کاني باندې جوکه لګول عبث خيال دی
هرګز د بې رنګې نه پيدا شوی نه دی رنګ (د خيبر ورمی ۸ - ۱مخ)

**جوګه:** د جرګې مشر (محشي).

جوګه هډو رښتيا نه وايي بې بډو
هسې وران وران د اوس خلقو روزګار شو (عليخان)

**جوګې jogáy:**
کند، د منلګۍ غرې.

اوس به واغوندم جوګې د تا له بيسه
چې خارج کړمه فلک له خپله د يسه (هجري ٥٦٤ مخ)

**جوله jolá:**
جل، تنده غره، د استسقا ناروغي، پ. ت. ق اخيستي.

که دارو خورم نه رغيږم ورغ تر ورځې بتريږم
زه په خپل صورت پوهيږم چې اخته دي په جوله کې
(عبدالعظيم رانيزی)

ستا له ډيره غمه مې جوله شوه ځکه مې ځنبم
ګوندی دا تارخه مې مې داروشي د جولې (عليخان ۱۲۰مخ)

**جومره jumrá:** تيک.

جومره يې پاس په تندی ځانګې
اميد په غاړه ګرځوی رنځور يې کړمه (پښتو لنډۍ ۱۱۳مخ)

**يادونه:** چهومره ليکله شوې ده.

**جونګړه jóngṛá :**

ځپره، کوډله، ساله. دغه کلمه په زړو متونو کې په دريو ډولونو ثبت ده.

۱ - په دريو هجاو jongaṛa، دلته يې پ. ت. ق خج په دويمه او پ. ر. ق يې خج په دريمه هجا اخيستی چې لومړی يې سم دی.

۲ - جونګړه jóngṛá يعنی د «ګ» په سکون او خج په وروستی هجا او کله هم په لومړی.

په دغه فورم کوم قاموس نه ده قيد کړې. د دوو شاعرانو په کلام کې يې بيلګه:

شپه او ورځ ژړا مې له هجرانه د دلبر ده
کړې مې د غم جونګړه په ميان د بحرو بر ده (التاړ ۱۳۹مخ)

وو تم له کوره چې د مينې ليونی کړم
جوړه مې جونګړه کړه ستا له غمه په بيدياکې (التاړ ۱۸۸مخ)

راشه راشه ښايسته راشه زما د غم د جونګړې رڼا شه
هغې لارې چې ته را درومي د هغې لارې بلا په ما شه
(عبدالقادر ختک ۳۸۳مخ)

۳ - جونګړی jongṛáy: پ. ت. ق د (وړې جونګړې، کوچنی ځپرې) په معنا او پ. ر. ق د (د اوبدلو په کنې کې هغه چوکاټ چې تنسته پکی پيل کيږي) په معنا اخيستی.

په جونګړی کې د تصغير کومه افاده په نظر نه ښکاري، بلکې دا يې

ځانګړی تلفظ دی. دلته یې هم په لومړی تلفظ او هم دریم څو مثالونه :

الف: ښې لوړی مانۍ مرګی خرابې کړی حافظه

څو به ستا جونګـړۍ وی دد نیـا پـه مخ آبـاده (الپوری ۱۵۷ مخ)

تن یې بیا جونګړۍ د غم شو

تر اول یې زیات الـم شو (یوسف او زلیخا ۲۲۹ مخ)

د اندوه جونګړۍ مې ورانه کړه یارانو

د ښادۍ په ملک مې وکړه ودانۍ (التاړ ۲۲۹ مخ)

چې جدا له ما محـــرم شو　　بو په ســله مې الـــم شو

زما زړه جونګړۍ د غم شو　　چې قایل په دا قلـم شـــو

(ع. ختهک ۷۳ مخ)

ب: د وښو جونګړۍ هسې راته ښې شوې

وایې ناست په محلونو د اهـــک یم (خ. ختهک)

**جونګه جاړه jonga jára:**

قبا مبا، چپن مپن.

... د خلکو تګ راتګ مـا ته زیات شو، دغـســې چې دوی ته هرچا خلکه، یا جونګه جاړه په سر اچولې ده، دوی (پښتـانـه) ورته راغـونډ شوي دی، شکرانی یې ورکړي دي. (زما ژوند او جد و جهد ۱۰۶ مخ)

**جونه jawná:**

نوره، ویښته خر. ونکې ماده چې په عربۍ یې حلاق الشعر او نوره بولي. دا د چونې او سنکیا ګډوله ده چې ویښته لري کوي.

حلاق الشعر: نوره هم ورته وايي، پښتانه يې جونه بولي

(اختيارات بديعى ۲۹۲مخ)

**جه ja:**

لجوج، په ځای ټينگ. پ. ت. ق د لج او ځيل په معنا اخيستی.

جنازې له ورځه گــروهه    که وي لرې څلور کروهه

چيرې نه چې په ځای جه    له سستی بايلي او لجــه

(شرعه ۱۱٦مخ)

خو چې سپينو د غمزو تورو ته جه شوم

له دې جنگه تيښته ښه نه ده گير ښه يم (حسين)

**جيب jeb:**

هغه دم چې زه د يار سره خلــوت کړم

که نسيم راباندې ولگي اســيب وي

اوس مې سر د هوس پاس دی تر فلکه

تر زمانه به غم پښی کوزې تر جيب وي    (هجرى ٥١٤مخ)

هر نفس دې د حيات دې د حيات له جيبه خيژي

ته جاهل لکه غــنم (گډ) بيغــمه څر کــړې    (هجرى ۲۳۸مخ)

**جيبه jeba´:**

... زغـری، برگســتـوانونـه، تراتيــاوو زغــرو، جـيبـو دا هومـره برگستوانونه خاصه د بناتو وو (ت. مرصع ۳٤۸مخ)

... اصغر چې سور پر پيستلي و کنده کاری جيبه مې له سر کاره

اخیستی ودورته مې وبخښله.                    (ت. مرجع ۳۱۵مخ)

...دا قصد زور ور قصد دی چې تمام اختیار یې جوړوی. ترڅان تیر شی، دا قصد به کا، ځان دی ښه تر زغرو، تر جیبو لاندې کا، د تورو وهلو په قرار دا د دې ورباندې وخوځی.                    (دستارنامه ۲٤مخ)

**جیتلjetál:** متاع، مال.

نصیحت څه طعنه نه دی          پاسبانی د خپل جیتل شی

(واصل ١٤قصیده)

چې تله یې زیړی تل شي          دده مول کوته جیتل شی (ارزانی)

# Ć چ

**چاچو:**

... بس د یب تر لاندې شو ، په چاچو غاړه يې واخیست.

(ملی هنداره ۱ تې ۵۵ نوی چاپ ۶۸ زوړ چاپ)

**چاریه کار ćārya kāŕ:**

د زمکی کروند گر ، په چاری سره د زمکی کروند گر ، چې د یوې نه د مخه حالت را په زړه کوي، چاریکار ، د (چاریکا ر ) کلمه يې څه اوښتی فورم دی . د «چاریک کار» سره يې ارتباط ورکول گران دی، ځکه چې د زمکې ټول مزدور کارگر په څلورمه برخه کار نه کوی ، بلکی د جغرافیوی او موسمي شرایطو سره هم توپیر پیدا کوی.

... بل دا نا د هقان په کار دی چې زمکه سره پیژنی ، موسم د کرلو پیژنی ، تخم پیژنی ، چې دا علم لری هغه سړی په داکار نصب شی ، دی

دې سردار وي نور دې چاریه کاربز گروی .    (دستارنامه ۸۰مخ)

د رحمان بابا په شعر کې د چلیکار په فورم ثبت دد.

همسایه او چلیکار یې پښتانه وي

او په اصل به موچي یا به قصاب وي (رحمان بابا )

**چاړینګی caṛingə́y**: چانګی بی بی.

چاړینګی راغله خبر ربتیا ده

دا ازرائیله ملـــکه زمـــا ده (انګی ۳۹۰مخ)

دا د بوری په سر کې مې الـوان دی

چاړینګی کښته شینکی سحار دی (انګی ۴۰۰مخ)

**چاګل cagə́l**:

پتک، پتکی، په سفر کې د اوبو لوښی، چاګلی یې مصـغر فـورم دی.

حمید د سفر د سامان په باب لیکی:

بل دې واخلی ځــــان ســــره

څـــــو کالی کـــــره ســـره

مړنغ ، شیشه، بیاتی مسواک

ستن، سپنسی چاګلی ، تریاک

آئینــه، پاکی، پشت خـــــار

لینده، تیغ، څپلی، دســــتار    (شرعه ۸۴مخ)

... برګســتــان او ډیر سلاح په قـزاقـی کې نه بویه ، یوه زغره، ډکـه درستـه، کـه کـیـجم وړتګ وي، ګنـه خالی اس بې تکلفه، زین مشکی،

چاګل، توښه کم و بیشه ورځخه ، نور هیڅ . (دستارنامه ۱ ٤مخ)

**چانګی** cāngáy **چانی** ĉanáy:

بی بی. د روب او بوري کاکړ ، عموماً ښځې ته چانګی او چانی وایی. کیدای شی د (چاڼ= پاک، سوتره، چاڼ شوی) سره یې ستیه یوه وی.

چانګی راغله خبر ربښتیا ده
زمـــا ازرائیله ملـکه دا ده (انګی ۲۱۳مخ)

دا چانیانی دې و پوهیږی که به وما ته راولیـــا ږیږی
(انګی ۲۹۸مخ)

زما لیا اول وه دغـــه وینا چانیانو! مه تیاروئ ما
(انګی ۲۲۹مخ)

**چپ** ĉap:

مچو اخیستنه، مچونه، ښـکـلونه.

دوه مرجان دې د هجرې په لبو کښیږدي
په تش چپ دې مسته نه کاندې جنګونه ( هجری٤٥٤مخ)

**چر** ĉar: چار.

بې هنره که پادشاه د د. ست جهان شی
هیڅو ک نه پسندی یې ددوی چـــــر (فراقنامه ۲٥مخ)

**چرچری** ĉar ĉaráy:

تاز، چرچر ک، ججلداغ.

وویل کربونې چرچری ته چې لـغړه یې
تمامه ورغ رغیږی دا په څه بلا ککړه یې (۱. س. ۱ ټ ۲٦۹مخ)

**چرچه carčá**: هنګامه، شهرت.

په چرچه د رنګين نظم شـعرخوانو!

مستفيد د صنايع په استـحضار

(شيدا- قصيدى، ۲۲٤مخ)

... آخر چې دا هلک په موسيقى کې ډير مړنى شو او د استاد نه هم زيات شو، خلقوکې دده د کمال او آواز چرچه او شهرت شو.

(انوار سهيلى ۳۲۰مخ)

**چړه čərd̄:**

ګـله! مه شـه له باطلـو سـره ګـډه

خپل ځان وساته له اوره هـم خپل هډه

چې سينه يې شى په زنګ د هوا توره

عيب ګو يه شـى له خپـله وى چړه (ج. فدوى)

**چرنى čərnáy:**

چرندک، چرند، کړتن، هغه څوک چې زياتې او بې ځايه خبرې کوي.

يوه ورغ به کړم ناصح لت پت په لتو

څله نيغ نيـغ راته کيـږى داچرنى (حسين)

**يادونه:** په زړه پانګه کې طباعتي غلطي (د چرني) نه (چرتى) جوړ کړى و، چې دلته سم شو.

**چړ čar:**

عامه وژنه. چړ ګډول= له يوې مخې وژل، قتل عام کول.

... ټولو په مغولو پسې توري لښتې کړې او داسې چړ يې پرې ګډ کړ چې ګرده يې مړه کړه. (م. هـ فتح خان بړيڅی ۳۵مخ)

**چړاو ča̱rá̱w:**

چړ، عامه وژنه، قتل عام.

... ميرولی بيا په غويو او پسو چړاو ګډ کړی دی، عام خلق راځی غوښې يې وړي. (م. هـ ۱۳٤مخ)

**چښل časә́l:**

دومی، والګی، يخنی وهنه (کلمه تته ليکله شوې ده)

نه دي زياد تلـه په پوښـتنه | د درې رنځـو تر څنبـتنه
چښل، ليچ، بل د غاښ درد | که هرڅـو کا زهـير مـرد

(شرعه ۲۱٤مخ)

**چک čak:** سمبال، آراسته.

شاګرده! په جهان کې جبرائيل نومې ملک دی
استاده خاص مقام دده داووم آسـمان فلک دی
شاګرده! ټول وجود يې له حجر، حديده کلک دی
اسـتاده! سـرتر پايه په وزر بـاندې چک دی (ا. س. ۲ټ ۸۲مخ)

**چک لګول:**

خوله لګول، چيچل.

بيا به منګی ته ګوتې نه کـړم
د يار ديدن پسې چکـونه لګوينه (پښتو لنډۍ ۲٦مخ)

**چک په چک:**

بیل، بیل، جلا، جلا، (چکې = کلچه کلمه له دغې ستې ده)

نه تنـهـا په تـا سـتـم دی ددې دور یکـایک
په دې ځورکې ډیر خلق د تا مله دی چک په چک (حمید ۱۷٤مخ)

**چلانګ ćalang:**

په صورت، سیرت هر شی جدا جدا دی
د توتی شـبـاهت بیل دی له چـلانګه (قنبرعلی)

**چلکټ ćelkat:**

بختـروزمـه پوښ، زغـره ډوله کـالی چې د جنګ په وخت کـې به د ځان زغورنې په غرض اغوستـل کیده او له څلویښتو کات په کاتو تړکرانو ښخه به جوړو.

چې یې لا ګ او چلکټ واغوستی تیار شوی
تل پرده به مـــــردانه تمـام عســکـرو (دولت ۲۱مخ)

**چلیدل ćaledal:**

۱ - د بهیر په توګه تلل، ۲ - تلل، دلته په دویمه معنا.

... غله وویل چې شیخ صاحبه! راورسیږه، شیطان راعلی دی، تا وژنی، شیطان ووې چې راوچلیږه داغل راغلی دی، ستا غوا پټوی.

(کلید، ګنج ۸۸مخ)

... ښځې فوراً چیغه کړه چې ای مسلمانانو! راوچلیږئ خاوند رانه پوزه پریکړه. (انوار سهیلی ۷٦مخ)

**چمبړ خیال čambaṛ xyā́l:**

۱ - تره، ۲ - فلوس. ۳ - د غاړې پسول.

اصل یې چنبر خیار، شنبر خیار دی چې پښتو شوی فورم یې چمبړ خیال دی. پ. ت. ق چمبړ خیال، د ترې په معنا اخیستی چې د ځیلې لرونکې بوټي او وړه کړه میوه ده چې او مه خوړله کیږي. بوټی او د میوې خوند یې د بادرنګو په څیر دی. د کندهار خلک یې د چمبړ خیال او د کابل او د ختیځې لهجې خلک یې تره بولي. او د فارسي فرهنګونو د چنبر خیار په فورم ثبت کړی دی. د پښتو د ختیځې لهجې ویونکي چمبړ خیال هغه تور رنګه او وړه پلې ته وایي چې په عربي طبي کتابونو کې د فلوس او خیار شنبر په نامه یاد دي. او په یوناني طب کې د تې رودونکو ماشومانو د قبضیت او ځینو نورو ناروغیو د تداوۍ له پاره په کاریږي. په دغه شعر کې د غاړې د پسول د یوه پسول نوم دی.

سپینه مې اوږې سپین مې جمال دی
سپین مې هم د غاړې چمبړ خیال دی
سپین به درته وایم دا مې حـــال دی (ا. س. ا. ټ ۷۱ مخ)

**چمبه پرې صافیدل:**

په لاس ورتلل، موقع پرې برابریدل.

دا خو پوهیږې چې سهیلي خو د دوی په مرګ پسې دی، هر کله، په هر چم یې چې چمبه پرې صافه سوله وژني یې. (م. هـ. ۱۳۱ مخ)

**چمکۍ čamkáy:**

ګاونډ، چم

بتګـــړی د کـــټ په غوټی مــــــات کـړه
زمونږ چمکی له لاس خویندی راغلی دینه (پښتو لنډۍ ۲۳مخ)
جـــانانه تور سـیرلی حـلال کــــړه
خسنی وشو په چمکی د ې پاتې شومه (پښتو لنډۍ ۱۰٤مخ)

**چمنی camnáy:**

د کوم پیر یا زیارت دولکې ماشوم.

... زما سخرګنی د اجمیر شریف چمنی وو او سخر مې کال په کال اجمیر شریف ته تلو او دده دا عقیده وه چې ماته دا اولاد اجمیرشریف راکړی دی او دا د هغه چمنی دی... دوی اوږدی قصی راته راواخیستی ګوندی غنی د اجمیر شریف چمنی دی. ما ورته ووې چې دا زما چمنی دی. د اجمیرشریف چمنی نه دی.

(زما ژوند او جد و جهد ۹٦-۹۷مخونه)

**چمه لار camalár:**

زړه شـین ، ډ کـــه به ورکا — که استوګه په کهسار یې
که اســـتوګه په کـــمر کا — بې د عشق د چمی لا رې

(احمد شاه بابا ۱۵۷مخ)

**چنبه canbá:**

چنبی ، چامبیلی.

رابیـــلی چنـــبه ګـنه دریاضــونـــو
مستې جونه خیال دزرو په زیور کـا (هجری ۱۸ مخ)

**چنبې canbáy:**

چامبيل، چمبيلي.

توري زلفې دې په مخ باندې پرتې دي

که اوده دي د چنبې په گلـومـار تور (سکندرختک ۸۲مخ)

غونچه غوندې خوله تنگه ، سرېې گرد نري يې پوزه

بار خو يې لکه گـل د چنبې سپين نازک ځـلـيـږي (خ. قصيدې)

چنبې زيړ گلونه وزوول له تنه

هريوه کې نمونه د چندنهار شو (هجری ۱۳۱مخ)

لکه جونه غوټۍ سازې په گريوان کا

هريوه کې د چنبې نن هغه شـان دی (هجری ۱۵۰مخ)

**چندن هار candaṇhā́r:**

د اميل په ډير يو پسول دی چې غاړې ته اچول کيږي او يو لاس ترې

ايستل کيږي. پ. ت. ق اخيستې.

مکرر مې جلوه يا ده د تېکې کړه

هم گويا په شراف د چندنهار شوم (هجری ۹۱مخ)

د سرو زرو خوشبويي له اصـله نه وه

تر صندل بويي دې اخلې چندنهار شو (هجری ٤٦۰مخ)

چنبې زيړ گلونه وزوول له تنه

هريوه کې نمونه د چندنهار شو (هجری ۱۳۱مخ)

**چنه** **cә́na:**

د خولې لاندينۍ ژامه (پ. ت. ق).

چې تندۍ ووډۍ د زمري پر چنه باندې

په ګګل د بې سرانو وي ځيګر بل (ج. فدوي)

**چوپړ** **copә́r:** پار، خاطر، لحاظ.

وايي هسې بو عثمان | د صحبت د حق سامان
چې خپل مال کړه د يارشمع | پرې کړه ته له ياره طمع
ددوستۍ په چوپړ | ګنه ځان ويار ته پړ

(شرعه ۹۸مخ)

**چوپېړ** **cupér:**

چوپړن، چوپړی، چخړن.

درست عالم يې هېته که په مکرونو

د دنيا بانو زره ګوډه چوپېړه (ج. فدوي)

**چوتيايي** **cutyāyí:**

باج. هغه مالي تکليفونه چې علاوه پرماليې تحميل شوي وي.

... رخصت يې کړ چې ورځه، بندوبست د شاهراه کوه، چوتيايې ترې لاړه، کلنګ، زکات وريا تې شول. (ت. م. ۲۳٤مخ)

... هغو د محصول په ورکړه کې څه حيله حواله کوله، عذر، يې راوړ چې پيسه توره دلته راڅخه نشته... او چوتيايې چې د اولس ده هغه يې ورکړه...

اسد خان حیران شو چې دا څه حال دی؟ نور کله به محصول دلته په شا بیخیلو کې اخیست شو او چوتیا یې به خپله فوجدار له خپله لاسه ولس ته ورکوله، دا ځل چوتیا یې ورکوی او محصول د سرکار نه ورکوی. دا څه حکمت دی؟ (ت. م. ٤٤٦مخ)

یادونه: چوتیا یې هندی الاصل کلمه ده چې د «بوستان اودهـ» په پنځم مخ کې د چوتهه په فورم داسې راغلې ده:

د چوتهه د زرو د محصول د ټولولو له پاره چې د اورنگزیب له خوا علاوه پر دسکهی؟ په ټول هندوستان باندې مقرر شوی و د د کن مشر، باجراو په ۱۱٤۸ هجری کې روان شو... نواب برهان الملک (یو پښتون و) باجراو ته ماتی ورکړ او په دریو شرطونو یې خوشی کړ:

اول دا چې دا ودهـ (اوسنی ایودیا) په ملک کې (چې د پښتنو په واک کې و) به د تل لپاره دچوتهه د حق اخیستل حرام وی...

(بوستان اودهـ، مولف د راجه دهنپترای زوی درگاه پرشاد، د لکنهو چاپ ۱۹۳۷ په فارسی ژبه د تالیف کال ۱۸۸۱ع)

**چوتاور cotáwər:**

قرقره لرونکی د چوتی (ویښتان) او ددغې کلمې ستهه چوټ ده.

کوړیان او کولنگان به سره شی زما په غولی

ځینی چوتاور به په سحر بانگونه بولی

(ا. س، ۱ ټ ۲۹٤مخ)

**چور چور تلل:**

ټوټه ټوټه کيدل، ريز مريز کيدل، سخت ژوبليدل.

د زړه سر مې چور چور تللی دی طبيبه!
نشته بې وصاله بل ټکور زما (حسين ۸مخ)

**چوړی ćuraý:**

ډ م، سندربول، بګتيا. پ. ت. ق يوازې په ښځينه فورم د (۱ - ښکلی جينی. ۲ - محبوبا، معشوقه. ۳ - سندربوله پيغله) په معناوو اخيستی دی.

الف: تل ويل دی په بل پير دی
ميروګيه! ستا ويل زهرو ګنډيردي
ته تير مه وايه چوريه!
ميرو! تا غوندې مريې په دنيا ډير دي (م. هـ ۱۶۱مخ)

ب: ښځينه فورم يې چوړۍ دی چې په زړه پانګه کې سهواً د چوړۍ سره انډول شوی دی.

دلته يې څو مثالونه يې وګورئ:
حسن واړه د عاشق په عشق موقوف دی
معشوقه که فرښته وی که چوړۍ (رحمان بابا ۲۱٤مخ)
زه دې څه کوم چوړۍ
چې نه راوځې له کيږدۍ (د خلکو سندرې ۱۶۹مخ)

خبـري مــه کوه بيـيا که　　　چوری راسه خولگی راکه
آشنایی ده ډیره گـــرانه　　　چوری ځکه سوه پښیمانه
**(کاکړی ۱۷۵مخ)**

**چوړ چوړی čuṛ čuṛáy:**

د اور لوبې یو ډول دی چې باروت په داسې توګـه بند په بند سـره تنظیـمیږی چې د یوه بند د سوځیدو پسې څه شیبه وروستـه بل بند اور اخلی او د هغه پسې بیا بل، په ترتیب سره اور لوبه دوام پیدا کوي.

... د شوقـدر په شپـه به هم لوبه میله جوړه وه، ښځو او نجونو به په کورونو کې تو تکی، چوړ چوړی، ماهتابی او پتاخی خلاصولی.
**(زما ژوند او جد و جهد ۳۵مخ)**

**چوسن čwasán:**

خاربښتی (چوس= احساس-زړه پانګه).

که دې زلـــفو ته لاس اچــوم مه قهـریږه
دا د ستور دی نه صبریږی د چوسن لاس　　　**(مطیع الله پیره خیل)**

**چوک čuk:**

لږه اندازه، یو پوټی، یو نوکی (پ. ت. ق).

که انـــبار ابرو بایلی کشـیره مومی
په دا زیان دې پروانه کیږی یو چوک **(حمید ۱۷۳مخ)**

که ناري وهم که خاوري په سر نولم
ناروا شه که پروا لـــری یو چـــوک **( رحمان بابا )**

**چوک čuk:**

زيان، نقصان، (پ. ت. ق ) بیچوکه ، بې نقصانه.

ترجماع پخوا خوشخويه — لوبی ، بوس و کنار بويه
چې شهوت په دا ويلاړ — ارتينې تـه شـی ولاړ
چې يې تن شی په بند — واخلی بیچوکه فـرزند

(شرعه ۱٤۰ مخ)

**چوک čúk: ؟**

تريو (محشی).

هيڅ تفريق د ښه او بد کولای نه شی
بدلوی په نيمکـو له بانـدې امـلوک
نيک و بد درته ښکاره په يوه خير شول
گـډوې له انگبـينو سـره چـوک — (لتاړ ٨٦مخ)

**چوکس čúkəs:**

چوخس، عيب، ويار ، فساد ، تاوان، په ننگرهار کې (چوفس) متداوله ده.

بې چـوکسه برابر دی دا بـيان د اول خـان
پيران لری محکم ځله به ځنگ کړی له تربوره (پټ ستوری ۲٦٥مخ)

ومـې ژغـوره زمـا ربـه — د شيطان له دروهـو دربه
په خپل حفظ کې مې ژغوره — د هرچـوکس له پيـغوره

(شرعه ۲۳۰مخ)

**چوکل** čukə́l:

چیچل، چک لگول، خوله لگول.

رغیدل گران دی د هغه، ځوک اژدها چې چوکی

که مې صنم په تپوس راولې په روی د مولا

(پټ ستوری، خلیل ۲۹۸مخ)

**چوله:**

هجری! حلق بې د عالم په چوله پرې کړ

دهجران کله په چا پڅې د هرې شوې (هجری ۲۱۵مخ)

**چوله** čolá:

کوځه، بیخي تنګه لار. (پ. ت. ق)

بوره مور دې ژاړي رابه نه شي په چوله (د مروتو کسرونه ۲۱مخ)

**چولی** čuláy:

بنګړی (محشی).

د ساتګو کړېهار و ماتیدې لکه چولی (د مروتو کسرونه ۸۰مخ)

**چونټه** čonṭá:

څنه، کوځې، د ویښتو چوټې.

ستا د کولبې غویان دې ومري

زما په تورو چونټو نشته تاویزونه (پښتو لنډۍ ۳۶۷مخ)

**چونی** čunáy:

ښایسته کې، ښکلی. (پ. ت. ق).

تور دې خالونه، تورپیکی، تور زلفـــــان لـرې

تور دې لونګ کشمیري

تورې دې ورځې، تور بانه، تور چشمـــان لـــرې

سهـم لـــرې د زمــري

تور دې کمیس، توره چونۍ اطلس په شــان لرې

ټول د صورت کیسري

(ا. س. ۲ټ ۱۸٤مخ)

ما ته چونۍ سره سلاره ښه له بازاره راوړه

سبا اختر دی مورې ښـــه مـــزېداره راوړه

ماته چونۍ سره سلاره ښکلې کېږي راوړه (بیدیانی ګلونه ۲۱۵مخ)

**یادونه:** همـدغــه شـعـر د اولسي سندرو په لومـړي ټوک ۱۵۱مخ کـې راغلی، هلته چونۍ ثبت دی.

**چونۍ** čunə́y:

چیني لوښی (پ. ت. ق).

که په اصل باندې کم په جامه سپین وي

خرخ، حوراک ورته راځي په چونۍ زېړه (پټ ستوری ۳۰۳مخ)

**چونیانۍ** čunyāṇə́y:

په کوړکې د ننه تشناب، د کوړ چړ چوبی (پ. ت. ق).

په چونیانۍ کـــې راته پټ وي

ما د سینې ټکور کاوه ودې لیدمه (پښتو لنډی ٥٦مخ)

**چووک ćowák:**

د چووې لوښي، هغه لوښي یا کوپۍ چې چووه (څووه) پکې پرته وي.
چووه، یو ډول عطر دي (وګ : زړه پانګه)

د شودو کټوه (که) هر څو قیمتي شي
په بها به زیاته نه وي له چووکه (واصل ۸٦غزل)

**چوهړ ćuhár̥:**

وګ. څوهاړ.

آزاد خان چې د کشمیر په ملک غره شو
له جهانه خوار و زار لکه چوهړ لاړ (مطیع الله پیره خیل)

**چهی:**

... په میزان نیولي باز چې پیشنګ وي تماغه دي نه ورکوي، په مزیو کې دې پرانیزي، اول دې یو څوپیره ورکا، بیا دې په شپه ستر ګې چراغ و ته پرانیزي چې سرې پرې ووینې، چې په شپه رام شو، په ورځ دې هم ورو ورو چهي ورکوي. (دستارنامه ۳۲مخ)

**چیړانګه ćer̥ánga:**

چیړه، زړه لته، زړه ټوټه (انګه لکه په ښبانګه، غرانګه... ) کې سوفیکس دی.

کیمیا ګر چې د کیمیا په طلب ګرځي
همیشه یې په تندي ځانګې چیړانګې (پښتو غزل محتشم)

**چیل cil:**

لین، صف، قطار (پ. ت. ق).

یاځه رخت تړه حسینه! سپین سباشو

کډې د رومي د یارانو چیل په چیل (حسین۲۹۸مخ)

ستا د خیال وحشي آهو زما دلبره

دی سرشوی نن زما د زړه په چیل بیا (و. خ. امیرخان هجری)

**چیماغ cimag:**

خانقاه، څیله خانه (؟)

شیخان واړه په زیارت کې د ښځو سره ننوتل، پېښشول، ځینو چې وار بیا موند چیماغونو ته ننوتل. (ت. م. ٤٦٥مخ)

**چیني جامه:**

د تن پوست دې ښایسته له اصله نه دی

په چیني جامه هوس لکه کوتر کړې (هجری ۲۱۸مخ)

ACKU

# ځ J

**ځارjār:**

چورلولی، تاو، گرځولی، جار، همدغه یې لومړی معنا ده.

زولنې یې لکه مـار شـوې
تر باریکو پښو یې ځار شوی (یوسف او زلیخا ٦١مخ)

ډېر یې تا غوندې ځار کړی ترخپل سر دي
دا دنیـا لکه مچـوغنـه، ته یې سنـگ (عبدالقادر ختک ٨٦مخ)

... استاد یې په دواړه لاسه پورته کـړ
تر سر یې ځار کړ، په زمکه یې وویشت (گلدسته ١٨٠مخ)

**ځان اسانه:**

د ځان اسانې غوښتونکی، استراحت طلب.

ځان اسان ځان نیوی نه شي ضرورته

له بلا د میـــنې تښتي، زړه ورنه وي (حسین ٤٥٨مخ)

**ځان په ځان:**

ځای د تیښتې نشته جهان واړه ځان په ځان دی

سری لمبې بلېږی ستا له مخه په هـــر لـــــــور (حسین ٢١٣مخ)

**ځان کوتلی jān kutə́lay:**

ځان وژلی، هغه څوک چې انتحاریې کړی وي.

گنیه دیر دی ځان کوتلی ستا په مینه

زه مین په تا تروارو یم څـــرڅـــوک (حسین ٤٥٤مخ)

**ځانکوتنه jānkutə́na:** ځان وژنه، انتحار.

په دُرمه د غابښ سکوینه    په خپل لاس ده ځان کوتنه (شرعه ١٩مخ)

کـــه مـــاني د یار د یاره    ځان کوتنه کړه اختیاره

(حمید، د بمبی نسخه)

**ځان له داگې داگې ویشتل:** ځان په زمکه، زمکه وهل .

دا خپل ځان که اوس له داگې داگې ولم

هغه مخ به راعیان نه شي هــرگـــــز (ع. عظیم رانیزی)

**ځانمړی jān mə́ṛay:**

بلا وهلی، خدای وهلی، بدمرغه.

دی حضرت هغ ځـــانمـــړی    په حدیث معلون نومـــړی

چې ماندار د مال په طمعه    عزیز گوری لکه شــــمع

(شرعه ٢٠١مخ)

پیغمبر صاحب هم سپړی مجرد دی بهتر کړی
عیالدار یې دی نومړی په عیال باندې ځانمړی
(شرعه ۱۳۲مخ)

چې له ویرې کا دفقر څوک درګور د نکاح وقر
دی حضرت هغه ځانمړی بیګانه، پردی نومړی
(شرعه ۱۳٤مخ)

ښځه مړد ښه ده ځانمړې نه په بد سړی نومړی (شرعه ۱۳۵مخ)
په حضرت په غلا سقر کړ په دا له غلا منکر
چې زما په تا اصلا ګومان نه کیږی د غلا
په دارنګ به زناکار پوهاوه ده په انکار
چې به تاوی دا ځانمړی یا مس کړی یا ښکول کړی
(شرعه ۱۸۷مخ)

**ځایخار jāyxā́r:**

د خپلې وینې، په وینه شریک (محشی).

ته د ځای لور یې د ځای مې خاره
که مو هر څونې وي کمالداره (انګی ۳۷٦مخ)

**ځایلور jāylúr:**

د نجیبې کورنۍ لور (و ګ. ځایخار).

**ځځې jáje:**

اولاد، زوزاد، عیال.

زړونه یې ښه دي په دړد ګاییږي

ځځې د بل دي، نه په ژوبلـیږي (انګی ۱٦٤مخ)

**ځګلی joglә́y:**

**زوړ توټه توټه**، ځګال = وړه وړه ډوډۍ لفظی تاکید ښکاري.

شهزاده غوندې په ناز وربانديې خوب کړم

قناعت راته کیمخواب کـړ زوړ ځـګلی (حسین ٤٥٤مخ)

**ځمبار jambā́r:**

د سترګو مکرره ځمبونه.

ستا مرکـــز د نظر نشته د ځـمبار کـډې دې تللی

د لیمو تنبې دې بیرته، میلمه نشته په مکان کې (غزونی ۲۱۹مخ)

بیا شوه چوپیا ما د خپلو سترګو ځمبار اوریده

ځوړلاندې د خیال مې د زړګوټی درزار اوریده (غزونی ۲۳٤مخ)

**ځنزیب janzéb:**

هغه نر ښځې چې د یوه جنس خصوصیات یې هم غالب نه وي. خنثی مشکل. نرښځی دوه ډوله دي:

الف: هغـه چې د نرینه یا ښځـینه خـصـوصـیـات یې غـالب وی. د میـراث، غسل ورکـولو او داسې نورو مـسـایلو په باب د هماغـه جنس احکام پرې جاري کیږي.

ب: هغـه چې د دواړو جنســونو خـصـوصـیـات یې سـره انډول وي همدغـه تـه خنثی مـشـکل وایی. د کلمې اصالت ځـانزیب = ځـان ښکلی

کوونکی اویا زنزیب= ښځه وزمه ښکلی دی.

په بیت کې ځناث د «ځ» په سر د ځنثی جمع ده.

چې په دوه مخه بازی کا منافق وی

د ځنزیب عــیب بتر دی تر ځنــاثه (واصل ٤٤غزل)

**ځیځی jiji**:

ځځی، اولاد، زوزاد، بګاړ، کوړمه.

په زور یې وړی د بل ځیځی نامردې ته یې په ســلاوې

(انګی ۲۱۷مخ)

دا د بــازار پرلــن اغــــــــزی دی

بابا پرغولی دی اولمانه (میلمانه) دي

سترګی یې تورې، زړونه یې ښه دي

ځیځی د بل دی، په هــلاک نه دی (انګی ۳۷۲مخ)

**ځېل jel**:

ځیلی، جوړنګ، زیلانګه، جولغ.

دواړه زلفې یې وماته لکه ځیــل کـــړ

دازما وحشی آهو زړګی یې ښکیل کړ (ابوالقاسم ۲۰۰مخ)

# C څ

**څاښ cās:**

د څرخې محور، څاښی، پ. ت. ق څاښی اخیستی.

دا فلک چې هسې تیز ګرځی تر څـــاښه
دژوندون باغ به هیڅ پرې نږدی بې لاښه (دولت لوانی ۱۳۲مخ)

**څانګcāng:**

دور، پیر، څرخیدنه، څانګ کول= پیر کول.

نن ګانده څرخ هم عجب څانګو نه کا
چرګان ککړې، چرګې بانګـــونه کا

له مستی واز دې توری ، گیدړې نه خوري
لوړې په غار کې زمري ، پرانگـــــونه کا

(ع. القادر ختک ۳٦۸مخ)

**څانګه جګیدل** cānga:

درد ولاړیدل ، څړیکه کول.

پر پردو مې د مغزو شی څانګې جګې
لکه وکـــا پرسنی بانـــدې اوشـــار روغ (ج. فدوی)

د لړم په شان کا څانګې په زړه جګې
د غریب د زړه په وینو لکه خار ډ ک (ـ ج. فدوی.)

**څپلټ** caplát̩:

یزید مخ په دیګدان تور که مکـــرجن
بازگـــونه څپلټ یې واغوست د فقـیر
(د سیدحسین داماما نو جنګنامه)

**څپیدل** capedə́l: پړکیدل.

که په دام کې زیات څپیږم — بند په غاړه هم په پښې ځم
ای ساقي د خــدای د پاره — نن احــوال زما برهـــم دی
(ج. فدوی)

**څټ** cat̩:

عکس ، خلاف ، سرچپه ، برعکس.

هسې جور په انسان ولې ســـما کا
چې یې کار همه په څټ د مدعا کا (هجری ۱مخ)

**ښځ ایښودل:**

غاړه ایښودل.

د عشق جیل ته به یې ښځ په رضا کښېږدی
که نقـــاب له مخه دور مـخ په گـــلاب کـا (هجری ۲٦۹مخ)

**ښځل catạ́l:**

بدمرغه کول، بدبختـه کول، سپېره کول، د مړینی او هلاکت سبب گرځیدل. مثلاً د کوم ماشوم له زیږیدو وروسته یې چې پلار مړ شی وایی چې دغه ماشوم خپل پلار و ښځاته.

د نیستیی سر نفاق دی د هستـیی اتفـــاق دی
چې دولت گټی وفاق دی چې دولت ښځی نفاق دی
(دستارنامه ۳۸مخ)

**ښخښک caxcák:**

جگ گردی، د ښکلی ونې خاوند، هوک، نیغ، شخ.

د سپینې خونې پروره کجوره پر سر ښخښکه، پر لمن گوره
(انگی ۲۷۷مخ)

سترگې دې سرې وچ دې شونډان
ستانن په وړا دی گرد مامـــا گان
سپین یې کالی ښخښک جوړیان
ټوپک په ښنگ دې کوی ټکان (انگی ۲۷۹مخ)

**یادونه:** جوړیان= د پټکي پاسنی شملې.

ځـد cad

کیکر، یوه اغزنه ونه ده چې په عربي یې مغیلان، ام غیلان بولي. د خلاصة الانساب په (۳٦) مخ کې د ځډ او پلوس (پلوڅه) کلمې راغلی دی او وروسته په (۳۷) مخ کې د ځډ کلمه په کیکر ترجمه شوې ده.

د غوروړ ده چې ځینو محققینو د کیکر او د پلوڅې ترمنځه توپیر نه دی کړی. مثلاً پښتو روسي قاموس دواړه یو شان (هندی اکاسی) بللی او لاتیني نوم یې ورته یو لیکلی دی.

دغه شان اشتباهات په فارسي ځینو فرهنگونو کې لکه فرهنگ عمید او نورو کې هم لیدل کېږي چې د مغیلان کلمه لره څه په عامه معنا اخلی چې حتی ډاکتر معین په خپل فرهنگ کې لومړی معنا د زوز (خارشتر) معنا ورکړې ده.

اصلاً خبره په دې کې ده چې په عربي فرهنگونو کې دوه کلمې ام غیلان او طلح د دوو بیلو بیلو ونو نومونه دي، لومړی د کیکر (ځډ) او دویم د پلوڅې نوم دی.

دغه توپیر ته د انندراج په فرهنگ کې داسې اشاره شوې ده: مغیلان ته په هندي ببول او کیکر هم وایي... په ځینو شروحو او صراح کې لیکلي چې مغیلان د سلیمان پر وزن د سمره ونه ده چې هغې ته طلح هم وایي او هغه لویې اغزنې ونې دي چې د عربو په شگلنو زمکو کې شنې کیږي.

د مغیلان په باب د البیروني د صیدنې دروسي تشریح لنډیز داسې دی:

«وایي چې دا مصري اغزي (شوکت المصریه) دی، ځینې یې اعرابي اغزي بولي. دا لویه ونه ده چې ښه اوږ کوي، ام غیلان ته طلح هم وایي چې کاږ د اغزي لري. د ابوحنیفه په قول طلح د اغزنو ونو په جمله کې تر ټولو لویه او تر ټولو شنه اغزنه ونه ده چې زیات کنډ (صمغ) او خوشبویه ګلونه لري.

د طلح کنډ سور بخن دی. د طلح د تنې او پوټکي ترمنځه یو د کنډ ته ورته سریښناکه ماده پیدا کیږي چې هغه کنډ نه دی، هغه خوشمزه او د ښه ورم لرونکې دی.

کله چې د طلح له تنې پوټکی جلا کړی د تنې پورې یو ه سره ماده نښتې وي چې د وینو په څیر وي هغه پاکه وه وینځی او څه سریښناک مواد چې ترې پاتې شي هغه د ژوولو له پاره خورا ډیرې ښې دي. »

(صیدنه د مغیلان کلمه)

دا هماغه ژاولې دی چې د خوشحال خټک په دستارنامه کې د «کنجفري کنډ» په نامه یاد شوی دی. په دستارنامه کې د غه ژاوله د توري (سیاهي) د جوړولو یو مهم رکن ګڼل شوی دی. هلته د ځینو سیانو نومونه اخیستل شوي او ویل شوي چې: «هغه دي وسیځي، لوګی دې یې واخلي، یوه بخره لوګی، دري بخری د پلوسي د کنجفري کنډ سره دی ګډ کا» (دستارنامه ۱۲۲مخ)

ابوحنیفه چې د طلح د ګلونو د ښکلا یادونه کوي د غه شان په پښتو ادب کې د پلوڅي (پلوسې) د ګلونو ستاینه شوې چې کیکر د مغیلان په

ځیر تړې بې برخې دی.

ګلـــونه وکــړه دروه پلــوسی

که دا پیغام مې نسیمه یوسې (شیدا ۱۹۷مخ)

ګل شوې د خوږې د بڼ پلــوسې

خوشحاله! ولې بې ګشته اوسې (خوشحال)

چې به هر کله جفا کړې وفا هم کړه

د اغزیو سره ګـــل لــري پلوسه (خوشحال)

پښتـو قـاموسو هم د پلوځـې (پلوسـې) د ګل، اغزیو او کنډ یادونه کړې او له دې ټولو څخه نتیجه اخلو چې مغیلان، کیکر، څه، او طلح پلوڅه دد.

**ځر car:**

۱- نژدې، قریب، ۲- څنډه پیڅکه، ځر کول = تقرب کول. نژدې کیدل. په (ځیرمه) کې د کلمې سټه (ځر) او (مه) سوفیکس دی.

نادان مرغونه لومې ته نه ګوري

دانه چې ووینې په دانه ځر وکـا (خ، رباعیات ۲۸۷مخ)

د شهوت چې ضعیفی لری کوینه

په بادام او په پسته طایفی ځـــر (خ. قصیدی)

کله ښه زویه د پلار، ورور دور ورشی

ګاه له دواړه توکــه ګــــرځی پر ځــر (خ. غزلونه)

د هســـتی بنـیاد یې ایښی په زوال دی

هجری! غم، ښادی به څه د باد په ځر کړې (هجری ۲۳۰مخ)

یادونه: د خوشحال د غزل د (پرځر) په ځای په چاپي نسخو کې (پر نځر) دی چې معنا یې ځرګنده نه ده، خو دده په لومړی قلمي نسخه کې چې دده په ژوند او په غالب ګومان دده په لاس لیکله شوی ده (پر ځر) دی چې د (ځنډه، ځنګ) معنا ورکوي. په دوی او څلورم بیت کې د معنا دقیقه افاده زیات غور غواړي.

ضمناً باید وویل شي چې د «ځیلمه» اصل هم (ځرمه) ده چې د (ل-ر) ترمنځه بدلون پکې راغلی دی.

**ځرخ carx:**

چوخ، تهمبل شوی، په زړو متونو کې زښت ډیر راغلی دی دلته یې د ځینو شاعرانو په کلام کې یوه یوه بیلګه:

خدای دی نه کا چیري ځرخ به دې په پښو شي
قدم ورو بږده د رابیلو په ګله (عبدالقادر خټک)

د هجران کیکر مې ځرخ د زړد په سر دی
که مې لاندې کا تر اړخه ځوک اطلس (حسین)

د دوستۍ په امید ځرخ کا د حمید په زړه الماس (حمید ۱۲۳ مخ)

چې په زړه یې غشي ځرخ شي د چشمانو
روغ به نه شي په دارو د طبیبانو (محمد صالح پښتو غزل)

چې مې ځرخ شوه په خاطر د هجر غنه
نه مې ورچني ارام شي نه د ننه (حسین)

په بازار کې څــــوک وتــلی          تیغ ترمــلا مه گـــرځـــولی
چیری نه چې په چــا څرخ شی          سوړه ستا د عصمت ورخ شی
(شرعه ۱۷۵مخ)

کومو منگولو زما په زړه باندې نوکان څرخ کړه
دواړه چشمان مې په گریوان باندې گریان راځی          (ج. فدوی)

**څرخېدل carxedəl**

چوخیدل، تومبل کیدل.

آشنایی په مثال گل حاصل بې خـــار دی
خار شی سخت هله څرخیږی دریغه دریغه (احمد شاه بابا )

که مې سل خاره د غم په زړه څرخیږي
بې تانه لرم وتاته یـــو بل عــرض (ج. فدوی)

چې اغزی د بیلتانه پکې څـــــــرڅیږی
دواړه سترگې بې ناسور وي څه به خوب کا (سعید، پښتو غزل)

چې د گلـــوهــــار په غاړه نازنین کا
په سینه باندې بې څرخی لکه خار گل (عبدالقادر ختیک ٤٢٤مخ)

اشرف خان به یو پرهار په ځان وانه خلی
نه دا نـــور دده لـــــه مـــورد چې زوولی
ترخلویښتو کلـــو تیر شـــو لا تر اوسـه
دوه تیره اغزي پرې نه دي څـرخـــیدلی          (خ. متفرقه ٥ ٨٤٥مخ)

دامژگان د برندو سترگو راڅرخیږی

که له زړه مې تیره نوک د تیغون وخوت ( میانعیم)

که په زړ دې څه د مراد اغزي څرخیږي

ملا کړه ټینګه په خدمت د درویشانو (ملا لتاړ ۱۱۲ مخ)

**څرخیدل** carxedə́l:

یادیدل، تیریدل، په زړه کې غړیدل.

چې په زړه کې یې څرخیږي د نګار مخ

آتشین ورته ښکاره شي د اغیار مخ (ملا لتاړ ۴۳ مخ)

که په زړه کې دې څرخیږي ګل اندامه

د کوشش پوښتنه وکړه له بهرامه (ملالتاړ ۲٤۰ مخ)

**څرو** cro̤:

سپرغۍ، بڅرکی، څروه.

نور حضرت راغی پخپله — دا ډبریې ووهله

درې نوبت یې ووهله — هر بار څرو ولاړیدله

(یاقوت السیر ۲٤۰ مخ)

**یادونه:** دغه کلمه د شمس الدین کاکړ په دیوان کې د څروه په لیک دود راغلی ده:

زه د یار په تلو د خس په دود روان یم

چې یې پاڅی د توسن له ناله څروه (زړه پانګه)

**څړی carạ́y:**

څرکی، دلیمڅی زړه تیوتیه.

چې دې خوب په سترګو راشی نه یې وینې
که نهالی د بخملــو کــه څـــــړی وي (سکندرختېک ۲۱۰مخ)

**څړی carə́y:**

د هغــو دلبــروپښــې شــوې تورې خــاورې
چې په پښـــویې رنګیـــدل راتــه خلخـــال
نیـــمـــه شـپـــه په پالنګ راغلله دلبـــره
پرې رویه عنبـــریویه ســـیــــمــــینبـــره
د پایلو د څـــړی شـــرنګهـــار شـــو
زه لــه خـــوبــه را پرتــاب شـــومـــه په ویره (خ. غـزلونه)

د څـــړیو به یې ږغ لکه رباب و
په آواز به یې د ما و وجد و حال (خ. قصیدې ۵۴۲مخ)

**څک cak:**

شخ، شک. دا کلمه زیاته (دبوڅ) په معنا د غوړونو سره استعمالیږي.

ظالمان ږیری خــــریلي څک بریتونه
د خوارانو یې نفس وکیښ له جنده (ج. فدوی)

**څکښل cəkṣə́l:**

څکول، راکښل، کش کول.

هر شیر خور د بزرګانو د اشــــــرافو مــالـــدارانو

تر ما پیش و دوی نیــولی          و خپل ځان ته يې ځکنبلي
(یاقوت السیر ٤٥مخ)

**ځکل** **cakál**: لنډواتی، لړه لار.

... څه ځکل چې ولاړ...          (ملی هنداره ۳ټ-۳مخ)

**ځکول** **ckawál**:

د سهل، زغمل، گالل، تحمل کول په معناوو د زیاتو کلمو سره په ترکیب کې لیدل کیږی.

ازار ځکول= رېړ گالل.

... بادشاه وفرمایل چې خوشحال بیگناه د یرازار ځکولی دی.
(ت. م ٢٩٤مخ)

انتظار ځکول= انتظار ایستل.

یار د یار د انتظار وشــوا خــون

تر بیگاه يې وځکاوه په ځیگر خون
(نیرنگ عشق ١٦٤مخ)

پایمالی ځکول= پایمالی سهل

... هر څوک چې خیـال د سر فـراری لري د هر یوه سـفله پایمـالی نه ځکوی او په زبونه مرتبه قناعت نه کا          (انوار سهیلی ١٨مخ)

حسرت ځکول= غم گالل.

... کـه په عـوض د هغـو وریجـو هومـره زر ور ک شـوی وای هومـره حسرت به مو ځکولی نه وای          (ت. م٢١٢ مخ)

ACKU

رنځ څکول = رنځ ګالل.

چې په اصـــل بد سـرشت وی
رنځ بې مه څکوه چې زشت وی (ت. م ۲٤۸ مخ)

**څکه cáka:**

زغم، زحمت، تحمل.

تر تاجـــر لـری د هقـان په خدای ډیر باور، ایقـــان
له ده نفـــعه رسی عـامه له هغه خـاصه، زر عـامه
سړی څه چې تول واز کومی رزق له ســعې دده مـومی
بل ژوندی کاندی مړه زمکه دهقانان د ځـــان په څـکه
(شرعه لومړی مخ)

مدام ناست یم وچ ګوګل ستر ګی ژړونی
څه څکه ده یاره ســتا د مینې ملـونی (حسین)

**څلول clawə́l:**

څلل، او بدل، نسجول (څلل= زړه پانګه) مجازاً ګنډل.

نه شـــم نور د جــدایی بار څکـولی
غوندی نه شی د ویښته په تار څلولی
(شاه او ګدا ۱٦٤ مخ)

**څله calá**: بنګړی.

که په خوله کې بې هډوکی پا ته نه وی
دوا ړه لیـچې د الاډکې پر څـلو کـه (ج. فدوی)

آئین، رانجه، گوتې، ځلی، وڅکی، نبات غــواړی

خپــل قـــدر زيات غـــواړی (ا. س. ا. پ ۱۶۵مخ)

**ځلهر calhár:**

چمبړ، هغه خامتا چې په رنګارنګ رنګونه چکن او د ېرستنو مخونه تري جوړوي.

یاد یږي هغه ورځ مې چې زما ښکلی مـــوټرو

زما د زړګی سرو

مدام به په غور ځنګ و سرک سره به یې جنګ و

چې شیر و که پلنګ و په ســلو رنګـــو رنګ و

داغونه رنګ په رنګ په ده پراته، ســم ځلـــهرو

زما د زړګی سرو (ا. س. ۲پ ۷۳مخ)

**ځليار calyár:**

څړه لار، څړیلره، د جره ګانو هغه لار چې په کندو او لوړو ژورو کې تیره شوې وي او معمولاً د داړو او شوکودار پکې وي.

چې ملګـــري ځنی وړاندې وي خـــپاره

مه شی ګیر چې مخکې راشی ځلـــياره

که وي ویره، خو مزل په وړاندې ښه دی

فکـــر مه کـــړه د اورده او د ســـــاره (د خیبر وږمې ۹۴مخ)

**ځنګ cang:**

وزر، کوڅر.

بورا ، همج (گونگټ) یورنگ دي
الـــواته يې په دوه څنـــګ دي
په معشوق سره ناســـاز شـــول
دوی تل ســــــره په جنــګ دي (ارزانی)

**څنګول cangól:**

چې په ستر ګـــو يې حيا ده به حذر کا له څنګوله (کريمداد)

**څنی ګل cánay gwal:**

يو ډول سپين نازک ګل دی چې په دارو کې هم په کارېږي.

پاس مې په تندی کېږده قدم د څنی ګله
سپين نازک په مثل ته زما ديار درويې (ع. القادر ختک ۲۵۳مخ)

د څنـــی ګـــل دريې درمــه د بادرنګ زړی کـــرمــه
چې يې ښکته کړی ترکومې پرې به بول بسته درومـــی

(ارمغان ۹٤۲ ،طبنامه ۲۲مخونه)

**يادونه:** په چاپی نسخه کې چنبی ګل (چمبيل) ثبت دی چې همدغه سم ښکاری خو څرنګه چې دوه ځايه څنی ګل هم راغلی نو ځکه هغه هم په نظر کې ونيول شو.

**څواړی cwāṛay:** څپياکه.

څوک چې طمع دوفا کا له فلــکه
لکه څواړی چې شمير له وچه ککه (عيسی)

**يادونه:** کک= ککوړی ، د نغن قرص.

**څوڅک:**

له خویه توغ یې څومره چې تیک یې
رومــــانیت لره لکــه څوڅــک یې
گـــوري آســـمان ته، پیدا له زمکې
نه لرې خاورې هم، هغه ښـــانک یې (سلگی ۱۲۱مخ)

دغه رباعی په خیبر ورمې ۷۷ مخ کې داسې چاپ شوې چې سمه نه ښکاری.

له خــویه توغ یې څــومــره چې شـیک یې
روحــــــانیت لره لکه څـــوڅک یـې
گــورې آســمــان ته پیــدا پیــدا له زمکې
نه لرې خـــاورې هغـــه ښـــانک یې

**څورنګ cawráng:**

۱- لتاړ ، پایمال، ژوبل ، زخمی ۲- زخم، پرهار، پرسیـدلی د چـــورنګ او څـــو رنګ کلمه په دواړو لیـــک دودونـــو په زړو متونو کې زښته ډیره راغلی ده. د «چ، څ»نه پرته د کلمې د تلفظ او معنابې توپیره دداود څاد، چاه، څوه، چوه، څوده، چوده ، څښل، چښل... په څیر د (څ، چ) د تلفظ توپیر د لهجو د توپیر ښکارندوی دی. خو پ. ت. ق د دواړو کلمو هم تلفظ او هم معناوې په بیل بیل ډول اخیــستی چې د تأمل وړ دي.

د پړسیدلی په معنا

ښه توښه یې هیڅ د پیرپه پیخل نه شي

په قوصر د محبت مه شه څـــو رنګ سه (حسین)

**څوره:**

د سبا نسیم په تا نه دی بلودلی

په ظاهر د څوره سیب ده لکه دوړه (ج. فلوی)

**څوښتی cúṣtay:**

پنیرمایه، هغه مواد چې په شیدو کې ورګډیږی او پنیر ترې جوړوي.

"...او پنیرمایه یعنی څو ښتی د سوی په مښک یا غوړ کې حل کا د سرکې سره یې وڅښې صرع یعنی میرګیو ته نافع دی.

(اختیارات بدیعی ۳۱مخ)

**څوک cawk:**

سودا، وسوسه، اندیښنه، تشویش د (څوکی، ترصد) کلمه هم له دغې ریښې ده.

ســــــخی ولــــــی الله و دی فـــنـــا بقـــا بـــالله و

دی د نفس له څوکه خلاص و محضې خدای ته په اخلاص و

(د شیخ جمیل مناقب ۸۰۱ مخ)

**څوک cuk:**

زه بیاض که یار ته سر و مال کړم وړاندې

حرام ته که یې په کار په یوه څـــوک یم

(بیاض)

**څوکی cawikáy:**

سودایی، وسوسی، مالیخولیایی، مشوش، اندیښمن.

تورو زلفو دې (یې) داخل کړم په څوکیانو
هغه یار چې په دولت یې تل غرور کړ (هجری۳۸۸مخ)
نه مې یې په مخکې څه نقصان هومره څوکی
که ذره انصـــاف کا،نه وفـــا کا زرو کی (علیخان . ۱۲۰مخ)

**څوګیر cawgír:**

په چوکۍ ناست. پ. ت. ق اخیستی دی.

چې په زړه باندې زخمی د عشق په تیروی
په زنـدان به د غـــمونو کې اســـیر وی
خوب خندا به یې په ځان وی حـــرام کړی
د اخلاص په بیداری کې به څـــوګیر وی (لتاړ ۲۱۲ مخ)

**څونیه conyá:**

سویه، غوړلی.

شرمخ د سوی په داو کې راغی او په لومبړه پسې روان شو، ولې دا لومبړه هم د جهان هوښیاره او د څو نیې دا چالاکی خو د هغې په جیب کې وه... لومبړه پوه شوه چې دا تهوله تګي ده، نو دې هم دا اراده وکړه چې سویه سره د شرمخ نه تباه کول او دوکه ور کول په کار دی، نو دې (له) څو نیې سره ډیر دار مدار را واخیست او د څو نیې یې ډیره خوشامنده وکړه... څونیه په دې خوشحاله چې په دې خدمت کې به زما ګوابښ (امان) وشی.

دې (لومبړی) چې ځونیه راوایستنه نو دغه کوهي له راغله.

(انوار سهیلی ۸۶-۸۷مخونه)

**یادونه:** دلته د سوی کلمه زیاته د سوی او کله هم د ځوی په فورم لیکله شوی، خو د ځونیه کلمه په همدغه فورم ثبت ده.

**ځو وهل:** په ځوکې کیدل.

لکه شین زمری و صید ته ځو وهلی په میدان وي (لتاړ ۲۲۸مخ)

**ځوهاره cuhāra:**

چواره، یو ډول خورما ده چې په درملو کې په کارېږی.

(چواره، زړه پانګه)

... اوچې تازه اوبه یې (د شاهترې) واخلې، ځوهاره پکې وسولوی...

(اختیارات بدیعی ۴۷۷مخ)

**ځوهاړ cuhār:**

چواړی، شاخیل، موسلی، دغه کلمه (چواړی) جوهړ، ځوهړی په لیک دودونو راغلی ده. د لتاړ په دیوان کې له ځوهاړه ځخه مراد د دنیا خبیثه مینه ده.

که دې مینه ومجلس ته د خپل یار شی

د خاطر له غولی وباسه ځوهاړه

(ملا لتاړ ۱۴۳مخ)

ئن شاهه بې حجابه په خونی انګړ ولاړه ده

روغه خلقه یې په دیدن مشتاقه واړه ده

کړه به یې دارو خپل چې ثنا به یې کـــولـــه

پورته شه غافله ستا په کټ ناسته څوهاړه ده (ملالتاړ ۱٤۱مخ)

**څوهړی** cuharáy:

چواړی، څوهاړ، مونث یې څوهړی ده.

... ښه عورتیه هغه ده چې هم د میړه عورته وي، هم یې مصاحبه وي، هم یې طبیبه وي. هم یې باورچی (پخلیگره) وي، هم یې درزی وي، هم یې وینځه، هم یې مطربه وي. بلکی هم یې څوهړی وي.

(دستارنامه ۷۱مخ)

نه که نیک هسی خـبرې چـــې په چـــالگي بـــبرې

دي پردی خبرې نغښـــتی بې پروا نه وایی زښـــتی

ړوند، بصیر، فقیرښه بولي څوهړی حلال خـــور تولي

(شرعه ۵۸مخ)

**څه** ca:

څخه، د (څخه) مخفف دی. په ځینو لهجو کې همداسې معمول دی.

که په غره ځم، که په اور، راسره ځې به

که نه اوس په کمه مځکه درڅـــه ورکه (ا. س. ۲ټ ۰٤مخ)

**څیلمه** celmá:

څرمه، نژدی، قریب. پ. ت. ق د (۱- تهول، تمام، گرد، ۲- غاړې ته یا کناره، اړخ ته) په معناو واخیستی دی. د کلمی اصلی ستپه (څر) ده او د (ر-ل) د غږونو اوښتنه یکې را غلی ده.

دا چې راغله د کلي په ځیلمه شوه

باندې پېښه له دغه کلي ارتینه شوه (شهی اودلی ۸۱مخ)

د عشق لاره ده ترهمه وولاړو سخته

که پرې یون کړې ځان کړه ځیلمه و خوارو ته (التاړ ۱۳۱مخ)

په ځیلمه د کلی کوکی ګیدړان کا

په مابڼ کې د عظیم زمری تښا ده (التاړ ۱٤۰مخ)

په ځیلمه د ښهر راشه ویې ګوره

دا د ښهر حاکمان دي چې پراته دي (سکندر ختهک ۱۹٤مخ)

روایت کا باتمیز عمر د عبدالعزیز

چې زما یوه میلمه که ډیوې ته ځان ځیلمه

(شرعه ۱۲٤مخ)

میلمه یوسی رزق خپل

خدای کور به کا په دا پل

فرښتی پری رحمت وایی

ځو خوان ایښی دی څه ښکوایی

ګرچی کور د میلمه ورور

وي ځیلمه دده د کور (شرعه ۱۲۲مخ)

* * *

# X خ

**خاسه xāsá:**

اندیښنی مې په خاطر ځکه انبار دي

چې مې درد لیدلی دی د یار د خاسه (بیاض)

**خاشا:**

رســـوي په دا به خـــوب ودا بی ته زخـــم اشـــوب

د ســواره د خـــوب خـــاشـا لگـــوي د مـــرکـب شـــا

چې اوده ترویښه دروند شي (اضرار) ځکه ځنی موند شی

(شرعه ۸٦مخ)

**یادونه:** ددریم بیت د د ویمې مصرع لومړی کلمه (الرار) غوندی لیکله

شوی چې ښه نه لوستله کیږی.

**خام:**

په غمزو چې د ښو غشی په ګرت کا
لیندی وروځی د اشناشی خام په خام (حسین)

**خانتمیر xāntamir:**

خانتما، مغرور، بې پروا، بې اعتنا.

مسته له مانه خانتمیره ګرځی
راســره کــړی یې قــرآن دی (اولسی سندری، ۱ټ، ۱۲۰مخ)

**خاو:**

په نصیب به د بیاض څرنګ خاو نه وي
بې ګناهه ترې خپـل یارکـړې جاړه ده (بیاض)

**یادونه:** محشی په غاو اخیستی زما په نظر خاو به وي.

**خپټ xapáṭ:**

محشور، مخلوط، سرګرم.

... هلتـه د سـهیلی (پاچا دی) د ماینو اوقات تریخ سو، پاچا هیڅ کاته نه ورته کوی، یوازې د ببې (کشره ښځه یې ده) سره خپټ دی.

(ملی هنداره ۷۸ مخ زوړ چاپ)

**خټ:**

دُرد، د شرابو خیری.

که زه نه لرم احـوال د سـالکانو
امیدوار یې زه له خټو له ساغر یم (ابوالقاسم ۲۰۵مخ)

**ختلی xaṭálay:**

ختول، له ختو سره ګډ، خیرن، ناپاک.

د بادشاه طاعت د ځان دی ددہ عــــدل د جهـــــان دی
د اورنګ عــدل بخـبـلـی خو دده عــدل کـار ختـلـی
خدای خبر په دا بادشـاه دی چې ګمراه دی ډیر ګمراه دی

(فراقنامه ٦٥مخ)

**خچمن xaćmán:**

خچن، ناولی، ناپاک، چټل.

په خچمن ځای نشستن نبا یسته نه کا
د خاطر غولی جارو کـــړه محبوباته (ملالتاړ ١٢٦مخ)

**خرته xaráṭa:**

یګړی، غټه یګړی. پ. ت. ق اخیستی.

شو زاهد تاجر د ګټی، د مسواک د خرتی
دیوانه پرځان رانیسی په هردم تاوان تنها (ج. فدوی)

**خرخټ xarxáṭ:**

هرخټ، د ډیرو شیانو ګډونه. په ننګرهار کې هرخټ متداول له کلمه ده.

د مال غم مې پر سر شی لوسکروته
له غمونو مې پرسرشی لـــوحرحپه (ج. فدوی)

**خرخشه:**

... د اوزبکو لښکر پاس ددوی له لښکره واړول، هومـره خـرخـشی

سیند راوړی چې هیبت د دې لښکرو شو.                (ت. م. ۲۱۷مخ)

**خرزرگه xarzárga:**

بې معنا سرې د زرگـــو بارتړلی
څوک آسان کا د خرزرگو اختلاط (ج. فدوی)

**خرک xarák:**

د خرکه وهل = بې ځایه تیری کول، ناحقه تعرض کول.

سنک اوس ولوجان له خرکه وهی - یعنی سنک برولوجان تعرض بیجا میکند.                (پښتو اصطلاحات ۱۹۱مخ)

**خروله xarwála:**

یو غرنی، خوشبویه، تل شین بې اغزیو بوټی دی چې سپین غونچه گلونه کوی او پاڼی یې د ولې پاڼوته ورته دي. بوټي یې د ماڼوگانو په څیر لوی لوی ټپلونه جوړوی چې دری، څلور سوه مربع متره زمکه نیسی او لوړوالی یې دوه دریو مترو ته رسیږی، هم یې د گلونو او هم یې د پاڼو بوی ډیر خوږ دی او که پاڼی یې وچې هم شی خوږ بوی لري.

یو بوټی یا ونه شته چې په فارسی یې بید مشک، بید موش، بید طبری او شاد بید بولی، او په طبی کتابونو کې د بهرامج او رنف په نامه راغلی دی. د ابوریحان البیرونی د صیدنی په وینا: « ابوحنیفه وایي چې رنف د غرنیو ونو له جملې څخه دد چې د بلخی ولې (الخلاف البلخی) او باختری ځنگلی ولې په نامه یادیږی، پاڼی یې د شپې په وخت د څانگو پوری ورتولیږی او دورځی بیرته غوړیږی. همدغه ونه بهرامج هم بولی. »

درنف او بهرامج زيات صفات د خرولي له صفاتو سره سمون لري خو ځنې ښېانې يې د خرولو د نخښو ښانو سره د تأمل وړ دي. مثلاً په صيدنه کې ليکي:

بهرامج فارسي نوم دی هغه دوه ډوله دی: یو دا چې د گلونو پښم يې تک سور دی، د بل ډول يې شين رنگې دی چې دغه باختري يا بلخي وله ده او دواړه ډوله خوشبويه دي. حال دا چې د خرولي گل سپين دی.

(د البيروني د صيدنې روسي ترجمه ۳۰۳-۳۰۴مخونه)

همدارنگه هلته ليکي چې: د فهلمان په قول بهرامج خوشبويه بوټی دی، دغه خبره په ځای ده چې خرولې ونه نه ده، بلکې بوټی دی.

په پښتو لنډيو کې خروله يو ځای داسې راغلې ده:

همزولې منی رانه غواړي

بيگاه مې شپه وه د خرولو په ټلونه (پښتو لنډۍ ۴۷۵مخ)

**يادونه:** منی= اميل دی. د خرولو له پاڼو او وړو څانگو نه د اميل په جوړلو کې کار اخلي.

**خړ خړوب:**

خړ خړوب زه خالي لاړم بې ديدنه   ډير خړوب وي عاشقان د تورو زلفو

(پټ ستوری، اخوند مصطفی ۳۰۶مخ)

**خړوړی xaṛoṛáy:**

د بلبل له ځيگر خونه تمام عمر په عذاب شو

موندای نه شي لار و گل ته ټول اغزي يې شو خړوړي   (ج فدوی)

**خړې پوړې:**

عذر او زارۍ. پ. ت. ق (خړې پړې) په دغه معنا اخيستې دی. پوړې يا پړې لفظي تاکيد ښکاري، اصله کلمه خړې ده د ننگرهار په ځينو برخو کې خړې موتې د پلمې او بهانې په معنا او خړې موتې ګډول= پلمه لټول دي. دلته هم د کلمې اصل خړې ده او موتې لفظي تأکيد دی. ضمناً بايد وويل شي چې د (mut) ريښه په سلاويانی ژبو کې دخړ، ختپول معنا لري.

... سهيلي هرڅه خړې پوړې ورته وکړې چې پاتې شي، خو دوی نه پاتې کيدل. (ملي هنداره. نوی چاپ ۱۲۰ مخ)

**خزولxazawál:**

محشی د «وتل» معنا ورکړې خو زما په نظر د حمله کول، بريد کول معنا يې ښه بريښي.

د اللّه مې وزير چې په ميدان وخزوله
يار لکه شين زمری چې وځی له ځنګله (د مروتو کسرونه ٤٦مخ)
مړيز وخزوله ډار يې نه کيده له بله
پريستي يې جندره ده لکه مهر په خزانې کې (د مروتو کسرونه ۹۹ مخ)
خان چې په يارو خان وخزوله
په ميانې يو سانګه بوتله ښله (کسرونه ۱۲۲مخ)

**خسنیxasə́ṇay:**

۱- پچه، هيسک، قرعه، دا يې مجازي معنا ده. ۲- خلی، خس.

پ. ت. ق. په دويمه معنا اخيستې دى. خسنى د حس مصغر فورم دى. په پچه کې يې هم نيول معمول دي.

جانانه تور سيرلــى حـــلال کـــړه

خسنى وشو په چمکى دى پاتى شومه (پښتو لنډۍ ٤٠١ مخ)

چې ازلي برخې شوې جـوړې

خسنى وشو غم زما ورسيدنه (پښتو لنډۍ ١١٥ مخ)

د بيلتـــانه په مدرســـه کې خسنى وشو زما غم ورسيدنه

(پښتو لنډۍ ١٨٣ مخ)

...هره ورځ به په خسنې يو کس پر کيدا او د منزرى (زمرى) حضور له به راته، د ورځونه يوه ورځ سويه په خسنى پر د شود...

(انوارسهيلى ٨٨ مخ)

پادشاهى د اورنگ زيب و آزاده ته

چې تل نه وي په خســـنى نه پيرېږي (عبدالقادر ختک ١٩١ مخ)

**خسوکه:**

راشه په دې ســـاعت کې خپلى مـورې

په نياز (ناز) ساتلى حسين که گـــورې

ويلاړ (ولاړ) خسوکه دى حـرمه پورې

گــــوندى زينب نه، دى جـــلا کيـــږي

(بيدياني گلونه فتح علي ١٦٢ مخ)

**خسیل xasíl:**

زورور غنم چې سرونه یې مال ته وربیل شی پ. ت. ق اخیستی .

د ځوانی خسیل دی زیړ شومه نازیږه

دهقان بوه د آهن کړه، تیره لور (ج. فدوی)

**خلکه xalká:**

۱- اوږد او پراخ کمیس، اوږد کمیس چې گریوان یې خلاص وي.

۲-کمیس. په لومړی معنا پ. ت. ق اخیستی. په دویمه معنا هم راغلی، دلته یې لومړی په دویمه معنا او بیا یې په لومړی معنا متالونه وړاندې کیږي:

توکل دعایی وکړه اکوزی وو په زرگونه

راتلل یې مشران د سیند په غاړه لکه غرونه

د زغرو خلکې وې، دوشالې یې په سرونه

(پټ ستوری، یوسفزی ۹۰ مخ)

په لومړی معنا: "فخر افغان د پخوانیو پښتنو د ساده ژوند د ځرگندونې په یوه برخه کې وایی:

... جامې ساده او د وطن جوړې وې، دخپل وطن شډله خامتا یې د بل په اتلس نه ورکوله د خامتا لویې لویې خلکې او کمیسونه او پرتوگونه یې اغوستل. (زما ژوند او جدو جهد ۱۲مخ)

**یادونه:** دلته د کمیسونو په مقابل کې د خلکو یادونه د دواړو ترمنځه د توپیر افاده کوي.

**خنګول:**

نه پوهیږم نه رسیږم و قانون ته د خوبانو

چې نه فرو ي نه فربه وي په هغوې خنګوی (ج. فدوی)

**خنۍ xṇáy:**

خنۍ یا خنی هم د مذکر او مونث په فورم د ښارویو هغه ناروغی دد چې له خولی یې لاړې بهیږي او وابشه په مینه نه خوري، وخت په وخت ډنګریږی خو دا ناروغی وژونکی نه ده.

ساتلي مې په نازو، دغه خرنه و، جوړ اس و

نه مې وحاجت د بل خره، ما غریب ته بس و

یو ناڅاپه مړ شو، نه خنۍ وه نه منګس و

(اولسي سندري، ۱ټ، ۲۷٤مخ)

**خواړی:** خوږلی.

د مار خواړی په فریاد پوری خندا کا

ده لا درد لیدلی نه دی د بنبرو (عبدالقادرختک ۱۳۷مخ)

**خوانول:**

رابطه، راشه درشه.

... حسن علی له بنګښ سره څه خوانول درله، بل شان یې دا خبره شهرت کړه. (ت. م ۳۲۲مخ)

**خوانه xwānā́:** منهو، ایړ (محشی).

وډره سوه په خوانه ما وی کله به ښکاره سی ګرده ګوره

زما اروایې بوره زه يې څه کړم د بل ميره مزدوره

(فولکلوری سوغات ۵ ۰ ۱مخ)

**خوځندی xwaǰəndáy:**

حرکت يعنی زور، زير، پيښ، زورکی.

خوځندی= حرکت، غږوندی اما

چو وچ گرديد با ساکن مفسر (نصاب الصبيان ۵مخ)

**خور xwár:** خوراک.

مينې تا راباندې وکړ اثر وروړ ورو

چې دې وايستم له خوده له خوروړو ورو (فقير افضل، پښتو غزل)

**خورجاړی:**

فراق راگډ کړ اوس خورجاړی

زما روزگار شو په اوجاړی

نيستی بيلتون يې د واړه ليوونه کړل

دا دی تنها شو سکندر داړی (سکندر ۰ ۰ ۳مخ)

**خورزيی xorzayáy:**

خوريی، د خورزوی.

...او حجاج بن يوسف ثقفی چې سپه سالار او مدار المهام د هغه عماد الدين محمد قاسم چې خور زيې دده و... (ت. م۳ ۵مخ)

**خورم xwə́rm:** خيرخواه.

...هوښيارانو ويلی دي چې په ښېړو سببونو کې يو سبب که پيدا شو

نو پادشاهی ته پرې زوال رسي او هغه دا دي:

۱ - خرمان یعنی خیرخواهان محرومه کول او د عقل او تجربی خاوند شرمول . ۲ - فتنه یعنی .... (انوار سهیلی ۸۰مخ)

**خورمه xwárma:**

شبنم، پرخه، نرۍ باران. پ. ت. ق اخیستی.

د یارانو د هجران له جوره، جرمه

یوه سترگه مې باړه شوه بله کورمه

رخ یې دی ته مې گلرخ په ژړا خاندی

گل تازه شی د باران په نرۍ خورمه (علیخان ۹۵مخ)

په بارخو دی دا خوبې دي که سامې

خورمه اینبې په زیر گل باندې شبنم ده (صدیق)

**خورۍ پرابشول:**

پیشوگان پرې خندول، داسې لوبې پرې کول چې د ملندو شی.

... نامه ورغ یې داسې جنگ وکړ چې خورۍ یې پرې وایشولې.

(ملی هنداره ، ۱ټ نوی چاپ ۱۰۷ مخ)

**خوریاسی xoryā́say:**

یوراز وابنه دی چې پسونه یې خوري (محشی) . دغه کلمه چې زیاته شرحه نه لري به انگی کې څو ځایه راغلې ده.

د سپینې خونی پروره خوریاسی

ورغ د محشر به پرموره راسی (انگی ۳۳۷مخ)

دا د بازار پر لمن خوریاسی

وه ترورې ! وځه کاکا به راسي (انگی ۳۶۷ مخ)

**خوړاوه xuṛāwá:**

د سپیو اوړد جنگ چې سره وسولوی. مصدر یې خوړول دي. په ننگرهار کې متداوله ده.

اهل دنیا سپي دي په مرداره خوړاوه کا

ځان مه کړوه د سپو په جنگ، په شدتونه (الپوری ۱۵۸ مخ)

یادونه: خړاوه لیکل شوی خو اصلاً خوړاوه ده.

**خوړجن xwoṛján:**

بد، ناوړه. پ. ت. ق د بد شکله، بد قواره په معنا اخیستی.

د سپیني خولې وینا دې هیره کړه په نسبت د ښځو

بیوفایي ده همیشه خوړجن خصلت د ښځو

ستا په وجود کې خدای پیدا کړ طبیعت د ښځو

نو ځکه گرځې له هرچا نه بې پروا صنم

(اولسی سندری ۲ټ، ۱۸۵مخ)

**خوړی xwáṛy:**

ملک به تنور کړی لیونی! چیرته په ژنو باندې

چې شی روانه په سیل

تل به ولاړ وي تاته خوړی په پتمنو باندې

چې په تا ډیر کوی میل

(اولسی سندرې ، ۱ټ ۱۵۱ مخ)

**خوږنيدل:**

هغــه زړه په بل لــذت نه کـا پــروا
چې خوږنيږي ستا د شونډو په حلوا (حسين ۲۱۳مخ)

**خوسړ:**

سترگی مې سرې له ډيره غمه
ارباب خو سړ شو لکه شــعمه
افسوس افسوس دی چې گردش پری د آسمان راغی
غــبږ د رضــا خـــان راغـــی (اولسی سندری ، ۱ ټ ٢٥٤مخ)

**خوشی تشی xwáśay táśay:**

خوشکی، بيکاره شخص، لوچک، خوشاتيری.

... بهرام منحوست انجام هغه زر چې له دې ځايه وړي وو په خوشيو تشيو يې په لږ مدت کې صرف کړه، د بنو، وزيرو، د دوړو خوشی تشی به ورته راغلل، ډمان (به) ورسره (وو) سرود به يې ورته وکړ او اکثر به يې ورته وې د کرلانيو باشاهی ستا ده بهرام خانه! (ت. م٤٨٧مخ)

**خولنگ xūláng:**

ژړا، فرياد، وير.

دروغجن دوبين خنــدا و هــوس کاندی
د شهی عاشق مدام اخته په خولنگ دی
(مطيع الله پيره خېل، ۱۹۷مخ)

**خوله خوله کول، خولی خولی کول:**

کپ کپ کول، په خوله کې وړل.

لکه سپي دیار په در درته پراته دي

رقیبان به دې حسینه نن خولی خولی کا (حسین ۲۵۹مخ)

**خوله غوړ کول:**

راز افشاء کول، راز نه پټول.

ماولو جان تـه ویلی وو چې دا خبره مـه کوه، دده خولی غوړې وکړ، هسی بې وویل. (اصطلاحات ۱۷۳مخ)

**خوله وتل:**

له ناروغۍ وروسته چې په شونډه یاوښکی کې دانه یا پړسوب راښکاره شي. په فارسی یې (تبخال برآمدن) بولی.

- خوله مې وتلی ده- یعنی بردهنم تبخال برآمده

- د سنک خوله وتلی ده، خندلی نه شی. (اصطلاحات ۱۷۵مخ)

**خوله ګډول:**

(له چا سره) په خبرو پیل کول، په خبرو ننوتل (له چا سره).

... دی راتی وزیر تـه ووې دوه دري ورځې کیږي چې زما او دراجه په مینځ کې څه ګیله پیدا شوې ده او هغه زمانه خفه دی، نو زه په دې حال کې د ځایه نه شم وتلی او نه ورسره خوله ګډولی شم.

(انوار سهیلی ۳٦٦ مخ)

**خولی xwlay:** شتمن، بډای

ملک که خولی په خپل سامان دی

فدوی بې سر و بې سامان دی

(ج. فدوی)

له ازله یې سپور، سپور که پیاده پلی

فدوی خوار خسته یې خوار که، خولی خولی (ج. فدوی)

د اوس میړو مو نسته مزد خولي ورتیر کړې خوران ایله

((انګی ۳۵۳مخ)

اللّه جار دی سم و کارونه

نه ګوری خوار و خولی کورونه

نه دې زړه سوځی پر خوار و نجونه

نه له بنده ګاتو کوی حالونه (انګی ۴۱۰ مخ)

**خوندېدل xundedəl**

خوند تر خولی کیدل، خوند موندل، د خولی سره یو ځای استعمالیږي. دا اصطلاح له دې څخه کنایه ده چې که څوک یو ځل په یو ځای کې یو څیز و مومی او یا د چا له خوا درناوی و ګوري، بیا نو یې همیشه توقع لري.

- هغه ورځ ما دغه سړی ته ډوډۍ ورکړه دده خوله وخوندیده، هره ورځ راځي. (اصطلاحات ۱۷۲مخ)

**خونک** xunák:

خدای مې نور گلونه روغ لره په باغ کې

که یو گل ورځنی پریووت له خـونکـه (خ، قصیدی ۵۳۶مخ)

ســایه د ځـوزو د وطن غـــواړم

په زړه خونک یم کړم ترنجبین زه (شمس الدین کاکړ)

**خوی** xwe: منگول، چنگال.

دا نیمگړی نیمه خوا ده ته پی لگـوې خوی (ارزانی، ق. ن)

**خوی** xwáy : خود، البته (محشی)

که مـــونږ گـــاړی دی کـه زنانه هر سړی خوښ دی له خپله ځانه

خوی به پر راسی اوړی ماښامه تور به لحد وي ځلـــور دیواله

(انگی ۳۵۸مخ)

**خویندی** xwayndáy

زړه د علیخان دی پرینبودلی د یرو ښکلیو

دي دا اوسنی ځوانان د وچی خـــویندی

(علیان ۱۲۳ مخ)

**خیالولی** xyālawálay:

خیالی، ایډیالی، ښاغلی، ویاړکوونکی.

او ځلـوریی ښـــه یاران وخـیالــولي

چې هر یو په خپل یقین کې ښه محکم و

(سید حسین، ق ن)

ناگهانه قهر ولی گرز په غاړه

سپین میدان لره راغی خیالولی (د زقوم قصه)

**خیزی xezə́y:** چینه، منبع.

بابا خو غرو، زه پر ختم ورورک بجلی، په رنها یې تلم

ادې اطاق وه پر اوسیدم خویندی خیزی وی پر اوبیدم

(انگی ۱۱۵مخ)

**خیشل:**

ملا غفور خونو قاتل و په ازل کې

رحم یې هیڅ نه سو پیداد زړه په تل کې

وریندارې! سه ولاړه چاره راکه

هغه ولاړ دسوله پته په خیشل کې

(ولسی سندرې، ۲ټ ۱٤مخ)

# د D

**داتی dāti':**

داتیان خلقت د رب زه پرې مین یم
صد لعنت شه په دوستانو د یغوث (هجری)

**داړه وال dāṛa'**:

داړه مار، لوټګر.

څه یوازې په ماده که ژوندی وي
اورنګ شاه پادشاه به ډیر کاندي پایمال
که رښتیا وایم دا هسې بادشاه نه وي
واړه کاریې د رهزن د داړه وال (خ، قصیدی)

**دانت کیدل dānt:** په سرد کیدل.

چې بې خوله سرد ده مدام د زړه په وینو
په دانت شوی خانگی زمری د چا دی (بیاض)

**داهه:**

د اسلام په کسوت گرځی کافران دي
په ریا ړیره اوږه پاڅی (پایڅی) کوتاهې
دپندار خرقه اغوستی گمراهان دي
مسواک ونه په سر اینبی لکه داهی (واصل ۵۱ : مخ)

**دبگر dabgár:**

د باغ، ځرمنونه ته خوروړ کوونکی، دبه جوړوونکی.

دلته مطلب د باغ دی:

ته چې په غوربند کې شناخت قیمت غواړې حافظه
بوی د منبکو غواړې د دبگرو په دوکان کې (الپوری ۹۷ مخ)
منبک څه کا د بگر، د ماغ یې پر له گنده بویه
سخا مرداره زاغ ته به تر گلو ریحانی شوه
(الپوری ۱٦۲مخ)

**ددر dádər:**

گواښ، کینښ، تهدید.

... شخې چې هر څه ورته وکړه، وې واهه، د دریې پروکې چې ولاړ سه دی وایی ولا که گام واخلم. (ملی هنداره ، ۳ ټ ٤مخ)

**درایی darāyí:**

یو ډول ښکلي اوریښمین ټوکر دی.

ښه مینه کړم د یار ظاهر په خلکو

کوز استرېه وخامتا ته درایي کړم

(نعیم)

**درب drab:**

لفظي تأکید دی چې د دروغ او دروه سره یو ځای راځي او یوازې نه استعمالېږي. (و گ: دروه)

**درب**: هنگامه

خوښ یم که خندا راپورې کاندي روغ وگړي

مینه به پرې نه ږدم که مې شنه شي په اړخ درب

څه شو که نسکور له غمه پروت په وینو ژاړي

خورشو په جهان حسینه ستا دمینې درب (حسین ۴۳ مخ)

**دربل drabál:**

دربجن، دوړن، خوسا.

سفله په مثل لکه ډیران دی

دولت په ده باندې لکه باران دی

باران چې نه وی بوی یې دربل وي

باران چې وشي بوی ترې روان دی (ت. م افضل خان ۴۸۶ مخ)

**دربل durbál:**

ښکیل، بند، تړلی، محصور. پ. ت. ق د ښاروی پښتې تړل په معنا اخیستی، خو دلته یې معنا عامه ده یوازې د ښاروی پورې اړه نه لري. (زړه پانګه هم څو مثالونه لري)

په نفس پورې خاورین څرخ اوړي

کوه قاف یې په اومه سپنسی دربله (واصل ۹٤غزل)

رموز یو معنا یوه دی ای په چار عنصر دربله (واصله ۸ قصیده)

دبدل برخه دربله تر ماضی، تر مستقبله (واصل ٦۵رباعی)

**دربیښت darbiŝt:**

یو ډول خوړه ده چې د وریجو له اوړو څخه یې جوړوي (محشی).

زاهدان چې بهشت غواړي و عارف ته

دوی غولیدلي هلکان دي په دربیښت (عبدالقادر ختیک ٤٤مخ)

**درپیاړ drapýr:**

پراخی، ارتوالی، وسعت (محشی).

زه د اړخ کاږي یم وختمه

غولی غایت (تنګ) دی درپیاړ به یې کمه (انګی ٤٦ ٤مخ)

**درځندی:**

په هیڅ باب به نا آشنا له ځانه نه ځي

انساني نامه درځندی مختصره (واصل ۵۲ غزل)

**درزي darzí :**

دربښو ، خياط ، گنډونکی ، مونث يې درزۍ ده. د درز له کلمې څخه جوړه شوې ښکاري.

... عورتينه هغه ده چې د ميړه عورته وي هم يې مصاحبه وي هم يې طبيبه وي هم بې باورچۍ ، هم بې درزۍ وي هم يې وينځه ، هم يې ډمه مطربه وي بلکه هم بې خوهرۍ وي. (دستار نامه ۷۱مخ)

**د رستم لينده:**

د بوډۍ ټال ، قوس قزح ، په فارسي يې « کمان رستم » بولي.

د رستم لينده گردون په اوږه کښيږدي
غوټيالی چې تری بې سره تر نقاب شی ( هجری ٥۲٤ )

**درسند darsánd :**

ليدنه ، کتنه ، ملاقات. اصل کې « درسن » سانسکريت کې « ليدل » ته وايي.

سلاطين يې تمنا کانه يې مـــومی
مساکين بې بهره وږی له درسنده (مصری خان گگيانی)

**درشله:**

درشايی ، درشل. پ. ت. ق درشل اخيستی دی.

... اوله دغه فلانی ځای نه به ښې تختې وخيژي او له هغه ځای نه به ښی درشلی جوړې شي ، (کليد افغانی ، گنج پښتو ۳٥مخ)

... پس له هغه يې حکم وکړ دوه تو کړي يې ترې بيلی کړې ، غزنين ته

يې واستولې يوه يې په درشلې د جمعې په جماعت کې ولګوله.

(کليد افغاني، د سلطان محمود تاريخ ۱۷۷مخ)

**درغړ dargə́ṛ:**

خچ پچ، ميده ميده. د خوشحال په اشعارو کې «درغنه» او دغه «درغړ» يوه معنا لري.

په هر منزل کې (يې) زر لارې شـــور مـــا شوره
خلق دې پکې درغـړ ســـنکـوره حـــال تباه (مست بابا ۳۸مخ)

خلـق سره درغـړې شــوې | پرې سرې تورې چړې شوې
د ګيدړو پرې خورې شــوې | د تورو ژڼو خواسړې شوې

ميدان سور پر يوت احمر (د سيد حسين د امامينو جنګنامه)

خلقې يې سره درغنې ککرې کـــړل
لا د مستې د غمزې توره رنګ نه ده (خ، غزلونه)

**درګور، درګوره dargór ,dargóra:**

پريښې، متروک، يوازې د حميد په آثارو کې ماته لاس ته راغلې دی. په زړه پانګه کې د (پروا، يادونه) ترجمه د زياتو مثالونو په موندلو سره اصلاح شوه.

شعر نه کــه نفــع هيــــڅ | بلکه شـــته پکې بـد پيــڅ
چې يې پوه په عوايب شـوم | ځــکه زه ځنې تايب شــوم
پوچ ګويي مې وکړه درګوره | که يې خدای کاندې درګوره

(شرعه ۷۰ مخ)

پە اودس قهر درگور شی — مړ پە دا اوبو دا اور شی
دا چې قهر دی لە جانە — جان لە اورە ژما جانە
(شرعە ۹۷مخ)

کە کامات لوښی، ویې — پە خطا وینځە مریې
کە ښتن باندې تریخ تریو شی — پە دا کار پە قیامت نیوشی
د رګور بویە پە عطا — د مریې، وینځی خطا
(شرعە ۱۷۰مخ)

د عام خلق لە احوالە — تفحص وایی ناخوالە
نشتە نفع یکی هیڅ — درګور نفع لری پیڅ (شرعە ۱۷۱)
کە غلیم د جنګ د پارە — ورلە راغی بدو پارە
نور دی هلتە شی وروړاندې — پە محکم اختیار باندې
توکل دی پە خپل خدای کا — پە غلیم دی مټ ګدای کا
ځان خوښی دې کا درګورە — عاجزي دې کا هر ګورە
(شرعە ۱۹۸مخ)

پە دا مرستە ما خپل عقل — درګور کړی دی پە نقل
پە ناقل د نقل هیڅ — نشتە صرف داړو پیڅ
(شرعە ۲۲۹)

لە دوستیې بە یې څە راوشی ګورە
چې مې نە کا پە نیکی، بدی درګورە (نیرنګ عشق ۶۸مخ)
ما مضا بلا جفا واړە درګورە
پس لە دې مې پە هجران مە وژنە ګورە (نیرنګ عشق ۶۸مخ)

**درگه dárga:**

زبان دی وچ سه د سهار چرگه
دښمن دی وینې کې ته واوړی وزرگه (بزرگه)
د بابا کور د گلانو درگه
ما غنی باسی د خدای بې مرگه (انگی ۷۱ ۵مخ)

گلان سترگې سترگې وی، سنبل درگې درگې وې
په خندا شو بیابان، سپرلی څیری کړو گریوان (غزونی ۲۶۳مخ)

**درناوی dranawáy:**

احترام، نمانځنه. پ. ت. ق (درنښت) په (درناوی او دروندوالی) تفسیر کړی دی چې زما په نظر سم نه دی، درنښت، سپکوالی، سپینوالی د طبیعی څرنگوالی نوم دی چې د فاعل اغیزه پکې نشته، خو درناوی، سپکاوی، سپیناوی او دغه شان نور مصدري معنا لرونکی اسمونه د فاعل د فعل د اغیزې مفهوم لری ضمناً باید وویل شی چې دا اوسنی جوړ شوی کلمات نه دی.

درمعلم به درناوی خپل سپکاوی شی
که د عدل و میزان و ته وخیژې (ملالتاړ ۱۸۰مخ)

**درنجه dránja:**

درست صورت مې د اوړو په څیر میده شو
ستا هجران راباندې وکړی هسې درنجې (مطیع الله پیره خیل ۷۱مخ)

**درو daráw:**

سمدستی، سمدلاسه.

... دا «تجلی» چې سهیلی (پاچا) ولیده درو پرمین سو.

(م. هنداره ، ۱ ټ زوړ چاپ ۷٤ مخ)

... کرم علی خان درو راغی پر درخانۍ یې ناره وکړه ...

(م. هـ، آدم خان او درخانۍ ۱۵۹ مخ)

... شهو چې کاغذ واخیست، خلاص یې کئ، ویې لوست درو یې رنګ والوت. (م. هـ شهی اودلی ٤ ۱۰ مخ)

... ګلخندانی هم درو د م پرووایه، ژوندی یې کړه.

(م. هـ ۳ ټ ۳٤مخ)

**دروه:**

۱- تېګی. ۲- کـږلی، منحـوس. دروه و درب= تېګی برګی، کږلتوب، درب لکه په دروغ و درب کې لفظی تأکید دی. پ. ت. ق د (۱- تېګی، چل، چم، دوکـه، ۲- اندیښنه، چورت، ویره، ډار) په معناوو اخیستی دی خو ماته په دویمه معنا لاس ته نه ده راغلی دا به د قاموس اشتباه وی.

ضمناً قاموس د مؤنث په فورم اخیستی په متونو کې د مذکر په فورم دی.

دلته به د دغې کلمې بیل بیل فورمونه وړاندې کړو چې د دویمې معنا څرک په کې نشته.

په یارۍ کې دروه درب څه په کار نه دی
یار هغه دی چې پیشه کاندی اخلاص (شمس الدین کاکړ)

کوم گناه و چې دې مات هغه سوگند کړ
په تازه یارۍ دې دروه ولې څرگند کړ (شهی اودلی ۱۲۰مخ)

چې خبر یې شی له مکره ځنې تښتی
د دنیا یاری، یاری مه گڼه دروه دی (عبدالقادر ختک ۲۷۰مخ)

نه سفر دی نه نکاح په دا درې ورځې صلاح
چې سپوږمۍ شی په عقرب کې
شی سفر په دروه و درب کې (شرعه ۸۳مخ)

په نیکانو دې کاپیښبه له بدانو دې کاتیښبته
کا دې ځان په صحبت پوه د عالم په اخلاص دروه
(شرعه۹۱ مخ)

د غنی زیب و زینت نیسته ته په اهانت
چې نه درکا د اگروه د ظاهر جلوه، دروه
د ظاهر په کروفر باندې مه شه کور و کر
لری دا مذکور گروهونه ظاهر زیب، باطن دروهونه
(شرعه۱۰۳مخ)

ترو په مینځ د دوه اخترو نکاح به دی کمو، سترو
څه ځای دا چې یې بدبولی سپک درانه، درانه کم تولی
د حدیث په معنا پوه دا نکاح نه بولی دروه
(شرعه ۱۳۷ مخ)

دروه و درب دې حاکم نه کا لەرعیت سـره که ښه کا
پەراستی دې ورسـره کـارروزگـار کره سـره
(شرعه ۱۸۷ مخ)

او تا کـړې ده اې ربه دا وعـده بې دروه و دربه
چې بەزه د گنـاه چر ک خلق تەوبخښم نه شرک
(شرعه ۲۱٦ مخ)

په خپل زوی او ورور باور نشته خوشحاله
غافـل مه شه د جهان له مکـره، دروهه (خوشحال)

**دروهل:** غولول، تیر ایستل.

پەوعده یې د وفا پەجفا پیښن کـړم
و دروهلـم جوفـروش گندم نما دوست
(حمید ٦۱ مخ)

**دروهه droha:**

د فعل د جمعې له صیغې څرگندیږی چې جمعه ده.

... نقل دی چې ښکاریان پەښکار وتلی وو یو ښکاری نیله مـار په پونډی وچیچه، درسته پونډی یې پرې کړه، هر چا داوې چې اوس به یې ساه قبض شی دروهه یې د فقیرپرې یاد کړه هغه ښکاری درستەورغ په پریکړې پونډی ښکار وکړ گویا هیڅیری نیله مار چیچلی نەو.
(ت. م ۱۰٦ مخ)

**دروهی:**

تېگ، تېگمار، غولوونکی.

ددې وخت دوستان دروهي دي — تر سبزې لاندې کوهي دي

له صحبته يې سوړ اوسه — له دولته يې موړ اوسه

(شرعه ۱۷۲مخ)

په دیدن پسې به یې خود له غمه ومرم

دروهی یار چې بیارانغی ما مهجور ته (بیاض)

نوی یار دې مبارک شه دروهی یاره

شه بلا په ما پسې که بیمار یږم (بیاض)

**دروهیدل:** غولیدل.

څه غلط دی پوهیدلی، دروهیدلی

دا غره تللی په اصل په نسب (حمید ۴۳مخ)

دې ډیر خلق مړ څرگند — د دروغو په څرگند

دا نسته باندې دروهیږی — پو پرې مری بل نه گروهیږی

(شرعه ۶۰مخ)

**دره dara دهره dahrá:**

چاړه، چړوکی.

که دایم په دروغ ووی د ښادی نه که

خولې یې ولی بژه د دهر په درې شوې

(هجری ۲۱۲مخ)

هجری حلق یې د عالم په چوله پرې کړ

د هجران لکه په چاپخې د هری شوې (هجری ۲۱۵مخ)

**یادونه:** د هره د محشی له خوا په (دره= تازیانه) ترجمه شوې خو د حلق و پخ سره دغه کلمه سمون نه لري.

**درینګ dring:**

کلکه زمکه(؟)

دا دی څه وکړ افلاکه چې حسین دی په درینګ وویشت

چې حسین دی په درینګ وویشت دا دی څه وکړه افلاکه

(حسین ۳٦۷ مخ)

**دړ دړ daṛ daṛ:**

ذره ذره، ټوټه ټوټه مجازاً هیڅ.

بیاض لا پریږده دړ دړ یې ځای نشته

که دی بادشاه وي کوز به له تخته شی (بیاض)

**دړونی daṛunáy:** ځاړی.

زرکې کوزې شی وسم ته | په دانه و د دهقان
تغدری لکه دړونی | ځان ځرګند کا په میدان

(خ. قصیدی ۵۹۰مخ)

**د زمکی پیوند:** محوه.

... دمنه ووې: ډیره ښه ده څه چل به کوم چې دا غویی یا د زمکې پیوند شی یا د ملکه ورک شی. (انوار سهیلی ۷۷مخ)

**د سپوږمۍ غول:**

ترنجبین، د څوزو ګوږي.

ترنجبین: پښتانه يې د سپوږمۍ غولی بولي.

(اختیارات بدیعی ۱۷۶مخ)

شیرخشت: بهتر دا دی چې له اوله شیرخشت وخوري چې پښتانه يې د سپوږمۍ غول بولي. (اختیارات بدیعی ۶۲۷مخ)

**د سترګو ستوري:**

د سترګو کسی.

چې میړه نه وی دعوی ښیری په زور کا

بو له بله پرې کوی د سترګو ستوری

(ج. فدوی)

ادکې! وخورې د ګوتو ستوري

د ګوتو ستوري د سترګو ستوري

پرلوړ سهار دې تیار ولم

لکه اجی د مکې پر لوری (انګی ۵۲۲مخ)

**دستکی dastakáy:**

اړیکی، پوړی، د زینې هغه لرګی چې پښه یرې د ختلو له پاره اینښودله کیږي.

... چې سړی له کوټې راکوزیږي نو په اندرپایه را کوزیږي او په یوه یوه دستکی پښه ږدي. (کلید افغان، ګنج پښتو، ۶۱مخ)

**دستور وکتې:**

د بوډۍ کتې، په کهکشان کې کتې وزمه ستوري.

پکې یو سـړی اوده فـــراغــت نشـتـه

جهان درست هسی خالی دستورو کتې دی (سکندر ختـک ۱۹۶ مخ)

**دسه dəsá:**

هرزه بوټی، ځنګلي وابښه چې له پټي ځخه للونیږي. (احتمالاً دا کلمه رسه ده چې دانبوه او ګڼه ګوڼه معنا هم لري. )

| | |
|---|---|
| دهقان لـــږ تخم کــــرلی | لا یې ډیر هنر مکـتـوم دی |
| که په دسه ملک ځنګل شو | للون هم دده رســـــوم دی |

(واصل ۱۲۳ غزل)

**د شتونده dəŝtunda : لړه؟**

د شتونده او په سترګو دود

تیاره راغله غم آلـــــود (پټې ستوري منور شاه ۱۲۵ مخ)

**دغ daǵ:**

خپه، زړه تنګی. ددق پښتو شوی، تلفظ دی.

... یو کال تیر سو، ورورسته د سوداګر زوی دلته دغ سو، فکر یې وکړ چې کوم ځای ته ولاړ سم. (ملی هنداره ۳ ټ ۸۹ مخ)

... دغه ماینه یې دغ سوې ده، د باندې په غلار اوتلی ده.

(م. هـ، ۳ټ – ۹۸ مخ)

... باره یې بادشاه ته وویل چې زه دغ سوم، ځم په سفر، یوه بل ولایت ته. (م. هـ ، ۳ټ ۳ ۰ ۱ مخ)

**دک dək:**

ادې! نرګوسه د خيساره وم | پرده وهلى تره تـرغـره وم
ادې! چې ستا له کوره وتمه | په زړه سترې په دک غره وم

(انګى ٥٥٥ مخ)

**دک درنګلى dak drangaláy:** بيغ نيغ.

... زمرى خو د قهره د ک درنګلى ناست و. دد چې دا خبرې واوريدى وريت پريت شو. (انوار سهيلى ٣٤٤مخ)

**يادونه:** د رنګلى پ. ت. ق د (درمندلرګى) په معنا اخيستى.

**دګ:**

... بغ ګورى چې يوه ورغ يوه باښه او زرکه يې ونيوه او په مزه يې وخوړه او باقي يې پريښوده او لاړه. بغ خيال وکه عجيبه دده زما نه ورکوتى مارغه داسې مزيه داره مرغۍ ونيوه او په مزه يې وخوړه زما دومره دګ دى او زه په چينډه خانو عمر تيروم. (انوار سهيلى ٣٧٦مخ)

**دلور dalūr:**

په وصال د معشوقانو غلط مه شه
له کوهى هميشه کله دلـورخيژى
(پ. س. عبدالصمد ٥٨٨مخ)

**دليه:** دلى، دلته.

... دوى که غواړى څو ورځې دليه واوسى سرداران د تاسو دې راشي. (ت. م. ١٩٥مخ)

**دم dam:**

لړه، دوپ. پ. ت. ق (دمه) د (لړه) په معنا اخیستی ده.

غــــم، ښادي ســــره تړلی

اوړی، ژمی دم په دوم دی (واصل ۱۲۳ غزل)

**یادونه:** د (دوم) په ځـای (دم) لیکل شـوی چې یقـیناً قلمي غلطی ده ځکه چې د نوم، معلوم... په ردیف کې راغلی.

**دم د لاسه:**

حیله، د لاسه، خوږه ژبه.

... خدای پاک تاله بې مثله ښایست درکړی دی، هسې نه چې څوک دریاندې مین شي او په مکر او فریب او دم د لاسه دی زما نه جدا کړي.

(انوار سهیلی ۳۰۱ مخ)

... که دوی په قلاره دا خبره و منله خوښه په ښه، که نه، بیا به بادشاه په دوی د باو وکړي او دوی به بالکل اقرار یان شي. که په دې هم و نه شوه ورسره دم د لاسه شروع کړی، نو به دوی پوره خبرې وکړی.

(انوار سهیلی ۳۵۳ مخ)

**دملین:**

په مژگانو یې جارو هغه د ملین کړه

که دربان درته ښکاره د نور چوپه کړه (گلزار روه گلمیر)

**دنداروdandārū:**

سرطان، د سرطان دانه.

... که تودری په هغه سرطان یعنی دندارو چې خوله یې پورې شوې نه وي کښېږدي. (اختیارات بدیعی ۱۸۷مخ)

**دنده** dandá:

فتنه، جګړه، معامله، کار (محشی).

سره شانتې یې سپينکې توری دندې
نصيحت که چا ته کې نه په لګـــېږي (د مروتو کسرونه ۱۲۰مخ)

**دنګل** (له سره دنګل) dangál: تیریدل.

که هرڅو له سره ما ته دنګل ګران دي
باری روغ هوښيار سړی کـا ابتر مینه (علیخان ۹۷مخ)

لاړ به نه شم زه په خیر ســـتا له بورجله
ما دنګلي په اختـــیار لــه خپله ســــره
(کليد افغانی، بهرام او ګل اندامه ۲۷٤مخ)

**دڼه** daṇá:

بل سره بد کول ځان ســـره ګڼه
عاقبت به دی بوځل وشی دڼه (پټ ستوری، امان اخون ٦۰۷مخ)

له ژوند په مــــــرګ رضـــا یــــم
خوشحاله په قضا یم بند د هجر په قیضایم
وژلو ته غما زانو زما خوری کړې دڼې
(پټ ستوری، سرور بنګښ - ۱٥مخ)

**دوبیر dubir:**

دوبیار، یو ډول بابنه ده.

ځان که زمري لکه دوبیر داسې غــوټی کــوه

ماله د پښتــو او پښتـتنو خـــبرې ښې کـــوه

(اولسی سندرې، ۲ټ ۶۳مخ)

**دوتر، دفتر dawtár, daftár:**

زمکه، جایداد.

حسین د زمکې د ثبت دیوان ته وایی:

اوس به کوم وطن ته کډه د زړه بیایم

چې د وتر مې شو د مینې شیخ ملی (حسین ۴۵۹مخ)

د دفتر په فورم هم راغلی:

جاروانه مې له تانه شــی که مې ســر ځي

که مې سر که مې ټول مال که مې دفتر ځی (بیاض)

**دورته dór-ta:**

۱ – هله، هغه وخت، ۲ – هلته، په هغه ځای کې.

ننوځې چې ځـو ک کـورته  بســم الله دې وایی دورته

چې وزی هـــم دې ووایی  که شیطان کور ته نه بیایی

(شرعه ۴۸مخ)

مسافر چې راشی کـــورته  په خندا دې عالم دورته

خوا په خواورغاړې ووزي  کادی تاب د مهر مـزی

(شرعه ۵۳مخ)

چې څه وست له ښاره کـورته | مومن راوړی نور دی دوړ ته
اول ښـځې کـا پر ښـادې | داپه زړه تـرې نامـرادې
(شرعه ۱٤۸مخ)

... چې بیا وهندیه ته راغی دور ته شهـرت وشو چې...
(ت. م ۱٥۱مخ)

... نور بایزید له هغې ځایه و ننگرهار ته راغی، په مهمند کې یې له ملک سلطان کره قرار او مسکن ونیو یو مدت یې دور ته تیر کړ.
(ت. م ۲۳۸مخ)

**د ورځې ښبتن:**

نیکمرغه، بختور.

چې مې ویارکوی مدام د یار په مخ کې
رقیب هیڅکله د ورځې ښبتن نه شو (حسین -۱۸۸مخ)

**دورغږول:**

د برم او پرتم نغارې وهل، د دبدبې ډمامې وهل. د (دور ډمامه وهل) هم ویل شوی دی. (نوبت غږول وگورئ)

بادشاه دورغږاوه بیا په تخت کښیناست
خلقه په مبارک ورته گـویا شـوه
بادشاه دور ښـادې نامې وغـږولی
چې خبر شو په دا حـال زمـا دلـبره (کلید، بهرام، ۲۸۷مخ)

مرد و زن، عرب عجم ستا ثنا خوان دی

په هر ملک کې ستا د دوړ د مـــامه ده (عبدالعظیم رانیزی)

**دوړ dur، دوړه durá:**

حمله، برید، یرغل.

... سلطان سکندر، محمد خان له څو امرګانانو سره په بهار کې پرینبن... او خپله بې په لور د ترهت (ځای دی) دوړ وکړ. (ت. م ٧٤مخ)

... پس بله وړځ (فرید خان) په مفسدانو او سرکښانو دوړو کړ، واړه بې تار په تار پراګنده کړل. (ت. م ٦ - ١مخ)

... پس له یوې میاشتې خان علیین مکان پخپله سور شو چې د کمالزیو په مال او بدرقه دوړ وکا. (ت. م ٢٨٦مخ)

هرځای دوړ د مذکر په فورم دی خو دلته د مونث په فورم هم راغلی چې په فارسی شرحه کې (بطریق یلغار) ورته لیکل شوی دی.

... او خضر خان چې له ښو مقربانو د سلطان فیروز شادو، حکومت بې د ډهلی او هندوستان ورته تفویض کړ او خود په طرف د سمرقند چې ځای د تخت او سلطنت و په لاری د کابل په طریقه د دوړې متوجه شو.

(ت. م. ٥٦مخ)

**دوړه dúra:**

اوړد، پیاځې، د غنمو، جوارو او اوربشو میده. دا یې مجازی معنا ده، حقیقی معنا یې (ګرد، غبار) ده. پ. ت. ق د لومړی دوړه (ګرد و غبار) د معنا جز نه، بلکی د دویم دوړه د (دروغ، لا په، باته...) د معنا

جز اخیستی چې دا سمه معنا نه دده.

... دی هم ناعاقبت اندیش چې هغه پخوانی صحبت یې لیدلی و بې فکره ورغی چې هرڅه سره د سرکار وماته خو نیم سیره دوړه راکوي.

(ت. م. ۴۴۲مخ)

**دوړی:**

سره دې لبان، ســـور دې پېزوان په سرو شـــونډو زرین

په در مــرجـــانو جـــرا

سره دې نتکی، سره دې دوړی، سره دې سرکی په جبین

سر نیک دې گل کړی خندا

(اولسی سندرې ۲ټ، ۱۸۴مخ)

**دوښخیdúṣxé:**

له نری ملا نه ښکته د بدن برخه. پ. ت. ق د (لینگتی د انسان دوه لینگتی) په معنا اخیستی.

... لنده یې دا چې توره یې ورسره لښته کړه، کرم خان یې په دغه نری ملاوواهه توره یې هیسته تری ولویده، نوربدن یې لاندی ولویدئ، دوښخی یې پرآس پاتی سولئ. آس تورو خوړ د کرم خان د وښخی وربانډې د کلا پر خوا یې الا کړه، شاترینی پرې ناره وکړه:

کـــرمخـــانه! ته شــــپانه غیلی د پولی

دوه ښخی دی اوس کرنگ په کوپی یووړې (م.هـ ۸۳مخ)

... خوشکیار دا خپل نقل تهوله آدم خان ته وکئ چې کرم خان مې

مړ کئ، د وښخي يې آس کورته ور وړئ... دوی نو پرېږده دلته د کرمخان د وښخي څه سوی، هلته د کرمخان آس ورغی، د وښخي پرباندې وی نور تن يې نشته. (ملي هنداره ٨٤- ٨٥مخونه)

... دوهم يې کرم خان پردی پيير کړی دی چې د وښخي دا دی تن يې نسته. (م. هـ ٨٨مخ)

**يادونه:** د وښځي چاپ شوی چې سم نه دی.

**دوکانچه dūkānčá:**

چوتره، صفه.

دوکـــانچی يې يکـــې ولـــيدې يارانو
پرې د پاســـه عجب ايښـــی و تخـتونه

(کليد- بهرام او گل اندامه ٢٥٨ مخ)

**دوله dulá:**

رنځ مې بيا مونده يارانو ځی سيلاب مې له چشمانو
بل اخته کـــړم رقيـــبانو په فساد او په دولـــه کې

(عبدالعظيم رانيزی)

**دوم dum:**

يخ، ساړه، برودت. (دومی) د (زکام) په معنا نسبتی کلمه ده چې په کلاسيکو متونو کې زښته ډيره راغلی ده.

غـــم، ښـــادی ســـره تـــړلی
اوړی، ژمـــی، دم په دوم دی (واصل ١٢٣ غزل)

**یادونه:** (دم) لیکل شوی چې یقیناً قلمي غلطي ده ځکه چې د (نوم، معلوم...) په ردیف راغلي دي.

**دومار:**

بیوسواسه به بازي ورځني یوسي
که دې وران که د رقیب دومار غلط (حسین ۲۳۳مخ)

نمیر او ګهاته ګوري
هرچا سره چې شوري
دولت له خلکو اخلي، لتوي چیرې دومار
دیر تنګ شو زمیندار (اولسي سندرې، ۱ ټ ۱۸۲مخ)

**دومه duma:**

جــــدایـــي ځنی دره د یار دومـــــه کـــړه
که هر څـــو دی شـــي اندوه په زړه افـــزود

(پټ ستوری، صدق ۱ - ٦مخ)

**دومي dúmay:**

لومه، د دام یوه کړۍ. پ. ت. ق (دومه) اخیستی.

... خــــدري (د ظریف خــــان ترد) فکر وکړ چې دا دومي هم ونه چسپیدې، اوس نو چورت وهي چې په څه چم ظریف خان مړ کي.

(ملي هنداره ٤٩مخ)

... پادشاه فکر وکړ چې دا دومي هم و نه چسپیدې.

(ملي هنداره ٦٥مخ)

... دلی فکر وکئ چې دا دومره عمر دې غلا وکړه ، وکړه ، ته نه خدای د کور کړې او نه د ځای، راسه د پاچا د لور کلاته په یوه چم ولویږم گوندی دا دومې دې وچلیږي. (م. هـ. ۱۰۳ مخ)

**دواگه:**

د پسرلی له سیله راغلـــه
د دواگو امیل یې لگی په ورنونه (پښتو لنډۍ ۱۸۷ مخ)
د سینې جرق مې ورله ورکړو
د دواگو مې ورله ویستو کوشیرونه (پښتو لنډۍ ۲۱۰ مخ)

**دویا:**

مکار ، تګ ، فریبکار.

تیښته مهرویان کا د اشرافو له مجلسه
خوښ دی په دویا او په سیري او د سوندي (علیخان ۱۲۳ مخ)

**دهتوره dahtūrá:**

یو طبی زهری بوټی دی چې پ. ت. ق په لسو لیکدودونو اخیستی چې د هر یو پای توره دی. فارسی قاموسونو مثلاً « فرهنگ فارسی عمید » د « تاتورد ، دا تورد ، تاتوله » په لیک دودنو اخیستی او فکر کوی چې د « داتوره » لفظ له فرانسوی څخه راغلی دی.

په پښتو زرو متونو کې د (دهتوره) کلمه لا هغه وخت ثبت وه چې زموږ هیوادونو ته لا د غربی اصطلاحاتو نیز (سیلاب) نه و راغلی چې وروسته یې مثال وړاندې کیږی. ضمناً لا تینی نوم یې

« datura metel » دی او د ابوریحان د صیدنې په قول یې عربي نوم (منج -Munj) دي. ضمناً باید وویل شی چې د البیرونی د کلمې معیاری لیک دود باید (داتوره) ونیول شی ځکه چې د نورو یادو شویو ژبو د لیک دود سره هم سمون لری. دهتوره یو ځای داسې راغلی:

دهتوره، گرمې اوبه واخله دا دواړه

د سري میتیازی گډې کړه په دواړه (بازنامه . ۷مخ)

**دهرم dharám:**

د هندوانو معبد، درمسال، هندي کلمه ده.

مصلا، زنبیل یونه دي ویال مه غواړه په دهرم (واصل . ۱۲غزل)

**دهره dahára:**

چې په میاشت شی لکه میاشت یوه دهره

ده د زره دغـــورو دُرهـــغـــه خـبره (شاه او گدا ۴۷مخ)

**دهیان dahyán:**

معامله، بیع و شرا.

د شیخ چلی په قصه کې:

له بازاره به پیـرم وړ یـاوي او کـه گـــران

که چیری سود، سودا وی په هغه به مې دهیان

نامـــوال ســـوداگـــر به زه یاد بړم په جهـــان

اوس به پیرم چـــر گه چې هگـــی وی بیشـــماره

(اولسی سندری، ۱ ټ، ۴۹۴ مخ)

**دیس des:**

۱ – وطن، هیواد، ۲ – کلی، قریه. ایتیمولوژیک اساس یې د فارسی له (ده) سره یوی دی. د (ده – لس، کهتر – کسر (کشر)، مهتر، مسر (مشر)...) په څیر د (ده) او (دیس) ترمنځه غبریز بدلون راغلی دی. د دیس (س) غږ بیا د (ش) په غږ هم خصوصاً په هندی ژبو کې اوښتی دی، لکه په (بنگله دیش، او تراپردیش) او همداسې نورو کې چې د پښتو په (دیشین= وطنی) کلمه کې هم دغه بدلون لیدل کیږی.

حمید د هجرت په باب یو ځای وایی:

په وطـــن کې که و دین ته — نقصـان رسـی یا آئین ته
هـم دی ووزي لـه وطــنه — که یې وي په دیـن وتــنه
زړه دې لــوی کـا لـه دیار — دین دې وسـاتی لـه ویاره
چې دیندارو دې دین ژغـړي — دی یې دیس اواره کـــړي

(شرعه ۸۲مخ)

د حاکم د عدل په باب وایی:

په خاطر دې د کـــمزوري — زورور په عـــدل زوري
وره کــوي دې یې ترمــنځ — په ډیر عـــدل، گیـله، رنځ
په جـــارو دی د انصـــاف — دیس، دیار لري خپل صاف

(شرعه ۱۸٦مخ)

ورک بیاض شه — ورک یې نوم شه — ورک یې دیس شه
مرور شه دی هرگز دی پخـــلا نه شی — (بیاض)

**دیسړه desáṛa:**

سهیلی، خدمتګارډ، وینځه.

زړه ورسره ګډ ســـو د دیسـړی سـراسـیا
خوانچه یې ورته راوړه زر ترمخ د بهرام شاد

(ولسی سندری، ۱ټ، د بهرام او ګل اندامی قصه ۲۸۶مخ)

**دیشین desín:**

۱ – کلیوال، په یوه سیمه کې دایمی میشته، د کوچی ضد، هغه څوک چې د کوچ او لیږد ژوند نه لري. ۲ – وطنی، د وطن، دیسی.

| | |
|---|---|
| یو لعنت په افریدی شـــه | سـل لعنت یې په دیشـین |
| آفریدی لا څـه رنګ دی | دیشین لا دی تری بدبین |

(خ. متفرقه ۸۸۶مخ)

**دیکړه dikáṛa:**

دیکه، تیل وهنه.

په تګی یې د کـــوهی غاړی ته بوزی
ناګـــهانه ورته ورکـانـدی دیکـــړه
سر دلاندې یې کوهی ته ورګـوزار ک
چې یې وخیژي د سر د مینځ کـــوسړه

(پټ ستوری، شاه نظرخان ۳۰۳مخ)

**دیګران digáran:**

کـر، خـوړ غـړی مـرغـه دی (مـحـشـی). زمـا په نظر «دیګران» او

«ډګر» چې د رحمان بابا په شعر کې راغلی دی د یوه مرغه دوه بیل بیل نومونه دي چې لهجوي توپیر لري. دا یو خوړ غبرې مرغه دی چې په خواره غبر له ځانه ګرد چاپیره چونګښې راټولې کړي او بیا هغه وخوري.

دام د مکر جوړ کړ دیګران ځان یې خوار کړ

آفرین پر تا سه ته چې ځان سیزي ققنسه (رحمت داوی)

لکه ټګ او دغه بازوی په مرغانو کې ډګر (رحمان بابا ۶۱مخ)

**دیوان diwán:**

ګډی، ټول (محشی).

ښوی کولکان ګرځی لکه زنانه

څنګه سوی ګارد د مړو دیوانه (انګی ۳۵۵ مخ)

**دیوسه diwasá:**

وربوی، د کور او کلی وره ته څیرمه زمکه. پ. ت. ق (دیوسه = د منګی (جوسه)، هغه ځای چې د کور لوښی لکه پیالې، کاسې او نور پکې ایښودل کیږی) اخیستی دی. د دواړو اصل یو دی.

اچـوخیلو پته (فتح) راوړه زړه مې ښه دی

جنګ یې کړی سلطـان خیلو په دیوسه دی

(د مرو تو کسرونه ۸۵مخ)

ارښه (نوم دی) دغې فتحې مرغ دې ښه سود

چې روغ راغلـی د بیتهنیو له دیوسه (کسرونه ۱۱۰مخ)

# ډ ḍ

**ډاک څوکی:**

د رباط پوسته رسوونکی، هغه پوسته رسوونکی چې له یوه رباطه به تر بل رباطه پورې په خبرو لو مؤظف و.

... په دامیان کې ډاک څوکی له پنجابه راغی او خبر یې راووړ چې همایون په تسخیر د هندوستان له سیند د نیلاب راپوری شو.

(ت. م. ۱۸٤مخ)

**ډالل ḍālaî:**

د ډال په توګه په کار اچول؟ خنډ کول؟ محشي د پریکول په معنا اخیستی دی.

په لار کې لوی شیرون شپنو ډاللی
یو ګـایی د پیغـلی ښـه دی
نه تمامه شپه په لنګه څـرېدلی (فولکلوری سوغات ٥٦مخ)

**ډب واخ daḅoax:**

١- وهل، ټکول. ٢- تشـویش، اندیښنه. په لومړی مـعنا پ. ت. ق اخیستی دویمه معنا مجازی ده.

بـاید ته ای حـلیمـې عـزم وکـړی د مکـې
سی به ستا روزی پراخـه خلاص به سی له ډب واخه
(یافوت السیر ٤٢مخ)

**ډچ daĉ:**

ډچکه، ډچه، زور او قوت.

د ارمان اوښی به توې په سپین ګریوان کړې
که خـبر شی د مـرګـی لـه بده ډچـه (التاړ ١٣٦مخ)

**ډچکه dáĉka:**

ډیچه، ترپکې، مست ټوپونه.

بل دی ګـور له جـنازه تیـزه وړی په انـدازه
نه په ډچکی نه په څغـاست مرده راست وې که نا راست
(شرعه ٢٢٤مخ)

**ډډون daḍún:**

١- ګوګوالی، د منځ تشوالی، ٢- نقصان، زیان.

په لومړۍ معنا پ. ت. ق اخیستي دي، دویمه معنا یې مجازي ده.

د پردو ښځو ګـــډون پیښـــوي دیـــن ته ډېون
که څوک حیر د ځان غواړي دی له ښځو خپسر نغ اړی
(شرعه ۱۵۸مخ)

**ډډی daḍáy:**

تقریباً سل کړناله زمکه (محشي)، د زمکې د ساحې یو اندازه ده:

ډیر خلک یې خوارکه، په ډډی یې کنکار (خاص نوم) کړ
المرکه ښه کولی ده ډډی یې مه کوای (د مروتو کسرونه ۷۴مخ)

**ډزن ḍazán:**

لاپو، دروغژن، ډوزن.

هر آشنا چې دروغجـــن شي مـــه یې وینه
چې ښه ځوان په خوله ډزن شي مه یې وینه
(پښتوري میا خادم ۲۲۵مخ)

**یادونه:** د زن لیکل شوی چې قلمي تیروتنه به وي.

**ډغ کښیناستل** (په ډغ کښیناستل):

خپه کیدل، خپګان، کول. د کلمې اصالت ښایی (د ق د دال په زبر=
دوک، مړهمی، لویه مړهي، تاخون، افغان قاموس) وي چې په تدریج
سره ډغ تري جوړ شوی دی

... مګر دا مې ژړوي چې ته په کلا کې یوازې یې، هلکان درڅخه
ولاړ سي، ساعت په یوه او بله تیروې، ته په ډغ ناسته یې.
ملي هنداره -۳پ- ۲۴مخ)

... ماښام چې هلکان کور ته راغله خور يې ورته وايي تاسې په ښکار پسې ولاړئ ئی زه يوازې ډ غ ناسته يم.    (م. هـ، ۳ټ، ۲۵مخ)

**ډکه daká:**

د پيريانو حمله، د پيري نيونه، غوټه. پ. ت. ق اخيستی دی.

... حضرت شيخ رحمکار په حالت د طفوليت ډيره ژړا کوله او مشفقه مور يې په دا سبب ډيره محزونه او مضمومه وه چې مبادا تاثير د جن، د پيري وي. شيخ بهادر په حال ددې واقف شو، دې ته يې ووې چې په حق ددې کودک انديښنه او گومان د ډکې مه کړه. (ت. م. ۵۷۵مخ)

**ډگلی daglә́y:**

په سپين ميدان. لفظی تاکيد ښکاری.

... زما مرگ تاته روا ښکاری او زه خپل ځنکندن په ډاگه ډگلی وينم نو بيا به په څه جوړ تاته در نزدې شم.    (انوار سهيلی ۳۲۸مخ)

**ډگوسه dagosá:**

په بغـــری دوه کـــانې پـــراته دی

ميرافضل تللی ډگوسی ورته راوړينه (پښتو لنډۍ ۵۲مخ)

**ډليال dalyál:**

د ډلی، ملگری، په ډله کې يو ځای شوی.

تل جرس درته واهه د کوچ ډليال شی

پر ديســانو زلمـو وتړئ بـــارونه (رحمان بابا ۱۷۵مخ)

**ډمبرگل ḍambar gwál:**

جعفری گل. پ. ت. ق «ډمبرگلی» اخیستی دی. فارسي قاموسونو مثلاً «فرهنگ عمید» (همیشه بهار) ثبت کړی چې د جعفری گل او ډمبرگل سره سمون لري.

په عربي طبي کتابونو کې د آذریون په نامه یاد شوی دی. لاتیني نوم یې «calendula officinalis» دی، په روسي ژبه یې «نوکوتکی» بولي.

(د ابوریحان البیروني د صیدنی روسي ترجمه ۱۶۹مخ)

«دا یو گل دی چې رنگ یې زیړ، بوټی یې تیتیکی، پاڼې یې اوږدې او پریړې دی په ټول دوبی کې گلان کوي د ژمي په موسم کې هم شین وي او له یوه کال نه یې بوټی بل کال ته پاتې کیږي چې په دویم کال هم گلان کوي.» (فرهنگ عمید)

گل د گلاب چې پکې نه وي
د ډمبر گلو ډنډر ښله تاوومه (پښتو لنډۍ ۳۹٤مخ)

راغله لیلی راغله گرځیده په ډمبرگلو کې
باغ یې کړ تالا کشمالي وړی په منگولو کې

(اولسي سندرې، ۱ ټ ۲۲٦مخ)

**ډنډه لړل:**

ځنجال جوړول.

... دد به ژړل او ناري به یې وهلې، دریغه دا زوی مې هڅو شوی نه

وای او نه زما ورسره دومره مینه پیدا شوې ده ای. داځه ډنډه مې ولړله، د خپل کور څوکیدار او تابع دار مې بې ګناه مړ که.

(انوار سهیلی ۲۸۹مخ)

... او ورته یې ووې اې زما د زړه سره مو چې زه او ته د جدایی په اور کباب کړو او دا دومره ډنډه هغه بد ذات ولړله. (انوار ۴۳۲مخ)

**ډنډیا:**

په ستم عاشقـــان وژنی روهیــله یې
چې پرونی دې سالو، قمیص ډنډیا کا (هجری، ۱۰مخ)

**ډنګ dang:**

ډول. پ. ت. ق د (داریا، چمبه) په معنا اخیستی خو داریا په غاړه کې نه اخیستل کیږی بلکه ډول په غاړه کې اچول او اخیستل کیږی.

د دنیا په کــې څــه ســود و        که د دین پکې مقصـــــود و
چې یې واخیست ډنګ په غاړه        تولـه چـــار یې کـــړه لـتاړه

(فراقنامه ۶۱مخ)

**ډنګر dangár:**

په ختیځه لهجه کې څاروی ته وایی.

چې د خولې اسره یې نه وي په خبره
په .... ن هغه سړی دی د ډنګـــرو (بیاض)
چې نه مـهـــر محبت لري نه مـالګــه
سپین ډنګر دی په خوبانو حساب نه وی (علیخان)

**ډوډا :dodā**

ډوډ، نیلوفر. پ. ت. ق «ډوډ» د (نیلوفر) په معنا اخیستی او (ډوډا) یې د (۱– یو ډول اغزن بوټی دی چې په سر کې یې یوه اغزنه غوزه وي. ۲– د کوکنارو غوزه) په معنا اخیستی، خو دلته د اوبو سره له ارتباطه څرګندده چې دا نیلوفر دی. ډوډا (اغزن بوټی) په فارسي (خسک، خارخسک) بولي.

چې له شرمه دې ډوډا په اوبو پټ شو
ځکه زه شوم ستا د زني په غدير بند (د پښتو غزل، خادم)

**ډور :dor**

تناو، طناب. پ. ت. ق په (دګازي(؟) جال) تشریح کړی دی.

... خالد یوه جماعت ته د ابطالو له عربو وفرمایل چې خپل ځانونه په هر شان چې توانیبری ورسوی او ډورونه د زنګونو دې پریکا چې په هاتیانو پورې دي چې آواز او هیبت د هاتیانو کم شي... ځینو ځوانانو په ډیر زحمت ځانونه وررسول او طنابونه یې پرې کړل. (ت. م. ٤۹ مخ)

د هر چا په غاړه ډور د نصیب وینم
په ستم یې هورې بیایي چې یې خورد وي (هجری ۵۲۸ مخ)

**ډور :dwar**

ساده، بیرا، کم عقل.

ارزانی! پته خبره پسو پته دده له ډوره (ارزانی ق. ن)

**ډورۍ duráy:**

قبر، لحد. پ. ت. ق اخیستی دی.

لوره! تهوپک دې پرلاس چپـــــــه ســــه
گـــــولی یې زمـــــا پربدن مـــــړه سـه
ادې مـــې خـــــلاصـــه لـــــه بیلتـــانه ســـه
لالک مـــــې خـــلاص له لویه مـــزله سـه
مـــین مـــې گـــړد په ډورۍ اخـــتـــه ســه

(انگۍ ۴۸۹ مخ)

**ډوریا dūryá:**

یو ډول ښځینه تهوکر دی. پ. ت. ق اخیستی دی.

ډوریا ښـــه ده بده نـــه ده
ما د ډوریا کمیس کاوه روغه به ومه (پښتو لنډۍ ۲۴۲ مخ)

جامې به درته وکړم سپین پرتوگ د کوته چاپ
کمیس گنډو د گوټې، یو صندوف بل چړی چاپ
زړوکی د ډوریا به درته تور کـــړم په رنگـــــریز
اوربل دې که راخور ښه په سپین مخ لکه اوریځ

(اولسی سندرې، ۲ټ،۱۴۳ مخ)

**یادونه:** په لنډۍ کی «ډوایا» چاپ شوی چې یقیناً سم نه دی.

**ډولنگه doglánga:**

خوږ، روږ، مانده، وگی (محشی).

آدجندی (ځنی) سپرو و پریستلی ډولنګی ته

(د مروتو کسرونه ۸۲مخ)

**ډونګه:**

د ګـــردو خـــونو ســـپـــینی پردې
په پلاس خـــونی دې ښـــایســـتی
پنځـــه جګونه دی د ښـــیـــښی
څلور د خـــاورو اصـــیلی ډونګې

(انګی ۴۲۵مخ)

**ډیډی dedé:**

د سرو زرو یو ډول والی دی. (پ. ت. ق)

مالیدلی نه وه صفت یې نور کـــوی
چې د سرو زرو ډیډی به یې په غوږوی (د مروتو کسرونه ۶۵مخ)

**ډینګ ډینګ:**

دبدبه، برم، شوکت.

دا جفـــا به ددې هلـه دربښـــکاره شی
چې راولویږی د عمر له ډینګ ډینګه (عبدالعظیم رانیزی)

**ډینګلی dinglaý:**

ډونګله، ډینګری، ډنګله. د کوهی نه د اوبو ویستلو اوږد افقی لرګی چې په بوه سر کې یې درندې تیږې تړل شوې وي او په بل سر کې یې سلواغه وي. پ. ت. ق «ډونګله» په همدغه معنا مفصلاً اخیستی، خو

« ډنگلی » ته یې « د شاه اړم ، د کوهی اړم » لیکلی چې معنا یې څرگنده نه ده . په متن کې د « دنگلی » په لیک دود ثبت ده خو له دې کبله چې تلفظ یې په څرگنده « ی » دی ما د « ډینگلی » په لیک دود ونیوله.

مطلب انگریز تر سر که تاوان یې مفـــــرکـــه
اته انی تاوان یې په دنگلی (ډینگلی) کړو زما وروره
قصې ته مخکـې گـوره
نورلـــس انی چـــټ پټ کـنال شـــو د اهـــټ
(۱.ل - سندري ،۱ټ ،۱۸۲مخ)

**ډینگری** dingrə́y:

ډینگله، د کوهی نه د اوبو د ایستلو لرگی. و گ: ډینگلی.

د وچی ته کنبینه برجه (؟) ورکـه
زه په ډینگری اوبه له څاه راخیژومه (پښتو لنډۍ ۲۳۲مخ)

# ر-R

**راسو rāsú:**

موش خورما. (دغه معنا په متن کې خپله مترجم ورکړې ده) په اردو یې هم نیولا او راسو بولي.

... کوني چا چو (چونګابن) ورته ووې چې دلته یو راسو راته معلوم دی (راسو یو قسم موږک دی چې هغه ته خورما موږک هم وایي) چې ډېر طاقتور او خونخوار دی. یو څو ماهیان ونیسه د راسو او د مار د سوړې ترمینځ یې ځای په ځای کړه. راسو چې په دې ماهیانو راشي... راسو خو په دې ماهیانو آموخته شوی و...

(انوار سهیلي ۱۲۰-۱۲۱مخونه)

**راضیمن rāzimán:**

راضی، خوښ. پ. ت. ق اخیستی. (راضی) عربی کلمه ده چې خپله صفت دی او (من) دلته او په (ښادمن) او (روغمن) کې زاید وروستاړی دی چې د کومې خاصې معنا افاده نه کوي.

چې جهان ناسازې کاندې درست جهان کالاندی باندې

چې ازار ئنی نیکان وي راضی من ئنی بدان وي

(فراقنامه ٦٦مخ)

ځوک په چالره په داد او په فریاد ځی

چې په ظلم راضیمن شول بادشاهان (خ. قصیدی)

که یې زړه نه وی د خپلې رسوایې

راضیمن به په فساد نه شی سړی (خ، متفرقه ۸۷۸مخ)

**راویل rāwél:**

رامبیل، رمبیل، رابیل، یو گل دی. پ. ت. ق (رامبیل ) اخیستی دی. په عربی یې (یاسمین) بولی (راویل) یې هغه دی چې زیړ گلان کوی او د «چمبیل» گلان یې سپین وي.

دلته د «رابیل» کلمې سره د «ب+و» د غږونو بدلون راغلی دی.

گلرنگه په مسند د گلو کښیناسته سمباله

هرگل یې د گل مخ په تماشه زیرو زبر شو

گل گینی سویلی گل ته نه گوری له خیاله

گلاب گل، راویل یې د گل مخ ته خاکستر شو

د گلو په بوستـــان چې رابنکاره سـرو قـامت شـو
گـلاب، راویل، چامبـیل یې د گل مـخـه شـول تـ اـ،
هم ســـرو صنوبر یې د قـ. امت یه اقـــامـ ســـو
پیـدا ددي له نوره شـول پیـدا آفـتـاب مـهـتـاب

(اولسی سندرې - ۲ټ ، ۱۸٦ - ۱۸۷ مخونه)

**ربړل rabṛə́l:**

ربړول، کړول، زورول.

عــــاقــــبت به هر بادشـــــاه په ایرو پر یوزی
کــــه ملنگ وي په ســـــپـــــــرو ایرو لړلی
په مـــا نوم د بادشـــــهــــیـــــې مـــه وای پورې
خــوشــامــد مـــې مـــه کــړای چا، تل یې ربړلی

(عبدالقادر ختک ۲۵۲ مخ).

**یادونه:** دغه بیت د دیوان په ٤٨٧ مخ کې تکرار راغلی دی.

**رپندی:**

پیوی وریښمین، ځـــونډی دانـی راوړه

د سرو لښتې اورپندی راته تیار راوړه

د غاړې هــــار راوړه اوس لـــه بازاره

(اولسی سندرې . ۲ ټ، ۱۳۷ مخ)

**رټ raṭ:**

وت، سوری (محشی).

توري کيږدی ښې دي رټ لرينه

چـتـه (پـه) کـــــې بنـدی ده

داپخې کوټې دي خدای ونړوينه (فولکلوري سوغات ٦١مخ)

**رټ پټ:**

که مې زړه د آشنا سترګو رټ پټ يووړ

وړی باز په پنجه وتراشی ښــکارونه (حسين ٣٦٤مخ)

... نو دی ظالم له راغی او ورته يې نصيحت شروع کړ... دی ظالم په ځـای ددې چې دا نيک نصيـحت منلی وای التـهای په ده راستـون شـو او ډيرې رټې پټې يې ورته وويلې. (انوار سهيلی ٣٦٩مخ)

**رخه:** (و ګ: د روخه کلمه)

**رژون razún ، ريژون reźawán:**

ريژندنه، رژيدنه، تـوييدنه. پ. ت. ق (رژون= رژونه) او (ريژون= ريژونه، ميده کول، تويونه) اخيستی چې د متعدی فعل د مصدر حاصل يې ګـټلی دی حـال دا چې دا د (پاځـون- پاځـيـدنه، ګـډون= ګـډيدينه، سمـون= سميدنه...) په څير د لازمی فـعل حاصل مصـدر دی، ندرتاً او ډير لږ د متعدی فعل معنا لري.

چې هر لـــــوښی بمافيه کا رژون پوه شه فقيه (شرعه ٩٦مخ)

پتنګان په پټه خـــوله به ځـان سيځينه

شمعه ورو ورو وايی د زړه وينی رژون ښه

(د پښتو غزل، قاسم علی اپريدی)

په دا شان له دنیا ځی ازار ګټلی

لکه پاڼی د خزان چې کــا ریژون (لتاړ ۱۱۰مخ)

بې غمه د اوښکو ریژون نه کیږی له سترګو

ژاړی هغه خلق چې لری خار په چشـــمانو (لتاړ ۱۸۰مخ)

له بیو دی د ګریوان د پاســه څــاځی

که دا اوښــې دی ریژون په غــم د چاکړي (لتاړ ۱۸۸مخ)

دریژون ویره کـــوه عبدالـــقــادره

ورځ په ورځ پژمرده کیږی ـ شباب ګل (عبدالقادر ختیک ۹۱مخ)

عندلیب ناري وهی چې ســـیل کانیٔ

بهار درومی ، ریژیدون کا وار په وار ګل

(عبدالقادرختیک ۲۲٤مخ)

دُر ، ګوهر به یې له لعلو ریژیدون کړ

چې ګویا به په کلام باصواب شــو (عبدالقادر ختیک ۳٤٤مخ)

**یادونه:** د شرعه په بیت کې د (متعدی فعل) معنا لری.

**رسته rastá:**

صف ، کتار. پ. ت. ق اخیستی دی.

په هر غولی چې رسته وي څو دلبرې

ترجنت یې زیب هزار ځــله تیری دی(هجری)

**رسد rasád:**

۱ - دسترس ، ۲ - وررسیدل.

عمارت د بیجا پور واړه عالي دي
ولې ما سره نژدې يو ده ماڼۍ ده
هوموره هسکه ده له زمکې ته به وايي
په ګردون يې پيوسته لويه څرۍ ده
پاس په سر يې رسد د هيچا نشته
په ويل زړه غوغوی خور د قمرۍ ده
زه په نيت د کتو پاڅيدم کتل مې
چې په کوم لوري يې اينبي پهوري ده

(هجری ۲٤۵مخ)

چې رسد بې ترغليمه پورې وشو
نوري نه وه انديښنه له پيش و پسه (عليخان ٦١مخ)

**رشپيل raśpél:**

ډډګۍ، راشپيل، راشبيل، د لرګي يوم، د لرګي نه جوړه شوې يوم ډوله آله چې د غلې درشې په بادولو او ټولولو، همدارنګه دواورو په ياکولو کې تري کار اخيستل کيږي. د کلمې اصل له دوو کلمو (راشه-بيل) يعنی د «راشه» – «يوم» ښکاري خو په راتلونکو بيتونو کې د (چارۍ، يوم) مطلب ترې څرګنديږي، ځکه چې په راشپيل باندې خاورې نه پورته کيږي چې لرګي يې دومره کلک نه دي.

| | |
|---|---|
| په مرده باندې چې خاورې | اړوي هغه څوک اوري |
| په رشپيل دې اول ځله | بسم الله کاندي په ځله |

دویم ځل باندې دابنایی چې الملک للّـه ووایی
په شپېړم رشپـیل دی آد کـاالرحمـــــةللّه
(شرعه ۲-۲۲۹ مخونه)

**رشت** ras̆t:

هم دی کا مسواک هـر کس ترخوب وړاندې تر خوب پس
بستر بویه د خـوب درشـت که په دین کې غـواړې رشت
(شرعه ۷٤مخ)

وایی راغـی په عـمـــر یو میلـمه د فیض نمـــر
ورته پاځــــیده لــه ورایه په تعظیم تکریم نیک رایه
وکړه چـا ځنی پوښـــتنه په دا څــه د دین څښتـــنه
ده وې دی ما دا پســـندلی له حضـــرتــه اوریدلی
چې پـاڅی پنبـی رشـــتی و میلمه ته فـــرشـــتی
(شرعه ۱۲۲مخ)

د نبی په نام نومړی دې څوک نه بولی سپین سپړی
هم په نام د فرشتی ورکـــا در نـــور ورشـــتی
(شرعه ۱٤٦مخ)

**رغزی** ragzáy:

راغه، دښته، په ننګرهار کې متداوله ده.

ګل ورین لکه حمزه چې باغونه کړی رغزي
خو دا دئ کمال د فن، هم ګلونه هم اغـــزي (غزونی ۳۱۹مخ)

**رکښه ráksa:**

علامه، نخښه، پ. ت. ق اخیستی. په لویدیځه لهجه کې متداوله کلمه ده، خو په ختیځه لهجه کې نا آشنا ده.

ده نـــور دابنی یـووړلـــــه
دې جهـــود ته وســـــپارله
قتاده (نوم) نور واخیستئ پې
د اوړو په رکـــــــښــه تئ
څو چې ولاړ دا یې ولـــور ته
د زید نام جهود وکـــــورته (یاقوت السیر - ۳۹۱مخ)

**رکوبی rakobáy:**

د دوستی ننه رښتی دی رکوبی ستا
که ته سپی د یار د دریې زه یم سپی ستا (شاه او گدا ۹۱مخ)

**رکیا:**

د زقـــوم بادشـــاه هاله عـــقل تغـــیـــرو
چې یې خــــوا لره بیــــړی وروړه په تړه
د ســـرور شـــرم رکـــیـــا شـــو خـــدای یې مل و
رنگارنگ کـــافـــر یې وياســـتـــه له گـــړه

(د زقوم قصه ۲٤مخ)

**رکیبونه نالول:**

عیش او عشرت کول، مزې، چړچې کول.

ما ویل زه به د مغول په نوکری کې

رکیبونه کړم د سرو دســـپینو نال

په ناحق یې زنځیرونه را پښو کړل

واده واده هسې نوازش هسې امــال (خ، قصیدی)

**رگړه ragára:**

کینه، بغض، حسد. پ. ت. ق د «رگ» د «نظر، فکر» په معنا اخیستی دی. د «ړ» د سوفیکس په زیاتیدو سره یې پورتنۍ معنا پیدا کړې.

که ته نه کوې له چا سره جگړه

بل به هم نه کا تا سره رگــړه (مطیع الله پیره خیل، ۱۴۸مخ)

**یادونه:** مطیع الله پیره خیل هرځای د «جگړه» کلمه د «گ» په زوره کی استعمال کړې نه په سکون.

**رمیدل rameddə́l:**

څریدل. ترهیدل، مجازاً بیرته تلل.

وارث کــپې مــی نه پښو کـــیږي

بدان (ورابانی) ولاړ دي زیاتی رمیږي (انگی ۱۴۴مخ)

یوری هوری وری دی رمیدلی

چتهه ورته ناسته دا سپینکی سوڼان (شوندان) یې پوڅه دریدلی

(فولکلوری سوغات ۵۹مخ)

**رنځه ranǰá:**

خپه، خوا بدې.

... ځرنګ ستا په غرض امیزو خبرو خاطر د فرید (شیرشاه) رنځه کړم. (تاریخ مرصع ۱۰۶مخ)

... لیکن التماس زما دا دی چې محض په ګفتار د اهل مطلب او غرض رنځه شوی. (ت. م ۱۰۷مخ)

**رنګی rangāy:**

د ګڼ مقابل. قاموسونو د فعل صفت ګڼلی او حواله یې په «رنګړي» ورکړې ده، ریښه یې «رنګ» او په «رنګړي» کی «ړی» لکه په (لغ= لغړ، پګ= پګړی....) کې سوفیکس دی.

چې مدام کوم بنیری د زړه له سوزه

ډلی ډلی رقیبان نه شول رنګي (حسین)

زړه مې تر ک په بې صبری وچود له درده

وایم غم مې له پرونه دی رنګی نن (حسین ۳۶۵مخ)

**رن:**

ډګر، میدان.

چې له نفس، شیطان جنګ کاتل به شاهی کا

هر مومن چې فتح راوړه له دې رنه (دولت لوانی ۱۵۷مخ)

**روټ rot̤:**

تان، درخت توپ، د تهوکر توپ.

د اخلاص دندان دې نشته دی په خوله کې

پرې کــــوي د مراد غمري له کلـکه روته (ملا لتاړ ۳۹مخ)

**روخام roxām، روښام، rosạm:**

د افسانوی بدرۍ جمالی باغ یا هیواد، یو ځای په «خ» او بل ځای په «ښ» لیکل شوی اصل یې څرګند نه دی.

ملــــوک په څیر به ووځـــم له کـــوره

د مقصود د غشي نخښه به روښام کړم (لتاړ ٤٠١مخ)

که اختیار پسې سفر لکه ملوک کړی

د بدرۍ دیدن به وکړی په روخام کې (لتاړ ۱۹۳مخ)

**روخه roxa:**

د بیخی، بالکل، قطعاً په معنا د ملالتاړ په دیوان کې لږتر لږه یوولس ځایه راغلی ده چې کله له (و) سره او کله بې له (و) نه لیکل شوې ده.

زه لتاړ چې آګاه ستا په محبت شوم

له دنیا رخه جدا شــــو زمـــا روح (لتاړ ۲٤مخ)

له دنیا روخه ګوښه کناره یون کا

لتهوی په بحرو بر دلبرد ســـتا مخ (لتاړ ٤٥مخ)

سالک ځکه ځان له عیبه رخه ژغوری

په کرد زرو کوتهٔ نه بردی صـــــراف (لتاړ ۸۰مخ)

خوشحالی کوم بیغمه په دنیا کې

په کرم دده له غم رخه کـــنار یم (لتاړ ۹۹مخ)

شیرین ځان به د آتش په لمبو سوخت کړي
که له دینه رخـــه یون کــړي و دنیا ته (التاړ ۱۲۶مخ)

د نیکی خزانه لاندې تر پهلو کړه
او د بدو له دولت روخه کریاب شه (التاړ ۱۵۲مخ)

**رود rud:**

تل، کومی، د زړه له روده= د زړه له کومي.

د فقـیر د دل له روده / دا وینا له شوره روده
صفتـــونه دا احد دي / داحمد نبی له دروده (ملا ارزانی)

**رودړی rudaṛáy:**

زاری، دعا.

دی چې و ووت هغه ګړی / مـــور یې و کړی رودړی
وی چـــې ای ربه کـــریمه / ای رحمـــانه ای رحیـــمه
(در مجالس افغانی ۱۰۰مخ)

**روډ ruḍ:**

پښتنو کښته کئ جګ بریتــونه
دریاندې ډ ک دی پردی ملکونه
یا مزدوری کئ یا لیلامـــــونه
اوړد کمیســـونه، اوږده روډونه (انګی ۵۴۵مخ)

**روړی roṛáy:**

ګنجی (محشی).

د ما ارمان وی چې احمد جان روړی خوله سو.

(د مروتو کسرونه ۷۷مخ)

**روغوال rogwál:**

روغ، جوړ، سالم.

نن مې ولید د دروغوالو مال خوړونی

مال لا څه چې د ژوندی سړی زړه وړونی (علیخان ۱۲۰مخ)

**روک rok:**

وروړ، د «وروک» مخفف دی.

که پند مې نغوړې مه کړه دوه توکه

سوال د خسړی له خپله روکـه (خ، رباعیات ۹۸مخ)

**ریړی reṛáy:**

یو ډول خوړه ده چې له گوړې څخه جوړیږي. د (ریوړی) په لیک دود هم راغلې ده. پ. ت. ق (ریوی) اخیستې ده.

د سپینی خولی دې داسې خـوند دی

لکه چې وچی ریړی خورم په بازارونه (پښتو لنډی)

جړی لب ریوړی هر گړی غوارم پیغام

غـــوښ غـــوښ مې د مـــلا تیر دی (بیدیانی گلونه ۴۲مخ)

**ریژون reẑawán:** رژون.

محبت شگلن کمر په اوښو لوند کړم

خوا کـړه یخه د رقیـب ریژون زمـا (حسین ۳۹مخ)

**رین:**

ثـه عـجب د مـحـبـوبا د سـتـرگـو شـین
چې یې رور کـه د عـاشق په خـاطر چین
پرسـپـین مخ یې توري زلفـې کـړې پریشـانې
لک پـه ورغ باندې سـیـاه وشی درین (؟)

**ریو rew:**

خور، گنگستیا. په فارسي قاموسونو کې د «مکر، فریب» په معنا اخیستی شوی خو دلته د «مکر او فریب» معنا وجود نه لري.

حمید د تور وانجو په باب وایي:

ده بې مـرگه د هـردا — د اوحبـة الـسـودا
شی ویل ورته صـاحـبه — تور وانجـو په پـنـتو ژبه
چې پروچولی ثوک لیوکا — ورک له سره درد، ریو کـا

(شرعه ۲۵مخ)

**ریودون rewdún:**

یو ډول ونه ده چې سور گل کوي (محشی).

ورغـی په تـوره — ربه مـور مه کی پرې بوره
گـل «د» ریودونه — جـلا یې مه کې له تولی

(د مروتو کسرونه ۸۰مخ)

**ریوړی rewṛáy:** (وگوری د ریړی کلمه)

# Z ز

**زاتیلی zateláy:**

نسلی، هغه ژوی چې د نسل د اخیستلو د پاره تاکل شوی وی.

بې شماره هگی وي او بچی به یې رنگارنگ وي
تو، ، برگ، سپـــین، لایق به تـول د جنـــگ وي
ځینی زاتیلې، دودی به چـــرگی د فـــرنگ وي
گوریان او کولـنگان به ســـره ډیر شی وار په وار

(اولسی سندری، ۱ ټ ۲۹٤مخ)

**زایه zāyá:**

زهیــر، خوریدلی، کـړیدلی، ریښــه یی (زهـ-zah) ده چــې پــه (زهول= خوارول، ضعیفول، زهیدل= خواریدل، ضعیفیدل) کې هم شته

،په زهیر کې ( -یر ) لکه په « کریر »او « بهیر » کې چې له « بهیدلو »
څخه دي، وروستاړی دی.

دا ومړی (لومړی) میوې په داد — کړه اول همسایه بناد
یا یې یوسه کور ته سمته — له هلکو ددوی پته
چې یې زوی د همسایه — په لیده نه شی زایه

(شرعه ۱۳۰مخ)

## زایېدل zayedə́l:

زهیدل، خواریدل، ضعیفیدل.

د آدم نبی پسر که څه پوه په دې لغت و
معنا نه خوځی تی نوی عبادت و
دا وحدت کثرت نمایېږی په لاس که زایېږی
لاس په لاس سره نیولی ملاتړلی په صحبت و

(واصل دویمه قصیده)

## زخچه zəxcá:

زخڅه، زخنه، یو ډول بوټی دی چې د پسرلی په لومړیو وختو کې د
غرو په لمنو کې شین کیږي او بیخ یې خلک خوري، پ. ت. ق
اخیستی.

زخچې، کنډولی دی ممانی، ترې
کال کوندی چریخی پوت بې شمار — (دولت لوانی ۱۱۱مخ)

**زخمه zaxma:**

چاره، تدبير، د «زيرمه» لفظي تاكيد او ترادفي معنا لري.

عاقبت يې دا قصه تر قاضي لاړه

زيرمه، زخمه د حال بويه ماضي لاړه (نيرنگ عشق، ۲۹مخ)

**زرغام zergām:**

۱- داړونكى زمري، ۲- مجازاً زړور، شجاع، د عربي له ضرغام څخه پښتو شوى كلمه ده چې په زړو متونو خصوصاً «شرعت الاسلام» كې ډيره راغلې ده.

په خوراك جبرائيل سپړى    دى حضرت ته امر كړى

چې محكم پشت وزرغام شي    بالادست د شپې په قيام شي

(شرعه ۲۱مخ)

**زرلگه zarlaga:**

ځلرگه، ځلرگ، يو خړرنگى اغزى دى چې ډير كلك دى. پ. ت. ق (جرلگ) او «زرلگ» اخيستى دى.

بې معنا سړى د زرلگو بار تړلى

څوك آسان كا د خرزرگو اختلاط (ج. فدوى)

ربه څه سخت گوزران دى له احمقه

بار د زرلگو ډير آسان دى له احمقه (ج. فدوى)

**زرملي:**

زركسيزه ډله، زرو ملو ته منسوب.

خدایه! څه سوز زړملی پیاده او پلی
شاه برج نادر گوره اوس د غرڅه (څخه) د نارنج سرونه ولی
(د خلکو سندری ۱٥٤مخ)

**زړمی**: زړی، دزړو.

په هیبت مې له ځړی خیژی لـــوخړه
شوه راپیښه د آشنا د غـــــم جگـــړه
پرې زما خاکی بشر شوه زړمی زیړه
د هجران کړکنړه راغله له سرځـــوړه (حسین ٤۹۹مخ)

**زړی** :zəráy
د یو وخت خواړه، د یوه وخت جیره. پ. ت. ق اخیستی.
دا گردون دیگر گون چې ورته شین دی
په وگـــړو به قسمت د غـــم زړی کـــه (علیخان ۷۹مخ)

**زریړه** :zrira
ته چې کړې په تماشا د عالـــم بیړه
گویا وینځی په ځوانی ږیره په زریړه (ج. فدوی)

**زړوکی** :zarū́kay
ګړی، کـــالی، جـــامې. پ. ت. ق د «تیکری، پړونی» په مـــعنا اخیستی چې په همدغه معنا متداوله ده.
عاشقان وصال د یار غواړی لـــه ربه
روغ ترې غواړې د زړوکی، شکم کام
(علیخان ۹۳مخ)

سپین زروکی مې د زړه په ټینو سور شو
سر تر پایه یې د عشق په ســــرو پایم (لتاړ ۹۷مخ)

دا ظاهر نمری په خــاورو آلــوده کــړه
سپین زروکی وی پیغور مست و خراب ته (لتاړ ۱۲۸مخ)

نیک عمل گوره په بدو بدل نه کړی
د ریازروکی وکاږه عـــریان شــه (لتاړ ۱۵٤مخ)

څیری کا زروکی له ناموسه توبه گار شی
پورې کا په ځـــان باندې نامه د دیوانه (لتاړ ۱٦٦مخ)

... یوه ورځ دهقان بهر ووت، په یوه چینه باندې ین غسل کاوه چې له لمبلونه وزگار شو نو زروکی یې واغوستل...

(کلید افغانی، گنج پښتو ۸۳مخ)

... خیمه یې په هسې شان گرمه کړه چې اکثر خلک د گرمۍ نه د زروکو غورځولو ته جوړ شول. (کلید، د سلطان محمود تاریخ ۱٤٦مخ)

... ساروان گمان وکړ چې گڼه سودا گر مړ شو، جوړ لاس یې د وریښمو په خرڅولو پورې کړ، تول یې خرڅ کړل اوښان یې هم ورک کړل او د ساروانی زروکی یې بدل کړل. (کلید، گنج ۷٦مخ)

زروکی د نرینه ځادر په معنا هم راغلی دی.

... څوان ورته شا کړه او زروکی یې په ځان خور کړ او مخ یې ترې پټ کړ... (کلید، گنج ۷۹مخ)

**زړونگه zṛúnga**: (وگورئ: زړونگیاله)

**زړونګياله zrungyála:**

زړونګه، ناوې، عروس (محشی).

زما سيپری (همزولی) دی په بخت بيدارې
تياره ګړدی دی زړونګـيــالې
زما په زړونګو اوښکی خــارې
تر تيکرې لاندې مې هلکان زاړې (انګی ۲۸۵مخ)
زړونګی وخورې زړونګوالی
تا دې هم رب کې را ناو کی (انګی ۴۰۰مخ)

**زره ستړی:**

خوابدی، خپه.

د چام خپل کام وی د چاو ګـړی     له چا خوشحاله له چا زره ستړی
په کـام وکلی دی کښېـنستلم     بې ځانه ګـرځم د قـــابل مړی
(ج. فدوی رباعيات)

**زړستوه zrəstáwa:**

قی، استفراغ.

حميد په ژګه (ښځه) باندې د مې حقوقو په باب وايي:

د خذمت حـق دې پې دا     نه ګــنــي په دا ادا
که يې وځتې زره ستوی     هـم د پوزې وينې زوی
يا که يو تی پوخ بل وريت     ورته ونيـسی په پريت
(شرعه ۱۵۲مخ)

**زړه مبتل کیدل:**

زړه کیدل، هوس کیدل.

... تا نو (نوم) نهایت ښایسته وه او سهیلی یې هم خورا ډېر امته دارو خو زړه یې مبتل کیدئ، خو دیدن یې نه ور حاصلیدئ.

(م. ه. ا ټ ۱٤٥ / نوی چاپ)

**زسل zasál:**

رتل، په سترگو کې وهل، د ننگرهار په زیاتو سیمو کې متداوله ده.

مثلاً: «ما زلمی وزاسه، زه زلمی وزسلم»

مور دې میره، پلار دې پلندر شه

زما په نازو لوی کړی یار دې وزاسنه (لنډی ناچاپه)

**زغوم zĝum:**

| | |
|---|---|
| ونې ډېرې باغ یې نوم دی | د باغوان حال یې معلوم دی |
| واصل واړه سره یو که | دا وحدت په کثرت زغوم دی |

(واصل ۱۲۳ غزل)

**زگوړی:**

ماله ځانه ښخه هغه ورغ لاس وللی

د روژې چې زه زگوړی ملاحقدار کړم (ج. فدوی)

**زمکه پریکول، زمکه غوځول:**

پند کول، مزل کول، لار وهل، مسافه طی کول.

... په تلل یې تلوار وکړ، پخوا تر خپلې حصې اخیستلو روان شو،

څه زمکه یې غوځه کړه، غوښې وریا دې شوې .       (ت. م. ۵٦۲مخ)

...هرګاه چې له شیخه رخصت شوم، څو خو زمکه مې پریکړه.

(ت. م ۵۷۷مخ)

**زواک zwāk:**

ژواک، ژوند. دغه کلمه په نهایي غلطۍ سره نن د (قوت، زور، سیک) په معنا استعمالیږي. حال دا چې د (زور) او (قوت) سره هیڅ ربښوي ارتباط نه لري.

څو سړی په جهان دی (وی) ته به باله شي

د ژوندون طمع دی پرګنه له زواکه (واصل، ۸٤مخ)

**زوچ zoc̆:**

که ارمان هر څو کوي راستون به نه شي

بې بها عمر تیز تر رومی له زوچه (دولت لواني ۸۹مخ)

**زورل:**

زور پرې اچول، ازارول.

په جفا دې کړم خسته برهم په څه

زورې ما غوندې بې کس آدم په څه (حسین ۹۵مخ)

لره کر که له آزاره زما وکړه

زړه زورل د عاجزانو ثواب نه دی (حسین ۸۸٤مخ)

**زورمندي zormandi:**

ظلم، زور، تیري، پ. ت. ق (زور متي) اخیستی دی.

حمید یو ځای په انسان باندې د ژویو د حقوقو په باب وایي:

| | |
|---|---|
| یار مومن دی خپل چار پای | په احســـان لـري برپای |
| گرد ، غبار دې ترې څنډي | پرې دې نه کا زور مـنډي |
| او یا ځله په ورځ بشـــایی | چې اوبه ، واښه ورنمـایي |

(شرعه ۱۷۵مخ)

**زورنه:** عتاب.

... الله تعالی د دغې زمانې د پیغمبر په ذریعه ده (زاهد) ته زورنه ورکړه او ده ته یې په قهر ... (انوار سهیلی ۱ ٥مخ)

**زول zol:**

ځـوانی، زلمیتـوب. د زلمی د کلمې ریښــه هم «زل» دی او «می» نسبی وروستاړی دی، لکه په (لرو + می، پیچو + می) کې په (نیمزاله) کې هم دغه ریښه ده چې «نیم» یې مختاړی دی. نیمزاله= نیمځوانه.

زمانه په نیمزاله اندوه زړه کــړه
چې سحر یې په رخسار راغی سپین خط (شیدا، ٤٠مخ)

دلته (زاله) د (زول) مغیره حالت دی لکه (ښور- ښاره، شکور- شکاره، ښکور - ښکاره)

د «نیمزالی» کلمه د مونث له پاره په پښتو ادبیاتو، خصوصاً لنډیو کې زیاته راغلی ده. یو مثال یې دا ی:

تن د نیمـــــزالی غیـر کې لـــور ده
لکه سپورمی چې ځنگ کې ستوری گرزوینه (پښتو لنډی ٤٥٢مخ)

**زولی zólay:**

زلمی، ځوان.

| | |
|---|---|
| ل. لایق زولی نیکـــرایه | گور پرې زیری کاله ورایه |
| بربر راشه نور غــــایه | تارنا راوړه لـه ځـــــایه |

(الپوري ، الفنامه ۱٤مخ)

**یادونه:** د چاپی نسخې په نسخه کې (ځلمی) لیکل شوی دی.

**زوییدل zoyedál:**

پیرزو کیدل، لوریدل (؟)

... نور بهـادرخـان خـیـمی، اسـونه، څـولکه روپی، ډیر څـه یې د دلیرخان تر نظره تیر کړه چې د تا ډیرمال سوی دی. دا مې زوییدل، ډیر یې دلاسا کړ .

(تاریخ مرصع ۳۲۸ مخ)

**زیا zyā:**

زیا اخیستل= په یاد راوړل. پ. ت. ق اخیستی دی.

فکر وکړه د سفری یاران دې څه شول

بیا زیا واخــــله له اباوله اجــداد (ج، فدوی)

**زیر:**

دا مې زړه دی چې د یار په کتور زیر شـو

که هوسی ویشتی په قچ توپک ښکاري ده (حسین ٦ . ۱مخ)

مات د ملا په تیر شوم بې اختیار له مرگه زیر شوم

نه گنهم غمــونه نور د عشـــق په نوکــری کې (حسین ٦ . ۲مخ)

**زیرل zerә́l:**

ازرول، زهیرول. محشی د «ازرول» معنا ورکړې.

لک مې دي په زړه کې د هجران غشي تیرد

تللی دي بیـــواکه، زمـــا زړه بې وزیره (علیخان ۳۷مخ)

**زیړنی zyaṛanáy:**

ماغوت، ماقوت، سختاړ. یو ډول پاسته خواړه دی چې د نشایستی او بورې څخه جوړیږي.

زیړنی است و ځلوبی چې؟ ماغوت وجلبی

ولیک چـاوله ساجق برای خاییدن (نصاب الصبیان ۱۹مخ)

**زیزه zezá:**

اولاد، ځوځاد (محشی).

زیزه دې نه کی خـــدای په واده

زما د ابک لـــه چینـــې تـــوبه (انګی ۳۲۸مخ)

په تا به څنګه لګوي خـــولې

دوی هم لیـــدلی خـــپلې زیزې (انګی ۵۸٤مخ)

# ځ Ẑ

**ژبون ẑbun:**

زنه.

حمید یو ځای د ځنکندن د حالت په باب وایي:

د یاسین په لوست دې هم　　پرې آسان کا دا مهم
چې یې روح کړ له خواکښی　　دی یې نور کا سترگی پټی
دی یې وتړي هم ژبون　　چې لیده نه شي زبون

(شرعه ۲۱۹ مخ)

**ژتی ẑətay:**

خلال، د گوتو کوتی = د نوک او وری ترمنځه خلا او تشیا.

ناخـــن اخـلـــــه برادره پنجشنبې پس له دیگره

بیا په دا ترتیب خوشبویه د نوکونو پریکـــړه بویه

چې د شي په څرمه گـوته اغازي وکا بې کـــــوته

بل دې کا د گوتو کـوتي بند په بند پاکـــیزه ژتی

(شرعه ٤٤مخ)

**ژړل žaṛə́l:**

پړی ژړل، په چا یا په څه باندې ژړا کول.

زه دی پلار ژاړم، ته مې په خولی پورې خاندی (متل)

ځـــینی مـــالونه، اسـپـــان، هاتیـــان ژاړي

ځـــینی خـــپل زویه، ورونه، دوســـتـــان ژاړي

هر څـــوک په خـــپلو غـــمـــونو نویشلی دي

هر څـــوک په ځـــان ژاړي سکندر به ځـــان ژاړي

(سکندرختیک)

هر مجلس کـوم که مې څه غم د زړه بدل شي

خپل مرده گان ژاړي هر سړی د بل په ویر کې (علیخان ٥٥مخ)

**ژړندی žaṛənday:**

ژړاند، ژړند.

هـــم هغه به په ژړا وتـــاته گــــوری

چې دې نن له عشقه سوځی ژړندی شي (حسین)

**ژغږل:**

ږغیدل، غږیدل، وهل کیدل.

| | |
|---|---|
| اخرشی به پاتې چاته | فکر نه کوې کـم ذاته |
| ژغاژی نغاره د مرگ | د هـر سـړی په کــور |

(پټ ستوری، حافظ عظیم ٦٣مخ)

**ژغل źağəl:**

ژغوریدل، ساتل کیدل.

| | |
|---|---|
| ادکې! وخورې د گوتو ستوري | دگوتو ستوری دستر گوستوري |
| پر لــوړ سـهار دې تیار ولـم | لکه اجی د مکــې په لــوري |
| اجی لابنه دی اج یې کبول سی | په ما به نورې نړاندی ژغل سی |

(انگی ۲۲ ۵مخ)

**ژور:**

که دی تږولـه دنیا و نغړ ده حـارصه

ډ ک پری ستا د لویې گیډې ژورنه شو (حسین ١٨٤مخ)

وژور ته مـې د زنې زرار تاو کـړه

ځنگوی به مې تر کومه په طناب کې (حسین ۲۰۸مخ)

زنخدان یې وژورته خپل ارتاو کـړم

اوس هک پک یم له دې چاهه په ختو (حسین ۳۸۳مخ)

**ژیړه اړول:**

سپکه اړول، چاته شرم اړول.

... دا وضعیت چې تر برونو ولید د یرو شرمیدل، دستی دغو مشرانو
رغ سره وکړ چې خوشکیار داسې ژیړه راواړوله... (ملی هنداره ۸۵مخ)
د پښتو اصطلاحاتو په (۲۳۸) مخ کې لیکل شوي دي:
ژیړه اړول= بد ناموسی اړول، بدنامی اړول: سنک ولوجان ته ژیړه
واړوله.

# ږ Z

**ږرېول:**

چې سپین ټټر مې په ټټر دی
خدایه کومک راکړی چې وېې ږرېومه (پښتو لنډۍ ۱۲۲ مخ)

**ږيرۍ:**

ورۍ، د گوتو د سرونو هغه برخه چې له نوک سره پيوسته وي، همدارنگه د ژامی هغه برخه چې د غاښونو سره نښتې وي.

نوک او ږيرۍ به سره جلا سی
مور به له گرانه زویه پرشا سی (انگی ۳۳۷ مخ)

# س S

ACKU

**ساپه sāpá:**

ویر، واویلا (محشی).

لکی(نوم) تر دنیا تیر سو

په ډولو به یې ســـاپه کا (د مروتو کسرونه ٤٦مخ)

**ساخنی:**

تیراواله سندره( ؟ )

... ما د ډیرو خلکو نه ساخنی یا تیرا والٰه سندره اوزیدلی وه خو دلته په دې غرونو کې د ما خوستن په چوپه چوپیا کې چې د ډوډۍ خوړلو نه پس ساخنی کوم خوند پیدا کړی و دا خوند یې بل ځای نشته.. (مفرور ۲۹مخ)

**ساد sad:**

صادق، ریښتونی، دغله ضد. پ. ت. ق د (پاک) سپیڅلی، ایمانداره، روغ، د ښو اخلاقو خاوند، په معناوو اخیستی دی.

قاتل زهر به اثر ورباندې نه کا

که په زړه کې د مجنون په څیر ساد شی (لتاړ - - ۲مخ)

**یادونه:** ۱- په متن کې (سیار) لیکل شوی چې دا به قلمی غلطی وی.

۲- «زړه پانگه» هم نور مثالونه لری.

**سادی جهان:**

رون، ښکلی (؟)

زما یار چې د سادی جهان ښایسته دی

زما زړه پسې له غمه خوار خسته دی (بیاض)

چې له خیاله تار په تار ځنی په نازځی

شرمنده به له سادی جهان غمازځی (بیاض)

که بسته مې د زلفانو په طناب کا

گویا ما به د سادی جهان نواب کا (عبدالعظیم رانیزی)

**یادونه:** په وروستی بیت کې «ساری» چاپ شوی دی چې معنا نه ورکوي.

**ساډوبی sadwbay:**

... بازنده ووې اگر چې د سفر په تکلیف په مسافر ساډوبی راځی لیکن... (انوار ۲۷مخ)

... دمنه چې خپله بیقدري او د غوبي عزت او رسوخ ولید نو دی ډیر خپه شو، خوب او خوراک یې پاتی شو هر وخت به وارخطا او ساډوبی و.

(انوار سهیلی ۷۲مخ)

... دمنه ووې چې ای ورورہ! زه دا خبره د ځان د پاره نه وایم زما دا تولهویره او ساډوبی ستا د پاره ده. (انوار۹۹مخ)

... مریض ته گناه نشته د عاشقۍ له تاوه ساډوبي پرته ده.

(انوار، ٢٦٦مخ)

**سارس sāras:**

زانې ته ورته یو مرغه دی چې له زانې نه لږ لوی او مغزی یې لنډ دی.

(محشی)

په بتاس ندی چې راغلم په نظر راغله سارس
په بل لوری مې نظر کړ راته غبرکه طاوس
وی یې غم، ښادی خوشحاله! دواړه توکه دی تس پس

(خ، متفرقه ٨٦٤ مخ)

**سارو sārū:**

زیار کښ، چارو، زیار ایستونکی، کارگر. پ. ت. ق «سارو» ته حواله په «چارو» او «چارو» ته په «چارندو کي» ورکړې ده.

گاهی ناست یم له مجلسه اوریده کړم
فدوی گاهی په کنیانو کې سارو یم (ج. فدوی)

**ساړ:**

ځر گندیږي به ښاغلی ژنی واړه

محمد توري وهلی له ډیره ساړه (کسرونه ۱۲۱ مخ)

**ساړی:**

شین سترگي کور له راوړه غاړی

لونی لا خـــیر په دنیا غـــواړی

تهپک دې واخلی توري به ساړی

ورغ دي یوه کي پرودې نغـاړی (انگی ۴۳۰ مخ)

**ساگی:**

زرو سیم بې له نظره نامنظورو و

مساوی ورته ماشی ساگی وزروو (قنبر علی)

**سالن sālán:**

نگولی، کتغ.

چې بې پیره څوک خواری کوی لتاړه

واړه وچه ډوډی نغری بې ســـالنه (لتاړ ۱۷۰مخ)

**سالون: sālūn:**

سور، سالو. («سالو» د «سور» په معنا زرې پانگی اخیستی)

چې په شپه له عاشقانو سره جنگ کا

د فلک لمن په سرو وینو سالـــونه (گلزاروه - عبدل)

**ساله sāla :**

ځېره، کوډله، پ. ت. ق يوازې د ( هغه پټونی چې د فصل د ساتنی د پاره پکې يو تن کښينی او فصل د مرغيو يا ځينو نورو ضرر رسوونکو ژويو څخه ساتی. ) په معنا اخيستی دی.

چې يې بوته دی تر جـالی ددې خپل بچړو تر سـالی
پاس په ونه په چغار شـوه په شغف او په کوکار شوه
(مناقب جميل بيگ ۱٦۳مخ)

پاس په غره کې سـالی ولاړی سـالی درب په حکـم ولاړی
ادکې ډيرې خوارې راوکښې نن ابته سـوې او به پـر ولاړې
(انگی ۵۵۳مخ)

**سامان sāmán:**

۱- اسبـاب، کـالی، لوښی ، افـزار. ۲- نظم، ترتيب، انتظام پ. ت. ق په لومړی معنا اخيـستی دی، په دويمـه مـعنا په زړو مـتـونو کې زښت ډير راغلی دی چې دلته يې څو مثالونه وړاندې کيږي:

... شيرخان (فريد خان) په ځواب کې ورته وکښل چې سامان کوم چې په تاپسې به روان شم. (تاريخ مرصع ۱۲۱مخ)

... د ما دا گـومان نه و چې په دا سرعت به تلل د لښکر صورت بيا مومی او سامان مې د توښې هم کړی نه و. (ت. م. ۲۰۹ مخ)

... په هغه شپه يې سامان د جنگ وکړ ، سبا جنگ وشو.
(ت. م. ۲۲٤مخ)

ای په تش هوس غره سامان د کوچ کړه
خپل همزولی در ته ستړی په کاته شول (هجری ۷۷مخ)

ما و پیغام کړی په ولس، په اشرفخـــــان
نه بویه د جنگ د خرخسی فکر، ســـامان
(خوشحال، ترکیب بند ۹۳۷مخ)

ای زما خاطره ! ترک هواهوس کړه
د عقبی د تلو سامان په هر نفس کړه (عبدالقادر ختک ۲۰۰مخ)

ته وکــــړه، وکړه ســــامان د تللو
پخــــوا ترهغــې چې د بللـــو
استوائی راشی چې اوس را درومه
وخت د حساب دی، وخت د تللــو (عبدالقادر ختک ۳۷۶مخ)

له فانی سرای به درومی کـړه عقباو ته ســامان (التاړ ۱۱۱مخ)

ور طلـــب یې کــړ علی بیرغـــــدار کـړ دی نبی
نور لـــه مخـې کـــړ روان حضرت وکـړ خپل ســامان
زغره واغوســـته ســـرور خول یې کښیښود پر خپل سر
اصحاب هـم ســوه نور روان چې فارغ ســـوه له ســامان
(یاقوت السیر ٤٤٥مخ)

**سامانول:** ترتیبول، تنظیمول، اڅهل.

دا چې زلفې په رخسار سامانوی
نرخ د مشکــو په ختـن ارزانوی (گلزار روه، اشرف)

**سامی samay:**

۱ - افسر، صاحب منصب، په دولت کې د لوړی مرتبې خــاوند.
۲ - په شطرنج کې سور. په دویمـه معنا په« زړه پانگه » کې ثبت دی.
(فرهنگ عمید) (سامی) عربی کلمه بللې او د (عالی، بلند پایه) په معنا یې اخیستی، دلته دواړه معناوې یو منشأ لري.

صفت واړه د بارگاه د ســـامی نه دی
که دا هسې جمعیت لري پریشان یې (واصل ۱۵۵ غزل)

هر چې یې پیاده فانی شی ځان باقی کا
خوار عاشق د یار هغه کره ســـامی ده (علیخان)

**سان اخیستل:**

موجودی اخیستل، پ. ت. ق «سان» د (لیدنه کتنه، رسم گذشت «لیک یون» ، ننداره) په معناوو اخیستی دی.

... په سن څلور سوه پنځلس هجری کې سان یې (سلطان محمود) د لښکر اخـیست بې له هغـه لښکره چې په اطرافـو د ولایت کـې وڅلور پنځوس زره سواره او درې سوه ها تیان په قلم ولیکل شو.
(کلید افغانی، د سلطان محمود تاریخ ۱۷۲ مخ)

**سانډو sāndu:**

باجه، د څو خویندو میړونه په خپلو مینځو کې ســـانډوگـان کـیږي.
پ. ت. ق ځانډو هم اخیستی خوما یوازې په « س » موندلی دی.

که سانډو دی نازو ستا په غیر کې پروت دی مې ســـانډو دی
ته یې راوباسه میدان ته نازوگلی، ایمان نه لــری هــندو دی
(ملی هندار ۹۸ مخ)

**سانگ:**

تور. د الپوری محشی ورته همدغه معنا لیکلی ده.

سانگ له ده وایی تعلیم کړه بازیگـــرو

مخ یې هسې زر د چارو ځیر په ځیر شي

(هجری ۵۳۰مخ)

تیک، پیزوان، چارگل اوړی لونگین سانړ (سانگ) دی

قط غوتې دلکش آواز د خلخال غواړم (الپوری ۷۰مخ)

**ساوو sawu:**

۱- شریف، اصیل. ۲- بادار، مولا، ۳- تکړه، غښتلی. په لومړی معنی (پ. ت. ق) او په دویمه معنی (زړه پانگه) او په دریمه معني یې مثال دا دی:

... ځای ته وروړسیدل، خو چې یو یو گذار پرې وشه مات شول، اته ویشت کسه ساوور ځړ بې له زخمیو مړه شول. (ت. م. ۴۰۹مخ)

**ساوڼ:**

چې په پټ او مروت ورځخه کم وی

امرا او امیر ځار شه له ســـاوڼه (میا نعیم)

**ساوی:**

بسـیـاری به روپی شی یوه غـوا به پیـرم چیـرې

ساوی گـوری به خوسی وی او تیلی وی سخـوندر

بیا غوري، میبني، سانان (سنداګان) به خرڅومه
دوه دري زره روپۍ به شي اوښان به پې کومه
وهم به په ګدړواو په نوکرو (نقرو) پې لاسونه
ساوي وي که سمندوي که کمیت...

(ولسي- سندرې ، ۱ ټ. ۲۹۵ مخ)

**سايېدل:**

سهېدل، زغم لرل، تحمل لرل. د (سهېدل) اوښتې فورم دي.

له مټبکو ستا صورت ساز    نامي پري کاندي پرواز
فیض ریزان په تراب    زه ساییدلی نه شم

(پټ ستوري، معین الدین ۱۱۸ مخ)

**سبړ sabə́ṛ:**

نادرشاه چې د ایران ، توران ملک واخیست
چې روان شو له دنیا لکه سبړلاړ (مطیع الله پیره خېل)

**سپکاوی spəkā́waý:** (وګوره، درناوی)

**سپلینه splina:**

ته د وصل په پیاله مې زړګی سور کړه
د هجران طاقت مې نشته دی سپلیني (التاړ ۲۲۶ مخ)

**یادونه:** دا کلمه په چاپ کې سیلیني په «ی» سره ده خو ما چې اصل ته مراجعه وکړ هلته سپلینه په «پ» سره ده.

**سپنخر spanxár:**

خپسر، ځان.

وصال مائی یې هســکه ور به نه شی

که عاشق په ډیر جدل سپنخر پرند کا (هجری ۲۹٤مخ)

په کوڅه د عشق خرام کله آسـان دی

زه چې ځم په هغه لار سپنخر گیاه کړم (هجری ٤٠٤مخ)

**سپیڅ spec:**

په ډاگه، ځرگند. (سپیڅلی= پاک، سوچه) له همدې ریښې دی.

... چې د ما راتلل یې واوریدل دروه یې سپیڅ شو، حیران شوه چې په ستنه جاروتی شرمیدل، که جنگ ته راتلی له شکسته ویریدل، په مات زړه را روان شول. (ت. م. ٤١٢مخ)

**یادونه:** دا کلمـه د «پ–ب» په بدلون یعنی «سبیڅ» لیکله شوې چې قلمي غلطي به وي.

**سپین spin:**

محترم، ښاغلی، زړه ته نژدې. دا یې مجازی معنا ده.

سپین بابا مړ دی کور ته مورا وړی

په مــــوړ گـډی سـوی الـوی (انگی ۲۲۵مخ)

چاڼیانو! مه تیاروئ مــا سپین بابا نسته لویی د چا

(انگی ۲۲۹مخ)

**سپین خرېږی spin xarerav:** (وگوری: تور خرېږی)

**سپینکی:**

۱- شیده، ماسته، مطلب تری مالوالی او د گلو ساتنه ده.

۲- واوره، لکه «شینکی» د «شنیلی» په معنا، له سپینکی نه واوره مطلب ښکاری.

دا دوه توکه ریاست دی　　　سخاوت دی، شجاعت دی

دوری نشته بله حیله　　　یا سپینکی یا کرکیله

(فراقنامه ۵۲مخ)

سحر که د پسرلی وی خو هغه سپینکی وهلی

سپرلی هم زما نه وه مدعا شینکی وهلی　(غزونی ۲٦۰مخ)

**سپین کپی spin kapáy:**

پټ بیدیا، هغه دښت چې هیڅ آبادی او ونی بوټی ونه لری.

... سپین کپی دشت دی، آبادی، کورونه، ودانۍ نژدې نشته.

(ملی هنداره، ٥٦مخ)

**سپینه خوا:**

غمبوری، مخ(؟)

په پنجه لکه چنار ده　　　په سپین لکه انار ده

همیشه تازه بهار ده　　　ښایسته کاکل سنبل

(احمد شاه بابا ۷۱مخ)

زړه مې د غې شهاوړی　　　په گردن زلفی چوپیر

سپینه خوایې لکه ثمیر　　　پرورده د دې گلشن ده

(احمد شاه بابا)

**سپینه کونځله:**

کونځله چې په عربي یې (سمسم) او په هندي یې (تیله tila) بولي؛ د صدیق د طبي نسخې په قاموس کې دوه ډوله ښوول شوی:

۱- توره چې په جلسان تفسیر شوی. ۲- سپینه چې په چوکهار تفسیر شوی.

«سپینه کونځله په عربي ژبه جلجلان بولي.»

(د البیروني د صیدنې روسي ترجمه ۵۴۸مخ)

**سپینې ښوییدل:**

چې یې عشــق لتاړ پتاړ کـــــا
زړه یې ډوب عمر یې خـوار شي
ښویې سپینې په ځای پروت وي
خپل صورت وړاندې بار شي (حسین ٤٧٤مخ)

**ستانګه stanga:**

ګوزڼ، فالج، رعشه (د درمرجان محشی)

ګفتګوی د مطول الف ناخـــوان ته
څرګندېږي مجمجه په ستره ستانګه (حمید ۳۰۸مخ)

**یادونه:** «مطول» د عربي د بیان او معاني یو سخت کتاب دی، «مجمجه» د پرتې ویلو بې معنا الفاظو معنا لري. د شعر مطلب دا دی: نالوستي ته د (مطول) خبرې داسې بې معنا دي، لکه د یوه ګوزڼ وهلي شخص بې افادې او بې معنا الفاظ.

**ستر گتورن** stargtorán:

مشتاق، ارزومند، پ. ت. ق (ستر گ توری) د (ستر گ وږی) د کنایې په معنا اخیستی دی.

خدای دې راوله زمـــــا ښـکلی شهیمه
ستر گتورن شوه دلته هغه، دغه دا څوک

(پښتو غزل، عیسی اخوند)

**ستر گ وږی** starg wә́ẓay:

وږ ستر گی، طامع، بدسولی، هغه چې ستر گی یې وږې وي. پ. ت. ق اخیستی.

حریصان طامع ستر گ وږي — په بدخـــوی ځک دریش دي

(عبدالقادر ختیک ۲۷۹مخ)

**ستر گه اخیستل:**

د عشق راز پیدا کول، مینه پیل کول.

... دا بادشاه په یوی ښکلی جینۍ مین و ... دا به دده په خدمت کې هر وخت حاضـره وه اگـر چه بادښاه ددې عـاشق ولیکن دا د بادشـاه به محبت خبر نه وه او د یوه هلک سره یې ستر گه واخیسته.

(انوار سهیلی ۲۰۹مخ)

... ولی دې ښـځی ځان له نورې مزې جوړې کړې وې او هغـه دا چې ددوی په گاونډ کې یو ځوان و، ښځی ورسره ستر گه اخیستی وه.

(انوار، ۲۳۰مخ)

**سترگی توریدل:**

د سترگو تورخوړل، دا په هغه وخت کې ویل کیږی چې (۱- څوک څرخ یا لانډو وخوری او سرېږی وګرځی. ۲- له یوه لوړ ځای څخه چې کښته وګوري او له لویدلو څخه یې بوږن وشی.) دلته په لومړی معنا:

ثوابت یې تـــر نظـــره ســــــیاره شی

چې یې سروی ګرځیدلی، توری سترګی

(عبدالقادر ختهک ۳٤۷مخ)

**سترګی نه پر رونیدل:**

دا اصطلاح د هغـه ښکلی او ښـایسـتـه په باب ده چې لـه ډیری ښکلا څخه څوک د چا خبره ورته کتی نه شی، سترګی بریښوونکی.

... په کلا کې یوه دوه کسه داسې ښایسته ځوانان او یوه نجلی ده چې سترګی نه پر رونیږی. (ملی هنداره . ۳ټ، ۲۳ مخ)

... چې سهار سو پاچا را رهی سو، چې راغی د کلا د مخه دوه داسې ځوانان دي چې سترګې نه پر رونیږي. (ملی هنداره . ۳ټ، ۲۳ مخ)

... وروسته ګلخندانه او خـور یې راغلې پاچاته یې سـلام واچاوه، دوی داسې ښایستې دي چې سترګې نه پر رونیږي.

(ملی هنداره ، ۳ټ ، ٤۰مخ)

**ستنه stanā:**

۱- لری، بعید. ۲- شاته، وروسته. ۳- بیرته، دوباره. پ. ت. ق د (په شاتلنه، بیرته تلنه،) په معنا اخیستی.

په امان هغه پومبه وي چې لــه اورد په ستنه وی
(یوسف او زلیخا ۲۱۵ مخ)

... او ورور د تا دوه سوه کروهه له دې ځایه په ستنه دی .
(ت. م. ۱٦۲ مخ)

...چې د ما راتلل يې واوريدل د روه يې سپيځ شو، حيران شوه چې په ستنه جاروتي، شرميدل، كه جنگ ته راتلی له شکسته ويريدل، په مات زړه راروان شول. (ت. م. ۲۱٤ مخ)

ستا د خيال جامې په وينو گنده مه شه
په ستنه په ستنه گـرځــه له ويشتليو (سكندر ختهک ۱۰۵ مخ)

برهنه يې ملــــــوكان له تختــه بوتله
په ستنه يې طبيلی ، فيل و ديزې شوې (هجرى ۲۱۳ مخ)

كه د شونډو په بوسه راكړه پښيمان يې
راشه بيا يې په ســـــتنه له ما اخــله (سكندر ختهک ۱۱۳ مخ)

په ستنه راڅخه لاړ همدم زما
ولې نه خيژي له غمه دم زما (حسين ۲۲ مخ)

چې يې بيرته په ستنه له مانه غواړي
وليد مه شه د سفله دهــر كــرم (سكندر ختهک ۱۳۳ مخ)

**يادونه:** په ستنه هرځای د (په) سره گډ يعنی پستنه ليکل شوی دی.

**ستوبان stubán:**

يو ډل وسله ده (د قلمی نسخې په حواله).

گورئ له درستو گورئ ځانونه پـه ناصر وپرون وشو ستوپانونه
(د خلکو سندرې ١٤٤مخ)

**ستومانه** stomána **، ستومانی** stomāní:

د (پښیمانـه، پښیمـانی) پـه معنا پـه انوار سهیلی کې زښت ډیر راغلی دی.

... او کارغه ددې خپلو خبرو نه ستومانه په سودا کې پاتی شو .
(٢٢١مخ)

... هرڅوک چې مـال یا دوست بیـا مـومی او بیـا پـه خپله غلطی او نادانی دغه مـال یا دوست برباد کړي او بیا هرڅومره ستومـانی چې کوی هیڅ سود نه لري. (٢٨١مخ)

... زاهد پـه خـود شـو او پـه خپـل حرکت ستـومـانه شـو او تندی لـه یې تېک ورکه . (٢٨٩مخ)

... ما خو اوریدلی دی چې یو پاچا و او هغه هم دغسې بیګناه قتل که او بیا عمر له شرمنده او ستومانه و . (٢٩٠مخ)

... بادشـاه پـه څـواب کـې ووې چـی ددې نامناسب حـرکت نـه زه ډیر ستومانه یم... اوس د پښیمانی نه هیڅ فایده نشته. (٢٩١مخ)

**ستوه** stoh:

ستومـانی، ستړیا ـ پ. ت. ق د (staw) پـه فورم اخیسـتی چې سم نه دی، پـه «ستومان» او «ستړی» کې همدغه ریښه ده.

غم د ترکو په ما دومره شـــــو د انیوهه
چې بیان ته مې یې نه رســــــېږي پوهه
هومره ستړی کړم دروغـــو د بیتو ( ؟ )
چې دربار له یې ورتلی نه شم له ستوهه (علیخان ۱۱۵مخ)

کهورته وایی کلـه پوهیږي — قرآن که لولی کله گروهیږي
د پلار په پند یې وننه نه وي — بدان په خپلو بدو ستوهیږي
(خ. رباعیات ۲۲۳مخ)

**ستیل satayəl:**

د یو څه ست ورته کول مثلاً: «چاته ډوډۍ ستیل=ډوډۍ ست ورته کول»
څه د صبر شمکی نن را پیـــاله که طبیبه
ستیه نه شی دا دارو د عاشقۍ رنځور ته (حسین)
چې به وستیه شاه چاته ساغـــر
د گدا په سر به پریووت د غم غر (شا او گدا ۱۳۳مخ)

**ستی:**

چې په عشق د دوست کې هیر ځان و جهان کا
په هغـــو باندې ستـی د الله داد شـــی (ج. فدوی)

**سخره غوټه sxə́ra ĝūṭa:**

سخره گنډه، کلکه غوټه، هغه غوټه چې خلاصول یې سخت وي.
سخرې غـــوټې مې د غـــم دی زړه ته پروتې
کشکې خدای کا را پیدا گره کشای دوست (حمید ۶۱مخ)

**سخه** :sə́xa

۱ - سخ، بخت، طالع، ۲- رخه، حسد. پ. ت. ق. په لومړی معنا «سخ» او په دویمه معنا «سخه» اخیستي‌ی خو سخه د سخ په معنا هم راغلی ده:

په پښتو چې نور نامه کړم پرې صیقل خپله سینه کړم
هم ددې کلام له مخه راعطا که الله سخه

(پټ‌ستوری، علی اصغر ۴۲مخ)

**سخیر** :səxér

جوړه، همتا، حریف.

ای تمام دیار په څیر محبوبا دې مه شه وهیر
له خپل ځانه سربازی کا بې پروا دی له سخیر

(واصل -۷غزل)

**سده** :sadá

د ښادی د پاره شفاهی بلنه.

د پسرلی پیغام په شوندو، څه رنګ رنګ ګلونه راغلل
چې جهان یې په سر واخیست دا واده دی که سده ده

(غزونې ۴۰۳مخ)

**سر** :sar

ته، پلو، طرف، لوری. یوه اصطلاح ده چې احمد یو سربل سر منډی وهلی خو دوړی یې پیدا نه کړه.

غافله وخوري دا سترگې تورې

زه تاته گورم ته بل سر گــوری (عبدالقادر ختیک ۹ ۰ ٤مخ)

**یادونه:** په یوه قلمی نسخه کې د « سر » په ځای « ته » دی.

**سراس saras:**

غوړیدلی، خپور، څانگې وانگې.

کاسه دده که کونډې دده وروره نه دده ورنه خــــلاصه

دمچ کــافــر د لاسه

چیرته چې شړومبې وي دی به پروت وي پرې سراسه

یا خوځی پرې د پاسه

(اولسی سندرې، ۱ ټ، ۲۷۱مخ)

**سرباری sarbāráy:**

سرباری لاړې = خولې (؟) د ستنی برخولی (؟) د ستنی او شـاتیر ترمنځ لرگی (؟)

... هغــوی غــره تــه روان شــول، چې وروړســیدل نو په کـار یې شـروع وکړله، چا بـه په تبرونو لرگی وهل، چا به په ارو باندې تختې ویستلی، چا څخه به څورلی ترښځ په لاس وو. لرگی به یې سوری کـاوه، چا به په رندې باندې شا تیرونه او سرباری لاړې هوارول.

(کلید افغانی، گنج پښتو ۹۱ مخ)

**سرېزن sarbazán:**

سرریژن، د غنمو، وربشو، او نورو غلو هغه فصل چې وړی یې پاخه او

دانې ترې په پټې کې ریژیږي.

ستا د مراد د پټې وږې سر بزن شو

کړ د تیره لور د یقین په نیت د لوښه (لتاړ ۱۵۵مخ)

**یادونه:** امکان لري کلمه ( سریزن= سر ریژن) وي چې معنا یې په دې صورت کې څرګنده ده او قلمي غلطۍ« سربزن » کړې وي.

**سر په څړۍ کول:**

له آسمانه یې د غم په زمکه ولی

چې، دیوان یې د بیلتون سر په څړۍ کا (بیاض)

**سر په ډاګه:** بې سرپناه، بې کوره.

سر په ډاګه مال تالا په عشق کې بویه

څه په کار چې نه حلال وي نه مردار وي (حسین ۱٤٤مخ)

**سرپښی کول:**

ناز کول، ناز او نخرې کول.

... زمرې وویل:... شکر نه کوې چې زه په یوه سوی باندې سبا، بیګا دوه وخته تد ه ه اه په هغه کې هم لا تاسو سر پښې کوئ راباندې.

(کلید افغاني، ګنج پښتو، ٦٥مخ)

**سرتیری:**

سرتیر، فداکار. پ. ت. ق (سرتیر) اخیستی دی.

هر غازي دې شهادت وګټي خپل سعادت

شهادت برتر مقام دی پرې قایم سرتیري قام دی

(شرعه ۱۰۲مخ)

**سرچت sarcát:**

وا ړه سر چتیان دی که وا ړه دي که غټیان دي

شرم، ننګ یې نشته د لــوړ دي، دوند دي (خ، متفرقه ۹۲۲مخ)

**سرچونګ sarcuáng:** سرځوړند.

میلمنو ته دی ســـرچــونګ

چوپه خوله نه کښیني ګونګ (شرعه ۱۲۵مخ)

**سرخاښی:**

سرښاخی، دونو د ښاخونو سرونه او څوکی.

هــم تر تیب بـــویه د ونـــو | په دا رنګ په کـــار میـــنو
چې یې یا پریکړي سرخاښي | چې ښه برته ځان و ګـــواښي
یا پیوند کړي ځـــوان درخت | په زاړه کې په خـــپل رخت

(شرعه ۳مخ)

**سرخه sorxā**

سمند، آس. پ. ت. ق اخیستی دی.

د خوبرویانو له پراخــه نرخــه | هـــــزار سرونه په یوه ترخــه
عاشق، رنګینه په یو لباس دی | د خوبرویانو له زرد و سرخـــه

تر عرش بالا ده د عاشق سرخهٔ

(ج. فدوی مخمس)

**سردور sardór:**

۱- برخه، نصیب. ۲- هغه سوغات چې په ناوې پسې دریمه ورځ د پلار

له کوره وړل کیږي. (زړه پانگه په دویمه معنا مثالونه لري)

منافع د سفر ډیر دي — له ضرر سره گاډیر دي
مسافر پلی که سوروي — د خدای حفظ یې سر دوروي

(شرعه ۸۲مخ)

**یادونه:** دغه کلمه په کاکړۍ لهجه کې د «د» په ځای د «و» په غبرګ ده او سروور (s̊rowár) تلفظ کیږي.

سروور مې بس دی د ماما گان
ددوی له څیرمه راځي تیکریان (انگی ۵۹٤مخ)
پلانکی ماما مې په غاړه هار
په سرواره مې دی زړه روښان (انگی ۵۹۵مخ)

**سرستری** sar staráy:

سرلوړی، سرلویی، ویاړ.

... په هرمجلس کې یې په خپلو همچشمو، همسرانو چې د اسلام شاه سره موافق وو فخر او سرستری کاوه. (ت. م. ۱۷۹مخ)

**سرشاهی** sarŝāhi:

شیرشاهی، د «۱٤» گرامو سره معادل وزن (پ، ت. ق)، شیرشاه سوري ته منسوب وزن دی.

خوشحال خان د شاعرانو په باب یو ځای داسې وایی:

څوک پاوی څوک نیم پاوی دی — قلندر پکی نیم سیر
زمووږه په حساب دی — هیڅ مې نه دی واصل هیر

بل دولت فقــــير څــــو پاوه　　　　زه تــــرې څو سرشــــاهی تېر
(خ، متفرقه ۱۶۲مخ)

**سرغونی sarǵunáy:**
لومـړی وخت، لومـړی وهله (سـر = پیل، آغـاز) او «غــونی» لکه په بدغونی، ژړه غونی کی لاحقه ده.

ور په خوله چې یار د سرو شونډو گنی کا
یا د مجلس ورته د مینی ســرغــونی کا (بیاض)
سرغونی دې هیوادي طــوطیان راغــلی
ستا د مخ په باغ کې ناست دې سرې منبو کې (بیاض)

**سرکاوته sarkāwtá:** اوتر.
بیهوده سرکاو ته گرځم لیونتوب کړم
دا چاکښلی پرمابانديې د سرسام تیغ
(ج. فدوی)

**سرکنډو sarkandó:**
هغه نجلی چې لا واده شوی نه وی او د واده سر یې لا نه وی بیل کړی. پ. ت. ق (سرکونډو) اخیستی دی.　　　(سرکونډی هم وگورئ)
... آدم خان ناره پر وکـــړه:
مشورې د مور ملوکې　　　پر تمام جهـان دی تللی د نوم کوکې
زه پخوا تر تا مـــین وم　　　چې لا نه وې سرکنډو د مور ملوکی
(ملی هنداره ۱۳۵مخ)

**یادونه:** «سرکندو» لیکل شوی چې قلمی غلطی به وی.

**سرکوزی sarkozǽy:**

دښتي شنه کوتره، ولغه، ورشان. د «ز» او «ځ» په دواړو لیک دودنو راغلی. دلته د مونث په فورم راغلی او په زړه پانګه کې د مذکر په فورم ده چې د (ځ) په ځای (ځ) یې سم نه دی.

هجرِ مرګ بیولی کله آزار کاندی

د بلبلی آو از ته، دا سرکـــوزی ده (هجری ۲٤٥مخ)

**سرکول:**

... په شـمـاره څو تنه په قراول راغلي وو ، هغه یې سرکړه، بلکې پخوني یې وکړه واړه یې قراول دستګیر ونیول. (ت.م. ۲۱٦مخ)

**سرکول:**

پوره کول، اجرا کول، سرته رسول.

مومنان دی په خـــوښــی یو د بل کـــا باد کـــښی

څو یې توان وي دی یې هم سرکوی حاجــــت مهــم

(شرعه ۹۲مخ)

**سرکونډی sarkonḍǽy:**

سرکنډو، سرکونډو. پ. ت. ق د (هغه پیغله چې نوې بالغه شوې وي او د سر ویښتان یې لنډه او د او بدلونه وي) په معنا اخیستی دی. په ادبیاتو کې هم راغلی ده:

کونډه به ونه کړم- سل روپۍ به ورکړم - سرکونډۍ به پری واده کړم کونډه به ونه کړم. (اولسی سندری ، ۱ټ. ۲۲٥مخ)

**سرکوندی sarkwanday:**

سرکوندی دی نه اوبه کیږي
چې خپله مور یې نه وی په پردیو نه اوږ کیږي
(د خلکو سندری ۸۳مخ)

**سرکي:**

سره دی لبان، سور دی پیزوان په سرو شونډو زرین
په درمرجانو چړا (و)
سره دې نتکی، سره دې د وږی، سره دې سرکی په جبین
سرتیک دې گل کړي خندا
(اولسی سندرې - ۲ټ ۱۸٤مخ)

**سرکیدل sar kedə́l:**

پوره کیدل، اجرا کیدل.

نه غرض د یو په بل باندې سر کیږی
غرضدار د خپل سودا شوه واړه خلق (التاړ، ۸٤مخ)
په کوشش د هوښیارانو نه سر کیږی
چې موقوف وي هغه کار په عنایت (حسین ٥٦مخ)

**سرگه sə́rga:**

په ازل بې چې نصیب نه وی له سرگه
په کوشش به څوک څان خلاص نه کا له ترگه (دولت لوانی ۱٤۳مخ)

نه دی بد ساتل د چرگو            د لنگون د پاره سرگـو
یا په نیت د هاوغوښو            پرداخوښیو خـــوښو

(شرعه ،۳مخ)

**سرلاری sarlā́ray:**

مرکب، د سپرلي ثاروی.

په سر لارو باندې امر، نهی بار دی

په رضا به نه لجـام مـــنی نه زینه (واصل-۹۹غزل)

**سرلرگی:**

کـور کـمن تـه ورته زیر لرگی دی چې د پسـاریانو له هتیـو څخـه پیرودل کیده، هغـه به یې اوړه کاوه، له سندرو سره به یې گډاوه او کله به چې د ناوی سر بیلیده د بیلتـون په اویز کـې به اچول کـیده. دغــه دود ځلویښت پنځوس کاله د مخه د ننگرهار او د لری پښتونخوا په سیمو کې موجود و، خو اوس نه لیدل کیږي.

خوابنې به یې گیله کا چې سبا مې لور جوره غواړي
ښه یې آراســـــته غواړي
ښی سپینی پایځی بخمـــلی پکی ممیز غـــــواړي
اوښه را دار کمیس غواړي
ښی آئینی ورمنځی سرلـرگی هم رواجی غـــواړي
ښه د گـــڼ پاولی غـواړی
(اولسی سندرې، ۲ټ ، ۱٤۸مخ)

**سرلیه** sarlayá:

خوشې، په خپل سر، بې بند و قیده، پخنبو.

ډیــر بنــدیان په رنتـهبور کې ناست دی خوښ لکه په کور کې

یا په خپـل گــناه قــایل دي ځـــکه هسې فـــارغ دل دي

یا تر نـــامـــو ننگـه تیر دي نه د تیر، نه د شمـــــشیر دي

یا د ښکار له ذوقه نهیـــل دي سرلیه خوشی په ســـــیل دي

(فراقنامه ۲ ٥مخ)

**سرمور** sarmór:

سرترسره ډک، تر مور گوډ ک.

اوس به د کوهی احوال تیر کمه ای وروره غور ونیسه ته گوره

په چول بیابان کی له اوبو ډک و سرموره سپینه وه که تـــوره

(ولسی سندری، ۲ټ، ۰ ٥مخ)

**سروبی** sarwbai:

د حضرت عمر (رض) په قصه کې:

هم څــه قدر سروبی هم ده واخیستل لرگی (مناقب ۷٦مخ)

**سروتل** sarwatál:

په لتیه کیدل، پسی وتل، په ط ب سر کیدل.

د مجنون په دود گر ځ س په بیابان کړم

په طلب کې ســـــر وتلی د لیـــلا یم (ملا لتاړ ۹۷مخ)

**سروتیر sar-o-tir:**

زهره چاودل، زړه چاودل، سکته کول. (عبدالقادر ختک) د (خوشحال خان) په مرثیه کې یو ځای داسې وایی:

زه چې ستا په تلنې غبرګ سروتیر نه شوم
که خوار یږم پس له تا دا مې سـزا ده (د دیوان ۴۴۲مخ)

«تاریخ مرصع» د «شیخ جمیل» په باب یو ځای داسې وایی:

مالګه به یې په غوړو کې ګډه کړه، هغه به یې خوړه، نقل دی چې یو د ورغ پیښو راغله هغه غوړي یې وختل، د مالګو له زوره په ځای سرو تیر شو. (۵۹۷مخ)

په ګوزار یې هسې لاړم سـرو تیر
نه ښکاری راته ښکاره شو نه یې تیر (سکندرختک ۸۰مخ)

دریغه ستا له تیره هسې سرو تیر شوی
چې په دا بهـانه راشي په تکبیر (سکندر ختک ۸۸ مخ)

**سروز soróz:**

سرود، موسیقي، په فارسي ورته (سرود) وایی د فارسي او عربي د (د) د غبرګ نه په پښتو کې د «ز» غبرګ ته څه اندازه تمایل موجود دی، لکه (خدمت= خذمت، ګرد= ګرز، استاد = استاز) او داسې نور...

... دغه سروز هم ناروا دی لکه بدله چې وایی یا سندره... هم رسول ویلی دی که څوک سروز کا، یا یې نغوړی او لذت ورکا په زړه کې...

(نافع المسلمین ۱۴۵مخ)

**یادونه:** دغه کلمه په همدغه معنا په (۱۴٦مخ کې) «۹» ځله راغلی ده

ضمناً باید وویل شي چې د «زابل، مقر، شلگر...» خلک (سرود) ته(سروز) وایي او منگل رباب وهلو ته «سرود» وایي.

**سروغل** sroğál:

سخت رېږول. پ. ت. ق اخیستی ده.

بې طاعته هیڅ خدای موندلی نه دی

په بندگۍ کې صرفه مه کړه ځان سروغه

(مطیع الله پیره خیل ۱۱٦مخ)

**سروکیښ:** سرغنه کیدل.

هسې زه یم سروزر په کُل عالم کې

لکه ته چې په خوبانو کې سروکیښ (حسین ۲۲۲ مخ)

**سرووړ** sarowar:

سوغات، هغه سوغات چې ناوی یې د میړه له کوره د پلار کورته په لومړی ځل تگ کې له ځانه سره وړي. پ. ت. ق، ددغه تگ په معنا او پ. ر. ق د هغې خوړی په معنا اخیستی چې له واده د مخه یې زوم د ناوی کورته وړي.

که دې توان نه وي له کشاله یې په ځنگ غړیږه

سرو مال غواړي د عشق ناوې تل په سرو ورکي

(حسین ۲۱۵مخ)

خواه مخواه به غم زغمی چې عاشقی کا

په دې ناوې پسې ښه سرو ور دی دا (حمید ۸مخ)

سر پرې کړی مال تالا. په ډاګ ولاړ يم

نه خلاصيږم ستا د عشق له ســـرو اره (حسين ۳۹۱مخ)

دغه زما ورونه اصيل غمبان . سروور مې بس دي د ماما ګان

(انګی - ۵۹٤ مخ)

**سره تپا:**

سوځوونکی تودوخه، سخته ګرمی.

کنبت د صبر مې په سرد تپاد کې وسو

چې دې اورو د ستم باندې خپور کړی (بيدل)

**سره کلول** srə́ kalūl: (وګورئ: تور کلول)

**سری** sərə́y:

مخی، بدلګره ښځه، هغه ښځه چې د بدلی په بدل کې ورکړه شوې وي.

وه انـــا ! څـلــه وهــي بــوغـــــــــــــی

کــــــه ډيره ګـــــرانــه ده زمـــــا ســــــری

پــه مـــــا مــــــو غـــــوښـــتی ده ناوه کـــــی

اوس يــې وځـــــــان تــه نــه ګـــــــرانــوی

(انګی ۳۲۱مخ)

**سړی** səẓə́y:

هغه ښاخ چې څو ناړونه او ګلونه پکی وی.

د ميری زمکــه مهـــــينه ســــراسر واړه وريښمينه

د بهار په وخت کــتـــــلی ښنبی برمنډې پکی تلـــلې

نه یې کانې نه یې خار وي　　څو چې ځی واړه گلزار وي
شگفته یکی اوړی وي　　د هر بوټی څو سبری وي
(فراقنامه ٤٤مخ)

**سسپار کوری saspārkoráy:**

کهی، تسکور وزمه کولنگ دی چې یو سر لری او هغه هم د تسکورې په څیر پلن نه، بلکی د کولنگ په څیر تره دی.

... خاوند یې پاڅید لقمان حکیم ته یې یوې او جغ او سسپار کوری او چوکه او سرباڼډې تیار کړل.　(کلید افغانی، گنج پښتو ٥٩ مخ)

**سکاروی skárway:**

بریښ، ذات الریه، سینه بغل، په لویدیځه لهجه کې ژوندی ده قاموسونو اخیستې.

له هغه مرضه گوره　　چې سکاروی بولی وروره
په رحلت یې له دنیا کړ　　د دنیا کور یې تر شا کړ
(د پیغمبر «ص» د وفات په باب) (اسرار العارفین ٨٢مخ)

**سکبال sakbál:**

چې په سکبال په انبالو کې بالا تر گرځیدل
زیر زمین شول اسیران د بیلتانه له تاخته　　(الپوری ١٤٨مخ)

**سکښتی skáṣtay:**

جوخت، برابر، سم. موزون.

شعر څه دی؟ وینا سکښتی　　ښی یې ښی وی زښتی زښتی
(شرعه ٦١مخ)

په ژوندون دی خــرد مـــــند مور و پلار کا رضــــــا مند
دا چـــې ده رضـــــــا درب په رضـــــا کې د مـــور، اب
هم د خدای ازار دی سکښتی په ازار کـــې ددوی نغښــتی
(شرعه ۱٦۱مخ)

**سکنده ،سکینده skinda:**

۱- د مـات لاس چجـه. ۲- تسکین، ۳- چاتـه جزا ورکـول، لاري پرې بندول. پ. ت. ق (سکینده) اخیستی.

د زړه زخـــم زیاتیږی نی روسته د سکـندی
بیږی د ژوند دوبیږی دا دور د زمـــــانې
رندان هـــم لا پتیږی د چانه کړې گـــیلې
دا ځکه ښایسته مدام درومی په نغمو کې
هیڅ نه دی وفادار (اولسی سندرې ۲ټ ، ۱۵۱مخ)

ســـجـــده ســـهـــوه واجب پر هر چا باندې ای جـــانه
پس له ســـلامـــه دوه ســـجـــدې وکـــړه ای جـــانانه
داهله دی کـــــه په هیـــــر له ده تقـــصـــیـــــر شی
دا ســجـدې دی سکینده کـاندی چې تست شی د نقـصـانه
(نافع المسلمین ۴۳مخ)

شکسته زړه مې سکنده په درد و غم دی
مات سفال مې تم په مینه د صـــنم دی (ج. فدوی)

**سکه** :sə́ka

۱- زاری، الحاح، ۲- سختـه تنده، په دویمی معنا (زړه پانگه) اخیستی دی.

سر یې ایښی و په زمکـه
خواست یې کړ په ډیره سکه (یوسف و زلیخا ۹۸مخ)

**سکی** :skay

زه به بند پخپله واکړم — ستا د زړه غوټه به واکړم
په خپل بند یې پښې لاس و — له عصمته یې هراس و
دی به سکی چې بند یې واکړ — ده به غوټه هغه لا کړ

(یوسف و زلیخا)

**سکی** :sakay

نراو سپوږمۍ په تندی داغ د عاشقی گرځوی
سکی له کلمه په دینار او پر درم تیر بړی (ج. فدوی)

**سکینده** :skinda (و گورئ سکنده)

**سلغ** :saláx

پ. ت. ق د (۱- خدایی میاشتی اخیرنی ورځ، د ټولو میاشتو اخرنی ورځ. ۲- پوستول، پوست تری ایستل) په معناو اخیستی خو دلته دغه معناوې نه ورکوي.

عاشقان لکه بورا په گلـو ناځـی
دا رقیب پری څه پوهیږی له سلخه (گلزار روه - علیم)

**سلم slam:**

خبرتیا، معلومات، انفرمیشن. (سلوم) د (ثرگند، معلوم) په معنا خصوصاً د (خوشحال) او د هغه د کورنۍ په ادبیاتو کې زیات راغلی دی (زره پانگه وگورئ) دا او هغه یوه ریښه لري. د پښتو اقتصادي قاموس (مؤلف نظري) (سلم) کلمه د (اعلان) په معنا اخیستې ده. دغه ټول د سلم د کلمې اصلي معنا ثرگندوي.

... که خپله خپله سره یه خپله! احوال یې راکه ظریف خان مې څه سو
د چا... ،د چا د سلمه.
مریي ناره پر وکړه:
که خپل یم خپل یم، سړی دې خپل یم
زه چې راتلمه ظـــریف ژوندی و
احوال به یې درکم له خپله سلمه (ملي هنداره، ٥٦-٥٧ مخونه)

**سله sála:**

د اوسپنې تود میخ، پ. ت. ق اخیستې دی.

امان غــواړه د هغو زړونــو له دوکــه
چې په اورد عشق کې تود شی لکه سله (ج. فدوی)

**سمټ smaṭ:**

۱- پخ (وگوری زره پانگه). ۲- بشپړ، امانت، لاس ناوهلی.

دا ومړی (لومړی) میوې په داد کـــړه اول همسـایه ښـاد
یا یې یوســه کــورته ســمټه لـــه هـــلکــو ددوی پټـه
چـــې بې زوی د همســـــایه په لـــیده نه شـــی زایـــه
(شرعه ۱۳۰ مخ)

**سمسته samə́sta:**

سمخ، پ. ت. ق د مذکر په فورم یعنی «سمست» او د لومړی «س» په سکون اخیستی ده.

ستا د تروو سپیږمونه جـار شم    لکه سمستی د کمره مزه کوینه
(پښتو لنډۍ ۳۰۹مخ)

**سمیله smíla:**

کوچ (محشی).

یو، ورج (ورځ) یې سمیله کې    شــــیخانو په مــــزد ک
د ، وومه ورج یې لښکر پنډ که    په نیـازیــو وخــــتل
(د مروتو کسرونه ۸٦مخ)

**سنبل sanbál:**

که هر څو خواب کا پر اطلس، پر سنبله د پاسه
کوم ناز پرور دی چې اخر بستر د خاورو نه دی    (ج. فدوی)

**سنجه:**

محشی د (جمع کول) معنا ورته لیکلی ده.

نرخ د وصل دړوایی د بخت رانغی
کور د زړه مې چوی د صبر په سنجو (علیخان ۱۱۰ مخ)

**سند sand:**

پیتی، بار، وظیفه.

که په وصل کې هجران راغی د ښکلیو
را په غاړه به د مینی دا لوی ســند شی (بیاض)

**سند sand:**

۱ - رایه، اتفاق، تدبیر، لمسون. ۲- مشوره، پرېږ. په لومړي معنا «زره پانگه» مثالونه لري، په دومه معنا یې مثالونه بیخي کم دي:

مه کوه ناصحه نور له ماسره سندونه

کله عاشق اخلي بیهوده د چاپندونه (گلزار روه، فاضل)

تیک مې جوړیده له پزې ولویده لونګ

حمید روکه اثرو سره جوړیې خپل سند

(د مروتو کسرونه، ۱۰مخ)

**یادونه:** د مروتو له کسرونو نه معلومیږي چې دغه کلمه لا تر اوسه په مروتو کې معموله او متداوله ده. خو څرنگه چې محشي ته څرگنده نه ده نو هلته لیکي چې د سند لفظ غلط دي، زما په خیال دا «سنگ» دي چې مصلحت ته وایي.

**سنګړه sangára:** تیږه، ډبره، کاڼي.

اوس حمید کوی ناري د یار له غمه

چې یې ولي دارقیب په لوسنګړه (حمید، ۲۸۵مخ)

**سنګڼ sangə́ṇ:**

ښه په ښه لباس تیریږي

د خواري جامه ته واچوه سنگڼه (احمد شاه بابا ۲۱۸مخ)

**سنل snə́l:**

حرکت ورکول، مجازاً اوریدل. پ. ت. ق «سنول» د (خوځول، حرکت

ورکول) په معنا اخیستی دی.

فدوی نه وینی همراز د عاشــقی
همیشه گرځی تنها د زړه په سنل (جانان . فدوی)

نه درځم هلکه زه په یوه کال کې
زه د نواب لور یمه ته خپل ځان به حلال کی

ته عاجز سړی یې څله سوال کې
لور یې د نواب د خــوار خبره نه سنې جلې
(اولسی سندرې ، ۲پ ، ۱۵۰مخ)

ارزانی «سنل» داسې راوړی:

و خپل دوست ته کا په غاړه ‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏‏ د حرص خورا لــوی پړی
د نوس یې ډیر هــوس وی ‏ په نوس خدای سنلی ویلړی
(ارزانی)

**سو so:**

هسی. دغه کلمه د (هسی، داسې ، هغسی) کلمو په ترکیب کې د «شان، ډول» په معنا موجود ده، په زړو متونو کې غالباً د «پسو= په سو» په لیک دود زیاته راغلی ده (زړه پانگه، د پسو کلمه وگورئ)

زموږ ښه خدایه غــــنی پروردگاره
څه قدرت لرې قادره کـــردگــاره
د محمود غزنوي حشم دې ســوکه
چې لښکرې یې انبوه درلی بیشماره (مست منتخبات ۷۶مخ)

**سوالی suwāli:**

۱- پوښتونکی، ۲- سوالگر، گدایگر. پ. ت. ق د «گدایی، د سوال شی، سوالی څیز» په معناوو اخیستی او په همدغه معنا متداوله ده خو د «سوالگر» په معنا هم راغلی دی.

... اوهر مسافر او سوالی چې به په خدمت د شیخ راغی یو سیر دغنمو اوړه او دوه شیرشاهی غوری به یې له موری راواخیستل او هغه شخص ته به یې ورکړه. (ت. م. ٥٤٤ مخ)

... هیڅ سوالی ته زما یادنه دی چې شیخ ځواب د مسلی ورکړی وي (ت. م. ٥٨٩مخ)

**سوځی:**

صبر عین د هوا د هوس ویر دی
چې نمرو خوت د سوځی (کذا) ورتغییر دی (واصل، ۱۲۰ غزل)

**سور sor:**

سمسور. په (سمسور= سم+ سور) کې هم دغه کلمه شته، له (سوري= سایه) سره یې ریښه یوه ښکاري.

د شیطان یاری په زور دی ناداِن نفس ورسره ورور دی
دهقان تومنه اچولی د درویش فصل هم سور دی
(واصل ۱۱۸مخ)

**سورسانده sur sānda:**

۱- سورساندی. یو ډول غرنی واښه دي چې خلک یې وچوي او ژمی یې

مالونو او ښارویو ته ورکوي. ( پ . ت. ق ). ۲- خلنګ، خلنج، یو ډول بوټی دی چې په عـربي یې « خلنج » او په فـارسـي یې « خلنګ » او په روسي یې « versek » بولي. دا بوټی غالباً په تودو سیمو کې شین کیږي او بیل بیل ډولونه لري ځینی یې ترکودي دي او ځینی یې دوړو وړو ونو په ډول دی، ګلونه یې سره، کله ژیړ او کله سپین وي، د ګبینی مچې یې عصیره وړي او ګبینی ترې جوړي. د ګلونو ځوښه یې د روماتیزم، د مثانې پړسوب او د مثانې ناروغۍ ته ګټه لري (فرهنګ عمید) په دغه دویمه معنا د اسلانوف، پ، ر، ق اخیستی ده.

جانان چې ته ماته یې وویل
چې پسرلی سور ساندی ګل کړی را به شمه (پښتو لنډۍ ۱۰۰مخ)
که ګل دی د سور ساندې
زه خبر نه یم پلانکی چا که ترخاورولاندې (دخلکو سندرې ۸۰مخ)

**سور کربوړی:**

بوقلمون. د شرمښکې له کورنۍ خزنده چې په هر ډول چاپیریال کې خپله بڼه بدلوي. په عربي یې « حربا » بولي او یوناني نوم یې « خملیون » دی.

...حربا: خـامـالاون هم ورته وایي په یونانـي، پښتـانـه یې سـور کربوړی بولي. (اختیارات بدیعی ۲۸۱مخ)

**یادونه:** « بوقلمـون » هم په دغـه مـعنا او هم د « پیل مـرغ » په مـعنا قاموسونو اخیستی دی.

**سور مرگ:**

د سره کفانه مرگ، د بل له لاسه وژل کیدل.

قناعت د ژوندون برگ دی

د حاجت غوښته سور مرگ دی (شرعه ۱۱۷مخ)

**سوسال:**

سیاه چشمی مو کمرې دُر دندان، لب هم شکرې

که صفت یې د جمال کړم بویه دا چې یو سوسال کړم

(پټ ستوری، ۲۲۳مخ)

**سوغکی suğakay:**

د سوغ، په سوغ سره، د پوزی او د خولې سلګی وزمه غږ.

چې هم بوره هم بد نامه په خپل کورکې

پټ ماتم کا تر پلو لاندې سوغکی (ج. فدوی)

**سوغن suğan:**

ناز د ترکو قلندر په مال وسروړی

سرمایه خپله پرځای لری سوغن (ج. فدوی)

خپله کهه مې د صورت نه تمامیږی

څه به غواړم له سوغنه له پمنه (ج. فدوی)

له غروره تن پرهیچا باندې نه ږدی

په دا دار کې که پمن دی که سوغن (ج. فدوی)

**سوغول sūǧawə́l:**

چوخول، ځرخول، تومبل، پ. ت. ق د (۱- سونول، ۲- په شدت غورځول، ۳- تحریکول) په معناوو اخیستی دی.

تور بانه دې دي نیزی زما دلبره!

سوغوی مې همیشه په دې نیزو (نجیب)

دوه لړم دي په لشومی سوغوینه

چې په زړه کې نقش خیال ستا د ابرو کړم (نجیب)

**سوغه sūǧa:**

تسل، سود، ډاډ، پ. ت. ق د «سوغ» کلمی ته دریمه دغسې معنا ورکړې دده.

بې طاعته هیڅا خدای نه دی موندلی

په بندګی کې صرفه مه کوه ځان سروغه

شایسته که د جهان واړه راټول کړې

د عاشق بې خپله یاره نه شی سوغه

(مطیع الله پیره خیل، ۱۱٦مخ)

**سوک sok:**

تفسیر، تعبیر.

...وزیرانو چورت پکې (په معما کې) وواهه، دوباره یې دا سوک ترو ایستئ چې دامړو نه غواړي. (ملی هنداره، ۳ټ، ۹۳مخ)

**سول sol:**

عقل، هوښ، سد (پ. ت. ق).

پښتون چې پښتو اوري همیشه ورکوي خوند
پوهیږي بند په بند
که زردرست سره تول شي، پښتو یې منځ کې سول شي
دوی لا پرې کج وګول شي
نه یې خوله وربانديې خوځي، نه یې پوه سوال او ځواب دی
زاړه اوښ ته رباب دی
(اولسي سندرې-۲ټ، ۹ ۵مخ)

... بادشاه ووی: زه هم پوهیږم چې د قهر په وخت کې صبر او ناکام د ... سه کار دی لیکن ما له چې قهر راشي زه بیا په سول کې نه یم.
(انوارسهیلي ۷ ۰ ٤مخ)

**سولل swalál:**

هڅه کول، میلان کول، میل لرل.

| | |
|---|---|
| بل دې کا د خوراک راز | په بسم الله کاندی آغاز |
| هم دې دا دعا وسولي | په طعام دې هله سولي |
| اللهم بارک لنا فیه | وِ اطعمنا خیراً منه |

(شرعه، ۱۰مخ)

| | |
|---|---|
| په دا نیت سره خوشبویه | یا جامه اغوستې بویه |
| چې مې رانه شي په فرج | د حرامو هرج ومرج |

اذا جاء دې هم ولــــولی          که د ښو په ثواب سولی

(شرعه ۳۷مخ)

**سونا sonā:**

زر. هندی الاصله کلمه ده. پ. ت. ق (سونار= زرگر، سوناری= طلائی رنگ) اخیستی دی. د پښتو په ځینو لهجو کې متداول لغت دی. د (سونه) په فورم هم لیدل کیږی.

چــــا نیانو! مه تیاروئ مـــا          سپین بابا نسته لــــویی د چا

سامان مو بند کړئ گړند سونا          گرد په لاس ســـوی دی د بابا

(انگی، ۲۲۹مخ)

وروړ مې بیشکه سونا امیل دی

له ماځاپاته د کوترو سیل دی (انگی ۲۲٦ مخ)

د ســـونا گوتی مې پلانی خان          مــــاما بندی دی په گورستان

(انگی ٥۹٦مخ)

بدن مې تهول سونه ســـــــــــونه شـــو

سنگ پارس جانان په غیږ کې ونیومه (پښتو لنډۍ ۲۱مخ)

**یادونه**: ددې لنډۍ مفهوم ددغې راتلونکی لنډۍ مفهوم ته نژدې دی:

زما جــانان سنگ پارس دی          که ورنژدې شمه د سرو زرو به شمه

**سونتی sunati:**

د احسـان مننه، د احسـان وړنه، احتیاجمندی د «سونت» کلمه په دغه اصطلاح کې ژوندی ده: د چا منت او سونت ته غاړه ایښودل.

سونتي به مې د نورو هومر نه کړه

که په ما باندې نظر، مهر د تا وی (خ، قصیدی ٦٢٦مخ)

**سونکه**sunăka:

په خرگه مې د سروې لاسونه کتبينول

بيا له سود په سونکه د چنـار شـــوم (هجری ۹۰مخ)

**سونه:** وگورئ د «سونا» کلمه.

**سوهاګنه** sohagana:

محبوبه. پ. ت. ق د مذکر په فورم يعنی «سوهاګڼ» اخيستی او هغه ته يې د (ښکلی او گرانه ښځه، ناوې) معناوې ورکړې دي.

ځوله خپله لاسه ونه کړې گټنه

و به نه وينې په سترگو سوهاګنه (لتاړ، ۱۷۰مخ)

**سوهان** sohan:

چته، جاده، جدود. زيات د ښځو په محاوره کې تداول لري.

که ناجی د خود بينې وي ناسهانه (سوهانه)

ستاد عشق په بازار نه لـــري اوج (ج. فدوی)

شو پره مه شه آفتاب ځرگند دی

پورته وگوره آسمان بلـــند دی

په هر طرف کې آسـمان جلوه کا

که په طلب کې د ســـــوهانی (ج. فدوی)

**يادونه:** سهان ليکل شوی دی.

**سوی soe:**

که پخپـــــله نمـــر په نــور وي  دی په خپله بنا یست مغرور وي
ناگـــــاه ولی ســیاد روشــــــی  نور یې چیرته لاړ شی سوی شی
(یوسف و زلیخا ٦مخ)

**سهیدل sahedal:**

تشعشع کول، وړانگې خپریدل، خپریدل.

سپین صاحب (کوم پیر دی) راسی داسی بلیږی
لکه زیړ نمر چې راوکــــړیږی (وخـــیـــــژی)
دده لـه مـــخـــــه وږمــــې ســـهـــیـــږي
مـــریدان بـــه پرخـــوشـــحـــاله کـیـــږي
(انگی ۳٤٤مخ)

**سهیل sohél:**

د منی ستوری، د میزان ستوری، هغه ستوری چې د منی د موسم په پیل کې یا د آسو په میاشت کې راوخیژي.

ځه نازیږی تازه گـل په پنځه ورځـــې
چې په کور یې چپه، تاخت لری سهیل (ج. فدوی)
زیړه ځیره مې د خزان په سهیـــل
زیږو زرغون مخ د خزان ځه کوم (ج. فدوی)
سهیل زده زیږه ځیره فدوی ســـتا نظـر مـــات
لکه ستا مخ هسی تازه، هسې تازه گلزار بهار نه لری (ج. فدوی)

تیتې لکه هلال په گوتو بنود شم یو و بل ته
زیړ د سهیل پانه په درون یم ستا د مخ (حسین ۹۳مخ)
زیړ زیبنبلی سپین مخ په سهیل خوښ یم
تازه تر لکه چنبل نه یم خوشنود (حسین ۱۰۲مخ)
سهیل چې وخیژي اوړي تمام شي
زیرمه د ژمي د سرانجام شي
په اته میاشتي هسې هوا وي
چې د ځوانانو پکې هر کام شي (خ، رباعیات ۲۰۸مخ)

**سیام sayām:**

ستن، متیه. محشي ورته د (تبې یا په بله ژبه اړمونه) معنا ورکړې ده.

آسمان یې بې سیامه درولی    داستوري یې میخونه
دا نمر یې ژیړ گل پرې غوړولی (فولکلوري سوغات ۴۹مخ)

**سپرې separáy:**

همزولی (محشي) «سپو» یې مصغر دی. د نرینه د پاره ما نه دی موندلی.

په ورامې راغله تر له ژیرې
گردې ترلې دي یا سپرې (انگی ۱۷۳مخ)
تا مخ پر څه شي پټ کړی دی
زه په ورانه درځم سپرې (انگی ۱۷۴مخ)
چې په کلا راننوتمه
سپرې پنډې، اریانه سومه (انگی ۲۰۳مخ)

**سپو sepo:**

همزولی د (سپری) مصغر دی چې د ناز له پاره ویل کیږي.

سپو ورکړې مـــنارسی

ښه یې په قدر رخصته کئ (انگی ۱۷٤مخ)

سپیو دې څله کوي کیهی | ته زړه در تهول که کوه مړ دی
سپو آسانه ده جـــدایی | بیلتون پر گرد و مجنونو راځی

(انگی ۱۷ ٤مخ)

وسپــو ږغ که ، که ږغ در کیـږوی

وخت د ماسپښین دی بدان لگیږی (انگی ۱۹ ٤مخ)

**سیخ کول:**

عمر په سیخ کول= ریږو نه گالل، زحمتونه گالل.

او لوالـــــعزمو په سر وړی | چې سختی وي تر غره لوړی
دوی و عمر په ســــیخ کړی | خوږ ژوندون یې و تریخ کړی

(شرعه ٥مخ)

**سیخ کیدل:**

۱- اړم کیدل، کلکیدل، ۲- پام کول، متوجه کیدل. ۳- په عذاب کیدل.

... میرولی و موسی جان ته سیخ سوچی زر کوه درځه (ملی هنداره ۱۳۲مخ)

... د مور مینه تر هسې حده یری (په بچی باندې) پیدا کا چې ورغ و شپه په سیخ شی، ساتی یې ، لویوی یې. (دستارنامه- ۱۰مخ)

اوس زما روزگار په سیخ شـــو

خور ژوندون را باندې تریخ شو (یوسف او زلیخا ۷٤مخ)

د وصال ساعت پرې تریخ شو خـــور ژوندون دده په سیخ شو

(یوسف او زلیخا ۱۹۱مخ)

**سیخندی:**

پورې وورې یې د زړه په سر ښخـیږي

تور بانه دي لکه غشي سیخندی ستا (حسین ۱۵مخ)

**سیخول sixawál:** سیخ پرې منډل.

که د صبر سیخ هرگوره ډیر تیره دی

خور سینه پرې سیخوم ولی ترکومه (علیخان ۸۸مخ)

نشته ستا غونډې دلبره دلبران شـوخ

سیخوی د زړه په سر تیره مژگان شوخ

(حسین ۹۱مخ)

**سیخیدل sixedál:**

صورت مې سوځی چې را سیخ شود خور زړه په سر کې

زهـــرو و دیار دبرندو ســـترگـو په نیرد خنجـر کـې

(حسین ۲۱٤مخ)

**سیر ser:** فریب، غولیدنه.

بې دغمـــه د هـــوس نشته بیاضـه

پس له دې دې په زیده کې تمام سیر شو (بیاض)

**سیره** sera:

غمجن، خپه (محشی).

تېوېک دې ډک کئ ودې وېشتمه
وزر مې مات (سو) څنګه به ځمه
له شنو کــــــوترو وګــــرځېدمه
د مچ کــــــلا د ده سیره به سـمه (انګی ۱۵۸ مخ)
زه سې را کښېنم سم له ســــحاره
بیا سیره سي د نـیا له کــاره
(انګی ۲۸۲ مخ)

**سیږه** siza: غړنی میږه.

زرګی مې ویره در څخه وکه لکه ســـیږه له توره تېوېکه

**سیسن** sesan:

۱ – تیشن، چیشن، برکتی، هغه څوک یا څه چې زیات تولید ولري، هغه څه چې ښه شتمنی ورپسې وي. ۲– ببر، لوی وېښتان لرونکی، زیات واښه لرونکی غر، نیمه ورشو. په لومړي معنا د ننګرهار په زیاتو سیمو کې متداوله ده. مثلاً د شتمن په ځای وایی: «فلانی ښه تیشن دی، د فلانی پورې خدای دغه واده تیشن کړ چې هم یې اولاد وشو او هم یې دنیا پیدا کړه» او داسې نور...

چې په خپل مـــال صرفه کا، له بله غواړي
دریغه وسوای په لمبــوکې د سیسن لاس
(مطیع الله پیره خیل ۱۰۶ مخ)

**سیگڼ sigaṇ:**
بیــخی زیات مــوړ، زړه وهلی. پ. ت. ق د (گ، ک) د تورو په بدلون یعنی (سیکڼ) اخیستی دی.

ډیر خــــه مـــې وکـــړل مـــا وې کـــه یار شی
دیدن یـې وویـنم زړه مــــــې قــــــرار شی
چاوی چې صـــبــر کــړه صـــبــر مـــې هم وکـــړ
ســــیگڼ یم کله په صـــبـــر کــــار شی

(خ، رباعیات ۹۷، مخ)

**سیلگری selgáray:**
پلوی، طرفدار. پ. ت. ق (سیله گر) یعنی د (ل) په فتح اخیستی دی ځکه چې ریښه یې (سیله= طرفداری، ننگه) ده. خو په راتلونکو بیتونو کې د «ل» په سکون راغلی دی:

| | |
|---|---|
| غټ دې ملگری مه شــه | غټ دې سیلگری مه شه |
| غټ بې حـیا نا مـــرده | در ته سوالگری مه شــه |

(پټ ستوری، مولوی سکندر ۱۸۹ مخ)

**یادونه:** همدغه شعر د «بیدیانی گلونه» په (۸۹) مخ کې هم ثبت دی چې هلته د (غټ) په ځای (غوټ) راغلی. له دغې کلمې غالباً مطلب (بډای شخص) دی.

**سیله selá:** سیلاوه، چاړه.

| | |
|---|---|
| چـــې دا وویل چـــمـــیار | قادرخان ته بداختـــــیار |

ورسره سـيله ولاړه | په ديوال پورې هـمغاړه
--- | ---
دده پخـپله واخيستله | د چميار په سينه گـله
ورکړ دده هسې گـوزار | چې دی کـړ تار په تـار
پـوري ووري وختـله | تر سينی تر شا يې گـله
په ستنه يې چې سيله بيا | راوکښله په جمـله بيـا

(مناقب ۱۸مخ)

**سيله séla:** خنبته (محشی).

د سپين ميختر (نوم دی) په لمن سيلې
ودنجـلی ثـلـه زاړی دا سـوی (انگی ٤٥٤مخ)

**سيلی:**

نوی باز راشی له سـواته
لکه ښه سيلې جـوگيان (خ، قصيدی، ٥٩٠مخ)

**سيلی:**

زما زړه دی پکې بند په بند پرچـې کړ
چې سيلی دی د اوږدو زلفو رانغښته
(حسين ٦٦مخ)

صبحدم دی سپينه ږيره نمر راخيژی
سيلی دی د دراز عمر رانغـاړی (حسين ١٤٥مخ)

**سيمه دار simadār:**

گاونډی، همسايه. سيمه داری= گاونډيتوب، سيمه= منطقه او دار= درلودونکی.

زمـــا د لالا ســـــوی حرکـتی          وایی لور بـه خـامـخـــا راکوی
تر پلانی خان کــــور پاچهی          وی یې ختاوي پر سیمه دارې
(انگی ۲٦۹مخ)

**سیو sew:**

نم، زیم، رطوبت. پ. ت. ق پـه مـعروفـه (ی) اخیستی خو دلتـه د «غریو» پـه څیر د مجهولی (ی) پـه ردیف کې دی.

انـگی کـه یې ښکاره کړه زما اوښکـــی بـه کاوچې
دا پـه دا چې مدام تنبتی د گوپان پـه موسم سم سیو
(علیخان، ۱۷مخ)

**سیورغال syurǵāl:**

مـدد مـعـاش، هغـه مـادی امـتـیـاز چې د بادشـاه لـه لوری چاتـه ورکول کیږي. ترکی الاصله کلمه ده.

دا همه زمـــا د تـوری صـــدقه دی
ښنبتانه چې پرگنی خوری یا سیورغال (خ، قصیدی)

**سیبل syāl:**

د گوپ ستوری چې د مني د پیل علامه ده.

زوږ سږی چې پیغله مچوینه          دا خوله دې پـه ناســـور شی
غاښونه دې سییل وریژوینه (فولکلوری سوغات ۸۱مخ)

* * *

# ش Ś

**شاباړ śābar:**

شباړه، کلک او زیږ. شباړه زمکه = کاړیزه، کانکرډوله زمکه، شین شباړبوټی = کیاز کیج بوټی (د شینوارو په سیمه کې تداول لری)

... زما مثال د هغه چا دی چې پښه یې ژوبله او دی د ډیرې مستۍ او بې پروایی ددې پرهر پروانه لري او په شړو شباړو لارو گرځی.

(انوار سهیلی ۳۲۶مخ)

**شابیل:**

د زمکې د کنلو یو ډول بیل دی (محشی).



ACKU

چې بیلتون غشی په گورت لری حافظه
په دغه شابیل به ډیر زړونه سوری که (الپوری، ۸۲مخ)

**شاغل šāġə́l:**

څرگندیدل، ظاهر یدل، په (زړه پانگه) کې (شاغی = ښه ایسیدونکی ډیر په زړه پورې) صفت اخیستل شوی، په پورتني معنا د فعل په صیغه هم راغلی همدارنگه په «زړه پانگه» کې هم د فعل په صیغه شته.

چې له حاله په خوډ راغی          نور په بله گونه شاغی
(مناقب ۱۰۵مخ)

**یادونه:** قاموسونو (ښاغلی = ښکلی کول) مصدر اخیستی؛ کیدای شي دا او هغه سره ارتباط ولري.

**شاگی šāgáy:**

ملاتړ، ملاتینگوونکی، قوت الظهر، شاته ولاړ قوت.

... آدم خان ورته وویل چې ته دری سوه سپاره ځوانان مور ته راکړه چې هسې زمونږ شاگي وي، نور جنگ مونږ کوو. (ملي هنداره ۱۵۹مخ)

**شاگی šāgə́y:**

لمنگی. له نویو لتو څخه جوړه شوی تېری، د ناستی له پاره جوړ شوی فرش (محشی همدغه شان تشریح کړی).

ونریده د غم انگیتی          خوپ یې د باندې راووتی
ظالم ویل کښینه خواري خوری          عیال دی غرق سو په انگیتی
ددې په وینو سرې وې شاگی          ماغزه پراته دي د بالښت پرژی
(انگی ۲۲۷مخ)

ود تـــو بروزياتـــه يې راكـــوي

نه به يې سور كوروي نه سرې شاگي (انگی ۳٤۸مخ)

**شاهوكار śāhukā́r:**

د شراقتمند ژوند او شغل خاوند. د كلمی اصل غالباً (ساهو + كار) دی چې ساهو د (شريف او اصيل) په معنا دی په (زړه پانگه) كې ساهو كار ثبت دی. د شوكار په ليک دود هم راغلی دی.

چې بادشاه دا هســې حال د بهرام وليد
سرفراز يې كړ بهـــرام له مخلصـــانو
بيا يې ښی جوړی زيبا بهرام ته وركړی
چې قيمت يې گران كاوه شاهو كـارانو

(كليد افغانی، بهرام او گل اندامه ٢٤٤مخ)

**شپيشتری śpeśtə́ray:**

پيشلري. بو ډول سارانې سابه دي چې په پاخه ډول خوړل كيږی. په پښتونخوا كې يې استعمال زيات دی. قاموسونو (پيشلری) اخيستی دی.

هر طعام چې ورځيلمـــه شی
هيڅ طعام دی په خوی بزرگه
گرچې وي د بزی ښـــنگری

رضا مند دې پرې ميلمه شی
نه گوری په خواره ســـترگه
ياوی سوړ سكړك شپيشتری

(شرعه ۱۲۷مخ)

**شپیانه ŝpiyāna:**

ملامتی، گرمتیا، پ. ت. ق د (شرم، خجالت) په معنا اخیستی دی.

زه به خوی (خود) لویی و هم بوغی

شپیانه نو څله رااچوی . په ورامی راغله تر له ژیړی

گړدی ترلی دی یا سیپری (انگی ۱۷۳مخ)

ترلی بې شپیانی، بد دي توبرونه

په پردي خلک کې غواړي ودونه (انگی ۵۷۰مخ)

**شخړه ŝxə́ṛa:**

هجوم، گنه گونه، بهیر.

راغلې ستا په سترگو د دنیا د حرص لړې

نه وینې چې درومی د عقبا په لور شخړې (الپوری، ۱۵۰مخ)

**شده ŝóda:**

سود، تسکین، تسل، ډاډ، کلمه باید د (س، ش) د غبرګ په بدلون یعنی (شود) وای.

تو برونه دېر غواړه، ترڅان یې زیر غواړه

توره د بل مه کړه، د ځان شمشیر غواړه

شده په هیڅا نشته، خپل ځان په شیر غواړه

تر دا پردو زامنو، ړوند زوی د مور بهٔ دی

(بیدیانی گلونه، سکندر ستریانی ۸۸مخ)

**شرنگی srangáy**: یوه لوبه ده.

پاچا خان د خپل وخت د لوبو په باب وایي:

... نوری لوبې هم وې لکه انگی، شرنگی، لنډیماری...

(زما ژوند او جد و جهد ۳۳ مخ)

**شړل šaṛál**:

پرمخ بیول. په ترکو کې (دعوه شړل = دعوه پرمخ بیول) تداول لري.

عجب حال مې تجـربه کـــه له دورانه

خپل مطلب شړی که یار که برادر دی (هجری ۱۹۰ مخ)

**شړونی šaṛúnay**:

شاړی گرځیدونکی، په شاړو سر، اوارد، کډه په سر.

... د پړانگ دې بچی د هغو د مقابلې طاقت په ځان کې نه لیده نو د دغه ځنگل نه شړونی شو... د پړانگ بچی څو ورځې په صحرا شړونی گرځیده، آخر دا چې یو بل آباد ځنگله ته ورسید.

(انوار سهیلی ۴۰ مخ)

... او د دې طریقه دا ده چې په چل ول دا غویی یا هلاک کړم او یا یې د دې ملکه شړونی کړم. (انوار، ۷۷ مخ)

... عاجز کاروان ناکام او نامراد د وطنه شړونی، خفه او زهیر په مسافری روان شو. (انوار، ۲۵۷ مخ)

**شس šas**:

نه به شس و تهیک ویر کـــړم

نه به بیا ماشه په زیر کـــړم (فراقنامه ۴۶ مخ)

**شغ šoğ:** کړوپ، شوغ.

ته تندی یې تر زوړوالی د مور پی روې ای شغه (ارزانی ق، ن)

**شکیل škāel:**

ناز، شین، خرام.

روانه شوی په سیل گلزار ته ځی په میل قدم اخلی په شکیل

پلوله مخه نیسی د عاشق زړگی چوري

(احمد کلاچوی ۳۲مخ)

**شم šám:**

شمه. هغه کیږدی چې د وزوله تورو وزغنو څخه جوړه شوې وي.

په جهان کې هر ذلیل تر شم میسر دی

د عزیز روزگار د شـــــرم له شـوکته (واصل ٤ قصیده)

د شوخی لمن به زر په ځان قبا کړي

که له حاله د حیرانو لړ کې شم کړی (ج. فدوی)

ستاد وصل دا مثال دی که څوک وایی

او ښ له باره سره ترستی په شم وخـوت (قنبر علی)

**شمبلکار šambalkār:**

سمبلکار، یو ډول زهر دی.

مـــــوزی په توره تبه نـه مــــــری

سبا ناکام دی شمبلکار به پرې کومه (پښتو لنډی- ٤٤٠مخ)

**شمک** **śamāk**:

شمکی، تریځه. په فارسي یې (کاسنی) او په عربي یې (هندبا) بولي.

لا مې تریخ په غم کې حلق و ترشمکه

بیا جدا دې کـــړم له یاره اې فــلکه

(عبدالعظیم رانیزی)

**شمه** **śamā**:

یو ظاهر، باطن یې روغ که        که شمه یې په څو بیر (واصل، ۷ غزل)

**شمه** **śamā**: وړی (محشی).

اســپه یـــم بیـــانه        د سرو زرو امیل مې دی په غاړه

د پلار پراخور بنه وم        د موزي پراخور تل شـــمه ولاړه

(فوکلوری سوغات ٤٦مخ)

**شمی** **śamáy**:

تـوره کــــــوتـې راغـلـه تـوره ده لـکـه بـاجـــــو

لـکـې یـې چـا وهـلـې ډکـــــه راغـلـه لـه لانجـــــو...

اوس یو سـاعـت بـه گـوری چې مـعـلوم کـړ مـه خـپل زور

شــــمـــــی ورتـه راغــــواړی مـــړنـی ده ددرو

(اولسی سندرې، ۱ ټ، ۲٦۸مخ)

**شمینه** **śaminā**:

په بنــه تارو نار تابیری        پروکې پروکې شمینه شی (ج. فدوی،

**شنتل śnətə́l:**

بیلیدل، جلا کیدل (محشی)

که لښکره د نادر بده لښکره        نه زلمیان په ځای ویده سو

نه وشنت څه لاس د پیغلو له ځیگره (د خلکو سندرې ۱۵۷ مخ)

**شنتل śnətə́l:**

نښتل (محشی) ونښتل اوښتی فورم دی.

طوطیزی، عمرخان خیل دي سره پیښ سوه

شنتی یې سپینې تورې بریښن وه (د مروتو کسرونه- ۸مخ)

**شنډېل śandél:**

شنډ، بې ثمره. د (گاډیر، زهیر) په څیر (ل) د (ر) بدل ښکاري.

میوه دار نه شو زما د امید بوټی

چې په اصل پیدا شوی و شنډېل (حسین)

**یادونه:** دا کلمه په (زرد پانگه) کې غلطه (شینډین) چاپ شوی و. ځکه دلته سمه شوه.

**شوت śut:**

د چونی محلول (محشی).

لکه ړوند په بازار گډیږي د ناسوت

تل په ځای د انگبینو پیری شوت (لتاړ ۳۶مخ)

**شوخ śux:**

علت، سبب، کبل.

د یوه بزرگ د همسایه — پته غلو کړه ثه مایه
وی یې واخله مسلمانه — ددې زیان تاوان له مانه
چې ته شوی زما له شوخه — ددې زیان د غشي موخه

(شرعه ، ۳۷مخ)

بل دې کا د گوتو کوتی — بند په بند پاکیزه ژتی..
هم و بنکی، دغورو سوری — د گنده خیری له دوری
چې ددې خیرې له شوخه — فرشتې تښتي بې روخه

(شرعه، ٤٤مخ)

که قرآن ثوکسه ژوی — جهر لولي، سامع نه وی
ثوک دالوست بولي بې روخه — د سماع د ترک له شوخه

(شرعه، ٦٥مخ)

بل دې جور، اذیت — د ظالم گنې رعیت
درد ، عذاب د خدای له روخه — خاص د (خپل) جرم له شوخه

(شرعه ، ۱۹۱مخ)

د خواری له شوخه خوار — گنې خوار سپک ناهوار

(شرعه ۱۰۲مخ)

دی حضرت هم ثانمړی — په حدیث ملعون نومړی
چې مالدار د مال په طمعه — عزیز گوری لکه شمعه
نه دی مال د جفت بې روخه — خرثوی د نس له بنوخه

(شرعه ۱۵۳مخ)

**یادونه:** په وروستي بیت کې د (ښ) په توري دی.

**شوړه کیدل:** شیوه کیدل.

...دی (توته کرکی) ناڅاپه په شهزاده راشوړه شو او سترګه یې ورله ړنده کړه او لاړ د محل په اوچته مناره کښیناست.

(انوار سهیلی، ۳۱٤مخ)

**شوړه ṡwẓa:** قلعی.

په طور طور پیدا یو موره مښک یو عنبر یو، بصل یو، هوره
شهد شکر یو، زهرزقوم یو روئین یو، نیل یو، نسپال یو شوړه

(خ، رباعیات، ٤۷مخ)

**شوشه ṡoṡa، شوشۍ ṡoṡáy:**

مرغنده، سکروټه، خوړلن. پ. ت. ق شوش، شوشې اخیستی دی.

په مــــردن نشــــته آرام د بیــقرارو
شیدا خال به یې تمام د ریګ شوشه شی

(شیدا، ق. ن. ۹۲مخ)

د غفلت شوشۍ په لاس کې
پری سیځی د خاطــر کور (التاړ، ۵۷مخ)

هم دا هسې د مخلوق خویونه نور شول
په هر دم ځبله د مینې کـــا پریکــون
په ظاهر به سره یو تر بل ځـــــاریږی
ګرځوی داور شـــــوشی په اندرون (التاړ، ۱۱۰مخ)

**شوغ śoǵ:**

چې لیدلی مې د یار د مــخ فـــروغ دی
که ثوک کا و ماه صــفت وایم دروغ دی
چې لانه یې د هجران اندوه خــــــوړلی
هجری! زړه دی د بهار ترخنګه شوغ دی (هجری ٤٧٥مخ)

**شوکار:**

شاهوکار. (شاهوکار هم وګورئ).

خالی لاس لکه ګدا ووځی له کـــوره
که بادشاه د ولایت وی که شوکار شی (ج. فدوی)

**شوم śum:**

وږی، نهر، روژه تی ،شومه= روژه، صیام. پ. ت. ق اخیستی دی.

له لباسه یې محـــروم کئ له طعام څخه یې شوم کئ
ګوزران یې کئ د کـــرګو په کـــــومـــــاله پرپراړه
(ج. فدوی)

**شومړی:**

دا د غم شومړی شپه په یار رڼا شوه
که حسین مې د زړه له چاکه نمر دی (حسین ٤٣٣مخ)

**شوول śwawəl:**

نیول، ښکارول.

... دمنه ووی چې یو ښکاري په صحـرا کې روان و، ناڅاپه ده یو

لومبړه ولیده چې په صحرا کې ګرځیده، ښکاري په دې طمع چې څرمن به یې په ښه قیمت خرڅه شي ددې د شوولو اراده وکړه، ده د لومبړی سوړه معلومه کړه او... (انوار سهیلی، ۱۰۵ مخ)

**شوه:**

شوی. سپینه خامتا چې د زخم د تړلو او همدارنګه د کفن لپاره تری کار اخیستل کیږي.

طبیبان مې پرهرونو ته حیران شول
هره شوه راباندې ګوره په تبـــل ژړل (بیاض)

**شهند:**

ستا د سترګو نمونه په د هـــر نشته
مګر لږ هغه شهند چې په سنبل شی (هجری ۱۷ ۵مخ)

**شیرا śerā:**

ترور او ګرندی. شیرا تلل =نیغ او چابک تلل.

وطن په وطـــن ګــــرځئ په نصیب پسې تیار
لکه سپی چې په نخجیر پسې شیرا ځی بې اختیار
هیڅ په ځان نه وی خبر (پټ ستوری، حافظ عظیم. ۶۲مخ)

**شیرشاهی śer śāhi:**

د یوه تول اندازه ده چې د شیرشاه له خوا تداول ورکړ شوی و.

بې له خدایه چې مدام په یوه حال دی
سړی کله شیرشاهی شی کله سیر شی (رحمان بابا ۲۳۳مخ)

... او هر مسافر او سوالي چې به په خدمت د شیخ راغی یو سیر د غنمو اوړه او دوه شیرشاهي غوړي به يې له موري را واخیستل او هغه شخص ته به يې ورکړه. (ت. م. ٥٤٤مخ)

**شيرک** **šerak**:

گونگی، بوم، جغد.

غمازه یار لره روان زما په قصد شــو

مخامخ يې په فال بدمرغه شیرک شو (هجري ۳۳٤مخ)

**يادونه:** دغه کلمه په زیات احتمال (ښیرک) دی چې له (ښیرا = بدده دعا) له کلمې سره لفظي او معنوي ارتباط لري. په زړو متونو کې غالباً (ش، ښ) یو شان لیکل شوي.

**شیرمزدله** **širmazdalá**:

کمکوټی امام کله شي چپ کله غړېږي

پریکوڼ يې وکه صنم وډېږي

ناپاکه جوار اوړه کوی شیرمزدلــه ده

نن بیا په کلي څه غلـغله ده (و. س، ۱ ټ، ۲۳۱مخ)

**شیک** **šyāk**:

پ. ت. ق (شیکی = یو ډول زهرجن بوټی دی چې که څاروی وخوري وژني یې) اخیستی دی.

له خــویه توغ يې څــومــره چې شـــیک يې

روحـــــانیت لره لـکه څـــــوڅک يې

گوری آسمان ته، پیدا له زمکې

نه لری خاوری، هغه شانک یې

(د خیبر ورمی ، ۷۷مخ)

**شیلا sela:**

خیله، چتی. په ختیځه لهجه کې د (ښ) په ځای (خ) قاموسونو ثبت کړی دی چې سم نه دی.

وکه اتبار ایښی مې سرستا شیلا پلار څخه دی

دیره بیلتون رما د خور زړگی قلار څخه دی

(اولسی سندرې،۱ ټ، ۲۹مخ)

**یادونه:** دغه شعر د (پښتونخوا د شعر هارو بهار) په ۱۳۲مخ کې هم راغلی هلته د (دیره) په ځای (تیره) ثبت دی.

**شین sayn:**

ناز، خرام. غالباً د «تگ» صفت راغلی دی(زړه پانگه). ډیر کم د (تگ) نه هم استعمال شوی دی. لکه:

کجه کجه خماری په بالین راغله

برندې سترگې یې د میوله غزانه

په مستی یې لاس وهلی په شین شین

د پالنگ په سر مې راغله غزلخوانه

(هجری، ۱٥٤مخ)

**یادونه:** په راتلونکی شعر کې د (شین) تلفظ او معنا غور غواړی.

څه عجب د محبــوبا د ســترگــو شــین
چې يې زوړ کا د عـــاشق د خـــاطر چین
په سپین مخ يې توری زلفې کړی پریشانی
لک په ورغ باندې ســـایه وشــی درین (کریمداد)

**یادونه:** رین=وریځ.

**شین:**

په سرو وينو به ســـبا د شـــهیدانو
درست جهاڼ به د محشر کا گل رنگین
شین گیاد د طول امـل ریبی، په زړه کې
چې لری په لاس کې لور د عشق د شین (سکندر ختیک ۱۴۲مخ)

**شینغاړی singāṛay:**

رڼاگی. یوه خړه مرغۍ ده چې نسبتاً غټه او شنه غاړه لري (پ. ت. ق)

... دمنه ووې چې د بحر هند په غاړه د شین غاړی یوه جوړه اوسیده چې د هگیو موده شوه نو ماده خپل نر ته ووې چې چیرته امن ځای وگوره، چې زه هگۍ واچوم. (انوار سهیلی ۱۱۰مخ)

... چنانچه دا نرشینغاړی په هر قسم مرغانو وربره شو او د ټولو مشرانو سره يې جرگه وکړه. (انوار، ۱۱۳مخ)

**شینورگی:**

شین پوښی، شین ویره.

څوک به څه کوي له کرگو اختلاط
د زړو ړندو شینو رگـــو اختــلاط (ج. فدوی)

# ښ S

**ښاځه saʒa:**

امانت ، ودیعت.

(چې) هرڅو ښاځه لرغونی شی د بل وی

ودیعت یې د صا ب په ملاقـــات شی (واصل، ۱۳۳ غزل)

**ښاریه :**

ښار ، ښار او چاپیریال یې.

دا وینـــایې ســـره کـــړه په لاره تلنه

حــاصـــل داچې ښـــاریې ته شو ودننه

(پټ ستوری، مولوی مستقیم ۱۲۵ مخ)

**ښالاکه:**

... يوې کلاته راورسيدئ، داسې کلاوه چې سر يې بيخي آسمان ته رسيدلی دی. ښويه ښالاکه (ښالی کی) ولاړه ده چې هيڅ قابو دور ننووتو نسته. (ملیٰ هنداره، ۱ ټ. ۵۵مخ)

**يادونه:** د غه کلمه د (کابل) په نوی چاپ کې (ښالاکه) او د پيښور په زاړه چاپ کې په ٦٩مخ کې (ښالی کی) دد.

**ښکوم ṣkwə́m:**

ورمندنه(؟)، نصيحت(؟) پ. ت. ق (ښکوم) په معروف (واو) اخيستی دی.

حميد يو ځای دمريژيو په باب وايي:

سنت هم ده (مريژی) په اوومه په اول اسلام چې ښکومه

(شرعه ١٤٤مخ)

**ښکومی ṣkumáy:**

خيرخواه، خواخوږی. پ. ت. ق اخيستی.

خليل ووزی و کعبې ته د رحلت خپل

نه په ځان وی نه په ښکومی، نه په فهم (ج. فدوی)

**ښکويل ṣkoyál:**

کښويل، ښکل، کښل، ليکل. (کښل، ښکل) عامه معنا لری چې د (ايستل، اخراج) معنا ورکوی خو (ښکويل، کښويل) د (ليکل، کتابت) په معنا په زړو متونو کې زيات په د غه ليک دود او هم د

(کوینبل) په لیک دود راغلی دی.

که د چا په صـــورت یاره | رنځ زحمت شي ورد وڅاره
دا دعادي زرښکــــوينه | په رنځور دی وخــــورينه

(کیمیای سعادت ۳۱مخ)

دا دعای دی نوشته کــا | هغه کس دې شنیده کـــا
یعنی دا د عادې ښکوینه | په هغه کس دې وخورينه

(کیمیای سعادت ۳۹مخ)

گـــنه شی به په قیـــامت | فضیحـــت په دا شـــامت
پری به وښکوی هومره توری | لکه شـــگې، پاڼې، ستوری

(شرعه ۱٤۳مخ)

**ښند sand:**

مـــساعـد، سم. مناسب، برابر. ظفـر اللغـات(ناښند) د (نا مناسب، نامعقول) او پ. ر. ق د (نامناسب، ناسم) په معناوو اخیستی دی.

ترجماع پخوا خوشخـــویه | لوبې، بوس(و) کنار بویه
چې شهوت په دا ویـــلاړ | ارتـ ــنی ته شـــی ولاړ
جې یې تن یشـــی په ښند | واخلی بې چوکـــه فـــرزند

(شرعه ۱٤۰مخ)

**ښودل sodál:**

ایښودل. په(یاقوت السیر) کې څو ځایه په همدغه معنا راغلی مثلاً:

وايي دی (صحابی) پنځلس شپې وترلی هم هورې
او خورمايې لور ښودلې وريه خوله، ده به خورلې
(ياقوت السير، ٤٤٩مخ)

**ښورواخور:**

تاليښتې، نمک خور، هغه څوک چې دچا په نعمت پالل شوی وی.

... دا مې هم اوريدل چې جلال الدين د پير روښان يوه ښنگښه وکړه. روښانيو ورته وې چې بد دې وکړل، ښنگښ په خوی سپک دی، ننگ ناموس د افغانی نه لری د مغولو ښور واخواره دی که فرزند دې وشی د ښنگښ په بوی به وي، د مغولو ښوروا خور به شی. اللّه دا د وزو اخر د مغولو ښوروا خور شو. (دستارنامه ٣٨مخ)

**ښوری sōray:**

سيپ، سرپناه، سبوری (ښور= کلا، لويه کلا زړه پانگه) مصغر دی.

احمد خان په مځکه کې ښوری (ښور) او په آسمان کې ستوری نه لری. (د پښتو اصطلاحات ١٠١مخ)

**ښونگڼ sungáṇ:**

نيک فال، تفاول. دا کلمه په زړه متونو او همدارنگه په قاموسونوکې د (شگون، شگوم، ښاگوم، ښگوم، شونگڼ، شوگن) په بيلو بيلو ليکدودنو ثبت ده خو د (ښونگڼ) په نيک دود ما بل ځای نه ده موندلی. په فارسی قاموسونو کې هم (شگون= نيک فال، د خير فال) اخيستل شوی (وگ: فرهنگ عميد،) ظاهراً ښکاري چې دا کلمه د

پښتو له دوو توکو (ښه+ گوڼ = گڼل یعنی استخاره) څخه جوړه شوې وې.

په شرعه الاسلام کې د تفاولونو په باب راغلي دي:

لکه گـرځي تيز جلـب ثـوک دورکـې په طلب
ناگـاه غږ يا واجـده! واوري يا ياراشــده!
اميـد وار په دابنونگــڼ شي دور کې پـه انگـڼ
نيک فالي په ښه فال ښه ده په کږل کې خـر خښه ده

(شرعه ۲۰۹مخ)

**ښه زږی:**

چې جواب يې د شپې هم راځخه نه شي
د يرې ميني کړم داهسې رنگ ښـه زږي (حسين ۴۳۸مخ)

**ښهميدل ṣahmedə́l:** بوږنيدل (؟)

چـې اووم ســــــــريـې پـه لاس ورلـره راوړ
يزيدان تري گــوښــې گــوښي ښــهــمــيــده
د حـسـين سـر د صـالح (نوم دی) په غـولي پاتې
يزيدان پرې کــورديده شــوه، غــوليــده

(د سيدحسين د امامينو جنگنامه)

**ښهنک ṣahnák:**

سوغات، انعام، بخشش. د ننگرهار په زياتو سيمو کې هغه کورته چې يا واده په کې شوی وي او يا هلک په کې زيږيدلی وي ؛ ... انو او

گاونډيانو د ښځو له خوا من، دوه منه غله او ځيني نور خوراکي مواد د سوغات په توګه وړل کيږي چې دې ته (ښانک) ويل کيږي. پ. ت. ق د (ښانکي) په تشريح کې ليکي:

هغه ډوډۍ چې د واده په سبا د نجلۍ د تولې پلار ګنې له خوا دهلک کورته وړليږله کيږي.

دلته يې د (انعام، بخشش) په معناو ګورئ.

... شيرشاه په قبول ددې خدمت پرګنه د کانت کوله په طريقه د ښهنک و عيسی خان ته مرحمت کړه. (ت. م. ١٤٥مخ)

**ښيرک ṣerak:** (وګورئ: شيرک)

**ښيادګنی ṣayād ganí:**

حيله، تګی، مکاری. له دوو توکو يعنی د عربی له (شياد = حيله ګر، مکار) او پښتو (ګنی) سوفيکس په مرسته جوړه ده.

د قبيلی خلک چې (دده) په قباحت او ښيادګنی پوهيدلی وو...

(ت. م. ٤٤٢مخ)

**ښيون ṣaewán:**

ښوونه، هدايت.

هر اصحاب يې لکه ستوری د هــدادی

د هــدا د لار ښيون کاندی نجــــوم دی

(خ، قصيدی، ٦١٤مخ)

# غ ǵ

**غایت ǵāet:**

تنګ، ضیق .

زه داړخ کـــانی یم وختــــــــمه

غولی غایت دی درپیاړه به یې کمه ؛ (انګی ٤٤٦مخ)

نن پاڼ نړیړی پر ما قیامــته

بې موره لور یم په زړه غایته (انګی ٤٧١)

لالا دباندې د ننه کیـــږی

کپی غایتې نه پښو کیږی (انګی ٥٧١مخ)

**غبرګول ǵbargawə́l:**

ستنول، بېرته ګرځول، جارباسل.

زړه له نیکانو کوم حـــــالونه | لوی لالا خاورې دی که هډونه
ما له دې راسي په تلـــوارونه | ما دې راغبرګه کې له بیلتونه

(انګی ۲۷۸مخ)

**غبرګیدل ǵbargedə́l**

ستنیدل، بېرته ګرځیدل، جاروتل.

پهژمی کښته دامان ته تلمه | په دوبی بیرته راغبرګیدمه

(انګی ۲۷۲مخ)

**غټ کتل :**

۱ - په ځیر ځیر کتل، نیغ کتل، ۲ - په مینه کتل، د عشق او محبت په سترګه کتل.

وسره مهر ته یې غټ کتل محال دی

کله سترګې برابر ګورې په نمر کــې (هجری ۶۰مخ)

نمر ته غټ کتل په وازو سترګو څوک کا

زه معــذور یم کــه و یار ته کتی نه شم (سکندر ختهک ۱۳۲مخ)

ما ته په غټو سترګـــو ګـــوره

زه د دنیا له ژونده تا ایستلی یمه (پښتو لنډۍ ۴۱۳مخ)

په ښځه باندې د میړه د حقوقو په باب په (دستارنامه) کې راغلی دی:

... دولسم: د میړه په اولاد که د میرمنو وي که د سورتیو پرستارو دي مینه وي، چې لوی وی له هغو دې په ادب اوسی، ورسره دې تنها نه کښیني... غټ دې ور ته نه گوري. (٦٤مخ)

**غراره ǵarārá:**

تو ته تو ته تو کر، څیرې ویرې تو ته. (پ. ت. ق).

د دنیا شپه په هر چا باندې تیریږی
پر سنجاب او پر مسکین په غراره کې (ج. فدوی)

**غرنده ǵrə́nda:**

کانی. هغه کانی چې غوزارول کیږی. په غرندو ویشتل = په کانو ویشتل، ننگرهار کې تداول لری.

له هیبته به سر تیټ نه کړم ناصحه!
که تیریږي مې له سره غرندې ستا (حسین، ١٥مخ)

**غړوندی:**

د ساکن حرف نخښه.

خوځندی حرکت غوړوندئ اما
چو وچ گردید با ساکن مفسر (نصاب الصبیان ٥مخ)

**غړه زمکه:**

بې آرام شوم د جهان په غــــړه زمــکه
د هوسی په دود مې خوب په میرتون شو
(پښتو غزل، صمد)

**غړنګ ǵaraŋ́g:**

ستوني، حنجره، مری.

مطیع الله که د شهی په مینه مست شو

د دنیا په ګفتګوی یې غړنګ ړنګ دی

(مطیع الله پیره خیل ۱۷۶مخ)

هر چې زړه یې غوڅ د مینې په چورنګ دی

هغه خپله ایښی تیغ په خپل غـــړنګ دی

(مطیع الله پیره خیل ۱۹۷مخ)

**غړنګ ǵrang:**

د هغه د زړه غـــرزی په جهـــان درومـــی

په هر زړه کې چې د شاه د مینې غړنګ دی (مطیع الله، ۲۱۴ مخ)

**غړی ǵə́ṛay:**

عضله، له غړیو پریوتل= له زوره لویدل، بې سیکه کیدل.

فدوی! پریوتم له غړیو څخه څه کړم

بینوا کړم د ناسوت ختیو ختیـــل (ج. فدوی)

**غزره ǵazə́ra:**

سپرغی، د اور بخرکی.

خم ابرو دې په مثال د ذوالفقـــار دی

په ګوزار کې غورزوی ګاو سرې غزرې (التاړ ۱۷۳مخ)

**غزېدل ǵazedә́l:**

هوسېدل، شوق پیدا کېدل. د (ژړېدل= ژړا، تښتېدل= تښتا) په څېر يې غزا حاصل مصدر دی. د «غزا» له پاره (زړه پانګه) څو مثالونه لري. يو مثال يې دا دی:

د غبرا په مخ کجا، وطن يې کوم دی
چې کمر د جدل تينګ پسې غزا کړم (هجری ۸۱مخ)

په (غزا شوه او غزا وشوه) په اصطلاحاتو کې همدغه کلمه په همدغه معنا ده.

حواس نه منع کوی له محظوراتو
خوا مې نه غزی د شيخ زلمی امساک ته (الپوری ۱۵۹مخ)

اخيستو ته يې د هر چا خوا غزېږی
سپينه خوله ستا نری غاړه جوړ باړه ده (بياض)

آشنايې ته يې د هرچا خوا غزېږی
چې په خوی خصلت خوبان د چا په سند شی (بياض)

**يادونه:** په وروستی بيت کې د (تند) په ځای (سند) دی چې معنا نه ورکوی.

**غسه ǵә́sa:**

ګور کنی، ګورکنی. ، (پ. ت. ق)

د سبا نسيم خوشبو يې راوړه له ياره
ستا په زړه کې د ګومان مرداره غسه (سکندرختک ۹۱مخ)

**غش لاستی gás lástay:**

سیندک، لیندی، رساویشتونکی. په زړو متونو کې د دغې معنا له پاره غالباً د «لیندۍ» کلمه استعمال شوې ده. خو تر هغه وخته پورې چې «لیندۍ» د سلاح په توګه مهم ځای درلود، د «غشی لاستی» کلمه چې «ی» یې د نسبت له پاره ده له دوو توکو جوړه ده: ۱- غش= سم، نیغ په غشی کې همدغه ریښه ده. ۲- لاستی = لاس. په لاستی کې د «ت» موجودیت د کلمې ایتیمولوژیک اساس څرګندوي. د «لاس» کلمه په خپل اصل کې د «ت» غبرلري چې په «لاستی» او «لاستونی» کې تر اوسه موجوده ده.

... هر کله چې سلطان محمود غزنوي پوه شو چې دا وار کفار په ډېر اخلاص سره ځان د جنګ د پاره تیاروي، نو ددوو طرفو و لښکر ته یې خندق وکنوده او جنګ ته یې ځان برابر کړ. بیا زر تنه غش لاستی یې په وړاندې ولیږل، هغو په چلونو او حیلو سره لښکر د کفارو ګرم کړ او په ځان پسې یې روان کړ. (کلید افغانی، د سلطان محمود تاریخ ۱٤۸ مخ)

... بله ورځ چې نمر راوخوت سلطان محمود په لښکر حکم وکړ، برابر د کلابیخ له په جنګ ورغلل، هندوانو چې ددوی توروزنتوب او زړه ورتیا ولیدله د کلا سر یې د غش لاستیو له ویری پریښود، ټول بتخانی ته وتښتیدل. (تاریخ سلطان محمود، ۱۷۵ مخ).

**غلیب gléb:**

چل، تګی، فریب (پ. ت. ق).

نن خو دی په غلیب کې علیخان غوندې سل یووړه
نه پوهیږم گـانده به په ســپین میـدان د چـا یې
(علیخان ۱۲۲مخ)

**غلیخه ǵalixá**: غولانځه.

ضرع: پښتـانه یې غلیخـه بولی، بهتـره هغـه ده چې د شیـر دارې غواوي. ( اختیارات بدیعی ۵۳۷مخ )

**غنډل ǵandә́l** :

دلول، تېکول، په لواړ ږول میده کول، ورغستلی کول. د (اغوستل، اغـوندل) په څیـر د (ورغسـتل، ورغنـدل) فعـل قـیاسی ښکاری (زړه پانگه، ورغنـدل: و گ) خو ځـای پر ځـای د غندل په فـورم هم راغلی دی. لکه:

که یې زړه غمونه غـاندی هـم دی ښـه ورتـه وخـاندی
(ارمغان، فضل نامهٔ ۹۵۰مخ)

یوه ورغ به مې خالی هډونه مات کا یو پر بله
لکــه ډال چې په زیږه تیـږه وغــــــاندي
(د مست بابا منتخبات ۸۲مخ)

**غنې ǵāṇe**:

باک، پروا.

عبث وژله د چـــرچـــنې
هم ښه نه دی کـــړه تر غنې (شرعه ۱۸۵مخ)

چې څــه پرېږدي څــه وربېږي  دا شان سرخــرېيــل نه زېبي
که پرېږدي ځـــورنډې ځنې  يو ځنگ بل ځنگ نشـتـه غنې
(شرعه ۲ ٤مخ)

**غوټون gutún:**

پرېکړه، فېصله. د خبرې غوټه کونه مجازاً غونډه، جلسه چې پرېکړه پکې کېږي.

که غوټون دی په گلون (د ځای نوم) کې لوی غوټون دی.
ملــــوخــــان باندې گـــــــډېږي
د دښمن یې له تیرې تورې کوټون دی (د خلکو سندرې ۱٤۲مخ)

**غوټه پلو gúṭa paláw:**

سره ترلی، سره نښتی، سره غوټه.

عشق او عقل یو تر بل غوټه پلو شول
په معنا کې آخرت د دنیا ورور شــو (غزونې ۲۷۸مخ)

**غوټۍ gwaṭáy:**

د غاړې یو پسول دی (پ. ت. ق).

لکه جونه غوټۍ سازي په گریوان کا
هر یو ډکې د چنبې نن هغه شان دی (هجری ۱۵۰مخ)

**غوځندی:**

اره

ترخځ امد تیشه، در پښتو غوځندی اره شــد
یوم بیل است ورسی هم چون پړی شد ریسمان
(نصاب الصبیان-۷۶مخ)

**غوځې ǵwáce:**
بارخو، اننگی (محشی).
که گل دی په غنمو کې ژیړ گل دی — دا ده لیلی راغله
چې پربښې غوځې یې سوری د چار گل دی
(فولکلوری سوغات ۹۲مخ)

ژاړه شرغشیه باد دې ښورووینه
د پیغلې په غوځې کې پلستکې ژنې خوب دې زنگوینه
( فولکلوری سوغات ۸۰مخ)

**غورځنډ ǵwərǰánd:**
خدای رسول دې آواره په فانی کار کړه
ته لا خپل صورت آدم بولې غورځنډه (لتاړ ۱٤۱مخ)

**غورگ، غورگه ǵwərg, ǵwərga:**
رستاخیز، بعث، په گڼه توگه پورته کیدنه.
له وحدته شود پیدا د کثرت غورگه
ته په دا دنیا باور کړې د بزرگــه (دولت لوانی ۱٤٤مخ)
چې بهار پیدا زینـــت کا — که عمل ثوک په سنت کا
هغه وخـــت دې په زړه پور — یادوی بعث النـــشور

په نظـــر ځنی لالـــــنه		د ښه فکـــــر په پالــنه
شی اخیست ځنی عبرت		د دنیا ، د آخـــــــرت
په ژوندون کا بعد ازمرگ		هم ستوی یقین په غورگ

(شرعه ۳ مخ)

**غوړ پړکه ǵwar paṛáka:**

ډیوه ، چراغ ، شیطان چراغ.

دا صورت لکه کوته عقل چراغ دی

دده ترابه باندې سوځی غــوړ پړکه

(واصل ۸۸مخ)

**غوړه ǵoṛa:** پسته خبره.

نن رقیب د یار په مخ کا راته غوړې

گوره بیا به څه بلا کا راته جــوړې (شمس الدین کاکړ)

هیڅ خبر نه دی له ځانه ډوب په مینه

نه پرې غوړه کــا اثر نه مــــلامت ( حسین )

کړم په ډیرو غوړو نن اغیار په سترگو کور

پورې په چا مه شه ستا د تورو سترگو تور (حسین ۱۳۳مخ)

**غوزی ǵúzay:**

گونگټ، غوزاړی، خزد که. د فارسی په (قنغوزک) کې د غه ریښه شته.

د دنیا غوزی په کراړو پهلوان دی

پا ک طینته له مردارو وهی مول (ج. فدوی)

یو به دی هم په دا خوشحال کړي لکه غوزی

په ګندګی غوزی راځی دی غــــواړی منډه

(محمد یار عاصی، بیدیانی ګلونه ۲۳٤، پټ ستوری ۳٤۲مخونه)

**غوړباسی کول:**

نغوړل، خبرې ته غوړ نیول، منل.

په خوله وایی له صانعه منکر نه یم

غوړ باسی کړی له راهبه له انجومه (ج. فدوی)

**غوړلی ǵwaẓə́lay:**

سوی. د غوړ له کلمې څخه د «لی» په مرسته جوړه ده، ځکه چې لوی او اوږده غوړونه لری. د ننګرهار په ځینو سیمو مثلاً د چپرهار په دولتزیو کې د زاړه نسل په ژبه اوس هم «سوی» ته د «غوړلی» کلمه تداول لری.

د خوشحال په یوه رباعی کې (خوشحال رباعیات ۱۵٤مخ) د غوړلی کلمې په ځای (غومبږه= غټ، غوړ کې) او کله هم (غوا بزی) (د خوشحال کلیات ۷۳۳مخ) چاپ شوی دی. خو په هغه کتاب کې چې اروابښاد دوست محمد کامل مومند په اردو ژبه د (خوشحال ختټک) په نامه لیکلی دی، هلته د «غومبږه) او «غوابزې» په ځای د «غوړلی» کلمه ده، او دا نسبتاً سمه ده، ځکه چې زمری خو هر وخت غومبږې او غوا، بزی غواړی، خو چې زوړ شی او په بل څه یې زور نه رسیږی او یا یې د نیولو توان او سیک په ځان کې نه وینی نو د سوی (غوړلي) ماتول خو

ورته آسان وي. رباعي داسې ده:

بـــاز پـــه ديـــدن د طـــاوس وويـــاړي
ســـر، پښـــې يې هر څـــه ســـره ونغـــاړي
په خپل خپل ښکار پسې هر څوک تلاش کا
زمـــرى چې زوړ شى غـــومـــبـــړې غـــواړي

**غوړوهل:**

په غـوړوهل په پټـه خـبـرول، په مـرمـوزه توګـه خبـر ورکـول ته اصطلاح ده چې« زلمي يې په غوړ وواهه چې له احمد ځان ساته »

په خولې ريبار وايم، ريبار مې نشته
په غوړ دې ورو ورو هم غلى غلى (و. س. ۱ ټ ۹ ۰ ۱ مخ)

**غوږى ǵwáẓay:**

ګـوښـه، څنډه، حـاشـيـه، کنـار، د (غـوږ = ګـوش، غـيـږ = آغـوش، مـږه، موش... ) په څير يې د فارسي له ګوشه سره ريښه يوه ده.

يو وحدت دى تجلـــى کا | ددې چار عنصر تر غوږي (ارزاني)
لـــــــويه ونـــه دده ولاړه | د عنصـــر د کور تر غوږي
دى د درست غوړونو غوږى | ګاه يې وږى کـا، ګـاه تږى

(ارزاني)

جګـــــــړه سره لکه غوږى غـــــوږى
ميـدان چې به يې ښو ځـوانانو روږى
(د مروتو کسرونه ۹ ٤ مخ)

**غولک gólák:**

لینده، غورکمانه (پ. ت. ق) غولکه اخیستی.

نه حوران د جنت پیژنم نه جـــــونه

په هوس یې سرسیځم، یار د غولک یم (هجری، ۹۴مخ)

**غول غل gúl gál:**

غړوسکې، مجازاً طوفان.

دا دې خط چاپیرچاپیر گـــــرځی له مخه

که سپوږمۍ شود دا وریځ په غوله غل کې

(پټ ستوری میاخان ۲۷مخ)

**یادونه:** غول د (گرداب، ورطه) په معنا زرې پانگی اخیستی. دلته یې بل مثال هم دا دی:

ورته ودرید بیچاره مـــلاح د عقـل

لکه ځاځکې حسین ونغړد د عشق غول (حسین)

**غونډ gwand:**

بنډه کی. غرنیو سیمو ته نژدې چې په درو کې اوبه ډیری شي ځینې سیمه بیز خلک غرونو ته ځی، هلته د غره لوپی ونی د یو نیم متر په اندازه بنډ بنډ غوځوي، ځو تنه یې په شراکت او یا د اشر په توگه په اوبو کې خوشی کوي او د سون یا د ترکانۍ د کارونو له پاره یې په اوبو کې کورونو ته راوړی چې دی ته بنډه کی ویل کیږي او غونډ هم نومیږي.

هغه ځو چې کسب واخلی د لرگو

د غونډانو یاد هیږ یا د برگـــو (پټ ستوری حبیب گل)

**غونډ gẃənd:**

تول، د پاشان ضد. د فارسي د دل جمع په معنا، کلک آرام.

چې نظر پرحال احوال د عاشق نه کا

معلومیږي معشوقه شوه په زړه غونډه (رحمت داوي)

مســــافر پلی که ســـور وي     د خدای حفظ یې سردور وي

وږی، موړ، پټ که برېنډ وي     څښتن زړه ورکړي غـونډ وي

دم قـــدم د نس نه نغـــوږي     د مطلوب په طلب کـــوږي

(شرعه ۸۲مخ)

# K ک

**کاپری kāpraý:**

مسی، سرولین له سرو‌یلو جوړ (کاپر= مس ، پ. ت. ق )

وریندارې ! ژیړه یې زرغونه سي

اول کا پری وي بیا پیروزه سي (انگی ۵٦۳ مخ)

**کاټ kāṭ:**

کونده، مخصوص ډوله شکنجه.

... هغه وخت په ایجنسیو کې ډیره زیاته نگرانی وه چې په چا به یې (د انگریزانو) شک راغی و به یې نیوه او په کاټ کې به یې واچولو. کاټ یو اوږد لرگی و او په هغه کې به سوری و ، د سړیو پښه به یې پکې

واچوله او د پاسه به يې پانه پرې تکوهله. (زما ژوند او جد وجهد ۹۷مخ)

**کاټ kāṭ:**

پخه خوا، د تيغ هغه خوا چې تيره نه وي.

تيــــغ د پــــولاد پــــخ دی　　د مژگانو کاټ په تــرخ دی
خوار شو چې پرې غوڅ دی　　ورغ بې شو د ترشپې سياه

(د علیخان ۱۱٤مخ)

**کاټی kāṭáy:**

کاټ، پخه خوا.

چې واهه شو په کاټی د غم د توری
ځکه شو زما د کم عقل چوسار پڅ (بيدل)

**کاټۍ kaṭāy:** تيکی، غلاف.

... توره چې د کاټۍ نه را باهره (بره) نه شي، نو کله په ميدان جنګ، کې سر خرويي مومي. (انوار سهيلی ۲٦مخ)

**کاچ kać:**

مشکنه، مرغچيچه.

دا تهوله دده چلبازی او تګی ده، بصره ورته بغداد او کاچ ورته مرغلره ښکاره کوی. (انوار سهيلی ۲۳۰مخ)

**کاچل kāćə́l:**

ســـتا يارانه د کــا چـــــل تال دی
کاچل ولاړ وي تال يې ځی په ګرنګونه (پښتو لنډۍ ۳۱۵مخ)

**کاړس :kāṛas**

کاړساو، هغه څوک چې مخ یې اوږد او بدن یې خوار وي.

... نه گورې چې ددې بوډا په خوا کې پر ته یم او دا کاړس مې په برخه شوی دی. (انوار سهیلی ۲۰۳مخ)

**کاړې واړې :kāṛe wāṛe**

کاړ واړ په بد حالت، ذله او کوفته (کاړ واړ - زړ ه پانگه).

چې دا هسې په مـــخ راشی دلبرانې
تروبه ولې صورت نه وي کاړې واړې (احمد شاه بابا ۱۵۱ مخ)

**کاغ :kāg**

تهنگ زمکه، قرغه زمکه، وچه او بې اوبو زمکه.

چې هردم یې غم د یار په زړه څرخیـــږی
بیجا پور که همه گل، هجری ته کاغ دی (هجری ۴۷۷مخ)

**کاغل :kāgal**

کاغذ، قرطاس، مجازاً جدول، لست.

څوک به وران کا ښــکلی توري د ازل
چې به وښــکی نوي توري په کاغل
(د سیدحسین د امامینو جنگنامه)

له سپین ږیری تمه وشکیږی د هـــرچـا
که چا کـــروي نوم یې پریکاله کاغله
(و. خ. بابوجان لغمانی)

**کالوسر kā́losar:**

څه د پاسه کال، د کال نه څه زيات وخت. سر د اضافه ګی معنا لری، لکه د دوو شيانو په تبادله کې څه سرور کول، يعنی څه اضافه ګی ورکول. پ. ت. ق د (تول کال) په معنا اخيستی دی. دغه مفهوم خپله د کال کلمه افاده کوي.

هم پوښتنه د رنځـــــور ۔۔۔ مې بايد که کروه وي دور
که د رپيښ په دا ظـــــفر ۔۔۔ شی د کالـــوسر ســفر

(شرعه ۱۱٦ مخ)

**کامان:**

منظم، مرتب، يو کامان= په مرتب ډول (و ګ، کمان)

**کانايی kānā́yi:**

بيړا توب، حماقت، (کانا = بيړا، احمق -زړه پانګه)

د سر غليم دې که دانايي لري ۔۔۔ بهتر تر دوستـه که کانايی لري
توان يا د زرو يا د ځوانانو دی ۔۔۔ لاف دې هغه کا چې توانايي لري

(خ. رباعيات ۱۹٤ مخ)

**کانټی kānṭə́y:**

د زين کاټی، د زين لرګی (پ. ت. ق).

ښه مې ورته کړه د غم وزين ته، سور شوم

دا کانټی مې موافق په ورانه شــــوي

(عليخان ۱۰۷ مخ)

**کاندی kānday:**

د شرغشو نه وړو کې د دورمې يو نوعه ده چې وچ يې د ير ښه اور کوئ. کان هم ورته وايي. په ننګرهار کې د کترغي ترڅنګه د يوه واړه کلي نوم «کاند» له همدغې ريښې دی چې په نسبت کې يې کاندی ويل کيږي خو اوس يې په غلطه «کان» ليکي.

په خپل زړه مينه د جــــــانان وړم
په زړه پټ کاندي يم اور د پيزوان وړم (احمد شا بابا)

**کانی kāni:**

له ښته، ذاتي، له اصله، له بيخه (کان= ښت - زړه پانګه)

دا متل دی تيغ له اصله غوڅـــول کا
د مومندو توري اوس نه دی کانی دی (ع،. القادر ختک ٤٧ ٤مخ)
د غليم سره به اوس غاړه غيږې شو
د عــبدل د ميړنتوب برخــه کانی وه (خ. متفرقه)

**کانيجن kānijən:**

مصيبت ځپلی، خواشينی، بدې پيښې وهلی (کانه= مصيبت، تکه. پ. ت. ق).

که سرکښ طالع خبر راځنی واخيست
چې زما صبر يې ولید کانيجن شـــو (واصل ٧٦غزل)

**کانې تکول:**

د چا ترمنځه کانې تکول= د چا ترمنځه اختلاف ته لمن وهل، شيطاني کول.

د حسن بصـــــری رتلی        پرده در په زره کـــوتلی
دا چې څوک د چا ترمنځ        تهکـــــوی کاني درنځ

(شرعه ٦٥مخ)

**کبدیمار kabadimār:**

د کبدی لوبغاړی، هغه څوک چې د کبدي لوبه کوي.

... هر کبدیمار به خپل خپل پیر یا زیارت را یاداوه... نو مینځګړی دواوه وال کبدیمار ته وویل چې... (زما ژوند او جد وجهد ۳۳مخ)

**کټه سنګ kaṭasəng:**

بې درده، بې خواخوږی (و ګ: کټه میر)

**کټه میر kaṭamer:**

کټه میری، کټه سنګ، بې مینی، بې عاطفې سپین سترګی. پ. ت. ق «کټ میری» اخیستی دی.

په قیامت به شي پوښـــتنه        موی په موی له تا غـوښتنه
کټه ســـنګه! کټه مـــیره !        د قیامت سختی دې هـیره

(د جمیل بیګ مناقب ۸۰ مخ)

**کجل ګل kajalgwal:**

یو تور رنګی ګل دی پ. ت. ق «کجګل» اخیستی دی. دا یو ګل دی چې د کجلو رنګ لری ځکه یې کجل ګل بولی.

ګلـــونه واړه ښـــایســـــته دي
د کجل ګل به خپل آشنا لره ساته (پښتو لنډی ۳۹۸مخ)

**کجن kajən:**

که د مخ جمال یې زیات وي له قمـــــر

چې په خوله باندې کجن وي مه یې وینه (پټ ستوری، خادم)

**کچ kač:**

کم، وړوکی. (پ. ت. ق اخیستی) په کچه گوته کې هم دغه کلمه ده.

پښتورگی دې سوړ وچ    په نس دروند، په نفعه کچ

(شرعه ۲۲ مخ)

**کچ kač:**

شیشه، ښیښه (محشی).

په بازار کې دړندو جوهر فـــــروشو

مونده کیږی در، گوهر، په نرخ د کچ (عبدالعظیم رانیزی)

**کچ توپک:**

دواتین ښـــونکی توپک، هغـــه توپک چې د لرې او نژدې ښـــوولو کچ (اندازه) لري.

دا مې زړه دی چې د یار په کتو زیر شـــــو

که هوسی ویشتې په کچ توپک ښکاري ده (حسین ۱۰۶ مخ)

**یادونه:** قچ توپک لیکل شوی لکه قچر، چقړې، توقې چې ځینې یې د «ق» په توري لیکی.

**کچر kačār:**

په جامه، په رنگ یې مه غُلیږه هوښیار شه

خوله سیځې کچر په خوند کې مرچکـی دی (علیخان ۱۳۱ مخ)

**کډیر kadér:**
کډوال، مسافر. لکه ګاډیر له ګډ څخه د «یر» سوفیکس په مرسته جوړ شوی.

پسره! تاته وایم دا مې حال دا مې عرض دی.
روان شه، علم وکړه مسافر کډیر دارض دی.
(پنځ ستوری مولوی نجیب ۸۷مخ)

**کړ kar:** عمل، کړنه.

لسول د مؤمنانو — په ښو چارو امینانو
هسې نهی له منکرد — جاریاسته له بره کره
جاریاسته له بدو بویه — په دا څو شرطه خوشخویه
یو په دا شرط چې له ژوی — هغه بد نه وی لا شوی
ولې ویار له شوی کره — نه ده نهی له منکره
(شرعه ۱۷۸مخ)

کاندی امر په ښه کر — یا کا نهی له منکر (شرعه ۱۸۰مخ)
هر مؤمن چې کوریا کرشی — څنې ورک د ګناه کرشی
(شرعه ۲۰٤مخ)

**کراره:** (و ګ: کراریدل)

**کراریدل karaređál:**
خرخره کیدل، کراره ورکول کیدل، د څاروي ګریدل. پ. ت. ق (کراره) اخیستی ده.

... بتیاری جوړ په هماغه ساعت خرطبیلې ته روان کړ او هلته یې پریښود. چې خره دآ سونو حال ولید چې بیل کراریده او ځای به ورته چنګا وکیده او اور بوشې (اوربشې) اواړداوداو بوس او واښه به ورته وخت په وخت رسیدل. (کلید، گنج ۱۱۷مخ)

کراره هم دغسې استعمال شوی دی:

نقل دی چې یوه سړي اس ساتلی و او ډیر مینه به یې ورسره کوله او شپه او ورځ به په خدمت ورته ولاړ و، سحر، نمازیگر به یې لنباوه، کراره به یې په وخت وخت کوله... (کلید، گنج، ٤٧مخ)

**کراړه krā́ṛa:**

د گونګټ غونډاری، د پلیتۍ هغه مرد کی چې خزدکه یې رغړی.

د گلشن هـــوا لری لکه بلبل مردار کراړه رغړوی لکه جعل

(ج. فدوی)

د دنیا غوزی په کراړو پهلوان دی

پاک طینته له مــرداړو وهی مـــول

(ج. فدوی)

**کراغل krāğə́l:**

بابیړی کول، په ناروغۍ کې بدپرهیزی کول پ. ت. ق «کراغند» د (هغـه ناروغ چې د بدپرهـیزۍ له امله یې ناروغی اوږده شی په مـعنا اخیستی دی).

شاه به راز درسره وکا پټ په زره کې

چیرې نه وي د منصور غوندې وکراغی

(مطیع الله پیره خیل ۲۱۸مخ)

**کرچول karĉól:**

فدوی! څه کړم نه خلاصیږم و خپل غم ته

ربه! ورک کړې د ناسوب کج کرچول (ج. فدوی)

**کرش karāś:**

ناز، نخره، کرشمه. په فارسي کې کې هم متداوله ده، خو له یوې خوا په کرشمه کې د (مه) سوفیکس لکه په گوتمه، غویمه، پلمه، څرمه... کې د پښتو ځانگړی سوفیکس دی. له بلې خوا په پښتو کې د کرشماله او کرشنه د کلمو اساس او بنسټ هم دی. (کرشنه په زړه بانگه کې وگورئ)

کرش دې مار دی ظلم دې وکه

مختوروونی ولی دما شوې (ا. س. ۱ټ ۲٤٥مخ)

**کرش karś:**

قضا فردوس کې د عرش د لاندې

جهنم جوش کی د فرش د لاندې

روح د پاکانو په عرش طواف کا

د ناپاک ستوری تر کرش د لاندې (ج. فدوی)

**کرشمال karəśmal:**

کرشمه گر، غمزه گر، کاسیر.

لورې! عـاق مـې کـړی له تا مـې زړه تور شـوی
تا چې ځـان پردې سـړي ته دی جـوړ کـړی
کـرشـمـاله یې تا بـل لونډ نیـولی
ولـسـو کـې دی زمـوږه نوم بد کـړی
(م. س. ۲ټ ۶۱مخ)

**کرښی krəṣay:**

کروښی، رښکی، مجازاً بیخی ناڅیز شی.

د هر زړه مطلب جدادی گوښی گوښی
په هر سر کې ځان ته سر دی مولا ینښی
ستا پر خیال فدوی له عمره فال نیولی
بې له دې خیاله زه نه وینم بل کـرښی (ج. فدوی)

**کرک kərk:**

۱ - د میږو او اوښانو کلوښی وړې چې اشنل شوې نه وي. (۲ - هغه کلکی وړې چې پخوا به ترې کوڅوونه جوړیدل او د کلکوالي له امله به د چلکتې او بختر غونډې په جنگ کې د ځان ژغورنې وسیله جـوړیده.
پ. ت. ق (کورک) د یو ډول وړین توکر په معنا اخیستی دی.

نه به وی هسې رفتار د زرکـو — نه به وی هسې رخسار د ترکو
د بنو غشی مې په زړه څرخ شی — که سل خفتا نه جوړ کړم د کرکو
(ج. فدوی)

**یادونه:** خفتان= چلکټ وزمه کالي دي.

**کرکنه:**

چې له ورایه دې دهشت کیږي له مارږ
پرې به نه کړې په هیڅ رنګ د ژوند کرکنه (التاړ، ۱۷۰ مخ)

**کرګه kárga:** کرګی.

| | |
|---|---|
| له لباسه یې محروم کړه | له طعامه څخه یې شوم کړه |
| ګوزران یې کړه په کرګو | په کماله، په پاړه |

(ج. فدوی)

څوک به څه کوي د کرګو اختلاط
له زرو، رندو شینورګو اختلاط (ج. فدوی)

| | |
|---|---|
| دا مضمون د حدیث واورد | تري درنځ داړه دي واوره |
| که له حکمه د یزدان | وړای شوی چا ګوی د میدان |
| یو به وور په نظر سترګو | آه له دې خوانخوارو کرګو |
| بل افګار، ځان سره کار کا | څه بد کار څه بدروزګار کا |

(شرعه ۲۱۲ مخ)

**کرنی karnáy:**

کومه ونه ده.

ارغنی، نارنج، ترنج، کتهل، بیروې
تبهول، سرې، سرو، کرنی، جمنی، سفیدار مست

(دولت لوانی ۸۱ مخ)

فلسه، بادام کرنی (کهرنی) ارغنجا
نانگه بنیرود، جنغوزی، کرفشـــار (دولت لوانی ۱۱۱ مخ)

**کروغ krog̗:**

وراغ، ورغه، کارگه، کارغه (پ. ت. ق).

شاد به ستا په زړه جلوه تاته بنکاره کا
که خالی کړې ته زرگی له توره کروغه
(مطیع الله پیره خیل ۱۱۷ مخ)

**کره karā:** نږد، سوچه (پ. ت. ق)

د هجری غم به بدل په خـــرمۍ شی
که ځوک راوړی کره می له خراباته (هجری ۳۵ مخ)

**کری karay̗:**

شینکوسی، گورب. د توتی په رنگ او اندازه، یو مارغه دی په فارسی یې (سبزک) بولی.

کـــری په رنگ د تـــوتا نمـــو ددی
چې رنگ مراد نه دی هنر مقصوددی
اصل پیدا کـــړه، هنر خصـــلت راوړه
چې اصل نه لـــری هغه مردود دی (خ. رباعیات ۱٤۲ مخ)

**کړ kaṛ:** کړاو، ربړ، زحمت (پ. ت. ق).

که د عشق له کړه خلاص شوم زه به نذر کاندم غړی
د عشق او رهسې ستی کړم لکه پند او او سپنځری
(د پښتو غزل، فیض کاکړ)

**کړمیزی karmezi:**

د پزی مایعات.

مه باید د نـــبرۍ په وخـــت — چې که بنکته د ســــر زخت
مه دې و نیـــــسی دلـــې ته — لاس جامه و پوزې خولې ته
چې یې نه شي چـا ته لاړې — په دانړی کــړمــیزې لاړی

(شرعه ۷٤مخ)

**کړوزد karūzd:**

کوپ، کوږ، کړوزده خوله = کږه خوله.

رنګ د غمازو رک شه، ناولې سترګې خړې خړې
مه شه ولیـــدل مشــــاده بده خـــوله کـــړوزده

(مطیع الله پیره خیل ۷٤مخ)

**کړین karin:**

زړه مې تور شو په عالم می کړین نه شی
بې له تانه مې په هیڅا تسکین نه شی

(پټ ستوری، مجیب ۸۷مخ)

**کړه کی kazakáy:**

پیښ، ضمه.

ټکی، نقطه، لـــــوړه کــــی رازبر دان
چوکوزه کی، زیر، برده کی پیښ . ثمر

(نصاب الصبیان ٥مخ)

**کشال kasal:**

نارامي، ناقراري، کشاله، هرج و مرج.

هرچې اوسی په دا خونه د وبـــال

و هرچا ته کشال شته په قدر حال (هجری ۷٤مخ)

بو زمان مې له کشاله امـــان نشـــته

لاس د عشق لکه چوګان زه يې پتهګ يم (هجری ۷۰٤مخ)

هجری! لوری د قـــرار په جهان نشـــته

عرض و طول يې واړه ډک دی له کشاله (هجری ٤٤۰مخ)

هيڅ خبر له عشقه نه يې جنجال نيسې

په رضا نا پوهه څلــه کشـــال نيسې (حسين ۱۷۳مخ)

که دې توان نه وي له کشاله يې په څنګ غـــېږېږه

سر و مال غواړی د عشق ناوې تل په سرو دور کې (حسين ۲۱۵مخ)

**کشميرڼ بادام:**

فندق، بندق. داسې ونه (او د هغې ميوه) ده چې پلنې پلنې پره پره پاڼې او غـونچـه غـونچـه ګلونه کـوی، وړه وړه ګرده مـيـوه نيـسی چې د ميوې پوټکې يې کلک، تور، سور رنګی او مغز يې خوړ وي او داسې مـاده لري چې د وينې فـشـار لوړوی. غوړ هم ترې لاس ته راځی چې هم په خوړو کې او هم په صابون جوړلو او هم په عطرو جـــوړلو کې بکاريږي. فـــرهنګ عميد د فندق کلمه همداسې شنلې ده. عـــربی طبی کتابونو هم دبندق او هم دفندق (د ب.ف په پيښ) اخـيـــســـتـی لا تينی نوم يې

(caryllus avellana) دی

(د البیروني د صیدنې روسي ترجمه ۲۹۸مخ)

افغان قاموس د عربي فندق په پښتو هم په فندق ترجمه کړی دی.

بندق: په فارسي یې فندق، په هندي یې جوني او پښتانه یې کشمیري بادام بولي. (اختیارات بدیعي ۱۹۷مخ)

**کښې kṣe:**

وریدل، نازل شوی (و گ، زړه پانگه).

وچ پټي به د خاطر مرغزار نه کا

که پرې کښې د اوښو نه کاندي باران څوک

(لتاړ ۸۹مخ)

**یادونه:** په متن کې کهه لیکل شوی کهه د (۱- قی، کانگی، ۲- خارښت، کهښت) معناوې لري چې دلته دا یوه معنا هم نه ورکوي نو زما په نظر دا به کښې وي نه کهه.

**کل:** غوځ.

ترو ترڅو به بیدار ناست یې چې به کوټ ساتي له غله

ودې غلهڅخه بد تیغ دی ستا به ژبه کا پرې کله

(لتاړ ۱۵۹مخ)

**کلازن kalāzə́n:**

پاړسنگ، اندرپایه، زینه (محشي).

ســـترگې دي رنــې دي     د پېزوان دانې دې ژېړې زرغونې دي
ورنې ننوزي     تورپيکي دې د کلازن پايې دي
(ف. سوغات ۸۳مخ)

**کلماغ kalmáǵ:**

په ناز نازتلونکی، په شين شين، روان (پ. ت. ق اخيستی)

د زاهد خونه به لوټ کـــاندي پوهيږم
مست په حسن، په خندا کلماغ راغی
(مطيع الله پيرد خيل ۱۹۸مخ)

**کلول kalúl:**

مشهور دانه لرونکی بوټی دی چې کرل کيږي. دوه ډوله دی تور کلول (و گ، تور کلول) او سرد کلول. چې که مطلق ذکر شی مطلب ترې سرد کلول وی. په عربی يې خلر، جلبان او په فارسی يې ملک، بسيله او کله هم کلول بولی.

دا يو کرنيز (زراعتی) بوټی دی چې وړې پاڼې، سپين يا زيړ يا آسمانی رنگه گلان کوی لوړوالی يې (۶۰ - ۷۰) سانتی مترو ته رسيږی، دانی يې د ميوو له دانو نه څه اندازه غټې دي او پلی يې د باقليو پليو ته ورته دي. د ميو دانې نسبتاً گردې او د کلولو دانې پلنې څپلی وزمه وي.

د کلولو هغه مفهوم چې د ننگرهار د خلکو په ذهن کې ځای لری د پ. ت. ق له تشريحاتو سره څه اندازه توپير لری. د ننگرهار د غرنيو

سرو سیمو اوسیدونکی د ژمی په ساړه موسم کې کلول ایشوی، دانې یې خوري او له اوبو څخه یې د ننګولی په توګه کار اخلی. کلول د جوارو د کښت سره په یوه وخت کې د جوارو د پټیو په پیڅکو کې معمولاً کرل کیږي او دواړه یووخت لوکیږی. خو په شعرونو کې راغلی کلول د غنمو د فصل همزولی دی چې پ. ت. ق هم پرې اتکا کړی ده. پ. ت. ق لیکی: کلول یو ډول حبوبات دی چې په غنمو کې اویا په ځانله ډول کرل کیږی له غوښتو څخه نری نری دانې لری او څاروي یې خوري. ( ؟ )

کلول له غوښتو سره د تشبیه او ورته والی کوم اړخ نه لری او عمدتاً د انسـانانو خـواړه دی. لاتینی نوم یې (Lathyrus sativus) دی. امکان لری د کرلو وخت یې د وخت په تیریدو بدل شوی وي.

بخت دی نسکور رنګ به دې سور لکه کلول شي
په هی، سوران غم به نـزول شی په تا باران (بیدیانی ګلونه ۲ ٥مخ)

عالم کرکا د غنمو، د وربشو تا د زړه په پټی وکــرل کلول
( ملالتاړ ۰ ۹مخ)

زه د کر په وخت غنم کـــرم، حیـــران شم
چې په درمند کې شي ما ته سره کلول پیښ (علیخان)

**کلول kalúl:**

غم، مصیبت. هندی الاصل کلمه ده چې اردو - پښتو قاموس اخیستی.

مرید ته مدد ګاره ته مدام په سختی کې
هله مې تندی نیسه چې زه ګډ شم په کلول (بیدیانی ګلونه ٥٤مخ)

**کلويغی kəlwiğí:**

کوراو کليتوب، په کلی کې د ګاونډيتوب روابط (له کلی سرد يو ځای راځی).

اروابناد فخرافغان په خپل کتاب کې د (کلی کلويغی) د غټ عنوان لاندې په کوراو کلی کې د کليوالو ترمنځه تولنيزاو د ګاونډيتوب روابط څيړلي دي. (زما ژوند او جدو جهد ۳۸مخ)

**کليور kəlyór:**

کليوالي، آبادي، وداني.

اخر کوچ له دې جهانه مخ په ګور
څه په کار راځی ددې فانی کليور (ج. فدوی)

**کليوری kəlyoráy:**

کليوال، د يوه کلی استوګن.

د فانی له خود پرسته کلی نه شی
زاهد مه کړې له عاشق سره کليوری (ج. فدوی)

**کماله:** (و ګ: کوماله)

**کمان kamán:**

منظم، مرتب، پرله پسې، مسلسل. د ننګرهار په ځينو سيمو کې د کامان په فورم استعماليږی او غالباً د (يو) کلمه هم ورسره يو ځای کيږی. مثلاً وايی: باران يو کامان وريده، يعنی مرتب، بلا انقطاع، مسلسل وريده د حسين په ديوان کې د هکامان، هيکامان يکامان په

بیلو، بیلو فورمونو راغلي دی. د جانان قدوی په دیوان کې د کمان په لیک دود ثبت دد چې همدغه یې معیاري فورم دی.

ظهور د عشق چې ډیر په کمان دی
تري نوراني (یې) آخر زمـــان دی
د عشـــق له نـــوره و پیدا شـــوی
طفیل اصـــــل د هـــر انسان دی (ج. قدوی رباعیات)

هیڅ خبر نه یم له خپله ســـود و زیانه
عشق اخیستی یم بې جوړه بې سامانه
په سور اور باندې مې نیسي یکها نه
هغه ورځ چې تـــارتلی یم جـــانــــــانه (حسین ۴۹۸مخ)

ک دې واخیست لړ اثر له ښکلي مخه
د حسین په څیر به ژاړي هکـــامــان (حسین ۳۵۱مخ)

**کملی kamláy:**

د هغې هوسۍ د څنډ په قصه کې چې یهودي ښکاري نیولې وه بیا حضرت علي (ک) په ضمانت خوشې کړه او دا خپلو بچیو ته ناوخته ورغله:

وې یې اې زویو کبلیو شوم معطل په داکملیو (مناقب ۷۷مخ)

**کمول kumól:**

کومول، ډینګ، چغتی، لګ لګ. د اوبو یو مرغه دی چې اوږدې پښې او جګه غاړه لري او غوښه یې خوړل کیږي. پ. ت. ق اخیستی.

د کــــوتری په وزر الــــواته نه کا
په دا څه که په ښنبوجگ دی کمول (ج. فدوی)

**کمون:**

څوک پوښتنه کا د حال د بیخودانو
له کمونو، له بروزو لـــه بطــونه (ج. فدوی)

**کمیا kamyá:** د بدې ورځې غوښتنه.

د امان الله خان په باب په چاربیته کې:

پاچا زموږ غازي - مولا شه تری راضی - د سردار محمد زی
هرڅوک چې یې کمیا که - رب دې ورکه دوزخونه-
راتول شول عالمونه
(ولسی سندرې، ۱ ټ- ۱۹٦مخ)

**کنال kanál:**

د جریب څلورمه برخه.

د دیدن په خزانه چې کالاس پورې
کله ویش کا د کنال کله جریب کا (بیاض)

**کنجری kanjráy:**

کاسیره، کرشماله، کنچنۍ، بې حیا او بد اخلاقه ښځه. پ. ت. ق اخیستی.

داچل بازي دې د کنجرۍ خطر له پلاره وکړه
سبا اختر دی موری ښه مــزه داره وکــړه (بیدیانی گلونه ۲۱٦مخ)

**یادونه:** په همدغه کتاب، همدغه مخ کې دغه کلمه درې ځایه راغلې ده.

**کنجغرې kanjaǵəray:**

یو ډول کنډ دی (و گ: څډ)

**کنجلې kanjə́lay:**

ژوبل، نیمژوبل، مجازاً ناهیلی، حیران. باید وویل شي چې (کنجن) د (دل، ورغستلی، نیمه میده شوی) په معناوو پ. ت. ق اخیستې دی چې د دواړو کلمو رینبه یوه ښکاري.

| | |
|---|---|
| خپله مور دې لاړه ته یې پرینښلې | اړوه سترگې کنجلې |
| نادانه وړکیه! تا به زه کرارومه | زویه وډی سومه |

(بیدیانی گلونه- آدم خان، ٤مخ)

**کنځکې kancákay:**

خوار زار، اسکیرلی، په بد حال.

... د کلي خلکو وپیژاند، یو د بله سره یې ویل: «گوره هسې لاهغسې کنځکی اسکیرلی دی.» (ملی هنداره، ۳ټ، ۱۶۰مخ)

**کندلې kəndə́lay:**

ځاله، د استوگنې ځای، د اوسیدلو له پاره کندل شوی ځای، ډوغل.

| | |
|---|---|
| چې یې بوی پهن بساط کا | سره کبلی پکې نشاط کا |
| سویه پریږدی خپل کندلې | په گلونو کې ځملې |

(فراقنامه ٤٥مخ)

**کنډوله kanḍola:**

کوکنېه، گلدان. پ. ت. ق اخیستی دی.

بخت مې کوږ، طالع مې تـــورې
گل مې کرلی کنډوله یې ماته شونه (پښتو لنډۍ ـ ۲مخ)

**کنزن kanzán:**

کنزن، کنه زن، یا کنې زن هغه چاته ویل کیږی چې خپل جایداد نه لری معمولاً په سوال هغه زمکې چې د قلبه کولو وړ نه وي په بیل یا بله وسیله کری، دغسې خلک غالباً همسایه اوله بلې سیمې راغلی وی.
پ. ت. ق د «کنې» کلمه اخیستی ده.

چې نه ورور نه یې عزیز نه یې آشنا وی
هغه ځای که تفحص د کنزن څــوک (بیاض)

**کنگس kangás:**

بدري، تکر، کنگس خوړل = بدري خوړل. پ. ت. ق اخیستی.

چې شهې په مخې راشی کنگس نه خوري
یو ترشا نظرونه کـــړی څــوروي مې (خ. غزلونه)

**کنگه kánga:**

پیغله، نجلۍ، جن. پ. ت. ق د (هغه پیغله چې جگه ونه ولری) په معنا اخیستی خو دلته مطلقاً د پیغلی په معنا ده.

چې په بند راولی جن
له کفارو څوک سجن

ځو یو حیـــــض پرې تیر نه شي　　　په جماع دې یې شــــیر نه شي
چې تیر حیض یا یوه میاشت کا　　　پرې دې هله هوی داشـــــت کا
حـــــاملـــه دې په دا کــنگه　　　نیسی هلـــــه چې شي لنـگه
(شرعه ۱۵۷مخ)

**کنی kanáy:**

۱ - کارگاه، کارځی، ورکشاپ. ۲ - تنسته. پ. ت. ق په دویمه معنا اخیستی دی.

گاهی ناست یم له مجلسه اوریده کړم
فدوی گاهی په کنیانو کې ســـارو یم (ج. فدوی)

**کوب kob:**

توپ وهنه، دانگنه. پ. ت. ق (کوپ) په دغه معنا اخیستی دی.

نه ارام کـــــــوم نه خـــوب　　　مامین کـــړه لکـــه چـــوپ
په داهســـــې رنگ زړد توب　　　احمده! اخر پاتی د دنیا کوب
(احمد شاه بابا ۲۲۰مخ)

**کوپی kupəy:**

کوپلی، د زین قاش، د زین پوښ. پ. ت. ق (کوپلی) اخیستی.

... شاترینی ناره پر وکړه:

کرمخانه! ته شپانه، غیلی د پولی، د وه ښخې دې اوس کرنگ په کوپی راوړې.　　　(ملی هنداره -۸۳مخ)

**کوتانه:**

په سحرو نو د میړه عقل او تـــــرکه

درسته شپه لکه کوتانه باندې بنورې (ج. فدوی)

**کوترمkotrám:**

کوترم کول= متراکم کیدل، سره په مزدحم ډول تهولیدل. پ. ت. ق اخیستی.

... په دابنار کې که گوری سیدان او ملایان او نور بنه خلق سپاهیانو سره راکوترم کړې دي. (ملی هنداره، مرد او نامردنوی چاپ ۵۸مخ)

**کوتلkutál:**

هغه آس چې څوک پرې نه وي سپور او د سړي پسې ځي، مجازاً هر هغه څه چې د بل تابع او ورپسې روان وي. پ. ت. ق داسې اخیستی دی:

هغه آس چې د بل آس سره خالی په جلب کې روان وي...

مور یې ناره پر وکړه:

میرولیه! په کوڅـــــه کې پیاده نه تلی

نازولـــی نیلی ولــی کـــــوتل بیایی

د دبنمن د لا سه څرنگه پیاده سوې

(ملی هندار ل ټ ۴۳ زوړ ۷۰ ۱ نوی چاپ)

**کوتنی kotanay:**

هغه بنځینه ساده پرتوگ چې گونځی ونه لری. پ. ت. ق په همدغه معنا (کوتنه) اخیستی ده.

لاړ شه کميس راته گلدار راوړه  د غاړی هار راوړه  اوس له بازاره
د کوتنی پرتو گ د پاره شين توار راوړه  د غاړی هار راوړه
اوس له بازاره
(ولسی سندری ۲ټ، ۱۳٦مخ)

**کوتڼ kutáņ:**

منافق د زمانې دی ساته ځان ترې
چې په زړه باندې کوتڼ په ژبه پوست يې
(پټ ستوری، ۲۵۸مخ)

**کوته:** تاوان، ضرر.

چې په نغوته د حواشه  بابا آدم خدای ته رسواشه
ده غنم ددې په نغوته  وخوړه ورغلـه دا کوته
(شرعه ۱۵٤ مخ)

**کوته kutá:**

قصابی، حلاله، د (کوتل= ذبح کول) څخه.

وی و سرته نيمکی غوښې
په کوته کې د دوست پيغمبر (ص) خوښې
چې دا غوښې دې ظاهرې
له پليتو غوښولرې  (شرعه ۲٤مخ)
په لږ سود دنيا هسې نا آشنا شي
لکه کور شی د کوتی په ورغ قصاب (يونس)

**يادونه:** د کوته په ځای کوتنه (کوتن) هم راغلې ده ، لکه:

یا به ده (پیغمبر(ص)) کړه غوا حلاله

د ښځو تن په رضا لاله

مستحب کړه دا کوتنه

مشایخو تر و تنه (شرعه ۹۰ مخ)

جړ به مې قطار شي پکې وي به لوی وزان

د پاره د کوتن به له ما پیرې قصابان

(ا. س. ۱ ټ ۲۹٦ مخ - حافظ عظیم گنداپوری)

**کوته چاپ:**

یو تږکر دی چې مارک یې په دغه نوم یاد یده.

جامې به درله وکړم سپین پرتوگ د کوته چاپ

کمیس گنډو د گوڼ یو سندوف بل چړی چاپ

(اولسی سندرې ۲ ټ، ۱٤۳ مخ)

**کوتی kwátay:**

د گوتو کوتی= د نوک اووری، ترمنځه تشیا او خلال.

ناخن اخله برادره پنځشنبې پس له دیگره

بیا په دا ترتیب خوشبویه د نوکونو پریکړه بویه

جې د ښي په خرمه گوته آغازې وکا بې کوته

بل دې کا د گوتو کوتې بند په بند پاکیزه ژتې

(شرعه ٤٤ مخ)

**کوتی kutáy:** د قصابی مال.

د دښمن په شکست لار موندلی نه شي

ځــــرولی دې کــوتی دي په غلـــط (ج. فدوی)

**کوتی لال kū́tilā́l:**

یو ډول بوټی دی چې سری دانې کوی، پاڼی یې گردې دي او په تودو سیمو کې شین کیږي.

اسکند کوتی لال وینه انگـــوزه هنجه واینـــه

(طب دلیل العلیل ٢٤مخ)

چیرته د یار شونډې چیرته غم د دل و جان

چیرته کوتی لال او چیرته لعل د بدخشان

(رحمان بابا)

کوتی لال به لکه دُر قیمت بهـــــاوي

که یې وینی د مرجان په دود لړمون دی (علیخان)

**کوتالی kotā̤láy:**

بته، بوته، دزرو د ویلو کولو لوښی.

خوله دې د زرو کـــوتالـــی ده

هم دې خبرې په کنډه تللې دینه (پښتو لنډی ١٦٤مخ)

**کوتون kuṭún:**

اندیښنه، ویره، ډار.

که غوټون دی په ګلون (د ځای نوم) کی لوی غوټون دی

ملو خان باندې ګډيږی — د دښمن يې له تيرې تورې کوټون دی

(د خلکو سندری ۱۴۲مخ)

**يادونه:** (کوټل) د (بدول، انديښمن کول) په معنا په زړو متونو کې راغلی دی، لکه:

دايې ووې شاد له مخې وراته — په رټل سره يې زړه ښه وکواته

(شاه او ګدا ۱۸۵مخ)

**کوچ kuć:**

کوچ، ليږد. کلمه په مجهول (واو) ده خو په شرعت الاسلام کې ځو ځايه په معروف (واو) راغلې ده:

په تلوار دې څوک خبرد — تر خولې نه باسی ببرد

ښه دې تراش د فکر ورکا — برابر دې زيرو زور کا

د غه پسه دې يې صافه — ترخولې باسي نيک او صافه

او چې پوچې ماغزه پوچ کا — ځنی عقل لاس په کوچ کا

(شرعه ۶۰مخ)

په کار بار کې دې ګدای — تسبيح وايی د خپل خدای

چې وزګار شی دې دعا کا — چې يې خدای سر مدعا کا

چې ولاړ ځنې په کوچ شی — له مقامه يې زړه پوچ شی

(شرعه ۸۷مخ)

**کوچی koćə́y:**

کوڅی، له لمڅی څخه جوړ شوی کوټ(پ. ت. ق).

د دوستانو په حلق نرم ترکوچي شه
د دښمن د پښې تیره خنجر د خار شه (ج. فدوی)

**کوڅر kawcār:**

څنګ، وزر. پ. ت. ق اخیستی دی. د جمعی او مفرد له پاره په یوه فورم استعمال شوی دی.

ځنې راوالوته شنه کــوتره
کوڅر یې شنه دی تور کمره (انګی ۴۸۲مخ)

ظالمــه! چیرې دې ولــیدمه   توېک درڅخه و ودې ویشتمه
کوڅر مې مات و چې الــوتمه   په هــر بندر کـــې ودریدمــه
(انګی ۵۱۰مخ)

دا زما قلم سی ته په هوا ســــوی
کوڅر دی مات سه پرکمه خوا سوی (انګی ۵۱۸مخ)

**کودره kawdə́ra:**

کپره، ناهمواره، لوړه ژوره.

... په بدو چې څوک ثابت قدم اوسی له راه راسته لرې وتل دي، یقین، له راه راسته چې څوک لرې ووزی په کودرو به پریووزی.
(ت. م. ۴۲۵مخ)

... د غه ځای کندی کودری، د آسانو د تګ ودو کشاده میدان نه و.
(ت. م. ۴۸۰مخ)

**کودرۍ kawdaráy:**

خولۍ، د ستنې خولۍ.

| | |
|---|---|
| دیوالـــــونه یې د زرو | کار پرې کړی هنر ورو |
| کـــودرۍ هم تیـــرونه | همگـــی د زرو وونه |

(گل او صنوبر ۳۰۱ مخ)

**کور kur:**

کله به راشی د ستر گـــــو نــــوره
بې نوره گرځم ستا له حـــضـــوره
لږ کې پوښتنه کړه زما له کـــــورد
کور مې بې حد شو پسې له حورد
طبیب پوښتنه که له رنځـــــورد

(ج. فدوی، مخمس)

**کور:**

جوسه، جاوسه.

... یو وار د دروازې کړ پ. سو، میړه یې راغی، دې (ښځې یې) له وهمه ځخه هغه اندړه او وریجې زر د کور د کمپلی لاندې کړی.

(ملی هنداره ۳ ټ. ٤مخ)

... هلک وایی: نکل دا دی چې نن راتلم په لار کې یو مـار و داسې پنډ او داسې پیچ پیچ کیدئ فقط لکه هغه اندړه چې په غوړو کې سره سوې ده او په کاسه کې تر کور لاندې پرته ده. (م. هـ ٥مخ)

... هلک وایی: داسې نری غـاښونه یې وه، لکه هغه وریجی چې په

غوري کې د کور تر کمپله لاندې پرتې دي.                    ( م. هـ ،٦٠مخ )

**کور په سر:**

کډوال، خانه به دوش، کورپه شا ، د ليږد او کوچ ژوند لرونکی، (داستاد حمزه شينواری نيولو گيزم دی )

ای د کور په سری ! په تپه د وطـــن ياده

ای د غرد بارانه ! په صحرا بيابان زياده (غزونی ٢٤٧مخ )

پتيوکې ځای ځای دي کور په سری

استوگنی د غم نه گـــــرځـــی بری

په سيل د فــــدرت تــرو تـازه دی

خبر ترې څه دی دا کور بصـــــری                    (سلگی ٩٣مخ )

**کور خانه:**

تاتوبی، مسکن.

... سرای چې د مور کور خانه دی او د مور د پيشينيانو او ماخپل کړی و...                    (تاريخ مرصع ٤٢٠مخ )

**کورسکی koráskay:**

د ماشومانو د لوبو کور، کور شکی. پ. ت. ق د مونث په صيغه يعنی کور شکی اخيستی دی. په ننگرهار کې د کور سکی په فورم متداوله دد.

خدای په وړی نجلی مين کــــړم

د کورسکو گنې په ما راټولوينه (پښتو لنډی ١٥مخ )

**کورسی kwərsáy:**

د خولۍ، د ستنې برغولی، هغه لرگی چې د ستنې په سر کې د تیرلاندې ورکول کیږي. (محشی).

زړه به چوي د علیخان که ډیر محکم دی
چې د غم دراندہ تیر ته یې ږدی کورسی (علیخان۱۳۷مخ)

**یادونه:** کرسۍ لیکل شوی ده.

**کورمیدل:**

گرو میدل ،له ځانه سره غوریدل.

چې داخل (میلمه) دده په کورشو — د عــورتی په ده زورشو
چې تا راواســـته میلمه — کوم دې غوا کوم دې رمه
هغه ښځه کـــور میدله — له دغه پسه پاڅـــیدله
هم طعام یې پخــــولـــو — هم پټ پټ یې څه ویلـــو

(گل او صنوبر ۸۸مخ)

**کوری kwráy:**

انبـــر، باریس، زرشک، وړوکی بوټی دی چې پره پره پاڼی او زیړ رنگی غونچه گلونه لري، په ځنگلی توگه شین کیږي. میوه یې وړه وړه، سره بخنه تروه ده. د مـسالی په توگـه استـعـمـالیږي. لاتینی نوم یې (berberis vulgars) دی. د بیخ لرگی یې د زخـمي او خـصـوصـاً د کوټلي غړي د تداوي د پاره استعمالیږي. پ. ت. ق ا.فیستی دی.

دې ښکالو ته اچولی خاموشیو تر ســـیری دی
چې کوم موج دهوا راشی زخمی زړه لره کوری دی (غزونی ۲۹۰مخ)

**کوری kawráy:**

د جوارو او نورو شیانو درمند (پ. ت. ق) مجازاً شتمنی.

نه دی کور نه دی کوری د بل په رنګ دی
په نامه یې ته وکـــوم کمبخت نومـړی (ج. فدوی)
تمیــــز نه لــــری له یاره لهاغــــیاره
څو سینه نه شی د عشق له کوری صافه (ج. فدوی)

**کوړدام:**

دا به تاته وجــــار وزی بې لـه شـــکه
ګرګه! ته چې په رمو کــــوې حمــله
نه دی ترس نه دی نرمی د زړه پیدا شوه
په کوړدام کې به غـــوزار شی په تیاره (ج. فدوی)

**کوزګوری kuzgoráy:**

سرټیټی، ټیټ سترګی، خجل.

هسې پاتې شوم د یار پورې مختوري
په جرګه د عاشقانو کې کوز ګـــوری (حمید - ترکیب بند)

**کوزه کی kuzakay:** زیر، کسره.

ټکـی= نقطه، لـــوره کئ رازبر دان
چو کوزه کئ زیر، کره گی پیش بشمر (نصاب الصبیان ٥مخ)

**کوډ koz:**

کوږیل، جمع یې کړونه ده. پ. ت. ق یې جمع کاریان اخیستی دی. خبره

د جمعې په فورم کې ده، دلته د لور= لورنه، شکور= شکورنه... په قیاسي فورم دی.

... هرگاه چې خبر مالدیو د تبنتې وشیرشیاه ته ورسید دیرخوشحال شو او ویې فرمایه چې کافران فاجران خربیشایه او کږونه حساب کړئ.

(ت. م. ۱۵۶مخ)

**کوږل:**

دم قدم د نس نه نغوږی　　د مطلب په طلب کوږی (شرعه ۸۲مخ)

**کوږمزی kozmazáy:**

وی حضرت یوې بوډۍ ته　　د پیرۍ زړی کوډۍ ته
په جنت به زری ښځې　　ننه نه وزی کږه مزې

(شرعه ۷۲مخ)

**کوژغالی kużġālay:**

وږغالی، د وریجو په ښانک یا غوری کې، د غوږیو کورتو او مستو د پاره وړوکی کوډۍ وزمه کوتی.

... چې وریژی پخې شوې، ویې فرمایل چې کوژغالی د مستود پاره وکړئ.

(ت. م. ۵۹۳مخ)

**کوسره kosára:**

د (پنه) یا (کنـاوه) په معنا شو ځایه راغلې (زره پانگه) دلته د (کوپړی) یا (ماغزه) معنا ترې ښکاري.

په تګې يې د کوهي غاړې ته بوزي

ناګهانه ورته ورکاندي ديکره

سرد لاندې يې کوهي ته ورګوزار کا

چې يې وخيژي د سر د مينځ کوسره

(پټ ستوری، نظرخان، ۳۰۳مخ)

**کوسل:**

فدوی په مثلو کې حساب کړئ د محبوب له شلو

له هغه پسه بيا له خلکو سره نه که کوسل (ج. فدوی)

**کوښتی kóṣte:**

پايپوښ، څپلی، پنې، بوټان.

په دا خپله ورځ پوهيږم چې کړه شود

اړولې چې زما پرتې وی کوښتی (بياض)

**کوښل kosəl:**

۱ - ليکل، کښل. ۲ - رسمول، ايستل.

تورليمه به يې اوبه لکه قلم شي

چې مين په هغه کوښلی دلربا دی (شيدا، ق. ن)

**کوغل kuǵə́l:**

ستا بهبود کناره ګنج دی پکې اوسه

دا هله سره مه کښينه، مهکوغه

(مطيع الله پيره خيل، ۱۱۶مخ)

**کوک kuk:**

۱- کوکه، چیغه، پ. ت. ق کوکه اخیستي. ۲- په کوکو، په چیغو، قید دی.

بیا د کوم ناکس له لاسه حمید ژاړي
چې په شان د ویرژړلي وهي کــوک (حمید، **۱۷۳**مخ)

کوک په کوک ناري وهه د زړه لــه تاوه
مه پرېږده خراب زړګی د غفلت خواب ته (لتاړ **۱۲۸**مخ)

تل مې له چشـــمانو د زړه وینې رابهیــږي
کوک په کوک نارې وهم د هجر په ماتم کې (لتاړ **۱۹۲** مخ)

ستا د مخ په ارمان مــرمه کوک په کوک نارې وهمه (خ. معشر)

**کوکنه kokəna:**

ګل ونه، ګل کوونکې ونه، کوکي ګل، (کوکنه= ګلدان)

په ځان څــه نازیږي ونه بیا چې ونه وی کــوکنه
موج د ګل په چمن ګوره چې په څه مودت رژیږي (ج. قدوی)

**کوکه koká:**

کومه نظامي رتبه وه.

... او کــوکه د اصــالت خان اقــاطاهر نومــیده او دده دري پښتــانه د بنها در خان پریوتل. (ت. م. **۲۱۵**مخ)

**کول:**

د رنځور پوښتنه بویه د پټ ست ســاتنه بویه

هم حضور په جنازې د خپل ځان په اندازې
هم دې که په کول زده نعزيت د غم زده

(شرعه ۱۰۲مخ)

**کولار:**

له جهانه شايسته ده د گلزار لاړل
آهو چشمه، پري رويه نگار لاړل
دکې خولې يې تشې نه کړې په جهان کې
له جهانه نيمه خوا په کولار لاړل

(گلزار روه، اشرف)

**يادونه:** په ورکه خزانه کې د «گ» په توري ثبت دي چې دا او هغه يوه کلمه ده.

گړ شو دهشت، هسې وحشت د ميړنی په سپاه
تخت يې يوه لورته راکوههسې بل لور ته گولار

(ورکه خزانه، ۲۲۷مخ)

**کولک kolák:**

۱ - دريڅه، په چت کې د لوگي د وتلو سوري، ۲ - سوري، وت. پ. ت. ق په لومړي معنا اخيستی دی.

ترکولک چا پيره مه گرځه عابده
گنيه خون به دې په غاړه شي تهيک يم (هجري ۹٤مخ)

یـــــو وویـــل چنــین ځنـــځیر بویه آهنیـــن
زولانه به یې کــړوبندی په کـــوته کـــې ابدی
دربه یې وتـړوښه کلــک په کې پرې به ږدو کـولک
له کــولک به ورکــوونه هم اوبه هـــم طعـامـونه
(یاقوت السیر ۲۰٦مخ)

**کوله kola:**

د گل د گلپاڼو برخه، گل، دبوټي یوازې د گل برخه.

زړه چې جوړلکه کوله که نویې بیا ولې تـاله کــه
(احمد شاه بابا دیوان ۵۸مخ)

هسې باد پرې دفنا له لوریه والوت
د لاله کوله یې پرې یـــــته له ناره (رحمان بابا)

**یادونه:** د احمدشاه بابا په غورچاڼ کې (کوله) دی او په دیوان کې یې (کولاز) دی خوردیف د (له) دی نه د (لا)

**کوماړل kumāṛal:**

پستی نن کـــانې بوټـــی لا ژاړي
لوړ په آسمان کې ستوري کوماړي
د سپین نن خویندی ناستې اریانې
ســـتا گــونډیوری ږوبی وربانې (انگی ۴۳مخ)

**کوماله kūmála:**

مماثه. پ. ت. ق د (یو غرنی خوندورو بوټی) په معنا اخیستی دی. ترڅو

چې دا لغت ماڅېرلی دی دا هغه بوټی دی چې زیات په «ممانه» شهرت لري. دا یوه وړه ، ګوره ، اغزنه ونه ده چې غالباً په کاریزو غونډیو کې شنه کیږي او تل شنه وي ، وړې وړې ګردې پاڼې لري ، دانه یې لومړی شنه ، بیا سور بخنه شي او بیا چې پخه شي نو تکه توره شي ، دانه یې د کچه ماچو یا تور مانو داني ته ورته ده خو زړی یې کلک دی. د پښتو په فولکلوري ادب کې هم په دغه نامه شته ، لکه:

توتان پاخه ، ممانې توري

زه د موزي د ډوډۍ څه پروا لرمه (پښتو لنډۍ ۸۷مخ)

او هم په لیکنې ادب کې زیاته راغلې ده:

پکې نظر کړه بڼاخ د نبات دی

خوږې ګورګورې پنځې ممانې (شیدا ۱۰۲مخ)

او د کوماله په نامه هم شته لکه :

دا د بوري (ځای دی) په سر کې کوماله

کېږدی سرونه د خدای د پاره (انګۍ ۳۵۷مخ)

**یادونه:** په «انګۍ» کې څو ځایه نور هم راغلي خو محترم مؤلف نه ده تشریح کړی.

**کومبړ kumbáṛ ، کومبړه:**

زخم ، ټپ ، لوی زخم ، پ. ت.ق د (ب) په زور کې اخیستی خو د کاکړو په لهجه کې چې ماته لاس ته راغلی د (ب) په زور دی

ادې ! خـــالي کـئ د کلاور زما زړگی لاندې باندې کومبړ

ستا ماما گانو جوړ کئ ماشر (محشر)... (انگی ۱۷۱مخ)

زما زړگی لاندې باندې کومبړ

پر کلاوگـــر ځيديږ لښکر (انگی-۱۹۹مخ)

د کومبړه په فورم هم ليدل کيږي:

سپينه پلانيه مرگ دی توپان ډاکتر وای عقـل مـې پرتمام

ملا پلانی وايی ډير مې ارمان سپينه کومبړه د زړه پرميـان

(انگی، ۱٦۷مخ)

**کونټی kontáy:**

کوړ. پ. ت. ق اخيستی.

زړه مې ټول سوری شو، کـونټی شوې لکه لام يم

نن مې په هر رنگ باندې د غم تيره خنجر خوځی

(پټ ستوری، ۲۵۸مخ)

**کونډکی kundə́ki:**

خځلی، خاشاک. پ. ت. ق اخيستی.

... يوه ورځ ښادی خان او بيبو دواړه په کونډکو پسې ځنگله ته تللی دی، په ځنگله کې کونډکی راټولوی. (م. هـ. زوړ چاپ، ۳۲مخ)

**کونډی kondə́y:**

د لاس يو سور رنگی پسول دی چې د وښی په ځير په مړوند کې اچول کيده.

سره کونډی یې په مړوند عجب ځمای کا

هرگز مه شه په آفت د گـــردون مـــاته (هجری، ۳۵مخ)

چې دایم یې رنگـــوی د یار په وینو

ستا کونډی به آخر د هر کاندې ماته (هجری ٤ ـ ۳مخ)

**کونگ kawáng:**

فریاد، چیغی. (ریښه یې کو- کویدل) ده (نگ) وروستاړی دی، لکه په (غورځنگ= غورځیدل) کې.

هیڅ مقصود یې بل په دواړه کونه نشته

خو مدام یې د خپل یار پسې کونگ دی

(مطیع الّه پیره خیل، ۲۲۵مخ)

**کونی چاچو kunićā ćú :**

کونی کبر، چونگاښ.

... خبر دار چې دا کار ونه کړې هسې نه چې د هغه بغ په شان د کونی چاچو د لاسه مړ شی... چنانچه ده (بغ) لکه د ښځو د اوبو په غاړه ویر شروع که او چیغی یې وهلی، په دې کې یو کونی چاچو دده خواله راغی او ورته یې ووی... یوه ورځ د کونی چاچو هم شوق پیدا شو چې دا ډنډمی بدل کړای وای نو دی ماهی خورک له راغی... ماهی خورک دا کونی چاچو هم اوچت کړ... (انوار سهیلی ۸۲-۸٤مخونه)

... یوه چینډخ د مار د سوړی په خوا کې اوسیده... ددې چینډخ د یوه کونی چاچو سره دوستی وه... (انوار ۱۲۰مخ)

**کون kun:**

اندیښنه، تشویش، وسوسه، ډار. پ. ت. ق (کنې = دښمنی عداوت) اخیستی دی چې د دواړو ریښه یوه ده.

د دنیا ماملـه دې نه کـا — دوست له دوست سره که ښه کا
لکه خرید، فـروخت، نکاح — مگـروی اهـل فـلاح
چې یې زړه ته پـه دا گـون — نه پریوزی پـه دا کـون
(شرعه ۱۱۲مخ)

په راوړه د لـورتـرزویه — مورو پلار ډیر خوشحال بویه
په خـلاف د اهـل جهـلو — په بدوی په ایمـان بهـلو
په هلکـی لاوژلی لـونه — د دنیا د عـار لـه کـونه
(شرعه ۱٤۳مخ)

**کوهل:**

تر برونه ورغلل بې کاهرې — په یو وار یې ورکی دستې
که ددوی رایه ځای د تکې — مرې په کونډې پر کوهلووی
(انگې – ۳۲٦مخ)

**یادونه**: له مرې شخه په انگې کې د مرې قوم بلوڅه ښځه مطلب ده او د «کهل» د فعل اصل هم ښایی کوهل وی.

**کوهیر koher:**

سینگر، سنگلاخ.

پر خاطر مې کوهیر د کرم ورکړی
په محبت مې ودان که د زړه ښهر (مست بابا منتخبات)

**کویته:**

تربازه نور نور مرغــــونه کټ دي
هنــر چې نه لري ځکه څو هټ دي
خپل کار څرگند کا په دادوه ځایه
مردان د کویتې، ښځې د کټ دي          (خ، رباعیات، ۱٦٤مخ)

**کوینبل kweṣəl:**

خط په دا مضمون یې وکوینښ
په ډیر یاد یې عزیز وکـــوینښ (یوسف او زلیخا، ۰ ۸مخ)

**کویل koyə́l:**

بلبله، توره بلبله. دا یو خوړغړی تور رنگی مرغه دی چې د پښتنو په بیلو بیلو سیمو کې په بیلو بیلو نومونو یادیږي او په قاموسونو کې هم دغه بیل بیل نومونه داسې درج دي چې لوستونکی خیال کوی دا به د بیلو بیلو سندرغاړیو مرغانو نومونه وي لکه: کویل، کوهیل، کوهیله، کویله (له دغـه نومونو سره یادونه نه ده شوی چې رنگ یې څنگه دی) توره، ترکه، ډانگ لکۍ، توره انا، تور انکه، تورانی، بریته، باجونکه، تورکه... حال دا چې دا ټول دیوه تور رنگی سندرغاړی مرغه نوم دی چې ژمی د هند د نیمې وچې په تودو سیمو کې تیروي او د پسرلی په موسم کې د هیواد د تودو ولایتونو (ننگرهار، کونړ، لغمان...) ته هم راځی. دا چې کویل، کوهیلی، کوهیله همدغه مرغه او له رنگه تور دی (خوشحال خټک) داسې یاد کړی دی:

کور دې وران د آسمان شی چې یې دور په هر شان شی

عقــل بل کا ، فکـــر بل کا رنگ دې تور لکه کویل کا

(فراقنامه ۲۵مخ)

**یادونه:** ۱- د احمد شاه بابا د دیوان په راتلونکی بیت کې د (کوئیل) په ځای (کونیل) چاپ شوی دی چې طباعتی غلطی ده:

غم د یار چې تل مدام ژاړې احمده

د بیلتون نارې دې زړو له کونیله (۶۹مخ)

۲- زړه پانگه‌نور مثالونه هم لري.

**کهار kahār:**

- هغــه څو ک چې پالکۍ او ډولۍ وړل یې کــاروی. پ. ت. ق یوازې (دناوې د ډولۍ وړونکی) په معنا اخیستی دی. دوست محمد کامل داسې تشریح کړی دی: «هغه خدمتگاره طبقه ده چې د پالکۍ او ډولۍ اوچتول، د اوبو ډکول او راوړل، او دلوښو مینځل یې کسب وي.

(ت. م. ۱۳۷۹مخ)

د تاریخ مرصع په متن کې یو ځای داسې راغلی:

... په شپه نه‌وو بې مشعله، کهاران نه شوو تلی، مشعل مو هم مصلحت نه لیده قرار داد هسې و چې صبا د وخته دې کهاران پالکی راوړی، ځلوزیو (نوم دی) ته دې رادرومی، هور ته به ارام وکـــړو کهاران، پالکی به هم راشی له ځلوزیو نه به وړاندې په پالکی کې تله کیږي. (٤٥٤مخ)

**کهاړه khōṛá:**

کواړه دا د پیړی نه جوړه هغه کړی ده چې د گل زیړی نه تاووي او د موخی د ویشتلو په لوبه کې غشی ترې نه ویشتل کیږي. (زړه پانگه، څو مثالونه لري، و گ: کواړه)

د تیرسو منو یې چاړه — هرغلیم یې پرې داړه
د دښمن ځای په کوهاړه — یزیدان یې کړه ساړه
په جنگریزکې معتبر (دسیدحسین د امامینو جنگنامه)

**کیت ket:**

دا کلمه په کونړ کې د دین، عقیدې په معنا متداوله ده خو یوازې د ښکنځلو په وخت کې، یعنی کله چې څوک د چا (دین) ته ښکنځلی کوي نو دین یې نه بلکه کیت یې وریادوي.

چې په ځنگ ځنگ رانه ځی په ځنگ ځنگ گوری
بیاض پوه شو تا د بل چا یاری کیته (بیاض)

**کیره kerá:**

یوه ونه ده چې سرې سرې دانې کوي او پانهی نه لري، دانې یې خلک یخوي (پ. ت. ق)

... بهتر دا دی چې اینځر د اکوړو، د کیری او د بادام سره وخوري.
(اختیارات بدیعی ۱۹۲مخ)

غالباً دا هغه ونه ده چې د دولت لوانی په دیوان کې دوه ځایه د کمر که په فورم درج ده:

ښوولني، انځر، کرکنی، کریړی، شینی

هندوانی، بادرنګ، فلسی کمرک کرفشار مست (۸۱مخ)

سنځله، مندتی، چری، کـــمرک

ګنی، املوک، سرپ خوش مزه دار (۱۱۱ مخ)

**کیکڼه** :kekāṇa

کوکنه، د ګلو غونچه، ګل، کوکیاړه= ګلزار، په کیکڼه کې مجهول (واو) په مجهوله (ی) د لهجوی قاعدې له مخې بدل شوی لکه چې (مور= میر) کی.

سره لب دې شه نصیب زه ګل ته عندلیب ډیره یاره شوې غریب

خوبونه په سینې کوه زما د لاس کیکڼې

(پټه ستوری، سرور بنګښ ۱۵۱مخ)

په لاندینی بیت کې کوکنه هم همدغه معنا ورکوي:

ډوب ډوب لاړم ستا په غم زما کوکڼې

لا ترکـــومه به مې ولې د زړه سکڼې (حسین)

**کیوزی** :kiuzáy

... د قارغه مرګ بهتر دی، کیوزی وژنی چې موزی دی.

(کیمیای سعادت، ۹۷مخ)

**کیها** :kihá

ډیر پخوا. کیها مړه کیدل= ډیر پخوا مړه کیدل. د ننګرهار په عامیانه لهجه کې د (کانستو کلونو) اصطلاح یې معادله ده خو دغه

اصطلاح عموماً د زیږیدنې او د عمر په باب وایی مثلاً (احمد د کانسټر کلونو دی = احمد ډیر پخوانی دی).

سنک د کیها مړ دی = سنک بسیار وقت گذشت که مرده است.

(پښتو اصطلاحات، ۴۰۲ مخ)

# گ G

**گاډیره gadéra:**

په مــخلوطه توگــه، په گــډوله ډول (قــیــد دی) گــاډیر= گــډوله، مخلوط (صفت دی)، (گاډ= گډ) موند او (یر) وروستاړی دی. پښتو قاموس د هغې ډ رډی یا خواړو په معنا اخیستی چې د مختلفو غلو څخه پاخه شوې وي، خو زما په نظر د غلې مخلوط معنایې سمه نه ده.

مچ کا ناسته په خوږو، له ترخو تښتي

ته حلال، حرام گاډیره خــورې نادانه (لتاړ، ١٦٤مخ)

ټولوي حلال، حرام سره گاډیره

تفریق نه کړي په روا په نــاروا (لتاړ، ١٩٤مخ)

منافع د سـفر ډیر دي لـه ضرر سره گاډیر دي (شرعه ۸۲مخ)

چې یې ښه او بد گاډیر شي بیا یې خیر ترشره ډیر شي

(شرعه ۱۹۱مخ)

هنـرونه د جنگ ډیر دی خو مردی سره گاډیر دی

(شرعه ۲۰۱مخ)

د سـرو د احـوال یې ډیـر

څوک وی صاف او څوک گاډیر (مناقب، ۱۰۷مخ)

**گار:gar**

نفع، گټه، فایده. قاموسونو د (تاوان) په معنا اخیستی خو دلته معکوسه معنا ورکوی. بیگار هغه کار او زحمت ته وایی چې مزدوری او گټه نه لری.

دی بادشاه د بادشاهـانو کل حکـمت یې دی له گاره

(بابوجان لغمانی)

ښوی کولکان گرځی لکه زنانه ځنگه ښوی گار د مړو دیوانه

(انگی ۳۵۵مخ)

**یادونه**: ددیوان د محشي په وینا د (تولی، ډله) معنا لری.

**گارول:gārawál**

پیرزو کول، ترلاسه کول.

د تربرو مه منئ ښې نیـکی

دوی پر مور نه گاروی مړی (انگی ۳۲۹مخ)

دا د سپين ږوب په سر کې مې باره

ښه کــــه ښه نسی مــــزه يې گـــاره

(انگی ٥٦٩مخ)

**گاړ gar:**

وگړی، سړی (محشی). معمولاً د (نر) سره د سوفيکس په توگه استعماليږی.

په ځان پوهيږم وار مې تيريږي ښښتنو عقل مې خاورې کيږي
شپيږ به نرگـــاړي راننـــوزي يو به د يو نوادلانی کـــيږي

(انگی ٢٤٦مخ)

که مې نرگـــاړ دی که زنـــانه
هرسړی خوښ دی له خپله ځانه (انگی ٣٥٨مخ)

... ده وویل که ماته خدای لور راکړه په دنيا کې به يې هيڅ نرگاړي راځخه و نه گوری او نه به يې چاته ورکړم. (م. هدلی او شهی ٢٠١مخ)

**گاړه gára:**

پنډغالی، د ميږو، وزو او نور مالونو موقتی مينه.

له نابوده شپانه گـــوره شرمښ وری يو سي له گاړه (ج. فدوی)

**گاو:** زخم، ټپ.

په زړه مې بار شو د غــــم بارونه ضبرمې نشی کــــړم فريادونه
گاو د خاطر مې صحت نه کاندی که زه لتاړ کړم سل عــــلاجونه

(لتاړ، ٢٤٥مخ)

**گاوسر gāwsár:**

شډل، بې عقله، ساده. د شینوارو په لهجه کې کم عقله، شډل انسان ته تداول لري.

یوه زغره یې اغوستې وه گاو سره
چې یې بیم نه و لـــه تیغه له تبره (شهي او دلی - ۵۰۱مخ)

**گاهک gāhak:**

گواښ کوونکی، تهدیدوونکی (زړه پانگه).

بیـــوفـا دي ددې دهــــر یاران واړه
دي له څیلمی په یاری کې تهگان واړد
خوا نا خوا سری په ځان باندې مین کا
نور یې شي د سرو مال گـــاهکان واړه (لتاړ ۱٤۳مخ)
پس له دې مې روا دار په آزار مه شه
په مرده باندې گاهک د گوزار مه شه (نیرنگ عشق، ۱۰۰مخ)

**یادونه:** د لتاړ په شعر کې د جمعې په فورم گاهگان چاپ شوی دی.

**گای gā́e:**

خبره، وینا، قاموسونو د ژمنه، وعده، لوزو قول په معنا اخیستې دی.

مـــړو نیولی د کـــــــلاور په دړد گا یبړی گای بې بدل
بدانو! څله مـــو گـــای بدل د بابا تللـــی نوم پر وطـــن
(انگی ۲٤۸مخ)

تر لاندې ناست و گلډي مړونه کړې خبرې، کاړه گـــــایونه
(انگی - ۵۱۵مخ)

مه مولیدای د کودي ملکونه

د خپلو ډیر دي کاره گـایونه (انگی ۱۹۰مخ)

**گایل:**

زخمی، ژوبل. پښتو قاموس د (زخمی کول) په معنا یعنی مصدر او ظفراللغات د (زخمی) په معنا یعنی صفت اخیستی دی. چې د (زخمی) معنا یې سمه ده. (زړه پانگه نورمثالونه لری)

د خوږو زړونو صحت بې علاج نه شی

په پرهر باندې مرهـم کښیږده گایله (لتاړ: ۱٦مخ)

د عقبا په کارو بار یې نظر نه وي

وروزگار د معصیت و ته تاویږي

د گایلو زړونو نه کا عـــلاجونه

په سبب د ناقص عقل عذابیږي (لتاړ، ۳۱۹مخ)

**یادونه:** د (صحت) په ځای (صحبت) لیکل شوی او گایل دواړه ځایه د گهایل په فورم لیکل شوی دی.

**گایېدل gāeedál:**

خبره کول، ویل.

باران د غـــرونو پر ســـــرورېږی

مـــالـــه تر برونه رانـــــوزی

زړونه یې ښــه دی په دړد گـــاییږي

ځځــي د بـــــل دي نه په ژوبلیږي (انگی ۱٦٤مخ)

پر آسمان توره کارغه کړنګیږي

زبان یې نسته چې په ګـايیږي (انګی ٤٨١مخ)

**ګپو gapú:**

ګپاوو، هغه څوک چې ډیرې خبرې کوي.

...کلیله ووې چې ستا د عیبونو خو هډو څه سرنشته، اول خو دا چې ځان ته بې عیبه وایې، بله دا چې قول دې شته، فعل دې نشته خالي ګپوې، عمل خو هډو پیژنې نه. (انوار سهیلي ١١٥مخ)

**ګپه gápa:**

کپ، لوی کپ، لقمه، د کنډ، غونډاری په معنا یې زړه پانګه څو مثالونه لري، کپ هم یو کنډ او غونډاری دی.

په دا وران ښهر تګان دي راګډ شوي

په غولول یې خلقه کـړه سـره ګپه (ملا لتاړ ١٢٥مخ)

**ګپی gapáy:**

واګی. قـاموسـونواخیـستی، دلتـه مـراد ترې سوزنی ده هغـه پړی چې ماشوم پې تړي.

که غاښ دې نه دی پوه شه د پیو

خـلاص یې له مهده هم له ګپیو (شیدا)

**ګچ gac̓:**

که هرڅو د اختیار زین د باد په شا ږدی

تر آسـمانه به ونه رسـیږی ګـچـه

(لتاړ ١٣٦مخ)

**گداره:**

له تاراجه د مرگی کله خلاصیږي

که مدام گرځی په زغره گداره کی (ج. فدوی)

**گدړۍ gedṛáy:**

کند، د ملنگانو مخصوصه چینه. قاموسونو گدړۍ اخیستې ده.

هر عاشق چې شی په عشق کې مشرف

ورښکاره شی خپل آشنا په هر طــرف

په گیدړو کې شـــاهی کـاندې بیغمه

د گوهر په څیر ابدار شی په صـــــدف (ملالتاړ ۱۰۸مخ)

**یادونه:** دغه کلمه په متن کې (گیدړو) ده خو په لغتنامه کې (کیندړ) د (کنډواله) په معنا اخیستل شوی ده. دا کلمه یقیناً (گیدړه) ده چې سم فورم یې (گدړۍ) دی او قامـوسونو اخیستې. همدغـه کلمـه په ملی هنداره کې یو ځای داسې راغلې ده:

... چوتۍ یې پښو کړې، گدړۍ یې واغوسته

(د ظریف خان او مابۍ قصه ۶۱مخ)

**گدی gadáy:**

گشـتـۍ، کوڅـه ډبه ښـځـه. د (مـجلس او مـسند ترڅنگه) پـه معـنا هم قاموسونو اخیستی.

په بوساړه کې دې غیـږه راکـړه

د گدۍ زویه له لشودې ډکه کړمه (پښتو لنډۍ ۲۵مخ)

**گدېلۍ gadeləy:**

نیالی، توشک (محشی).

پهورامي راغــلهمــامۍ ژیړی دا نابلـــــــــدهدهخـــوارکی

ترلي ورواچــــوی گــدیلۍ دا د لاټ لور ده غواړي کورسی

(انگی ۲۳۰مخ)

ترلي وررواچوې گــــــدیلۍ سپیو ورکــــړ گـــــی منارسی

(انگی ۱۷٤مخ)

**گډوتل:**

گډیدل، پکی گډیدل.

...ده چرت وواهه او ناره یې پهوکړه:

که مؤمن خان یې پر ما گران یې د زیړو گلو په باغ گډو اته مالونه

(م. هـ ۱۷۹ مخ زوړ چاپ/ ۱۳۰ مخ نوی چاپ)

**گډی gaday:**

ډله، ټولی. پ. ر. ق د (۱- چکر وهل. ۲- ټولنه، غـــونډه) په معناوو اخیستی دی. خو د انگی محشی د (ډله، ټولی) معنا ورکړې او هغه یې کاکړی لهجه بللې ده.

ماندوره نه دی تـــــــربور اجی

دی مړی خور دی مړی مو خوري

زیاته خـــونکـار دی دد غ گډی

خلک یې په بدهخـوله یادوي (انگی ۳۷۹مخ)

تر برونه راغله گــډی گــډی

دوی په لاس کې چکن تیکری (انگی ۰ ٤٤مخ)

له پاســـــه راغـله گــډی مړونه

ماوې مري (بلوڅ) دی وهی مالونه (انگی ۱ ۰ ٥مخ)

تاریکی او روښنایی مې سره جل شوه

بیگانه یم په گـــډی کې دوراگـــډ (ج. فدوی)

**گر gar:**

۱-مصیبت، بلا، غم ۲- ظلم، تیری. په لومړۍ معنا پ. ر. ق او ظفر اللغات اخیستی او د ظلم معنا دویم قاموس پرې زیاته کړې ده او دا اصطلاح یې راوړې ده (د چا ظالم په گر اخته کیدل)

دا حدیث د پیغــــمبر دی　　لکه گـــر هسی دروشي

څوک چې بد نه وي پخپله　　هیڅ بدي به پرې و نه شـي

(خ. متفرقه ۹۱۷مخ)

**گربند garbənd:**

غیر ثابت، مذبذب، متزلزل.

... وی ویل چې په ده باندې د مور. ددې هسې چار طمع نه وه، شاکلیم (نوم) یوکاواک گربند دی. (ت. م. ٤٤٨مخ).

**گربینی garbináy:**

د مچیو جاله، ځاله، گگ، پښتو قاموسونو اخیستی دی.

هندوستان مې د مچيو گرېينې دی

هرڅو يې چې وهم نه تمـــــاميږی
د شپيتو برېښو ورغ په ورغ کمې دی

(م. هـ برېښ، ۱ټ ۲٦ مخ زوړ چاپ/ ۱۹ نوی چاپ)

فدوی مه کوه هوا د گرېينيو    د دنيا په شهد و گډوي تېوله سم

(ج. فدوی)

**گردمن gardmən:**

گردجن، دوړن، په دوړو سپيره.

تخت ملنگ له ورکا گردمن سر يې په افسر کا
وکـــــرې په زمـــکه د زعـــفرانو کـاريزې (الپوری ١٤٤مخ)

ډير گردونه وي سواره څنی ښکاره شی
د خواری نظر مه کړه په گـــــردمـــنو (عبدالقادر ختک ١٤٧مخ)

په جـامـه په تن خيـرن يو    دسفـر په گـرد گـردمن يو

(يوسف او زليخا ١٤٨مخ)

څه چې ولامبو په نيل کې    ډيرگردمن يو په سبيل کې

(يوسف او زليخا، ١٥٠مخ)

**گردنی کول gardəni:**

عيش او عشرت کول، مزې او چړچې کول. پ. ر. ق (د ناوی ليدوته د زوم ورتلل) په معنا اخيستی دی.

...د وزير زوی خپلې گردنی کوې، کور او کهول وسول. (م. هـ. ٨٤مخ)

**گردول:**

تهولول، غونډېدل، جمع کول. (؟)

د وصال غنيمت هرګوره ګرداوه شی

د ديدن ذخيره چا کښېښنوهٔ هوښيـــاره (واصل ۵۳ غزل)

**ګروهيدل:**

بلوسيدل، تيری کول. پ. ر. ق اخيستی.

ای عاشقه! که غماز دير درګروهيږي

علی طـــوره خنجريخ که په کافر کې (رحمت داوي)

**يادونه:** دغه کلمه زياته د باور کول، عقيده لرل، ايمان لرل په معنا متداوله ده.

**ګريت gəret:**

مانه، ګيله. هغه چې په فارسی يې شکر رنجې بولې. قاموسونو (ګريتې) د (معمولي او ګيله اميزې دعوې) په معنا اخيستی ده.

چې تر زړه مې د ګريت لښکر چاپير شی

لا رداه کله خالی وي چې ترې تير شـــي (هجری ۱۰۵مخ)

**ګرجن:**

ګرانه! ستا پر تګ وماته ګـــرجن لـــويه سزا راکه

(د خلکو سندری، کاکړی ۱۷۰مخ)

دګرجنه مې خواګـــرځې پر بريتويې مچـــان ګرځي

(د خلکو سندرې ۱۷۷مخ)

**ګړځ:**

خوپ، دوپ (محشی).

کلايې ګرده په ګـــړځ نیولې ښادی د ورور ده را ترخه سوی

(انګی ۳۳۱مخ)

**ګړګړی gaṛgaṛáy:**

له لرګی نه جوړ شوی د ماشومانو وړوکی لاسی څرخ چې په تاوولو سره د ګړګړ غږ ترې پورته کیږي.

ستا په پند د حسین څه حاجت موقوف دی

چې سپین ږیری لره جـــوړ کا ګـــړګـړی (حسین ۵۲٤مخ)

**ګړنګ gaṛāng:**

جهان، نړی (محشی).

ګرلنګ (نوم) ببر (زیړ) پښتون و

ژغ یې لاړه ترګـــــــــــړنګـه (د مروتو کسرونه ۱۲مخ)

**ګزبره gazbará:**

وریښمین، شمندروز.

زموږ سپینې روپۍ لکـــه ډبرې

ناوې ته کمیس جوړ کئ د ګزبرې (د خلکو سندرې ۹۷مخ)

**ګږویښت gaẓweṣt:**

د پاخه عمرخاوند، مسن، پښتو قاموسونو (ګږ) د (مسن او سپین ویښتـه لرونکی) پـه مـعنا او پ. ر. ق (د ګـږویښـتی) پـه دغـه مـعنا

اخیستي دي.

درنسبت قدر و عزت آمده، نوبت بدان وار است

مرانه مردی و گرو بنسبت شخص پخته سال آمد

(نصاب الصبیان ۸٤مخ)

**گگی gagáy:**

د کاکړو ښځینه نمری (لباس) دی چې پیغلې یې اغوندي. د انګیو مؤلف دغه شرحه د (تومبی) د کلمې د شنلو په برخه کې ورکړې ده.

(انګی ۲۳۳ مخ لمن لیک)

پ. ر. ق (گگی= پریږ وړین سپنسی) اخیستی چې د دواړو مونډ یو دی.

**گلجړی gwəl jaṛáy:**

موخه، نخښه، هدف. پ.ر. ق (گلځری) او (گلزیړی) او ظفراللغات (گلزیړی) په دغه معنا اخیستي دي.

سینه یې گلجړی ده د جانان تیر و کمان ته

یان موري په لبانو په خرام ځی گلستان ته

(ولسی سندرې، ۲ټ، ۱۸۷مخ)

**گلمخی:**

چې گلمخی کړم پریشان په پریشانی کې

آئینه غوندي یم تل په حیرانی کې (حسین ۲۰۲مخ)

**گلورین** gwəl warın:

گل افشان، گل ورونکی.

فضـــا د پسرلی چې گـــلـــــورینه خـــندا کـــاندی
ستا مسکی مسکی شونډی چې وریښمینه خندا کاندی

(غزونې ۲۸٤مخ)

گلورین لکه حمزه چې باغونه کړی رغزي
خو دا دی کمال د فن هم گلونه هم اغـــزي (غزونی ۳۱۹مخ)

**گلیر** galer:

کړاو لرونکی، ربړوونکی. له (گلیـدل= کړیدل) څخـه لکـه (گاډیر) له (گډیدل) څخه.

مین مې پروت دی په تورو خاورو کې
رابانــدې تــوله دنیا گلـــــیره ده (مطیع الله پیره خیل ۱۹۱مخ)

**یادونه:** گلیـدل د کړیدل پـه معنا عـبدالقادر ختـک پـه شعـر کې داسې راغلی دی:

نه یوازې زه او ته د جدایی په تیغ زخمـــی یو
په هر لور عبدالقادره! پرهار زلې دې گلیږي (د دیوان ۲۹۰مخ)

گلولل د گالل په معنا دی چې ربړ او زحمت ورسره ملگری دی. په ملی هنداره کې دغه فعل په همدغه معنا زیات راغلی دی لکه:

... پلارېې وویل ترڅو دا آزارونه گتم او ترڅو به دا دغم شپې گلوم.
(جلات خان او شمایله ۱۹۱مخ)

... بیر ته راغله، یه کوډله ننوتله، صبر یې وکئ خپل غمونه ګلوی.

(ظریف خان او مابی ۶۰مخ)

**ګمبتی gombatay:**

ګوته، یو ډول ګوته (ګوتیې) ده چې معمولاً غمی نه لري، له نقرې څخه جوړه، د غمی په ځای پرې پرې او جال وزمه دایروی جوړښت لری چې سوریې د سبا بې او خنضری ګوتې تر نیمایی رسیږی. معمولاً په منځه ګوته په ګوته کیږی.

په جـــواری ناســته جــانانه

که شش دې بایلود ګمبتی ګوته لرمه (پښتو لنډی ۵۶مخ).

**یادونه:** شش هم یوه ګانه ده چې پ. ت. ق اخیستی.

**ګمنډ gamand:**

دلیونی ډینګری، زهري خریږی په معنا قاموسونو (ګومانډ) اخیستی دی.

دلته یې معنا غورغوارې:

مـــدام یې صف جنګـــــي وي د وښکو پـه مـــیـــدان

د الله نوم به یې واخیست ترې به مات شولو سبکان

د نخـــښو د ګـــمنډه یې رنجـــیت وویریده

د نخـښـو په ګـمنډ شـهـیـد شـوی دی پیـرخـان

قـام په مخ کـې مړ شـو فـیض طلب او الطاف خـان

(پټ ستوری، مویز یوسفزی ۹۱مخ)

**گنجور ganjúr:**

خزانه. په‌فارسي کې د خزانه‌دار په‌معنا راغلې خو دلته د خزانه‌او گنج معنا لري نه‌د خزانه‌لرونکي.

د چمن خاورې يې هسې سيم و زر کړې
گويا زمکې هويدا د نس گنجور کـړ (هجری ۱ ۵مخ)

څو يې مخ لکه گنجور د صباحت دی
پرې مارانو څکه کړي دي پيچـونه ( هجری ۷ ٤ ٤مخ)

**گنده نل gandanál:**

دورمه، کړکی.

ماگنی گانه‌چې لوی مې کړ په‌اوښکو
هيڅ مزه په‌گنده‌نل کې نه‌وه نه‌شوه ( عليخان ۰ ۱ ۱ مخ)

د مقصود درمند به‌ستا شی | هـسې پاتو بې غـــوبلــه
بيل به‌ځان له‌نيشکر کـړی | په‌خپل فعـــل گنـــده‌نله

(لتاړ ۹ ۵ ۱مخ)

له‌نا اهلو د وفا طمع و مه‌کړه | گنده‌نل به‌نيشــکر نه‌شي هرگز

(رحمان بابا ۱۸ مخ)

**گنډ gand:**

نسج. بافت، ساختمان.

زړه را څخه رغړی غم مې گنډ د صورت سپړی
مرمه په‌اجل خود هجــــران مې سياره ده (عليخان)

**گنډون:**

گنډنه، مجازاً اختلاط ، گډون.

ابدال په دا څلور خویه ابدال دي

کم ویل کا کم د چا سره گنډون

کم ناستی کا ، په خوراک کا کمه مینه

په دا شان یې په عالم کی وي ژوندون (خ. متفرقه ۹۲۳مخ)

**گنډه مټ ganḍa máṭ:**

منافق ابلیس نفس په غشیو ولـه

که یقین لینده دی نه وي گنډه مټه (پټ ستوری، میرانور ۸٤٤مخ)

**گنډېرې:**

په دې نامه دوه بوټی شته : ۱- یو ځنگلی او غرنی وړه ونه ده چې غالباً د اوبو په غاړو او لندو زمکو کې زرغونیږي، اوږدې نه خزانیدونکی پاڼې او ښکلی سره سره گلان کوي، په گلدانیو کې هم کرل کیږي. پاڼی یې مال نه خوری. دغه بوټی په اختیارات بدیعی کې د گنډه ځر په نامه یاد شوی ، په فارسی یې خرزهره ، په عربی یې د فلی او سم الحمار بولی او لاتینی نوم یې اولیاندر oleandr دی. دغه بوټی چې بیلی بیلی ځانگې یې له زمکې پورته شوې وي تر دوه نیمو ، دریو مترو پورې رسیږی.

۲- یو دښتی ځنگلی پوټی دی چې په وچو سوځوونکو کنکرو او تودو کاږیز دښتو کې زرغونیږي، هلته چې د سپاندو بوټی هم معمولاً

شنه وی گلونه یې دومره چالب رنگ نه لري نسواري سره یخن وي، پاڼې یې مالونه نه خوري او نه خزانیږي، د سیمې اوسیدونکي یې په تنرونو کې سوځوي. ددغه بوټي لاتیني، عربي او فارسي نوم زما لاس ته نه دی راغلی. د عبدالقادر ختک په راتلونکو اشعارو کې همدغه دویم بوټي مطلب دی چې د سپاندو سره یو ځای په وچو هدیرو کې هم زرغون وي. نو د عبدالقادر په اشعارو کې د هغو یو ځای کول اتفاقي نه دي. دی وايي:

چې به ترې نه وو گلونه لاندې

خوب به یې نه شو په پالنگ باندې

اوس په لحد کې پراته په خاورو دي

پرې زرغونه شول گنډیري سپاندې (د دیوان ۷۰٤ مخ)

زاهده! ولې راپورې خاندې

مخلوق پخپله لکه څه کاندې

چې یې رامبیل چامبیل پیداکړل

هغه پیدا کړل گنډیري سپاندې (د دیوان ۸۰٤ مخ)

په راتلونکی بیت کې دواړه گنډیري هم وړه ونه او هم بوټي مراد یدای شي.

د گنډیر له ونې (بوټي) کله څوک خواړه خوري

د وفا امید به څه له بدنهاد کړم (۹۹ مخ)

**یادونه:** په یوه نسخه کې د (ونې) په ځای بوټي دی.

**گنګړه gangára:**

تکلیف، کړاو، ستونزه. پ. ر. ق (ګنګړ) او ظفراللغات (ګنګره) اخیستی.

دانسته لار دې پریښې ولې پخپله
ناخـــبر د چې لارې له ګـــنګړه (ج. فدوی)

بدخویی بده فتنه ده فدوي ګوره
په دنیا کې تر دالو نشته ګنـــګړه (ج. فدوی)

**ګنګس gangás:**

په ځنګ کیدنه، ځرخ خوړنه، ځان بچونه.

ورته ونیسه تندی په سپینه ډاګه      یار د یار له توري کله خوري ګنګس
(حسین ۱۷۶ مخ).

**ګنوار ganwár:**

بانډېسی، د بانډې اوسیدونکی. (هندی الاصله کلمه ده).

... هرګاه چې همایون بادشاه پټنې ته ورسید قراول د همایون د لښکر خبر شول چې د لږه لښکر سره پښتنو په باغ کې ډیره نیولې ده، له ګنوار نه یې پوښتنه وکړه چې دا څوک دی؟ (ت.م. ۱۴۱ مخ)

... په یوه حویلی کې جدا پنځوس، شپیته ګنوار یې حصار کړي دي.
(ت. م. ۲۰۶ مخ)

**ګنهګاره:**

کفاره، جریمه، د ګناه معاوضه.

... قاضی پوه شو چې دا ساروان دی نو بیرته یې وګرځاوه او مال یې ترینه سوداګر له واخیست او د منکریدو په سبب یې ګنهګاره ورنه واخیستله او سزا یې پوره ورله ورکړله.

(کلید افغانی، ګنج پښتو، ۷۷مخ)

**ګنی ganə́y:**

په خیبر باندې د مغولي صوبه دار محمد امین او د پښتنو د جګړې په باب په بیان کې:

... چې دا (د مغولو) پوځونه په مورچو ورغلل پښتنو ګنی له کاڼیو ډکې کړې له پاسه یې پرې راپرېښوې... (ت. م. ۲۹۸مخ)

**ګڼه gáṇa:**

ټولی، جمعیت، ټولنه.

... ددښمن کمزوری شمیرل د مغرورانو کار دی، او مغرور همیشه شرمیږي، زه لا پخوا د دوی له ګڼې نه ویریدیم...

(انوار سهیلی ۲۰۶مخ)

**ګڼه ګوره:**

تقریباً، کم و زیات (؟)

... د بروڅی (ځای دی) کندی سواره منع کړه، ګڼه ګوره څو به مړه وو، نور درځړو د مقابلې قوت پاتې نه شو. (ت. م. ۴۰۹مخ)

**ګوا...:**

امن، بېواو.

... هوښيار خو هغه دی چې اول په نرمۍ او دار مدار د دښمن نه خپل ګواښ وکړي، په شر کې سبقت لوی آفت دی. (انوار سهیلی ۱۱۰مخ)

... که د ځنګله ځناور ستا د ی فریب نه خبر شول نو ټول به د ربانذې لعنت ملامت ووايي، ستا د ګواښ د پاره به هيڅوک کوشش و نه کړي.

(انوار ۱۳۲مخ)

... لويو لويو بزرګانو او عابدانو د بادشاهانو نوکري کړې ده او د مظلومانو د ګواښ د پاره دوی د بادشاهانو قرب ثواب ګڼلی دی.

(انوار ۱٤٤مخ)

... دريم: د مکارانو د مکر او د شريرانو د شر نه د خلقو ګواښ دا هم ډيره لويه د فايدې خبره ده. (انوار ۱۵۷مخ)

**يادونه:** ګواخ ليکل شوی لکه څنګه چې ځای په ځای (ښه) د (خه) په فورم ليکل شوی دی.

**ګواښل:**

د ګواښ او تهديد په توګه ځنډول، ښورول.

چې ګواښې راته مدام د غمزو توره

نيک خصلته د لربا غريب نــواز را (حسين ۲٦مخ)

دم په دم راته ګواښې خنجر په څه

ماتوې مې د غم ګټ په سر په څه (حسين ۹٦مخ)

**ګوبير:** زور.

... يوه زړه ګــوبيــره بوډۍ ده راغلله و پادشاه ته يې وويل ســتــاســو

اختلاف به زه حل کړم. (م. هـ، ۱ټ ۱۰٦ زوړ/ ۸٤ نوی چاپ)

**گوپال:**

... (گلبشره) په خپل گوپال سر گومه بیده سوه.

(م. هـ. طالب جان او گلبشره ۱۰ مخ)

**گوپان gopan:**

د سهیل ستوری، د منی ستوری، د گوپ ستوری چې په سنبله کې خیژي.

انگی که راښکاره کا زما اوښکې به کاوچې

دا په دا چې مدام تنبتی د گوپان په موسم سم سیو

(علیخان ۱۰۹ مخ)

**گوته کول** (په گوته کول):

اشاره ورته کول. په محاوره کې ژوندی ده خو قاموسونو نه ده اخیستې.

که مور پلار وي د سړي مشرکان په شرک خړي
هم دي حکم ددوی نغوړي که پر کا د شبهی وړي
چې فرمان ددوی واجب دی د شبهی ترک مستحب دی
که حرام کار کا په گوته ورته نه دی یې کا نغوته

(شرعه ۱٦۲ مخ)

**گوټ غاری gwətgaray:**

غاری. هغه چې په غارونو او تیارو کې اوسیې.

... که دا ټول مارغان ورک شي... نو هم د گونگی د پادشاهی څه حق

نشته، دا بدشکله ، متکبر ، د ورځی ړوند ، گوتغاری ، سپک ، ذلیل او بې تجربې ددې قابل نه دی چې د بادشاهۍ غوندې اعلی منصب ته حواله شی. (انوار سهیلی ۲۱٤مخ)

**گوټ کول:**

له کوژدی نه د مخه د خیښی د لوز اخیستلو په وخت کې شربت څښل. ( ؟ )

... زموږ ښادی ډیرې خوندورې، د خوشحالی نه ډکې وې. چې هلک به زلمی شو نوموږ او پلار به و، ته د خپلې خوښې چنغله لټوله... خویندې او میندې به یې وگرځیدې، کومه کورنۍ او جینۍ چې به یې خوښه شوله د جینۍ د مور سره به خبرې وشوې، د مور په ذریعه به پلار هم خبر شو، چې دواړه به راضی شول نو د هلک له کوره به څه ښځې لاړې او گوټ به یې وکړ بیا به د کوژدې ترتیب ونیول شو.

(زما ژوند او جد و جهد ٤٨مخ)

**گوچه:**

د وزیر په وینو ســــور شــــولې تــنور به
تا د تورو لیه تل غوښــــــته لـــــــه ربه
وایی (جرړې) مې نن و کښلی گوچی دی

(بیدیانی گلونه ۱۵۳مخ)

**گوځل:**

عـــــالم وایی چې هر درد لره دوا شـــــتـــه
لا دوا ولره دم د مــــســـیـــحـــا شـــتـــه

رنځ د عشق مې د گوڅل ځیلی کړې غوڅې
نه مسیح نه دارو گر په بخت زما شته
(پ، س، ۲۹۵ مخ)

**گورب gorb:**

کری، شین کوسی، د توتی په اندازه او هغه ته ورته شنه د ښتي مرغۍ ده (زړه پانگه) په فارسی یې سبز ک بولی.

گوربه! ته چې د طوطا په ځای شیوه کړی
په سینه دې برابر غیبی تیر ک شه (هجری ۴۳۳ مخ)

د طوطا خصال له گوربه مونده نه شی
شړشم هم زر دي لري د گل په څير شو (هجری ۴۵۶ مخ)

د کامگار خټک (زړه پانگه) او د هجری په دیوان کې د سبز ک په نامه هم یاده شوې ده:

د ځیگر سرخی مې هجر هسې شنه کړه
چې ارزو یې د سبزی لری سبز ک شین (هجری ۴۱۳ مخ)

**گورکښ:**

بې رقیبه چې زما په ځان گورکښ شو
گنه نه کوی هیڅوک په مړه غرض (حسین ۲۳۲ مخ)

**گورم:**

۱- پاده، گله (دغویانو یا میښو) ۲- مجازاً لښکر، پوځ. په لومړۍ معنا قاموسونو اخیستی دی.

نه گــورم د نیزه بازو        نه یو سور د تیراندازو (فراقنامه ۷۱مخ)

**گوړی:**

ځــینی زاتیلی، دودې به چرګی د فــرنګ وي
ګــوړیان او کــولنګان به ســره ډیر شی وار په وار
ګــوړیان او کــولنګان په ســره شی زمــا په غــولی
ځــینی چوتهاور به په ســـــهـــــر بانګونه بولی

(و. س، ۱ټ. ۲۹٤مخ)

**گوزار:**

ځل، کرت، وار. پ. ر. ق اخیستی دی. خو د ګزار په لیکدود.

... ما وی چې دا ځل زه پخپله ورغلم هغه ګوزار یې هم کمی کړی و دا ځل به البته ښه لښکر وکا.        (ت. م. ۳۱۱مخ)

**گوگک gogák:** کوم ګل دی.

زما آشـــــنا ګل د ګــــوګک دی
په یارۍ کلک دی چاته نه وایی حالونه        (پښتو لنډۍ ۲۵٦مخ)

**گون:**

ما چې ولیده په ګون کې خپل محبوب
له هغې ورځې تر اوسه یم مجـــذوب (عبدالعظیم رانیزی)

**گوند:**

۱ - حزب، پارټی، سیاسی ډله، ۲ - مخالفت، له چاسره ګوند یا ګوندی کول= مخالفت کول، په مخالف لوري کې دریدل، دښمنی کول. دویمه

معنايې مجازي دده.

ستا له کويه به وانه وړم خدای خبر دی
که رقيب راسره تل کوي گـــوندونه (گلزار روه ۰ - عبدل)

**گوند gund:** گرداب، ورطه.

دا دنيا ده بې وفا نيمگـــړې ډونډه
عارف بيي نمرخاته، پريـــواته ډونډه
په مثال د لوی گرداب خلک پکی دي
مگر يو يواو باز ووزی له دی گــونډه (دولت لوانی ۲٦۰مخ)

**گونډه gunda:**

زړه ته گونډی پريوتل= په زړه کې کينه او غوصه بيدا کيدل، په زړه کې خدشه ځای نيول.

... فـريسه ووی ای بادشـاه دوی (چوغلگران) به درتـه داسې وايی چې د فريسه په زړه کې گونډې پريوتې دي، تا يو ځل په ده د مرگ حکم کړی دی دغه به د هغه د زړه نه هيچيرې ونه وزي.

(انوار سهيلی، ۳٦۱مخ)

**گونگټا:**

گونگټې، غوزاړی، خزدکه، همج.

خوښه پليتی کړه گونگټا د ځان له ويرې
نه کاندي په کـور د سـمندر باندې غرض
(التاړ ۷۳مخ)

**گڼ guṇ:**

ښه، توګه، قسم، ډول . د فارسي د ګونه په معنا .

زه په دا سبب له شــــرمه | پيځم دا څه نرمه ګـــــرمه
چې سبا مې نه شي قـــــدر | خداى ته کوز د سيال تر صدر
سبا خـــداى ته زه او ورو نه | ودروسم د نن له ګــــــونه

(شرعه ۵ مخ)

چې حضرت حسين ښه زړى | دې يزيد ظالم مـــړ کـــړى
ياد ده په حکم مـــــړ دى | ولې دا خبر خـــــبېړ دى
هيڅ په صـــدق نه دى روڼ | نه لرى دا ثبات ګـــــوڼ

(شرعه ۵۹ مخ)

د تميز کســــى دى روڼ کـــا | پرې دې ځير د هر چا ګوڼ کا

(شرعه ۹۱ مخ)

د دنيـــا مـــامله دې نه کـــا | دوست له دوست سره که ښه کا
لکه خريد، فروخت نکـــــاح | مـــــــګروى اهـــل فـــلاح
چې يې زړه ته په دا ګـــــوڼ | نه پريـوزي په دا کـــــوڼ
ددنيا په زيان وســـــود | ترې نه ځى ددوســـــتى بود

(شرعه ۱۱۲ مخ)

د دې خلکو محبت زښت دى | سپکووني د درنښـــت دى
په پيوند کې يې هيــــځ ګوڼ | نشته ښه دى ترې پريکـــوڼ

(شرعه ۱۷۲ مخ)

**گونیدل gunedə́l:**

غـوړیدل، له ځـانه سـره په تېښتې غبرګ شـه ویل چې اوریدونکي پرې نه پوهیږي.

بلبل ویل بورا دغـه خـبره شـوله جـوته
لایق د گلونه یې ځـان تـه وگـوره گنګوته
ته ځـه! رغږوه یاره په بایرو کې چیـرته لوته
بورا له ځان سره په غضب ورو ورو گونیده

(پټ ستوري، غلام قادر ۴۷۹مخ)

**گوی goe:**

جوتی، هغه څاروی چې په قولبه کولو یا گاډی چلولو روږدی وي.

کـه د عـالم او د بزرگ زوی شـوې
چې علم نـه لرې نو څنگه پوی شـوې
چې هنر نـه لرې دعـوه د څـه کـړې
چې سخوندړنه یې نو کله گوی شوی (غزونی ۳۶۸مخ)

په روښانی رساله او د حسین په شعر کې د داسې څاروي له پاره د جوتی کلمه راغلې ده:

حساب دی نه که په مال کې کورنه جامه داغوستن
نـه هغـه خـریان چې د تـیغ وینـه
نـه لیـبږدي نـه جـوتـی نـه د ژواک بـنـده
نه داورتی پسـول بیـرون کـه اوږی د زرووینه

(روښانی رساله ۱۵مخ)

که هرڅو چوکه په لاس کې ګـــرزومه

پرې جوتې نه شو رقیب غوندې اړ ک (حسین)

**یادونه:** د ننګرهار په لهجه کې عـمومـاً ګویي(goyi) لکه بوهي

تلفظ کیږي.

**ګیبی gebáy:**

ګیبي پرتوګ. هغه پرتوګ دی چې ګونځې ګونځې او پایڅې یې تنګې

وي، قاموسونو اخیستی.

چې پر زینه ختلـــــــــې نه شـــې

نامـــردې ولې دې ګیبی پرتوګ کـاونه

(پښتو لنډۍ ۱۱۸مخ)

**ګیټکه:** کومه لوبه ده.

پاچا خان دخپل وخت د لوبو په هکله وایی:

... نورې لوبې هم وی لکه انګې، شرنګې، لنډیمـارې، پټ پټهانې،

بنګړیواتې ګیټکه، پټه کونجکه، چیندرو او نور.

(زما ژوند او جد و جهد ۳۳مخ)

**ګیدړسانګې:**

... ښـه! دا خبره ده! نو زه به درته ګیدړسانګې درکړم په متـه پورې

یې وتړه، بس چې کومه جینۍ دې خوښه وي ګیدړسانګ ورته ښایه په تا

پسې به لکه ګډورې راروانه وي. (مفرور ۵۹مخ)

**ger per گیرپیر:**

گرد چاپیره، خوا و شا.

ثنګ به نه ګرځم ګیر پیر د یار په در کې
هرمسلـــم لره طـــواف د حـــرم بویه (حسین ۸۰ ٤مخ)

هله ما کـــړ د له سپو طمعه   پورې تلم ددوی په جمـــعه '
اوس له ما د هڅ په طمـــعه   ګیر پیر ګـرځي د سپو جمعه

(شرعه ۱مخ)

زاه د مـــور و پلار پوسي   په کماله چـــاپلوسي
ترې دی ګرځي ګیر و پیر   د مجرم مریی په څـــیر.

(شرعه ۱٦۱مخ)

**ګیرل:**

د قنبرعلی د زړه په باغ نظـر کا
چې ګیرلی پکی مهر د حیدر دی (قنبرعلی)

**ګیره:**

خلاص به نه شي په تدبیر د لقمان عقل
که راکـــیوتی د مینې په ګـــیره (حسین ۱۰ ٤مخ)

**ګیری:**

له ګیری یې زنده سر کله خـــلاصیږی
هسې شان د زړونو ښکار کاندی په اخ

(پټ ستوری، اشرف خلیل ۷۹ ٤مخ)

**گيله غاړی:** گيله من.

بل هر گوره گيله غاړی په هـــــران بې
دريم څه خو وسواسي يې بد گومان يې (شهی او دلی ۱۲۳مخ)

**گينډی genḍay:**

۱- گرگدن ( زړه پانگه څو مثالونه لری) ۲- ډال، سپر. پ. ر. ق په دواړو معناوو لهجه بللې ده، احتمالاً د ډال په معنا مجازي ده چې اصلاً به هغه ډال ترې مراد وي چې د گرگدن له کلکې څرمنې نه به جوړيده.

يو لاس به دې په مصـــــری
مړوند دې کنبلی تر گينډی (د مروتو کسرونه ۱۰۵مخ)

تور گينډی مخی ته نيسی
په شــــــــا نه توره (د مروتو کسرونه ۱۰۶مخ)

# ل L

**لا:**

یا ، لیـا . په ځینو پښتنو قبیلو لکه شینوارو، کاکړو کې د (یا) په ځای (لیا) تداول لري چې مخفف یې (لا) دی. په متونو کې (لا) د (یا) د تکرار په ځای استعمال شوی دی.

یا مراد راکـړه و مانه      لا مې بیا یه لـه دنیا نه
لا مې وصل کړه له یاره      لا مې بیا یه لـه دې داره

(یوسف و زلیخا ۷٤مخ)

څرخه! وکړه دو مره باري      که دې وکړې په ما چارې
لا مې وصـل کړه له یاره      او که نه د خـدای د پاره

د بل لاس له ما کوتاه کړه　　　　یا خو قبضه زما ساده کړه
(یوسف او زلیخا ۹۸مخ)

ای هجرې! لکه نادان بنده یې مه شه
غم ښادي د جهان خوب دی لا خیال (هجری ۷۵مخ)
یا د صبر ماندو بود په جهان نور شو
لا دا خوی د صبر نه دی چې یې زه کړم (هجری ۴۰۴مخ)
شعر دې ته وایي لکه راغله له وطنه
څو شیرین غزله تخالص سکندری
یا یې قلندر کا د دکن په لویه زمکه
لا یې کا په روه درب بنده پشاوری (هجری ۵۴۹مخ)

**لات، پات:** لت پت، ګډوډ.

د چا په مرګ شی خونه میراته
زما بې مرګه شوه لاته پاته
ښه چې دا هسې شوه زه هم پرې خوښ یم
چې لا وانه شوه دا بلا زیاته (خ، رباعیات، ۷۳مخ)

**لاتروش latruš:** کوږ.

د رانده دوړاندې حسن څرګند نه وي
داواز لذت پنهان وي له لاتروشه
(پښتو غزل، مخلص)

**لاټ:**

وړ، لاښ. هغه پټی چې فصل ترې ریبل شوی وي (محشی). د (ډیری)
په معنا هم قاموسونو اخیستی دی.

کلاته! چې پر سر دی پالیزونه د نـورو پالـــیز لاټ ســـو
د مستي پالیز اوس کوی گلونه

(فولکلوری سوغات ۹۰مخ)

**لاټو latu:**

لاړو، د کوکنارو تشه غوزه، قاموسونو اخیستی خو مطلقاً د غوزې په
معنا هم راغلی دی.

د ټجـــلی ونه د پومبې ده سپنې سینې یې لا ټوگان نیولی دینه
(پښتو لنډۍ ۲۳۱مخ)

راځه د بلې دې خبر کـــړم سپینې سینې یې لاټوگان نیولی دینه
(پښتو لنډۍ ۲۴۳مخ)

**لاټول laṫol:**

شاعر.

جواری دان قمار، لاټول شاعر بود، ری = فکر
ولې ناپوه= نادان، ناب= حاکم ای نیکوکار است.

(نصاب الصبیان ۸۶مخ)

**لاختی:**

په تـــنور د نوح مه وهــــه لاختی
که تنور دې له طوفانه کړي ظهور (ج. فدوی)

**لاډ:**

ناز، لاډمن= نازولی (لاډمنه= نازولې - محشی)

زه وم ترډېرو نجـــونو لاډمنه

ادی مې هره رضـــا کـــوله (انگی ۱۵۷مخ)

**لارغوځول:**

لاروهل، لار لنډول، پند کول، مزل کول.

... بیا ماپښین روان شوو، درسته شپه مو لار غوځه کړه.

(ت. م. ۲۱٤مخ)

**لاړ:**

لړ. قاموسونو اخیستی دی.

د غاټولو سره گلـــونه لکه پهن په لاړونه (فراقنامه ٤٤مخ)

**لاس او پښې کېدل:**

وارخطا کېدل.

... درخوچې لستوڼی له مخه ایسته کئ، آدم خان چې ورته وکتل بې سده سو، ټوله یاران لاس او پښې سول چې خیر په خان څه وسوله.

(م. هـ- آدم او درخانی ۱٤۰مخ)

**لاس په سر:**

توبه گار، صرف نظر، لاس اخیستی.

دا حسین به له جهانه لاس په ســـر شی

که د ښکلیو له درگاه لاس په سر راغی (حسین ٤۸۵مخ)

**لاس ته:**

له طرفه، له پلوه.

... په دا اوان یو لبارسخان چې دا غرخان د لور لاس ته ننسی و...

(ت. م. ٤٤٣مخ)

... ملک تور عبدالعزیز خیل چې نیکه د مؤلف وه د موره لاسته له احداده ازاده شه. (ت. م. ۲۵۱مخ)

**لاس خوبندی:**

ښنګړی د کښې په غوټۍ مات کړه
زمونږ چمکۍ له لاس خویندی راغلی دینه ( پښتو لنډۍ ۲۳مخ)

**لاس سره las sra:**

ګټه، فایده. پ. ر. ق اخیستی دی.

نن دی څو لاس سره وګټل؟ څو لاس سره درولویدل؟

(پښتو اصطلاحات ۳۲۹مخ)

**سالګوښی:**

حق دی قاضی الحاجات پوچ کړي بل ته مناجات..
که د خیر دي کـه د شر کړونی خدای دی نه بشر
لـه بنده د بنده سوال په ښښتن لګی ناخوال
د ښښتن له شناخته دور لاس ګوښی کا د مزدور

(شرعه۱۱۷مخ)

**لاس نیوه:**

مرید کیدل، د چا لاس نیوی کول= د چا مرید کیدل.

... یوه عابد له باچا جامې ورکړې یو غل چې خبر شو نو لاړ د زاهد سره ډیره شو او دده ته یې لاس نیوه وکړه. (انوار سهیلی ۷۲مخ)

**لالچ:**

جنجال، اړه. پ. ر. ق د (شور، زوړ) او ظفر اللغات د (۱- حرص، ۲- ترغیب، ۳- رشوت) په معناوو اخیستی دی.

په هغې لالچې مینی مبتلا شوم
چې له تنه پرې کوې وپارد روح (حمید ۷۲مخ)

په خــــدای کړ یو قلم وچ شه
ورک د نویو کـــړو لالچ شه (شرعه ۲۰۰مخ)

د بوسې ورکړه خوبان په ډیر لالچ کا
دا خو زه یم چې مې زړه په قرار ورکه (علیخان ۸۵مخ)

څو دې نه ده په تالو کې ژبه وچه
وبه نه گرځې د بدو لــــه لالــچه (لتاړ، ۱۳۵مخ)

د ښه، بد شعر داحـــــد دی | چې ښه یې ښه، بد یې بد دی
غنی نه وځی ئـــور کـــوچ | که یې شار بې په لالـــــچ

(شرعه ٦۱مخ)

که احمد بادشاه د یار په در قبول شی
څه پروا کا د رقیب لـــه دې لالـــچه (احمد شا ه بابا -۲۸مخ)

طاقت نشته د هیچا د عشق له غمه

عشق اور دی اور که پورې بې لالچه ( احمد شاه بابا - ۲۹ مخ)

**لالچی lalaĉí**: لالچ کوونکی، جنجالی.

... امیرخان (مغولی حاکم) هم ډیر شوم طمع لالچي و.

( ت. م. ۴۹۱ مخ)

**لاندیستون lāndestūn**:

نهالی، توشک، قاموسونو اخیستی دی.

اوس يې توری (خال) میرتون (ویښتو) د لاندیستون کړ

وړیا کـــله وي مـــونده اســـان د مښـکـــو (علیخان، ۲۰۱ مخ)

**لانکی lānkáy**:

لنډورمیر اوږدې پونډی لـــو یه څـــوږنده لکی

نور به څـه گـورم و تاته د بـــازونـو لانکـــي ته

(خ. متفرقه ۹۲۳ مخ)

**لاهه lāhá**:

چې هوس د یاری کا لاهه يې څـــه ده

یو نفس په دیدن خوښ، تل يې ژړا ده (هجری، ۴۵۰ مخ)

**لتوپتو lató- pató**:

په ډیر بد څرنگوالی اجرا، یو کار یا یو شی لتوپتو کول، فقط له کاره ځان خلاصـــول او لـــه مخی تیرول، په نهـــایي بدکیفیت اجرا کـــول. (په ننگرهار کې متداوله ده )

... خان عليين مكان وليدل چې دوراني مصلحت يې نه خوښيده ددوى په لاره ، په راى پسې لاړ او دلته ځو ورځې پس هغه کار يې لتوبتو کړ.                                                  (ت. م. ۲۸۲ مخ)

**لته lata:**

... په چوګان يې خضر خان چې وروړد سليمان و په سر وواهه، سلطان وفرمايل، شمس خان يې په لتو کړ او خود پريشان خاطر و خپل محل ته يې تشريف وفرمايه.                                                  (ت. م. ۷٦مخ)

... اسلام شاه په غوصه شو او لتې يې وفرمايلې او ويې ويل که پس له داله تا مخالف له شرع واورم موافق به د شريعت غرا تا په اور کې وسوځوم.                                                  (ت. م. ۱۸۵مخ)

**لتهکه:**

ستا کوتاهو زلفو زه هسې زخمي کړم

چې تر ماره چيچل بدکاندى لتهکه (نجيب)

**لتوم latum:**

لوتهارى، داړه.

د وصال ښهر يې واړه زما لوټ کړ

خبر نه وم د هجران له پټ لتومه

(سکندرختيک ۱۳۷مخ)

**لته laṭa:**

کړى، حلقه.

د ســـــم بوری (ځـــای دی) په میـان کې
خدایه دوې نجونې واده سوې په ارمان کې
یوه د بل په رنګ لکه زرګر چې لتې جـــوړې د پیزوان کې
(فولکلوری سوغات ۷۲مخ)

**لډر ladər:**

ډیری ډیری، زښت ډیر، ډلې ډلې. پ. ر. ق اخیستی دی.

آزاد خان چې د کشمیر په ملک غره شو
له جـــهـــانه خـــوار و زار لکه چوهړ لاړ
چې حساب وشماریې نه شی په چا باندې
په ازاد پسې دا هـــومره ډیر لــــډر لاړ

(مطیع الله پیره خیل)

**لډر ladár:**

د زړو ځیزونو پلورونکی، کهنه فروش. قاموسونو اخیستی .

لکه غل په توره شپه ووځه له ښهره
و رقیب ته د لـــډرو بازار پر یږده (شمس الدین کاکړ)

**لډه láda:** بار، پیتی.

په درانه وري د ډیرو ملاشوې ماتې
راشه ملا مه ماتوه په درانه لـــډئ( الپوری ۱٤۲مخ)
ضعیف خس که داندوه کوه له ستوه
چې بیدل په سرغم کـــړه ورته لــډه (بیدل)

**لری کول:**

بیرته کول. له (ور) او (دروازی) سره یو ځای راځی. ورلری کول= وربیرته کول. په پښتو کې دا اصطلاح متداوله ده.

ده ویل ور کړئ راته لري کاروانی یم
مطلب نه لرم په چا واورئ له مانه
(کلید افغانی، گنج پښتو ۲٦۲ مخ)

اوس به ورد وفا لری کړم و تاته
دغه حال زه په ربنتیا وایم و تاته (کلید، گنج. ۲۸۰ مخ)

**لړماس larṃás:**

وریت، کباب. لړماس به د لړمون په معنا سره بې ربطه نه وي.

ځکه ځی می بوی له خولې د پخوغوښو
چې شو زړه مې د فراق په اور لړماس (پښتو غزل، دلسوز)

**لښ laṣ:**

له ترخې ونې به چیرې خواږه مومې
که هرڅو د ښو طمع لرې له لښه (واصل ۷۹ غزل)

**لښ:**

لاښ، لاش، جسد.

عامر وویل دا شان — چه دوی مړ کئ دغه ځوان
دده لښ ته ما کاته — چې آسمان ته یې خیژاوه
(یاقوت السیر ۳۷٦ مخ)

**لغ lag̊:**

۱- لغړ، بربنډ ۲- له وښويا فصل څخه وړ شوي زمكه (زړه پانګه).

كـــوت دې شي د نابالغ　　　تمام تن ګـــرچه وي لـــغ

(شرعه ۱۵۹ مخ)

كه زړه وي، نـــابالغه　　　حكـــم دا لـــرى دالغه

(فضل نامه - ارمغان، ۹۰۷ مخ)

نابالـــغ لكه عـــــورته　　　په ښوى مخ په زنه لـــغه

زاهد بغ زنګون يې لغ كـړ　　　ته څه ښكار غواړى له بغه

(ارزانى)

**لغت lug̊át:**

كره خبره، كنايه، د طنز خبره. چاته د لغت خبره كول= په طنز او كنايه خبره كول. په ننګرهار كې دغه اصطلاح تداول لري.

حميد يو ځاى په ميره باندې د ماينې د حقوقو په باب وايي:

په ښځتن شته دى دا طـــور　　　حق د كور كادى يې غـــور

چې دى خـــوري هغه طعـــام　　　دى په دې خورى خاص و عام

چې يې دى اغـــوندي پاك　　　وركـــوى هغه پوښـــاك

موافـــق دى په خپـــل توان　　　باندې رزق لـــرى پريـــوان

له وصاله دې مهـــجـــوره　　　نه لري د كور كـــجـــوره

كه دا قهـــر يادرشـــتـــى كا　　　ورسره دې دى آشتـــى كا

البـــته ويی کـــــماږه          وړی چې غواړي ترې خـواږه
د پيـوری غـوا ڷغــته          اخيستی شی بې لغــــته
(شرعه ۱۵۳ مخ)

دا زر زې زرغونې سترگې کيسی په اشارت کوي
عقل کې پخه يې له عاشق سره لغت کـــوې
(ولسی سندرې ،۱ ټ ۹۲ مخ)

**لغومل:** نغومل.

لکـــه بنـــه عــراقی آس          بـــرابـــر راځـــی په لاس
يعنی سم په جلـب لغـومی          په هر لور چې سياهی درومی
(مناقب ۱۲۷ مخ)

ای صاحبـــه! چيرته درومی          اوس وکـــوم طرف ته لغومی
(مناقب ۱٤۰ مخ)

**لک lak:**

په زنخ کې يې چاه لک و          د حيات له اوبـو ډک و
(يوسف و زليخا ۲۳ مخ)

**لکړی:**

راځه چې دې خبـر کړم          تا پوه په زير و زور کړم
تاوان او ماليه په ملک کې زور شوه د سرکار
ډير تنگ شو زميـندار          خاطر دې کړه خوشحاله



ACKU

ړومبیه زما لاله　　لګړی بمبلی راغله شروع یې که بند و بس
منشیانو په هوس　　(ولسی سندرې ،۱. ټ - ۱۸۱مخ)

**لګت:**

قاموسونو د لګښت په معنا اخیستی دی.

تول لګت به دې ګوری　　درپسې نوسنده دی
تاازمیی چې کس دی که ناکس لکـه خس لاړ

(پښتو غزل - عبدالرحیم)

**لګړکی lagárkay:**

لکړ ، وړوکی لګړ ، یو ښکاری مرغه دی. قاموسونو (الکړ) اخیستی دی.

طمعه د باز لګړ کی خورې د زمانی په ګـردش
د باز په قدر څوک پوهیږی مشکار پاتې نه شو (الپوری ۱۷۰مخ)

**لګول:**

زخمی کول ، ټپی کول. هغه ټپ یا زخم چې د سولیدلو څخه په تدریج سره منځ ته راځی. لکه چې ویل کیږی: درندو بارونو د خره شا ولګوله.

رسوی په دا به خـــوب　　ودا بې ته زخم ، آشوب
د سواره د خوب خـاشا　　لګوی د مرکب شـــا

(شرعه ۸٦مخ)

**لګیدل:**

نسبت لرل، یو له بله څه د خپلوۍ رابطه لرل.

... یوه ورځ د غه ځوان ته خوب ورغی، چې سر یې ولګاوه نو یو سړی پرې راغی، ورته یې وویل چې ځوانه! دا میلو (پره) دی څه لګیږي چې ته ملاست یې او دی درته ناست دی.

(کلید افغانی، ګنج پښتو، ۷۸مخ)

... نو بیا ګډوری وویل چې مشر به هاله معلوم شي چې چاته سن یادوی او زه په خپل تاریخ پوهیږم چې د حضرت ابراهیم له ګډوری سره مې نسبت لګیږی. (کلید، ګنج-۳۰۱مخ)

**لل lal:**

۱- کمزوری، ضعیف ۲- ساده، احمق. قاموسونو د سیک، قوت او همدارنګه د احمق په معنا هم اخیستی دی.

محبت لله لله عقله مدد غواړی

څاڅکی د باران په اباسین کې پوپناشی (حسین)

پیلی کم ذلیل مشکنی، دُر په یوه مزی

لل ته څه ارزه د نفیس لعل بدخشانی شوه (الپوری ۱٦۳مخ)

**للیدل laledal:**

کمزوری حرکت کول، خوځیدل راخوځیدل. وایی په فلانی کې ساللیږی یعنی د مرګ په حالت کې دی.

څوک په وره درته للیږی په غط ستا د لقا

(خ. قصیدی ٤۹۹مخ)

**لليدل:**

گونگيدل، ترتړی کيدل.

د ښه مخ صفت يې هيڅا لکه حق دی ادا نکړ
واصفان يې همه واړه د هلک غوندې لليږی
(عبدالقادر ختک ۲۸۹ مخ)

**لمبړ lombə́r:**

مخکنی، هغه څه چې په مخکی يا په مخکنۍ برخه کې وي. قاموسونو اخيستی دی. پ. ر. ق. دا يوه زړه او له تداوله لويدلی کلمه بللی ده. د لومبړی، ړومبی کلمې مقلوب فورم دی.

... قافله ښه نژدې سوله، تيريږی، ظريف خان پکې نسته ما بې ناره پر وکړه:

کاروان باشی يې د کاروان سردار يې
د کاروان په لمبړ ولاړ يې
خلک پوښتنه د سود و زيان کې
زه خو پوښتنه د ظريف خان کم
خدری ناره پر وکړه:
کاروان باشی يم د کاروان سردار يم
د کاروان په لمبړ ولاړ يم
ظريف مې مړ سو د نس په خوږو
په دواړو لاسو مې کړ د سنگو باره، زه ځنی راغلم
(م. هـ. ظريف خان او مابی ۵۷-۵۸ مخونه)

**لمره کول:**

محوه کول، نابودول، پای ته رسول. پ. ر. ق اخیستی دی.

سنک یې له وخته د لمره کړ = له وخته یې وواژه
کار یې له لمره کړ= پای ته یې ورساوه .
میاشت یې له لمره کړه = لر میاشت په خپلو وړانگو کې ورکه کړه .

(پښتو اصطلاحات ۲۰۶ مخ)

**لنډر landạ̄r:**

لنډی. مونډی (لنډ) او (ر) لکه په (لندر، کنډر، وندر) کې وروستاړی دی.

منم چې نوم یې خرو ... په دې چې زوی د خرو
بوچی و په غوړونو ... په لکی باندې لنډرو

(ولسی سندرې، ۱ټ- ۴۰ مخ)

**لنډیر landẹ́r:**

لنډور، لنډاک، لنډفکری، د لنډ فکر خاوند. قاموسونو (لنډاک) او (لنډور) په دغه معنا اخیستی دی. مونډیې (لنډ) او (یر) لکه په گاډیر کې وروستاړی دی.

د دنیا عمر په هسې رنگه تیر شو
چې په وړاندې معلوم نه دی، وروستو هیر شو
چې دی سپینه شوله ږیره غابن وتلی
خوی خصلت دې په پیری کې د لنډیر شو

(پټ ستوري، رسول شاه ۲۵۱ مخ)

**لنډيماري landimaráy**:

يوه لوبه ده.

پاچا خان د خپل وخت د لوبو په باب يو ځای وايي:

... توري لوبې هم وې لکه انګۍ، شرنګۍ، لنډيماري، پټ پټانی...

(زماژوند او جد و جهد ۳۳ مخ)

**لوبوزل lobuzə́l**:

که سايل په شوخۍ سوال کا    چې پر قهر کا ناخـــوال کا

چې يوه شوخ اعــــــرابی    لـــوبوزلـی ونبـــــی

(شرعه ٦٧ مخ)

**لوټميری luṭméráy**:

لوټمـــار، لوټګر. پ. ر. ق د (د ډلی مـــشـــر، د ډلی ســـرکښ) په مـــعنا اخيستی دی.

لوټميری مې اوس لوټی سر و مال دواړه    چې د مينی، د عشق خيال شو راته پيښ    (مطيع الله پيره خيل ۱۰۹ مخ)

**لوځی ځوان**:

ابلوځ، ځوانی ته رسيدلی. په ابلوځ کې همدغه ريښه شته.

له اوله پسو سم هلک لوځی ځوان وی لکه غشی

اخر خم لکه لينده زاړه سپين ږيری مشـــران شي

(د مست بابا منتخباب ٥٧ مخ)

**لوځه luʒa:**

نرۍ ښکلې، وش وش، وښند، لوزه هم راغلې.

یو یې غتې سترګې وې اوږدې وروځې

بل یې زلفې وې تر زنې لاندې لـوځې

(مطیع الله پیره خیل ۲۷٤مخ)

**لورل lorəl:**

لوړل، سوګند یادول. دلته د (داتیف= مفعول له) په حالت کې دا سم

سره استعمال شوی دی.

پسې شادی سوګندونه خوري وسرته

هم هغه چې مخامخ دی په سر لوری

(عبدالقادر ختک ۲۸٦مخ)

یار مې که هرڅو وسرته لـوری قهر وستم کا همیش مې زوری

لاتر دا زیات مې واړه قبول دی خو یو دې نورو وته نه ګـوري

(عبدالقادر ختک ۳۹۹مخ)

**لوړماښ lurmás:**

لړمون. قاموسونو (لړماښ) اخیستی دی. د ننګرهار په لهجه کې

لوړماښ تداول لري.

وریت لړمون مې ستا بیمارو سترګو هیر کړ

زړه، لـــوړماښ خو یادوي رنځـوران

(علیخان ۱۸مخ)

**لوړه کی lwarakáy:**

زبر، زور، فتحه.

تکی نقـــطه لـــوړه کـــی را زبردان
چو کوزه کی، زیر، کژ کی پیش بشمر
زور کی اســـــت یک نوعی ز فتـــحه
که در پښتو است مخصوص مقـــــرر (نصاب الصبیان ۵مخ)

**لوز loz:**

څو به ته وړی خدنګ غشی په لوزه کې
څـــو به ووزی و مـــیدان و ته د جنګ (پیر محمد کاکړ)

**لوزه luza:** (و ګ: لوځه)

چې ډنډ ته شوه ورکوزه ښایسته نازکـه لـــوزه
دا ډنډ یې په لمبلو باندې کړو مښکو عنبر
ساعت شو پرې اختر (ولسي سندرې، ۲ټ، ٤٤مخ)

**لوښلونی loṣlūnay:**

لوښنی. هغه اوبه چې لوښی پرې کنګال شوی وي.

څوک چې لوښی د خوراک وڅښی پاکـــیزه پاک
غواړي لوښی له څښتـــنه د هغه ســـــړي بخښیـــنه
چې وڅښی په ادب تلونی تر څښلو پس لوښـــلونی
ګویا کړ هغه نیکـــــزاد حبشـــی بنـــــــده آزاد
(شرعه ۱۹مخ)

**لوښه losá:**

خوښی، انند، خوشحالی. قاموسونو د (عادت، خصلت) په معنا اخیستی.

معنوی خبرې ښې دي — بدې مه وایه ناښې دي
پرې کوتاه یې خرخښې دي — خو د زړونو پرې لوښې دي
(د مست منتخبات ۷٤ مخ)

**لوک lok:**

عزت، قدر، درناوی.

بس که ای جدیده قدردان اوس پاته نه شو څوک
واړه سوه بیقدره درب نه کا څوک اوس تاته لوک
(ولسی سندرې، ۱ ټ. ۲۲۹ مخ)

**لوک luk:**

خدمتگاري کړه بیباکه لکه لوک
پرځان مه پیچه تارونه لکه دوک
(ج. فدوی)

**لولنگر lowlangár:**

فضول خرڅی، عیاش، چړچو، هغه څوک چې گټي او څتي. ظفراللغات اخیستی. په ختیځه لهجه کې تداول لري.

... زموږ په شان لولنگر چې څه گټي، د مخې سره یې څټي.
(مفرور ۱۳۵ مخ)

**لونګين:**

۱ - له لونګو جوړ شوی منی ۲ - ښکلی، مقبول، په زړه پورې.

په دو مه معنا یې مثالونه:

... ډیر مې غوښته چې کله به تاووینم او ستا رباب به کله واورم، نو اوس که دې خوښه وي یوه لونګینه ګوته رباب خو راته ووهه.

(ملی هندارد، قطب خان ۹۰ مخ)

... چې پر قطب خان د نازو سترګې ومښتې د ستې پر مینه سوله ولی چې قطب خان خورا داسې لونګین ښایسته ځوان و چې...

(م. هـ.، ۹۰ مخ)

**لونه luná:**

ښنځه، ښنځمه. پ. ت. ق او پ. ر، ق اخیستی.

لا یې زیات شی د خوناب جوش و موجونه

که په صبر د مومه د عشق لونی (حسین ۴۲۲ مخ)

**لوی ləway:**

ډاډه، ډاډمن، محشی د (تازه دم) په معنی اخیستی.

هغه زړونه به مدام له درده چوي

چې وهلی وی د زلفو په بچوي

له یوه غمه لا خلاص او فارغ نه یم

نور بیا پاڅی راته نوی په غم لوي (علیخان ۱۲۹ مخ)

**لوی laway:**

ډاډ، تسلی. لوی لګول = تسلی ورکول (محشی).

غتې مازیګـــرو تر بور راغی
حال د بابا غه مور ځنی کاوی

تر بره زمور لوی ولګــــاوه
تربره دی مس پر مــوره کاوی

(انګی ۲۲٤مخ)

**لویان loyān:**

ګران، محبوب (محشی).

له اوس مــړو ده خبرویرانه

ته یو وار راسه ماما لویانه

(انګی ۳۵۷مخ)

او ســـوز او ســـوز د دنیا آرمـــانه

که زما په غـــاړه مـــه وای ګــریوانه

بیـــا به وه هـــــره خبـــر انـــدامـــه

ته یو وار راســه مـــامـــا لـــــویانه (انګی ۳٦۵مخ)

**یادونه**: اندام ته محشی د (موافق، برابر) معنا لیکلی ده.

**لویجن loejən:**

خیالور، خیالی (محشی).

تربور لویجن په لویی بنوریږي

لویی د نورو نجونو په کـیږي (انګی ۲٦٤مخ)

ځه بده ګران به وي پر دی کــور
نه به ګـــرانی وي دا دې مـــور

نه به مجلس وي د لویجن ورور
منت به ډیر وي د پـردي مـــور

(انګی ٤۰۹مخ)

پرګلی (کوڅه) خوب دی راغله بدان
دي يې په مخکې لويجن خــــوريان (انګی ۵۹۷مخ)

**لويچاري loeĉāraý:**
هغه څوک چې له سترو چارو سره سرو کار لري.
هر سړی په موافـق د خپل همــت نظر لــرينه
په وړو چارو هيڅکله نظر نه کاندی لويچاری
(عبدالقادر ختک ۲۸۵مخ)

**لوی چاری loeĉārí:**
چې سبا بيچاره ځی تنګ تياره ځای ته
په ناحقه يې نن کړې لوی چـــاري وي (الپوری ۱۵۳مخ)

**لوينه loyéna:**
لويوالی. قاموسونو اخيستې دده.
مشقت دي د سفر لـــــيدلی نه دی
له هلکينې تر لوينې لا په کور يې (ج. فدوی)

**لويی loyí:**
۱- لويوالی ۲- تکبر، غرور ۳- وياړ، افتخار. په لومړيو دوو معناو قاموسونو اخيستې دی. په دريمه معنا يې مثال:
... امت ته حکم وشو چې ډيرې ښځې کانئ چې اولاد ستـا سی ډير وی زه د قيامت په ورځ پرې لويي کوم. (دستارنامه ۵۵مخ)
**يادونه:** دلته لويي د عربی د اُباهی په معنا ده چې وياړ کول ته وايی.

**لهول lahawál:**

روږدی کول، عادت کول، اموخته کول (محشی).

له لوهه، لیوه سره یې ریښه یوه ده چې دلته هم د اشتیاق معنا شته

زدی په خورما ولهومه (ولهولم)     ودې لهومه

اوس مې ولی صبروې     ودې نتم (نتلم)

(فولکلوری سوغات ۸۰مخ)

**لیر lyár:**

لار، لیار، طریق.

که سفر د هر دیار کړې درته وایی

چې حرص یې گرځوی په هر لیر

(خ. متفرقه ۸۲۱مخ)

پاڅیدم له خوبه لکه خوږشی د چا سر

هسې شان او ترشوم، نه مې لیر لیده نه ور

(خ. ترکیب بند ۹۳٤مخ)

**لیکی likáy:**

تجلی، (محشی). لکه چې د فارسي (نگار – معشوق) له (نگاشتن) سره او د پښتو (ښکلی) له (ښکل، کښل=لیکل) سره ریښوی یو والی لري د (لیکی) کلمه هم له (لیکل) سره ریښوی یو والی لري.

تورې لاس به له تنې واخلې     تنې ور جنه ده وړ به واخلی

کمکې لیکی یم ازار به واخلې

(انگی ٤٨٥مخ)

دا پورې غــــرســــــــي، پرنږيده سي

ثوری درزاسی ثــــوری درزا سی

کمکی لیکی سی پرو د غـــــله سی

مغزی دې مات سی واده دې نه سی (انگی ۲۱ ۵مخ)

**ليوه lewá:**

اشتـهـا ، اشتـيـاق. د (لوه) په لیک دود هم راغلې چې لوهی د مشتـاق اشتها لرونکی په معنا دی، لکه د حمید په دغه شعر کې د بدلوهی کلمه:

دا بدلوهی نوس دی مور نه شو په بدو

که هر څـــو دې ایله پرینبو بې دهشته

(د بمبی نسخه)

د (لوه) بل وریانت (لیوه) دی چې د (لیوال) کلمـه هم ورنه جوړه ده، چې قاموسونو اخیستی او په زړو متونو کې زیاته راغلی ده مثلاً:

عــایشه وایی ښــــه زړې چې حضرت زه نکاح کړې

یم په میاشت کې د شـوال ډیر مې دی ځـکه لـیوال

(شرعه ۱۳۷مخ)

غالباً هم د شعری ضرورت له امله تر (لیوه دار) جوړ شوی دی:

کــــه به چــــاورته د زړو روپــــی راوړه بــــــــرادرو

ده به بیرته ورگــــوزاره کړه وې بې دا دې په خپل کـارکړه

زه نادان نه یم هــوښـیار یم ددې کلــــه لــــیوه دار یـــم

(مناقب ۱٤٥مخ)

**يادونه:** د (ليوه) نه د (ليوه دار) كلمه غالباً د شعري ضرورت له امله جوړه شوې ځکه چې د همدغه کتاب په نورو برخو کې د (ليوال) په ليک دود راغلې ده مثلاً:

ده په خوله کې قال د عشق زړه يې نه لـــيوال د عشق

(مناقب ۳۲۲مخ)

# م M

**مابن:**

په ځیلمې د کلي کوکې ګیدړان کا

په ما بن کې د عظیم زمـــری تښا ده ( لتاړ ۱٤۰مخ)

**ماتنګن:**

دازل له ښـــه پـــرینه                ځـــنګ دی بایلو ماتنګنه

(احمد شاه بابا ۲۱۸مخ)

**مارخور:**

یو ډول غټ غـرڅه دی چې د لوړو غـرونو په نسبتاً لوړو برخو کې ژوند کوی، کوم وخت چې مـارو ګوري په خاص مهـارت یوه پښـه د مـار په سر

ړدی او د مار پاتی تنه خوری. پ. ر ق د (کږو ښکرونو لرونکې وزه) او ظفراللغات د (یو ډول وحشي وزه) په معنا اخیستي دی. په اختیارات بدیعی کې څو ځایه راغلی ده:

مارخور: زهر مهره په غولانځی د مار خورې یعنی وزی د غره کې پیدا کیږی.

ایل: ښتانه ورته مارخور وایی. (اختیارات، ۲۵۸مخ)

...جالینوس وایی د گوړا خره غوښه چې ښربه او ځوانه وی نژدې مارخورته وي. (اختیارات بدیعی ۱۰۳مخ)

**مارل:**

۱- تاکل، گومارل ۲- سپارل، په لومړی معنا قاموسونو اخیستي.

ماهاله زیرمه د ځــان کړه اقتضا مې رأی دا شان کړه
چې دده لــه کــارهٔ تــښی په غره ځای ونیوی گــوښی
زهمن خدای وته ســپارلی کار و بار پرې ومـــارلی
(فراقنامه ۶۷مخ)

چې مرشد مې شیخ صاحب لــوی عــالم دی عجایب
ده ومــاته راســـتولی ده په مــا باندې مــارلی
(مناقب ۱۴۱مخ)

**مارمار:**

په ځغاسته، په منډه، په مارش مارش.

پرنگی لــه کلکتې نه راروان شــو په مــارمار
صاحب له بری ورکړی ته یې مل شی پاک اکبر د
(اولسي سندرې ۲ټ ۲۱مخ)

هم یې څلور میرنی پهلوانان دی     تل و جنګ ته په اختیار
هم څلور د بادشاه زویه     د غلیم په لورې ځغلي په مار مار
(د زقوم قصه ق. ن. ۲مخ)

**ماسه:**

چې غر د سرو زرو د سرې خپل شي
مهر ماسی ته یې کله کتل شي
چې پادشاهانو سره ناستي په تخت کا
د انور ځایونه ورته خجل شي     (خ، رباعیات ۱۷۵مخ)

**یادونه:** په بله نسخه کې د ماسی په ځای ناستي دی.

**ماشوره:**

نل، نلکه، توته.

... او خلک نور او دد شوه نو دې ډمې زهر د یوې ماشورې په سر پورې کړل او دا سر یې د ځوان سپېږمو ته کښېښود او بل سر یې په خپله خوله کې غرض دا چې په یل سر به پوکی ورکړم. (انوار سهیلی ۷۳مخ)

**مالګی ګل:**

د مالګې ځګ؟

رغوت الملح: زبد الملح هم ورته وایی، پښتانه یې د مالګی ګل بولي.     (اختیارات بدیعی ۳۸ مخ)

**ماله ډک:**

هغه ډک چې مظروف یې د مورګو پورې وی نه څلی.

درسته شپه مې په فریاد پسې ناله ده

ستا له غمه مې سینه ډکه مـــاله ده (حسین ۱۱۱ مخ)

**ماما:**

مور، والده.

د لاهوت په قـــراری کې یکـــتنها وم

د وحدت په حجاب نغښتی پټ پیدا وم

د ماما حوا په غیر کې یې دردمند کړم

بې طاقتــه د بابا آدم په شـــــــا وم (واصل، ۲۲ غزل)

**مانا:**

غوندې، په شان، په څیر، په مثل. قاموسونو اخیستی دی.

دا شعار مثل مې څه دهن مصری شو

د ناقد فهـــم مـــانا په گـــند نادی (هجری ٤٤ ۲ مخ)

**مانجه:**

که شولی اسانې وای نو مانجه به خوړلی (پښتو متلونه ١٤ مخ)

**ماند mānd:**

تنستــه، هغـه تارو نه چې بود (بوده) ورسره او بدل کیږی. مـاندره هم له دغې ریښې ده.

یاد صبر ماند و بود په جهان نور شــو

لا دا خوی د صبر نه دی چې یې زه کړم (هجری ٤٠٤ مخ)

**ماندره māndrá:**

مرانده، پروکی. پ. ر، ق د (۱- پروکی، ۲-لښته، غورګه) په معناوو اخیستی.

زما د زړه ماندرې دې پرې کړې         حلال شوی بې قصاب یم
(پټ ستوری، حافظ عظیم. ٦٧مخ)

**ماندوره māndóra:**

قاصر. دا هغه وخت ویل کیږی چې یو سړی د ورسپارل شوي کار په اجرا کې تر خپلې وسې کوښښ وکړي بیا نو وایی چې زه نور مانده وره نه یم (محشی).

ما په مینه د ښتو زلفی شانه کړې
اوس نو وایم ښتنو! ماندوره نه یم (سیال کاکړ، انګی ۵۹۳مخ)
نن مخلوک ګرددی ورته اریان
خوره ماندوره زمور قربان (انګی ۵۹۳مخ)
لحد بندي کړی ماما هوډي
ماندوره نه دی تربوراجي (انګی، ۳۷۹مخ)

**مانډه:**

د غضب جامې دې واچولې خرې
نه پوهیږې شپه او ورځ په خپله سترې
د مانډه هسې په هرچا پورې نښلې
پاک عالم پلیتوې لرګی ککړې
(پټ ستوری، رسول شاه، ۲۵۳مخ)

**مانو:**

بوټي دي، د ونو په څیر هم وي. شنې پاڼې لري، په اوږی او ژمي شین وي. تورې او کله سپینې دانې لري. دانې خلک خوري، پاڼې یې وچوی او د نظر ماتې له پاره لوګی کوی. (د س. زهیر)

مـــور یې مـــانوور ته لـــوګی کـــړه
زیارت ته تللې چاینې مخ لیدلی وینه (پښتو لنډی ۴۰ مخ)

**متره:**

حرام، زوړ. په زړه پانګه کې یې څومثالونه د (خندا زمکی) سره وړاندې شوی وو، له (خندا زمکه) څخه پر ته هم لږ څه لیدل کیږي.

په هجران کې دې تل خوب په ما مـتره وي
درسته شپه مې سترګې ستا په انتظار وي (ابوالقاسم ۱۳۳مخ)

**متر:**

ته به هیچـیرې د آس په یـون نه شی
په تورد هیـڅوک لک پښتون نه شی
اصل په هر څه کې خپل ځان څرګند کا
خوند د متړو به ګـــندم ګـــون نه شی (خ. رباعیات، ۷۴۳مخ)

**یادونه:** وروستی مصرع د پښتو ټولنی په دویمه قلمی نسخه کې داسې ده: په تربیت به شوی اکسون نه شی.

**مته** **maṭá:**

ناچل، کلب، ناغس. متیز (ښځه) او متیاک (اکوړ) له دغې ریښې دي.

که يې څــوکــره کــوی لا متيه کـــيږي

بده برخه چې يې غش په اکسير ګډ که (عليخان ۸۱مخ)

**مچپيـزن macpezə́n:**

ناولی، چټل چې مچان پرې بنيږي.

په جهان کې تر لغمانيو نورې نشته

ګنده بوی، ګنده بغـلې، مچپيزنې (خ، متفرقه ۸۳۸مخ)

**يادونه:** په يوه بله نسخه کې (مچبيزنی) ثبت دی.

**مچخ macax:**

پنډ (؟) هغه اوسپنيزه اله چې په بکره باندې له وهلو څخه يې د اور بڅري لوېږي.

شنه دې خالونه دې وهلی، وايې سندرې     ستا سرو لبو خوړلی يم

پيزوان دې اور کابی مچخوبی بکــرې     لبــو ته دې نيولی يم

(اولسي سندرې، ۱ټ - ۱۰۰ مخ)

**مچموری macmóray:** د فقر الجوع ناروغ.

د هما سوری دولت بخش په خـــوا رول د نفـس شو

شکم پرور په خوړو خوړو کې مچ موری پاتې شی

(الپوری - ۱۲٤مخ)

**مچوغنه macóġna:**

هغه آله چې د يو ځای نه بل ځای ته پرې تيږې اچول کيږي. دغه کلمه د (مچلو غزه، مچنو غزد، مچوغنه، مچوقنه) په ليک دودنو قاموسونو اخيستی ده، په فارسی يې (فلاخن) بولی چې دغه نوم په اوه (۷) ډوله

لیک دود ثبت دی او همدارنگه یې (دستاسنگ) هم بولی چې د (سنګ) په موندسره په (۹) ډوله لیک دود په قاموسونو کې ثبت ده. (و ګ، فرهنګ عمید)

ډیری تا غوندې ځار کړی تر خپل سر دي
دا دنیا لکه مچوغنه ته یې سنګ (عبدالقادر ختک ٨٦مخ)

**مخسره:**

شهادت یې په درګاه د رب قبول دی
چې نن ستا له لاسه مړه په مخسرو دی (حسین ٤٢٧مخ)
په اسره د سرو مال به مخسره شی
چیرته عشق چیرته د سرو مال صیلې (حسین ٤٣٦مخ)

**یادونه:** د «مسخره» مقلوب نه دی چې هغه هرځای د (مسخره) په فورم لیکل شوی.

**مخ ماتول:** د چا عذر او شفاعت ردول.

سنک د ولو جان مخ مات کئ، مخ یې و نه کوت، بیرته یې د ریدی خان سره دعوه شروع کړه. (اصطلاحات ٣٤٥مخ)

**مخوله maxolá:** عذر او زاری، مخ و خاطر غوښتنه.

چې خپل عقل و هوښ دې ورک کړ لیونی صحرا نیشنه!
څه غواړې د شاهانو له یاری، غریب مسکینه
زرو وڅه له دې ښاره مخولی مه کړه غمګینه
(اولسی سندرې ،١ ټ. ٢٨٦مخ)

**مخې ګل** **maxə́y gwal**:

که ګــل دی د مخې　　　ماته راوړه ګــل میخې

(د خلکو سندری ۱۲۲مخ)

**مرڅینک** **marcinák**:

نوسی. پ. ر. ق (مرڅینګ marcing) اخیستی او د (نوسی) معنا بې ورته لیکلی او نورو قاموسونو د (دست پناه) په معنا اخیستی.

که د علــم خــوش خــرامــو ته سـرک یم
نو د ژبې کــجــروانــو ته تیـــــند ک یــم
د الــــفاظـــــو رعــایت په کــمال نیسم
اور د شوق مې دی په واک کې مرڅینک یم　　(غزونی ۲۲۱مخ)

**مرغ** **marǵ**:

تالې، طالع، بخت. په نیکمرغه او بدمرغه کې د کلمې د توکې او جز په توګه متداول دی.

ارېه! (نوم دی) دغې فتح مرغ دی ښه سه
چې روغ راغــلی د بیتهنـیو له دیــوســه
(د مروتو کسرونه ۱۱۰مخ)

د خوشحال به دګاو زو غونډی ښکروو
که ښکرونه چــا زوولی په مـــرغـــو
(خ. متفرقه ارمغان ۷۳۰مخ)

**مرغسن** **marǵasə́n**:

نرې وریځ. ظـــفراللغـــات (مــرغســـه) او پ. ر. ق (مــرغسنه)

په دغه معنا اخیستی دی.

لالا! په غولی کې دې نرګوسی په اوړی ګل سی، په ژمی توسی
لا یقی نجـــونه په باندې اوســـی زه مرغسن یم باد به مې یوســـی
(انګی ۰۹ ٤ مخ)

**یادونه:** ددغې انګی بل وریانت په (۵۲۳) مخکې راغلی چې هلته د (مرغسن) په ځای (مرغس) ثبت دی.

**مرغن margə́n:**

دوړه، ګرد.

دنـــده دنـــده دنـــده چې نجلی اتڼ کوي راغلي نن ده
پر زمکه يې درزاده پر آسمان د تورو خاورو مرغن ده
(فولکلوری سوغات ۷۱مخ)

**مرغوړی margóṛay:**

وړوکی مرغه، د مرغه بچی.

... ددوی مشر بچوړی څه قدری پوه و هغه تپوس وکه چې تاسو ولی ژاړئ؟ مور او پلار ورته ووې چې ای بچیه! ته زموږ له غمه څه خبر يې؟ مرغوړی ورته ووې چې په ژړا هیڅ نه کیږي... (انوار سهیلی. ۷۸مخ)

**مرغوزی marǵuzáy:**

مردکی، ګرد مرد. قاموسونو (مرغوځی) په دغه معنا اخیستی دی.

... يو وخت سرور عالم چې ما په خوب کې ولید چې په میان د سرا پردو د نور، په کرسی د نور ناست دی زه يې ځان ته ویللم، خپل



ACKU

مبارک لاس یې په خپله سینه راوګرځاوه، لکه مرغوزی هسې څه یې ماته راکړه. (ت. م. ۵۵۱مخ)

**مرکوله markola:**

لښتی، دغوړونو پسول.

چتې نجلــــۍ چتې په غوړو دې مرکولې په پښو چوتې
ځوانان دې لیونی کړه دا زاړه خواران دې وایسته له ګټې

(فولکلوري سوغات ۶۵مخ)

**مرمجان marmajā́n:**

یو راز په زړه پورې خواړه دي. (محشی)

ماوې مرمجان به جوړومه
لــونګ به پرې پاشـــمه اتن به دځـــوانانو پرې کومه

(فولکلوري سوغات ۱۰۰مخ)

**مړه خوا maṛaxwā:**

۱- موړ، موړ سترګی، دوږسترګی ضد ۲- قانع ۳- مستغنی، بې پروا. په لومړیو دوو معناو قاموسونو اخیستی دی.

یو له بله مړه خواناویسا کیږي
ابته کا د یارانو حساب طمع (حسین)

که مدام لــکه شــبنم دربانديې ژاړم
مړه خوارا څخه ناست یې خندانه کړی (حسین ۱٤۰مخ)

مړه خواله خلقه پته پادشاهی کا

سپیره سر د وهی ته ناست ملنګ ارکان دی

(حسین ۷۰ ٤مخ)

عاشقی عاشق له ژونده مړه خوا کا

ځان سیځل ګتی په اور پتنګان لوټ (حسین ۸۵مخ)

**مړه غوندی:**

مړغونې، مړه غونی، حنظل. په وروستیو دوو لیکدودونو قاموسونو اخیستی دی.

هر یو صنم چې خوشبویي په شان د ګل نه لري
او څه غنچې غوندې په صبحدم خندل نه لري
په ده اوازد زړه له سوزه هیڅ بلبل نه لري
لکه ښایسته چې مړه غوندې وی سبا صنم
لکه ښایسته د مړه غوندې چې په کار نه وي
هم په دا رنګه په بې اصله اعتبار نه وي
او په خوبانو کې هرڅوک چې وفادار نه وي
حافظ عظیم به پر هغه نه وی شیدا صنم

(ولسی سندرې، ۲ټ، حافظ عظیم ۱۸۵مخ)

**مزینه mazinā́:**

مزه ته منسوب لکه: (ښځه= ښځینه، نر= نرینه)

ځان کاته په آئینه کې دي سنت په مزینه کې

(شرعه ٤٦مخ)

**مږکران:**

مښکار، تکړه ښکاري.

په سمند د عشق سورلی نه دد اسانه

ملک یې نه وی تش هرگز له مږ کرانو (هجری ۱۵٤مخ)

**مږک مار muẓakmā́r:**

مږه (محشی).

سرای هر گوره بد ولد دی چې مې وکوت

له بازونو نه پیدا شی مږک مار (خ. قصیدی ۱۹٥مخ)

**مږنغ mẓənj́:**

ږمنغ. د ږمنغ معلوم فورم دی چې لهجوی خصوصیت لری.

بل دی واخلی ځان سره ثو کالی کره سره

مږنغ، شیشه، بیاتی، مسواک ستن، سپنسی، چاگلی، تریاک

(شرعه ۸٤مخ)

بل سنت دی د راستانو چې لیدو ته د دوستانو

کادې پاک خوشبویه تن اهوشانه د ختن

هم دی کاویښته په مږنغ چې لیده شی په ښه ځمنغ

(شرعه ۱۰۹مخ)

هغه تور ویښته یې لاندې شی تر خاورو

چې جوړښت یې په مږنغ وی دابنوس (ملالتاړ، ۶۹مخ)

چې یې گوتې مگنغ په موږ دي یا یې میل خال په ابرو ږدي

لکــه بــادله شـــــرمه ریږدي          هم خـــــولی لکه گــل پریږدي

(یوسف و زلیخا ۷۸مخ)

**یادونه:** د وروستــی بیت په متن کــې (ږمنځ) او په علی البدله نسخـه کی (مگنځ) دی.

**مس** məs**:**

خندا، تمسخر (محشی) له مسیدل څخه.

تربور د ې مس پر موره کاوی

ویل کاکا جوړ دې غواړم مړی          (انگی ۲۲٤مخ)

**مسخل** məsxə́l**:** مشغولا.

په مسخل او په خندا یې کړه ورځ تیره

د شپې څملاسته پالنگ باندې برسیره

(ولسې سندری، ۱ ټ. ۲۷۱مخ)

**مسخلول:** مشغولول.

شیخ عـمر یې کړ نیم (نعیم) په کـور کـې غلی

ســـانگو (نوم) تورو ســــهم کله دی لیـــدلی

مــــیـــچن خــــیلو مـــســـخلول لړم مـــاران

چې په مـــار او په لړم ســـره مـــســـخلیـــږی

دوی د تـورو پـه وهـل کـلـه پـوهـیـــــــــــږی

(ولسی سندرې ، ۱ ټ- ۱۵۹مخ)

**یادونه:** د دغـه شعـر ځینی لیکدودونه له معـیـاری لیک دود سره برابر کړای شول.

**مسوده maswadá:**

توطئه، دسیسه.

... دوی (توطئه گران) چې تر اوسه غلې ناست وو دا د ناچارۍ نه، که دغه مسوده ددوی پوره شوه نو بیا به ددوی خباثت درته معلوم شي.

(انوار سهیلی ۳۹۹مخ)

**مشاده maśādá:**

قواره، بوتاړی. پ. ر. ق اخیستی.

رنګ د غماز ورک شه، ناولې سترګې خړې خړې
مه شه ولیدل مشـــاده بده، خـــوله کـــــړو زده

(مطیع الله پیره خیل، ۷٤مخ)

**مشتک maśták:**

مـستک. د (س، ش د غږونو په بدلون) قاموسونو مستک اخیستی دی.

چې کوم تخـم کـــرې هغه به ترې ریبې
له مشتـــکـو نه به وانخـــلی چڼ

(پټ ستوری، امان اخون ۹۰۷مخ)

**مشروبي maśrubí:**

دبیـــــتـــي په خیـــر یوســـاده رنـګ تورکـــردي چې د کلو دوړانو په کاڅه (اوبده).

پاچا خان د خپل اولس د تیرو دودونو په باب لیکي:

... ښځو به د رنګینه خامتا جامې او مشروبي پرتوګونه اغوستل.

په لمن لیک کې د مشروبی په باب لیکی:

د خپل کلی کور جولا به یورخت جوړولو چې هغه ته به یې مشرو (همداسې لیکل شوی) ویل. (زما ژوند او جد و جهد- ۱۲ مخ)

**مشهور** masáhur:

نامتو، مشهور. د پښتو په زړو متونو کې د یر ځله د (ش) په زور په دریو سیلابونو راغلی دی.

که بورا په تنه تور، زړه یې صفا دی

نوم یې ځکه مشهور د عشق په کار که (هجری، ۱۳۲ مخ)

درسواسترگو د مینی له نسبته

مشهور په مرد و زن دی لکه زه (علیخان ۳۹ مخ)

**مښکک** maṣkák:

په عربی طبی کتابونو کې د خواو سنبل الجبلی په نامه یاد شوی او لاتینی نوم یې (ولریانه valeriana) دی. د سپین غره په هسکو برخو کې زیات زرغونیږی. بیخونه یې د نرگسو د بیخ په څیر گنډې گنډې وي هغه راباسی او په منیو (امیلونو) کې یې پیی. زیات خوږوږمه دی.

د پښتو ادب چمن لره درک یم

د سخن په بڼ کې بوټی د مښکک یم (غزونی ۲۲۱ مخ)

اطریفل کور کمن یاره چوب نازمښکک دلداره

پر څو قسم پرمی دینه رنځ دواړو په دی ځینه

(طب نامه ۲٤ مخ)

**منښ maṣ:**

که دانا يې د معنی د دکان ښنه!

دا د دم بنی دې تشه کړه له منښه (واصل ۷۹ مخ)

**منښه máṣa:** مږد.

له ژوندونه د مجاز په راحت خوښ دی

پسو برند بې پروا گـرځی لکه منښه (واصل ۷۹ مخ)

**مکړ makáṛ:**

مکڼ، دریڅه.

تن سایه دې د توحید په نمر کړه محوه

د توحید سر برهنه مکـړ وي پوښه (پښتو غزل، مخلص)

**مکڼ makáṇ:**

مکړ، دریڅه، دریا د ننوتلو سوری، وړه کړکی.

... د فتح خان په کلا شا و خوا سپینې خیمې ونجـتلې، سـحر سو بی بی رابیا په مکڼ کې شا و خوا گوری چې... (م. هـ، فتح خان ۲۱ مخ)

... شمایله پر بام وختله، په مکڼ کې شا و خوا گوري، سیل کوي.

(م. هـ، جلات خان او شمایله ۱۸۷ زوړ / ۱۴۰ نوی چاپ)

**ملارتی:**

هغه چې په اسانی او له ملاتړلو پرته اجرا کیږي.

دا چمـن دی بې بنـیاده د گل ځـکه بقـا نشته

ملارتی مطلب غـواړه فرصت تیر ته د ملا نشته

(سکندر خټک ۲۶۶ مخ)

**ملگیری malgerí:**

ملگرتیا، رفاقت.

په عظیم دریاب کې گډ شوم بې اسبابه
لکه خس پکې لاهو شوم بې تابه
ملگیری مې همیشه شوه له حبابه
که هرڅو یې لتوم د عشق له بابه
گفتگوی راسره نه کاندي له عاره
(لناړ ۲۳۷مخ)

نجومي کاهن سره ملگیری نه ده کړه (شرعه ۸۸ مخ)
په هیڅ کار کې له ظالمه ملگیری مه کړه عالمه!
(شرعه ۱۰۳مخ)

... بل که په وخت د حادثې به دوی نور ملگیری کړه شي، زه بیرون له حادثې راغلی یم. (ت. م. ۴۰مخ)

... بهتر چې که یوه ښه، بده مخ ښکاره کا په هر کار راسره رفاقت، ملگیری کانئ. (ت. م. ۴۶۸مخ)

... حق د ما فلانه لاندې کړی دی، شریعت دې راسره وکاندي تاسي مدد، ملگیرۍ راسره وکانئ. (ت. م. ۴۷۰ مخ)

په لاندې شعر کې (ملگیرۍ) راغلی:
خبر هیڅ نه وم په دا څیرۍ
چې زر به غم راشي هم دلگیرۍ

انور روان شو پلار یې په ځای پرېښو

کله دا حق و د ملګیری (سکندرختک ۲۹۸مخ)

**ملو malú:**

مالیار، باغوان. په مالیار او مالیه کې همدغه رېښه شته.

نن زینت د چمن ګورئ بلبلانو

چې تازه ملو په غون راته نمر که (هجری ۱۱۹مخ)

**ملول mlawə́l:**

مقیدول، په کنترول کې راوستل (ملونه= واګی) له همدغه مونږه دی.

یوه ورځ مهـــتر عیسـی ورکړه خـوګ له دلاســا

چاوې دا څه؟ یا صــاحبه! وی په ښـــه ملـــوم ژبه

چې آموخت واخـلی د ښو بد، د لاندې کا تر پښـــو

(شرعه ۵۸مخ)

**ملونی mlúne:**

قید او بست. د ناوې خوابنې په څیر (ی) بې تغیره ښکارې.

مدام ناست یم وچ ګوګل ستر ګې ژړونی

څه څکه ده یاره ســتا د مینی ملـونی (حسین)

**ملیا malyā́:** فدا، قربان.

چې یې توره د غـمزی راته تر مــلا کــړه

په ژړا ژړا مــې وینی تــر مـــلـیا دی

(سکندرختک ۲۰۳مخ)

**ملیه mlyá:**

ملا. د ختیکو، اپریدیو او ځینو نورو کرلانیو قبیلو لهجه ده.

... دری ورونه سره منتفق شو، په رفع او دفع د باز بهادر یې ملیه د سعی وتړله. (ت. م. ۱۹۳مخ)

... ځو مې ملیه تړلې ده نیت مو په بهبود د قوم او قبایل دی.

(ت. م. ٤٣٨مخ)

... ناګاه صوبه دار خود ملیه د یوسفزو په مهم وتړله او یوسفزیو ته روان شو. (ت. م. ٥٨٨مخ)

فکر کوم په راتلونکی بیت کې هم مطلب ملا ده:

که آسمان که مخ نسکور د زړکې لور ته

ګنه یاد یې شـو داسـتا د قـد ملیـا (احمد شاه بابا، ۱۰مخ)

**مناشی:**

... دریاب ته نه ګوري چې څومره مناشی ماشی ورته غورځیږي، لیکن زړه یې نه خوږیږي. (انوار سهیلی ۳۲۲مخ)

**منجه manjá:**

لوبه، هینډه، منجی وهل = لوبی کول. د ننګرهار په زیاتو سیمو کې تداول لري، معمولاً د جمعی په فورم استعمالیږي.

زړونه وباسـی د خـوارانو په پنـجه

زه دې خوړلې د اوږدو زلـــفو منـګور

که راته راکړې ښــــاروســـرې شونډې جـړې
چې څوک بیمار وی خوب یې نه کیږی په منجه

(پټ ستورې، امان اخون ۷۱۳مخ)

**منهوس:**

چور لوی نیزه په سر منډوس یې ساز که
نیلی زین راته گـــردون که الغــیاث (حسین، ۷۹مخ)

**منزابنی:** یوه میوه ده.

څنغوزی، گورگوری، توت، پلیونه، منزابنی
انب، نیبو، ســـداقل، اناناس، کنار مســت

(دولت لوانی ۸۱مخ)

پلیـــونه دې اناناس، شـــفتالو
کـریږې، منـزابنی، ښولنې بزرگوار

(دولت لوانی، ۱۱۱مخ)

**منگ:** گنگس، بې سده.

... قطب خان داسې رباب وواهه چې آدم خان ورته داسې منگ ولاړ چې رباب یې بس کی. (م. هـ. قطب خان او نازو)

**منگس mangás:**

د خرومرگو، د خرویوه ناروغی ده چې خره وژني. منگس وهل= په دغه وژونکې ناروغی اخته کیدل. غالباً دا ناروغی هغه وخت خره ته پیښیږی چې له سختې ستړیا او خولې کیدو څخه وروسته ناڅاپه یخ شی.

ساتلی مې په نازو دغه خرنه وجوړاس و
نه مې وحاجت د بل خره ما غریب ته بس و
یو ناڅاپه مړ شو نه خنی وه نه منګس و

(ولسي سندرې، ۱ ټ- ۲۷۴مخ)

**منګنی mәnganáy:**

د منې، په منې کې پیدا شوی، د منې د موسم زیږنده. پ. ر، ق اخیستی دی.

... یو غټ سودا ګرو چې یو زوی یې درلوده دا زوی پرې خورا ګران و او داسې یې نازاوه لکه منګنی وری.

(م. هـ. قطب خان او نازو ۸۶مخ)

**موټ mot:** موټی.

نور فرمان و کړ جلیل — پر حضرت جبرائیل
چې یو موټ خاورې له قبره — د سرور عالیقدره
واخله ته یې کړه مخلوط — په دې نور سره مضبوط

(یاقوت السیر، ۷مخ)

نورهم ده کړ آمیخته — په موټ خاورې آغشته
په اوبو یې د تسنیم — واخنبوده په بنه تعظیم

( یاقوت السیر،۸مخ )

د یو موټ غلی اظهار — نمونه دی د خروار

(یاقوت السیر، ۱۱۰مخ)

... وروسته یې بوډۍ ته یو موټ بتکۍ ورکړې چې دا واخله.
(م. هـ. ۳ټ، ۱٦٦مخ)

**موټواری motwāri:**

د موټوا وړه (محشی).

یو کال په موره راغی که په خیر په موره تیر سو
نغن په بیه گران سو مور ته موټ ومتــــواری
(د مروتو کسرونه ٤۷مخ)

**مورچال morcāl:**

مورچه، مورچل، سنگر.

... د خان علیین مکان (خوشحال ختټک) لښکرې واړه تار په تار شوې. خان علیین مکان په هغه مورچال باندې ناست و، مرگ یې اختیار کړو نه خوځیده. (ت. م. ۲۷٦مخ)

... وخت ئماښام وه چې مور ملخ په هغه مورچال باندې راغله، په یو ځله یې تورې وکښې. (ت. م. ۲۷۷مخ)

**مورک murak:**

د عارف له بخته هیڅ نیمگړی نه وو
د وصال له هوا تا پر بوست مــورکه (واصل ۸٦غزل)

**موری mowráy:**

په پور معامله کوونکی. (؟)

... هر مسافر او سوالي چې به په خدمت د شیخ راغی یو سیر د غنمو

اوړه او دوه شیرشاهي غواوړي به يې له موري راواخیستل او هغه کس ته به يې ورکړه او د هیڅ کس سوال رد نه مونده. هرګاه چې به دری ، څلور ، پنځه توري (پیسي) خرڅ شوې هغه موري به راغی او سلام به يې وکړ ، لري به ودرید ، شیخ به حضور ته وباله... ورته به يې وفرمایل چې هرڅو برداشت چې له تاشوی ایرې د نغري ؤلتهوه وایی خله...

(ت. م. ٥٤٤مخ)

**مول mul:**

اصل قیمت، د پیرودنی قیمت. هغه پیسې چې جنس پرې اخیستل شوی وی.

چې سودا ته شود عشـــق غدر غلـــول پیښ

سود لا څه چې دریغه شولی نیم په مول پیښ

(علیخان)

**مونديدل:** موندل کیدل.

| | |
|---|---|
| دا کارخانه عظیـــم الشـــان | دوی په غر غـــوندي روښان |
| ددې مثـــال کله مـــوندیږی | هرڅوک چې اوري حیرانیږی |

(اولسی سندرې، ١ ټ. ٢٥٨مخ)

**مون muṇ:** ویاړ.

| | |
|---|---|
| یا يې نشـــته کنبـــلی زویه | چې خپل ځان ور پسې زدویه |
| یا يې نشـــته د یرې لـــونه | چې هیڅ کور نه وي له مونه |

(فراقنامه ٢ ٥مخ)

**مووت maút ، موود maúd:**

اړل، د غلې هغه ټاکلې اندازه چې د فصل د حاصل اخیستلو په وخت کې کسبګر (نایی، ترکاڼ، پښ، جاله‌وان...) ته ورکول کیږي د باجوړ خلک یې (کلینkalen) د مومند درې خلک یې (مود mod) بولي. د نایي د مووت د پاره پ. ر. ق د (ګنده) کلمه اخیستې.

دور د خزان د نایي دی موود ګلــو وړی
صبر په کسوت د وچو بڼې کې د بلبلو وړی (غزونی ۲٤۱مخ)

د طاعت درمند دې لــړو          پاتې نه شــو تر مووته
(واصل ۳۸ غزل)

جانانه ښه شوې چې ګــنجی شـــوې
د سر مووت به دې په مالګه ورکومه (ناچاپه لنډۍ)

**یادونه:** د کلمې اصالت عربی (معهود یا موعود) ښکاري.

**موهل mohál:**

یو ډول زخم، یو ډل تپ (محشی).

اســپې ولاړې پرشـــازینونه
پر شادې یې وخیژې موهلونه (انګی ٤۲٦مخ)

**مهر mohr:**

۱- روپۍ، بتکۍ، ۲- هغـــه روپۍ چې ښـــځې یې پر خـــپل تندې ځوړندوي.

خزانی د هندوستان دې راخورې شوې
سر مهران دې ننـــوزی په کهـــسار (خ. قصدی)

تر لعلو درو عقـــل تمـيز ښه دی
د بل تر مهر خپل يو پشيز ښه دی (خ. رباعيات، ۷٤۳مخ)
له هزارو اشرفـــو، روپو مهـــرانو
دا څو ورځې د يارانو ديدار ښه دی (عبدالعظيم رانيزی)
سره مهـــران دي ننوزی د مغـــول کـــره انبار
(سکندرختک ۲۳۲مخ)
مهر سر کاندی اگر چې وقف ځان کا
سر د هری بلا سپر کـــاندی خالص (عليخان، ٦۸مخ)
وخت چې د ځوانۍ و جيد مهرمـــــروج وم
اوس مې په پيری کې رواج نشته بې کساده (الپوری ۱۵٦مخ)
څو ليده شی د سپهر په مخ کې مهر
هرمره وښايه گدا ته مخ د مهـــر (شاه او گدا ۱۱۷مخ)
وسره مهر ته يې غټ کتل محال دی
کله سترگی برابر گـــوري و نمر ته (هجری ٦۰مخ)
مخ دې بدر، مهر، نمر، وربل فلک شـــو
په شماره دې ستوری زيب کوی بيشماره ( هجری ۱۲۸مخ)

**مهر:**

چې څوک دې ښه يشی ورځنی ښه وايي
که دې بـــلا وی ورته لـــــبه وايي
که د زړه مهـــر دې ورځنـی مـــات شي
که هر څو ښه وي ورته ښـــه نه وايي (خ. رباعيات ۷٤۳مخ)

**مهره mohra:**

د نرد، شطرنج گوټک، د جوارۍ دانه.

په مهرو يې د هـــنډوکـــو نور قـــمار کا
په خپل وخت چې چا بازي کړه په نردونه (سکندر ختک۱٤۱مخ)

**مهره:**

ډلې ډلې مهـــرې بيا يې حيـــراني ده
نه ديت په موت شته نه څوک دعوا کا (هجري ۳مخ)

هسې نه چې تيغ يې وچ شو په وژلو
لکه څه يې کړه مهرې هسې په تاکا (هجري ٥مخ)

نه يې مهر په وربل د نجونو وشـــو
نه مهرې ورځنی پاتې داگرې شوی (هجري ٢١٤مخ)

گذشته مهره مونده په طلـب نه شي
په ژړا مې دواړه چشمه فوارې شوې( هجري ٢١٤مخ)

**مهری mohray:**

ښکلی، زړه وړونکی، ښايسته. د حافظ الپوري په ديوان کې څو ځايه د ښکلي او ښـايستـه معنا ورتـه ليکله شـوې ده. د مقبـول او زړه تـه نژدې معنا وې هم لري.

زه چې مهرې رايادوم ارمان هيهات راشي
غبار د غم مې د زړ گوتې په مرآت راشـــي
(الپوري ٦٣مخ)

نشته مهري د بزم چې د ښمن ته وکړم عزم

بې آتشه ســوځم د ناکس په ســخـــن (الپوری ٦٩مخ)

نه دې آغوندي مهــری، هسې رنګ جامی نری،

چې لــیده شی ځنی تن ښه دی پیر ړاغــوستن

(شرعه ۱٥۹مخ)

ذی النــورین یې دریم یـارو حیا ناک مــهری د پنــدارو

خلق یې خوښ و له احسانه په دیار مې مشــرف کــړه

(الپوری، ۱۰۰مخ)

مهری ښاخونه میوه دارو و چنیده پرې توتیان

د شنو توتیانو په جن ښاخ شمیده ولی نه شی (الپوری، ۱۱٦مخ)

تر و مهــــری که ښدیوان دلحــد نه دی

په راتله یې ولی کړی هسې درنګ دی (هجری ۲۲۲مخ)

ښه مهري یاران د مجلس زیب صافي د زړونو

بند یې په تاریک خاکی حصار د بیلتانه کـــا (الپوری،۱٤۹مخ)

لاندې شول تر خاورو مهري ځکه لیدل نه شی

تللـی چیر نه دي چې به راشی لـــه هیـــواده (الپوری، ۱٥۷مخ)

نظام پور په ژړا توي کــــړې مانی

له هوډ یانو یې پرې کــــړې تمنا ده

د مجلس زمکه هغه مهری، یې لاړه

په ارمان یې آلــوده هـــره ګیاه ده (هجری ۱٤٦مخ)

د زينت سرير د روه د لبرو خپل کړ

پرستاري يې د هغه همه مهرۍ دي ( هجرى ٦٠٥مخ )

که له تاپې شرم نه کېږد مهرۍ

مخ به پټ نه و د حورۍ د پرۍ (رحمان بابا ٢١٤مخ)

**مهم mham:**

١- چاره، کار ٢- د جنګ اقدام. د عربي له مهم (اهميت لرونکی) څخه پښتو شوې ښکاري. خو دلته اسم ذات او اکثره يوه هجا لرونکی دی او هلته صفت او په دوو هجاوو او د (هـ) په زير دی. په تاريخ مرصع کې زښت ډير راغلی خو هلته يې د هجا وو تياکنه سخته ده، په شرعت الاسلام کې د شعري وزن او تول په برکت يې هجا تشخيصيدی شی، په نورو متونو کې کله په يوه او کله هم په دوو هجاو راغلی دی.

په کوټه کې تنها خوب — نه دی ښه، لري آشوب

په هغه کور کې دې هم — سړی نه کا د خوب مهم

(شرعه ٤٨مخ)

د کرسـي آيت دی هم — ولولی د تلو په مهم (شرعه ٤٩مخ)

ډير اصحاب په خپل خپل مهم

پسې ننه واته هم (شرعه ٩٨مخ)

عالم ورک کړ د دلدارو ول کاکلو

دا ګوار ګوار مهم له د اسلام لاړ (عليخان ٥٢مخ)

تهيه بويه د هغه مهم د پاره

چې په غوږ کړی د صور صرصر طروم (ج. فدوی)

ژامـــن، لـــونه، عـــزيز كله په كـــاريږي

هلته (آخرت) مه شه مسلمان ته مهم گران (هجرى ۱۱۰)

دا همه جورونه بيلتانه دي په مـــا كـــري

كاشكى مى رسدواى د هجران مهم كولى (هجرى، ۱۹۳مخ)

ماوې زه د زمانې له خامونه يم

چې د نن مهم اجا كړم د فردا نه (هجرى، ۱٦۱مخ)

... او كه يو مشكل مهم پيښ شى نو په خپل عقل او رأى به د هغه د پوره كولو سعى كوم. (انوار سهيلى، ٦۵مخ)

... او ده ووې چې سلطانى خادمانو او خيرخواهانو له په كاردي چې په هر مهم كې دې پادشاه د خپل رأى او صلاح نه خبروي.

(انوار –٦٦مخ)

... ناگاه صوبه دار خود مليه د يوسفزيو په مهم وتړله او يوسفزيو ته روان شو. (ت. م. ۵۸۸مخ)

**يادونه:** د هجـــرى وروســـتى بيت په چاپ كـــې د (خـــامـــو) په ځـــاى (خـامـوش) ثبت دى چې سم نه دى او په سمـونليک كې هم نه دى نيـول شى.

**مهى mahí:**

سپينى مى. پښتو قاموس (د ميويوډول) په معنا اخيستى.

ړدن، غوښت، كوده، منړو، باجره، اوربشـى

وريجى، مى، چنې، مسور مهى جوار مست (دولت لوانى ۸۱مخ)

**مهیگر mahigár:**

کب گر، ماهیگیر، کب نیوونکی (مهی ، ماهی = کب) (گر) د (کب) وروستاړی دی.

... بادشاه ډیر خوشحاله شو او زر اشرفی انعام یې مهیگیر له ورکه... وزیر مهیگیر ته ووې کاکا! دا مهی نردی که ښځه؟... مهیگیر ووی ای بادشاه! دا مهی خنثی مشکل دی، بادشاه د مهیگیر په دې ځواب ډیر خوشحاله شو. (انوار سهیلی، ۳۸۱-۳۸۲ مخونه)

**میدان خوړل:**

زر به پیر درباندې وکاندی حسینه
دروغژن دی منافق که میدان وخوړ (حسین ۱٤۳ مخ)

**میدان ورکول:**

هم هغه یې له پلموسترې ستومان شی
په ښه خوی چې رذاله ته میدان ورکه (حسین ۲۷۳ مخ)

**میر mer:**

ای تمام د یار په څیر | محبوبا دې مه شه وهیر
که حاضر یې شاه به وینی | که غایب یې دی دی میر

(واصل، ۷ غزل)

**میراتی (میراثی):**

میراث خور، وارث. د (په میراث پاتې شوی، د میراث له لارې رسیدلې) په معنا متداول دی.

و دان کور په یوه دوه ورځو کې وران شي

میراتیان یې وړی درم، دینار ، فلوس (لتاړ، ۶۹مخ)

مال و ملک یې همه واړه　　　　شي ویشه په میراثیان کې

(لتاړ، ۱۹۷مخ)

**میرک mirák:**

میر ، مشر. په پهلوي ژبه کې همدغه کلمه په همدغه معنا موجوده ده.

ورته وویل ځیرک زوی　　　　د دانش په ملک میرک زوی

(شرعه ۱۲۸مخ)

**میرکنډ merkánd:**

چونګښې خور . هغه مرغه چې چونګښي ښکار کوي.

د هـرچا برخې لـه ځـایه سمې نه دي

طوطیان خوري خوږې شکرې میرکنډ شلنډې

(مطیع الله پیره خیل)

**میرېدل miredál:**

مقتدا ګرځېدل.

ځای د عرض د عارضانو　　　　پاک رسـول و مـیریده

(الپوری ۱۸مخ)

**میزار:**

ډیر عالم دی د درګاه په خاورو رغړی

لا راځی پسې د ملکـو، د مـیزارو (حسین ۳۷۸مخ)

**میله لګیدل:**

میله جوړیدل، معمولاً میله جوړیدل، میله کیدل ویل کیږي.

... په اخترونو کې به لویې لویې میلې لګیدلې، په زرګونو خلک به پکې جمع کیدل. (زما ژوند او جد و جهد ۳۴مخ)

**مینده یې mindayi:**

لوړتیا، تفوق. مینده یې پر کول = لوړتیا پرې ښکاره کول.

ته څه مینده یې پر کوې = تو چه تفوق خود را نشان میدهی

(اصطلاحات ٤ ٥ ٣مخ)

**مینه méṇa:**

لا په شاپه، غوره ترښه. د مروتو د کسرونو د (۲ ۰ ۱) مخ په لمن لیک کې محشی همداسې ترجمه کړی دی. د موږ، مونږ سره یې ریښنه یوه ښکاري.

ښاغلیو ورناره کړه محمـــدا! مینې دې کـــولې

ته بې ښاغلتوب جبرې (خبرې) میلې ته راتللې (کسرونه ۸۸مخ)

**مې ورمې:**

که مې ورمې ساړه دې یر وی قبلوه یې

مړې ایرې د نغرې څه لره لــــړې (خ. غزلونه)

# ن N

**ناپښو(ناپخښو):**

مقید، پای بند. (زړی پانګې) پښو، پخښو د (آزاد، خلاص، آرام) په معناوو اخیستی دی.

د حمید مومند په آثارو کې د پخښو او بخښل کلمې معمولاً د پښو، ښښل، په لیک قید دي.

میبایدو دوست ته دوست په مخ روڼ، په ژبه پوست
کبرورک خو دی تر پښو له حرمته ناپښو

(شرعه-۱۰۶مخ)

**ناحق جن:** پر ناحقه.

بادشاهان چې بې خبر شي کار د ملک واړه ابتر شي
بادشاهان چې ناحق جن شي اور یې پورې په ملن شي

(فراقنامه ۶۵مخ)

**ناخوال:**

۱- نامناسب، ناوړه (صـفت دی). ۲- ملنډه، تمسـخـر (اسم دی) ظفراللغات همداسې اخیستی دی. پ. ر. ق کې یوازې (صفت) ګڼلی شوی او ورته یې د (۱- زیږ، اهانت کوونکی، ۲- بې نزاکته، بې ادبه) مـعناوې ورکـړې او د اسم ذات له پاره یې ناخـوالی اخیـستی چې ظفراللغات بیا (ناخوالی) نه دی اخیستی. د قاموسي قضاوت له پاره ما دا کلمه واخیسته چې د زړو متونو په استناد د ظفراللغات تشریح په ځای ده. دلته یې مثالونه دا دي:

چې دا هسې نن خبرې په ناخوال کړې
چا بدخواه د رته ویلي دي له ماخــه (عبدالقادر ختک ۱۷۱مخ)
که سایل په شوخۍ سوال کا که پرې قهـر کا ناخوال کا
(شرعه ۶۷مخ)
له بنده د بنده سـوال په څښتن لکی ناخـوال (شرعه ۱۱۶مخ)

**ناخیاره naxiā́ra:**

ناخوښه، نارضا، خوابدی (محشی).

ګرد دریور سولیا د کـانداره مـا جتان برسول ملا ناخیاره
تویک مونسته ګنجی په غاړه په خپلو ویرو یاستئ ناخیاره
(انګی ۳۵۵مخ)

کنیبږدی سرونه د خدای د پاره
په غیرت نه دي باري ناخیاره (انګی ۳۵۷مخ)
بی بی پاتوسوه له دي ناخیازه
چې وه ددوو کـامو سـږداره (انګی، ۵۶۹مخ)

**نار nar:**

نار، ساقه، غندل. یو ناره کول= یو وستوی کول. زیات د نار په فورم راغلی.

مینه، هجر، رقیب درې شول زه تنها یم
عاقبت مې دغه یو یو، یو ناره که (علیخان، ۸۰مخ)

په سرواره مو دی زره روښان لالک ما ما دی د انجونار
(انگی ۵۹۵مخ)

**یادونه**: په انگی کې د (ښاخ) معنا ورکوی.

**نارکیدل:** چاویدل.

سهار سبا دی سپیدې نارکیږي
ناوې غوټې ده اوس به گل کیږي
(د خلکو سندرې ۸۳مخ)

**نارون nārwán:**

یوه لویه له پاڼو اوښاخونو څخه ډکه چتروزمه ونه ده، پاڼې یې بیضوي پرده پره دي، په باغونو او د واټونو په غاړو کې کرله کیږي. (و گ، فرهنگ عمید). (کجم، کژم، شجرة البق، پشه عال) په نومونو هم یاده شوې ده. (تاریخ. بخارا، فهرست لغات نادره ۱۳۶۲، کابل، دا ونه پشه خانه بولی) له دوو توکو (نار= ؟ + ون= ونه) نه جوړه ښکاری.

ستا د زلفو هند چې ونیسی وطن څوک
همیشه به تماشا کا د ختن څوک

چې په زړه کې يې نهاله سرو قد وي
هرگز نه گوري شمشاد و نارون څوک (ج. فدوی)
نه شمشاد نه نارونه سروی ناز دی
پر خاطر مې گل رخسار و خوش رفتار دی (ج. فدوی)
سيمين تن دی گلبدن دی یا شمشاد دی یا نارون دی
په غوغا تول بلبلان شی ته چې زلفی غوړوې
(ج. فدوی)
که سم قامت لري چنار و نارون و شمشاد
موی پر موی باندې لکه ستا زلفی تار تار نه لری (ج. فدوی)

**نازلی nazláy:**

ناگويی، ناجوتی، ناایل. هغه څاروی چې په قلبه، بار، گاډی چلولو روږدی نه وي.

اسپه د سپاهي ده ژنيه! مه باندې سپريږه غورځوی ده
زما په لاس يې راکه سره په سپرليو نازلي ده
(فولکلوری سوغات ۵ مخ)

**ناشولته:**

بدرنگه. ظفراللغات د (جاهل، ناپوه) او پ. ر. ق د (بې معنا، بې مفهومه) په معناوو اخيستی، د بدرنگه، بد قواره په معنا هم راغلی.
اوس چې ستا نازکه خولگی لاړه ناشولته سوه پزه دی چوته سوه
هيڅ مې زړه نه غواړي چې ته ناست اوسې له ما سره
(ولسی سندري ۲ ټ، ۱۶۳ مخ)

**نابناغلي:**

شوم ، کږلی ، د بدمرغۍ نخښه. دايې مجازی معنا ده اصلی معنا يې د
ښاغلی ضد ده.

نه دې نيسی نابناغلی    څوک په کينې پلو راغلی
چې راضی دا رنګ کړنه    د شيطان سپی په لېږنه

(شرعه ۲۰۹مخ)

**ناغ:**

توکم، اصل، نژاد (محشی).

زموږ اګوستا سوله ناغه ده    په موږ يې مخ له مه وينه

(انګی ۳۲۷مخ)

**ناغس nāǵəs:**

کلپ، خيرن (محشی).

عام دې د خاصو په مجلس نه شي
يار فربنتو سره ، پيريِ ناغس نه شي (خ. رباعيات ۲۱۲مخ)

**ناکه nākā́:**

د شرمخۍ يو ډول (پښتو قاموس).

... هوښيارانو ويلي دي چې د ناکې سره خوشپه د بادشاه له نوکرۍ
نه ښه ده. (انوار سهيلی، ۱۰۱مخ)

**نال:**

ژوبل ژوبل، خول بول. (نالش، ناليدن) له همدې ريښې ښکاري.

چې بې زه له هجر نال یم　　　زره ســـوری دنی مثال یم

( یوسف او زلیخا )

**نامت nāmát:**

ویلاړ، نیت، اراده (محشی).

په ستنه یې نامت نه و، نه یې میل و　　(د مروتو کسرونه ۱۵ مخ)

نن مې زړ گی بنــــه دی اباخیلو له ســـیرو

ختیک په نامت درومی، په نامت یې نتارو (کسرونه ۷٤ مخ)

**نانده (نانځۍ):**

نانځۍ، ژبنی جنګ. اوس د نانځۍ (په درنده «ی») د جمع په فـورم استعمالیږي.

که سوریږي بې نـانځې　　　په یـوه دا بـــه دوه درې

نشته باک په داکې هیڅ　　　نه گــناه، نه اړو پیـــځ

(شرعه ۸٥ مخ)

له غنـــدلـو دې صـاحبه!　　　د مـــور پلار یا شــاعر ژبه

په څه دا د و امداد پرې کــــه　　　چې د رګور د نس نانځې که

( شرعه ۱٦٦ مخ)

**ناووني nāwūnay:**

نوند، مرطوب، نولرونکی، نمجن.

نـاووني بهــــــــار راشي

وچ لــــــرگي نه کا گـــلونه (واصل، ۱۱۰ مخ)

ACKU

**نایڼه nāyáṇa:**

د نایي ښځه. هغه ښځه چې په ختنه د نایي له کورنۍ وي.

پیري درته د شپې نایڼه ستوري په، ږربل کې
راځه چې یوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې (غزوني ۲۸٤مخ)

**نبات:** (وګ: بنات)

**نتل natal:**

۱- مهارول ۲- زبونول ۳- تړلول (زړه پانګه مثالونه لري). ناتار له دغې ریښې دی.

دی و ماپه خـوب لیدلی ده دی کـور زمـا نتلی
(یوسف او زلیخا ۱٦۰مخ)

**نته naṭá:**

منکر. نټې د انکار په معنا قاموسونو اخیستی دی.

که هرڅو ریښتیني یار په وعده درست وي
بیا له ماسره خـلاف وکـړي نته شي (پښتو غزل، ملامست)

**نته náta:**

نټې، انکار.

د ښو ښه جزا، و بد ته بد رسیږي
په ښه کار کې اخـرولی کـوې نته (ج. فدوی)

**یادونه:** د (ناتی) کلمه چې په زړه پانګه کې راغلې کیدای شي له دغې ریښې سره ګډون ولري.

**لجرام:**

په طلب د دلربا کې يې نجرام کـــړم

قرار زړه مې په ډير فکر بې ارام کړم (التاړ، ۱۰٤مخ)

**نځتل njətə́l:**

مـښـخـول، ټينگول. د (ځـواب= جـواب، ځـار= جـار... ) په څيـر يې اصل (نجتل= منگولې لگول، لگول، ، ټومبل، جگول) دی.

د حيات نخل ريښې په امل نځتې

په نظر د عبرت گـــوره دم په دم (ج. فدوی)

که هوا د کوه قاف لرې په سر کې

د عنقا په وزرو ونځته منگــولې (ج. فدوی)

په مرگی پاتې شی کور و کلی

څــو پر دنيا نځتی منگــولې (ج. فدوی)

**نخس naxás:**

څرخ، څرخ لرگی. مجازاً د فکر محور. (نخسی)

پښتو قـاموس د هغه واړه لرگی په معنا اخيستی چې په څرخې د سپنډوخ باندې افقاً نصب وي.

هر طالب چې د شهـــا د خـــال هـــوس کا

کمينې دې کړی اختياره ځان دې خس کـا

په زړگـــی دې د محبـوب اســــم بولـــې،

د غيرونه خالی دې خپل نخـــس کـــا (پښتو غزل ، ميا عبدالکريم)

**نخول nxwal:**

نول، دوک، کړاو، ربړ.

نور عالم خپل خوب کا رنځوران اخته په نخول وي

زمکه توده کومه ده چې اور پرې باندې بل وي

(عبدالقادر ختټک ۳۱۵مخ)

**یادونه:** په یوه نسخه کې د نخول په ځای نول ثبت دی.

**نخولېدل nxwaledә́l:**

نولیدل، ربړیدل، کړیدل.

تش له تشه خروشه ځو په تاکیږی له جوشه

ژاړه ژاړه ژاړه په سبا بیګا نخولیږه (خ. غزلونه)

ای په حسن تر همه ښکلیواولې

بیا دې واخیستی ناسازې په لاس ولې

لا د عشق خامی لرې عبدالقادره

چې د یار له جفا زار کوي یا نخولي (عبدالقادرختیک ۳۵۲ مخ)

**یادونه:** پ. ر. ق نخولیدل nxuledal د نولیدل په معنا اخیستی دی چې تلفظ یې سم نه دی.

**نرپه نره:**

خاماخا، هرومرو.

که د نر پلو پری ګرم وی په خوښی کې

نر په نره مور و پلار کړي ګرم د لوښو (علیخان، ۱۰٦مخ)

**نرس nars:**

بل قاضي د امير بويه پـه دا ثو خويه خوشخويه
بل دي وي نرم هم سخت وليکن پـه خپل خپل وخت
نه چې نرم وي لـه ترسه ده لـه ترسه نرمي نرسه
(شرعه ۱۸٦مخ)

**نرغه:**

قانون يې کړ روان وي دا زمور ارمان
چې سوات او باجوړ دي خالي نه وي لـه نرغې نه
تـوپـک د چکدرې نه (ولسي سندرې ، ۲ټ،۱۹مخ)

**نرکچور nərkačur:**

د جدوار نيله، د زدوار ريښه.دا يې عربي نوم دی، طبي يوناني نوم يې (curcuma zedoaria) دی.

(زدوار) پ. ت. ق اخيستې دی. پښتو قاموس د نرکچور پـه باب ليکي: (د مشهور د رمل نوم دی ) پښتو قاموس پـه معروف(واو ) او پ،ر،ق پـه مجهول (واو ) اخيستی چې لومړی يې سم دی.

ما لـه بويه چې خاموش او پرده پوش يم
کـه تا خوند د ياري وران کړ نرکچوره (عليخان، ۳۷مخ)

**نرگ narg:**

چې يو دم د يار د پښو کوشکـن نـه شـو
بيلتون کور د شمس الدين کړ هسې نرگ (شمس الدين کاکړ)

**یادونه:** په زړه پانګه کې د طباعتي تیروتنې له مخې نرنګ چاپ شوی دی.

**نرګاړی:**

نر، نرینه جنس، فرد، سړی، نرغاړی. پښتو قاموس اخیستی دی. د ملي هنداري په نوي چاپ کې په (نرغاړی) تشریح شوی دی. غاړه د «رقبې» په معنا ده چې د شخصیت معنا هم لري.

... ده وویل که ماته خدای لور راکړه په دنیا کې به یې هیڅ نرګاړی راشخه ونه ګوري او نه به یې چاته ورکړم.

(ملي، هنداره. دلي‌راو شهی ۲۰۱ مخ)

که مونرګاړی دي که زنانه

هر سړی خوښ دی له خپله ځانه (انګی ،۳۵۸مخ)

په ځان پوهیږم وار مې تیریږي　　پښتو عقل کې خاورې کیږي

شپږ به نرګاړی راننوزي　　یوه د یونوا دلانې کیږي

(انګی ۲٤٦مخ)

**نرناحق:**

ناحق، پر ناحقه. د (نر) اصالت د پریفیکس په توګه څرګند نه دی. په زړو متونو کې زښت ډېر راغلی دی. ځای په ځای د نرنحق په فورم هم راغلی دی. دلته یې یوه یوه بیلګه وړاندې کیږي.

نرناحق په کښل، و بد ویل د بد سګال

وپسنده ظالم بادشاه په ما باندې اشکال (خ، ترکیب بند)

د مخ توره چې د ښکار په باڼ تیره کا

نر ناحقه يې په وينو د چاسره کا (شاه او گدا ۷۳مخ)

نر ناحقه سترگې د رنجو په بار درنې کا

کله د هوسيو سترگې توري په کجل وي (عبدالقادر خټک ۳۱۵مخ)

نر ناحقه مې تهمت د خلکو يوړ

نه شوم هيڅ د يار د سپيو په شمار گډ (رحمت داوی)

ځيني وخت سره راواخلي چړې توري

نر ناحقه وبله وکاگوزارونه (لتاړ ۱٦۷مخ)

په کودی کې د سينې نر ناحق وريتې نينې (شرعه ۱۷۱مخ)

نر ناحقه ته زما لمن راکاږي

گويا سپی دی په دربار کې غپندی ستا (حسين ، ۱۵مخ)

رقيبان مې نر ناحق لمن راکاږي

گڼه پور په گدا څه دی د سگانو (حسين ۳٦۷ مخ)

زه که په عمر کې وم لوی هجر هلک کړمه زه

چې نر ناحق ناري وهم په هر زمان کې ژاړم (سکندر خټک ۱۳۰مخ)

د نرنحق په فورم هم زيات راغلی:

مسافر چې مطلب واخلی زر دې کور ته جلب واخلی

نر نه حقه يله شولې په سفر خوري نوري ولې

(شرعه ۸۹مخ)

چې محسن قسمنا لـــولی　　　　خدای عبث په حرص شولی
نه شی ستا په تالاش هیڅ　　　　نرنحـــق پیښـی دا پیـښ
(شرعه ۱۱۷مخ)

چې په نرنحق مینه سره جنګ کـا
غماز سپی دې په یو ځل رټلی بویه (پښتو غزل، غریب)
راشــــه پریږده دا دعوې ته
نر ناحــــقه یې کــوې ته (در مجالس افغانی ۳۳مخ)

**نړ:**

زمـــا صـــورت به ولـــی نړ نه وي
چې ستا غم مې په صورت شوله رچه　　　　(احمدشاه بابا ، ۲۸مخ)

**نړاند nṛānd:**

لا لا د بـاندې دننه کــــیږي　　　　کپی غایتی نه په پښو کـیږي
لالا له ای (دی) بدې ویریږي　　　　وای شپه به بله راباندې کیږي
نړانـد نژدی دی وبه رســیږي (انګی ۵۷۱مخ)

**نړانده:**

ودانی، مینه ، استوګنځی. پښتو قاموس د (ویرانه، خرابه) په معنا اخیستی دی.

زه دې ایدرې (هدیرې) له روانه سم
پردی نــړاندې نه خـپلــــــوم (انګی، ۱۵٦مخ)
بیا د ظالــم نړاندې ته ځـمه
بیا خدای خبر دی چې ووینمه (انګی ، ۲٤۰مخ)

خویی لیدلی د خواری زور

مین بند کړی دی نړاند گور (انگی ۳۷۱مخ)

پر لوړ سهار دې تیارولم لکه اجې د مکې پر لورې

اجې لیا ښه دی اج یې قبول سی په ما به نورې نړاندې ژغل سي

(انگی، ۵۲۲مخ)

**نړانده** naṛā́nda:

درز، چاود.

کاریز و کړی نړاندې کاریگر مه کړی تری لاندې

(د خلکو سندرې، کاکړی ۱۷۰مخ)

**نړگه** naṛga:

بزغلی، نهالخانه.

خون وریختبمه خون مې د څه دی

(له پر) نړگه گورستان ښه دی (انگی ۴۱۳مخ)

د بابا کور د گلانو نړگه

ما نن بدان ځنی باسی بې مرگه (انگی ۴۱۵مخ)

**یادونه:** په لومړی بیت کې د (له پر) برخه له چا په لویدلی ده.

**نزاله** nazalá:

ماشوم توب، وړکتوب. کلمه له دوو توکو (رنه + زول= نه ځوان) څخه مرکبه ده. (زول و گوری)

ته په نواله، په نزاله داسې څیرلې خبرې کوې! = تو به طفولیت و

صباوت این چنین سخنها می گویی!     (پښتو اصطلاحات، ۱۰۳مخ)

**نږدیکت:**

نږدیکت زړه ته په زړه دی په خوله نه دی

گفتار څه لره په کار چې کـــردار نه شي (حسین ۱۷٤مخ)

**نښغ nəṣx:**

نشتر، نښتر. نیخښ هم راغلی دی.

... هم دستی نښـغ وروا چاوه، سترگه یې ځنې وکښله...، سکاو بیا نښغ ورواچاوه دا بله سترگه یې ځنې وکښله.     (م. هـ. ۳ټ، ٥٦مخ)

**نښلول:**

پیل کول.

چې زړې یاری پریږدي نښلوي نوې

هغه گرځي ځان له غم کـــري په یوې (علیخان ۱۰٥مخ)

**نښوب naṣób:**

مخ په ځوږ، ځوږ، نشیب. د نشیب سره یې ریښه یوه ده.

او دا پل صـــــــراط دی     چې به ډیر کاله حصـار شی

نیم ستغ دی نیم نښوب دی     واړه دیرش زره په شمار شی

(واصل ۱۳ قصیده)

**یادونه:** د مـلا اختـر د بیـاض په (قلمی نسخـه) کـې چې د علومـو د اکاډمی په کتـابتون کې موجوده ده نښوب په ځای نښتوب ثبت دی او په زړه پانگه کې شعر سهواً خوشحال ختک ته منسوب شوی دی.

**نغر ngǵar:**

حمید د غازي په باب وایي:

سپک دې وړي د وسلی بار — د میری په اعتبار

هم دې وي په شان دغر — هم زغوتی لکه نغر

(شرعه ۲۰۰مخ)

**نغوټ ngẃaṭ:**

مړاوی، د سترګو په کونجو کی.

چې نظر یې کړو مارته — د مارو سترګو نتار ته

هغه مار به سترګی پټې — لری پورته کړې نغوټې

(ګل او صنوبر، ۷۳مخ)

**نقش کښیناستل:**

اثر لرل، اغیزه لرل، نقش کښینول=اثر کول، اغیزه کول.

... نقش دده (شیرشاه سوری) د خدمت په خاطر د سلطان محمد شاه پخوا هم ښه ناست و. (ت. م. ۱۱۳مخ)

... نقش یې په خپل عالم هم ناست و، بولاق یې له لښکر نه منع کړه.

(ت. م. ۳۱۲مخ)

په دا فن یې د درست سوات عالم مطیع کړ

و عالمو ته یې خپل کتاب بدیع کړ

هیڅ یې نه کا ته د بدو و فساد ته

نقش یې کښیناوه په مکر خپل اولاد ته (ت. م. سواتنامه، ۳٤۲مخ)

... ښه بندو بست مې د هغه ملک وکړ ، محصول د ملک و غیرد مې
په خپل لاس کې کړ ، نقش مې پرې کښیناوه. (ت.م. ٤٩٧مخ)

که دی نقش د توری کښینی راته غوږ کړه
کامروا به هلـــــه شي لـه هـــره کــامه (خ. قصیدی ٥٦١مخ)

نقش مې کښیناوه د تورې په هندو په مســــلمان
(خ. قصیدی، ٥٨٣مخ)

**نگ nag:**

مرغلره، نگین. په (نگین) کې (نگ) ریښه او (ین) سوفیکس دی.

دا صورت د دریاب ځـــگ دی په ځگ پټ د مقصـــود نگ دی
دانگ به هـــغه کـــــــاږی چې په خپل کورکې یې تگ دی
(ارزانی)

**نگل nagə́l:**

اراده کول، تکل کول، ویلاړل.

... زموږ د کور ټوله نارینه یې مړه کړله، اوس یې موږ ته نگلي دي.
(م. هـ، موسی خان او گلمکۍ، ١٥٧مخ)

**نگوښول ngusawal:**

١- گوډون، ٢- مجازاً ښویول، لغزول.

ابوبکر خدای ستـایلی په دارنگ دی فرمایلی
چې حضرت به امر نهی کړه وخلقو ته په وحـی
د م قــــدم به فـــرشتې هوی د حی په ســرشتې

مه یوړ خــوا بله خـــوا نگــوښول نفس و هــوا
(شرعه ۱۸۹مخ)

**نگوښېدل ngoṣedəl:**

۱- گوډ، گوډ کېـدل ۲- مـجازاً ښوییـدل، لغزیدل، تیندک وهل. په لومړۍ معنا قاموسونو اخیستی دی.

بل د ځمړې (جامی) د شــهرت منعه کړې پاک حـــــضرت
که بهـــــتر وي کـه بد تر وي د شهرت لبـــاس ابتـــــر وي
چې شی څوک په جامه گـوښی په غیبت یې الم نگـــــوښی
(شرعه ۳٦مخ)

چې خدای یا د څوک په رحمت کا
ورته پیـــــښ رنځ و زحمت کا
چې نظــر واخـــــلی له تکی
شی رحمت زخمــــــت په تکی
په گـــــــیتو به دا فقـــــط
عارف نه نگـــــــــوښی غلـط (شرعه ۲۰۲مخ)

**ځمجن:**

۱- لوند، نوند ۲- مجازاً نرم، غوړ.
په دویمه معنا یې مثال:
که ځمجن ویل دی نه کیږي و ماته
کله کله راته کړه خبره ســپوره (عبدالقادر خټک ۱۹۱مخ)

**يادونه:** په يوه نسخه بدل کې دغمجن په ځای غمځن دی.

**غموړل nmoṛəl:**

د ګــاوزو ورميږونه زمري غمــوړي
د ګيدړو دې قوت سره څه کار دی (خ، غزلونه)

**غموږل nmoẓə́l:**

موږل، موښل، سولول.

د حــق ياد د زړه زنګ توږي | پرې طالب به خپل زړه غموږي
د هـغه مـــولا په يــاد شـه | چـــې دا دوی پلـــوي اوږي

(ارزانی)

**يادونه:** پښتـو قـامـوس او پ. ر. ق په معـروف (واو) د (ږمنځـول) په معنا اخيستی چې دلته دغه تلفظ او معنا نه لري.

**غمير namér:**

د سپهر دور طول د مخې شپه کړه
لا به کله هـــويدا د غم غمـيـــر شی (هجری، ۵۱۱مخ)

په ژړا مې ابرويې د مخ زياتيږي
رنګ لاله د زړه په وينو غميرښه يم (حسين)

**ننځه nanǰa، ننځه ننځه کيدل:**

... دغـه د بادشاه لور ورغ پـه ورغ تکه زيړه کيږي، داسې تکه زيړه سوه و چکلکه لکه دا زير نل، ننځه ننځه کيږی رنځ يې نه دی معلوم.

(م. هـ، ۳ ټ. ۷۹مخ)

**ننه کار nənakā́r:**

چانړونه، تصفیه. پښتو قاموس (ننونه) د (تقطیر) په معنا اخیستی دی.

زړ که هر څو ښه دي ننه کار ولره بویه
لور که د بادشاه وي هم روزګار ولره بویه (خ، متفرقه ۹۶۱مخ)

**ننی nənə́y:**

چاڼ، تصفیه کوونه.

ژوندون د مار خوړلیو ړدم د شعر په کړی کې
مفیده دا ننی په طبیعت د عاشقانو
تریاق به د حیات مومی ددې هره غړی کې
منم په دواړو ستر ګو کم و بیش د دانایانو

(ولسی سندرې، ۲ټ، ۱۵۵مخ)

**نواله nəwalә́:**

وړکتوب، طفولیت. د نولیدل= ویلی کیدل، کمیدل له بنسټ څخه پښتو قاموس (نواله، نزاله= د طفولیت څخه کنایه) اخیستې ده.

په نواله په نزاله داسې څیرلې خبرې کوې! =تو به طفولیت و صباوت این چنین سخنها میگویی!. (پښتو اصطلاحات، ۱۰۳مخ)

**نوبت nawbát:**

۱- وار. ۲- د دمامې یا ډول د وهلو وخت. د نغارې یا ډول د وهلو مهال ۳- نغاره، دمامه. اصلاً عربی کلمه ده چې (وار) معنا لری، خو

په پښتو زړو متونو کې په ورورستیو دوو معناوو هم راغلی دی. پخوا به د شاهانو او واکمنانو په درشلو کې په ټاکلیو وختونو کې نغارې یا ډولونه وهل کیدل، وایی چې د لوی سکندر په درشل کې به په شپه او ورځ کې درې ځله او د سنجر په درشل کې به پنځه ځله دغه کار کیده (وګ، فرهنګ عمید د نوبت کلمه) په دغو درشلونو کې د ساز او سرود د خوشحالی مجلسونه د (نوبت غږولو، نوبت وهلو، ډمامې وهلو) د مجلسونو په نامه یاد شوي دي.

دا چې نن شپه غږ وزوږ د نوبت کم دی

پریوتلی پرې زما د اوښکو نم دی (شاه او ګدا، ٦٧مخ)

چې آغاز په سحرګاه د شاه نوبت کا

راپه یاد د هغه تیر عمر نوبت کا (هجری-١٩مخ)

د هغو په زیارت تل نوبت غږیږی

چې وژلې دي د عشق سختو اسپو (حسین ٣٧٩مخ)

زوی یې وشو واورئ پس له څلویښت کالو

نوبتونه غږول شه مطربانو

(کلید افغانی، بهرام ٢٤٣مخ)

شاهانه ملجس یې ساز کړ عاقلانو

څو څو قسمه به وهل شول نوبتونه (کلید افغانی، بهرام، ٢٥٦مخ)

**نوری nwáray:**

ګمری، جامی، کالی. د (نور= ګمر، نوری= ګمری، ولمه= میلمه) په څیر د

(و – م) د غـــرونو په بدلون د نمری لهـــجـوی تلفظ دی. ظفـــر اللغـــات اخیستی.

د لمڅی نوری یې سازه کړه په ساعت کې

زر بې واغوست هغه کند په زړه پریشانه

(کلید افغانی، بهرام. ۲۶۳مخ)

ډیر عالم به نوری رنگ کاندی پوهیږم

تا چې هسې جامې واغوستې رنگینې (رحمان بابا)

**نورول norawal:**

بدلول، اړول. قاموسونو اخیستی.

قول و بول په ژوندون نه شی نورولی

ځکه ځان په جهـــل وژنی پښـــتانه (حمید ۳۲۳مخ)

**نوریدل noredál:**

بد لیدل، اوښتل.

تشه په توره حارصان کوی حرصونه

نه نوریږي دازل کـــښلي حـــــرفونه (التاړ، ۱۶۶مخ)

**نوغه nūǵa:**

ستهه، ویخ، بیخ. پښـــتو قـاموس (نوغـه) په مجهـول (واو) او پ، ر. ق (نوغی) په معروف (واو) اخیستی چې دا دویم تلفظ سم دی.

چې له شرع، له عـــالمانو دښمنی کا

دهغو خلکو دې خدای وباسي نوغه (مطیع الله پیره خیل، ۱۱۶مخ)

**نول naol:**

نولی، راسو، موش خرما.

چې مکروه یې پس خور دې دي     مار و موش، گربه دا درې دی
که د شلانډو که د تول     سره یو گنه دا قول
(فضل نامه)

**نول nul:**

۱- غم، کړاو ۲- پسخاک ۳- وېلی کیدنه، کمیدنه. پښتو قاموس د (غم، الم، اندوه) په معنا او پ. ر. ق د (۱. بدبختی او قلاکت، ۲- خپگان، غم، دوک) په معناوو اخیستی دی. د (نول) فعل پورتنی معناوې لري.

ما لتاړ به کاندی خلاص د زړه له نوله
که پوره مې دا مقصود په شتاب کاندی (لتاړ، ۱۷۲مخ)
څه عبث د رومی زما فریاده نوله
په خاطر د دلبرانو نا قبوله (حمید)
لا ترکومه به نولیږم نه پوهیږم
ما وې عشق به وې خو خدای که راته نول پیښ (علیخان)
زرغون په او ښکو مې سادین راغی
په نول نولیږم چې تا خون راغی (پته خزانه، شیخ متی)
چې به شوه عایشه زړه خوړې     د حضرت په ډیرې لوړې
په ژړا به پری چهر     باندې لاس واهه په مهر

وي به دې ورته رســــــوله ځــــار شم زه ستا له دې نوله
(شرعه ٥مخ)

**نول:**

خفیه، په پټه خوله.

د مــــرغـــونو چـــې چغ اړو په هـــر لـــوري بیشـــمارو
په ثنا د حـق مشــــغول وو ځوک په جیر ځوک په نول وو
(گل او صنوبر، ۸۹مخ)

**نولل:** نولیدل.

سوک په ســــترگو غړوي له غمه نولي
چې مې کښیني ه ملایک چیرته په غولي (حمید)

**نولول:**

خپه کول، مضموم ول.

نولـــــوي مې د دلبر خــواږه لیان تل
مروړم مچ غوندې منگولې، په ارمان تل (حسین)

**نولیدلnuledə́l:**

۱- غم کول، خپگان کول. ۲- کړیدل، پسخیدل( له څه، په څه پسی).
۳- ویلی کیدل، کمیدل. په لومړي معنا: غم کول، خپگان کول.

غافلان به په دنیا کې خوشحالی کا
عاقلان به همیـــــشه پکې نولیږي (عبدالقادر ختک ٤۸٥مخ)

لا ترکـــومــه به نـــولــیږم نه پوهــیږم
ما وې عشق به وي خو خدای که راته نول پیښ (علیخان)

په دویمه معنا : کړیدل ، پسخیدل (له ځه ، په ځه پسی) :

هره ورځ په نوي نوي غــم نولیږم

په حسین یې چیري نه که وار غلط (حسین)

مه نولیږه په دنیا کې و دنیا ته

دا دنیا ده عاشقانو ته ضــرر (ملا لتاړ ، ۶۰مخ)

...لنډه دا چې په قطب خان باندې په دویمه ، دریمه ورځ د نازو غم زور وکئ... ورځ په ورځ نولیدئ ، نازو په کور کې د قطب خان له غمه نولیده. (م. هـ. قطب خان او نازو ۹۱مخ)

په دریمه معنا : ویلی کیدل ، کمیدل. (ما یوازی د جانان فدوی په اشعارو کې موندلی) :

مرګ په خپله وعده وړاندې وروستو نه شی

لکه موم د اور په تاب مــــدام نولــیږي (ج. فدوی)

د وصال جلوه که اور د جدایی وي

زړه مې موم رنګه په طرف نولیږی (ج. فدوی)

په فراق سوځم په وصال سره نولیږم

وینې له زړه هــــم له چشمانو پدام (ج. فدوی)

**نون nawən ، نونده nawənd:**

لوند ، مرطوب ، نمناک. ریښه یې (نو=نم) ده . له دغې ریښې د (ن، ل، م) د غږونو په بدلون د (نوجن ، لوند ، لمدول...) کلمې جوړې شوې دي.

...نقل دی چې یوه ورځ خادمانو جامې د شیخ نوندې ولیدې...
(ت. م. ۵۳۲مخ)

زر تر زره یې له اوره وصـــل کیږي
هغه بناخ چې له ریښې نه وي نون (ج. فدوی)

الف (الله) تخم میم (محمد) یې ونه
درخـــت په تخـــم ده نــــو نه (ارزانی)

رنګ زیړی، اوسیلی سور سترګې نونی
دا دریواړه د عشــــاقو عـــلامـه ده (عبدالعظیم رانیزی)

**نویشل nweŝəl:**

ځینی مالونه، اســـپان، هـــاتیان ژاړي
ځینی خپل زویه، ورونه، دوســـتان ژاړي
هـرڅوک په خـپلوغمـونو نویشـلی دي
هرڅوک به ځان ژاړي سکندر به ځان ژاړي
(سکندرختیک ،رباعیات)

**نه na:**

ته، له. د داتیف د حالت د افادې له پاره.

دا یمانه سره مـــرګ عظـــیم نعـمت دی
خدایه دا نعمت اوس زرور کړی خوشحال نه
که خوشـــحال به په دنیا لـــرې څـــو کاله
سکه بهرام ته تیر نه کړې د ســــر کال نه (خ، متفرقه ۸٦۷مخ)

په هر فن کې مې چې غواړی هغه زد يم
قرينه به مې بيارانه شي په قرنه
په دوا دومره ډير هنر لکه چې زه يم
يوهنر فلک ورنه کړو پسرنه (خ. متفرقه، ۹۰۲ مخ)

گل اندامې وې مجنونه زما گران دي جوابونه
که جواب راکړې ومانه زه به شم له تا قربانه
(گل او صنوبر، ۴۸مخ)

که پوهيږې قهرمانه دا جواب راکړه ته مانه
(گل او صنوبر ۸۴مخ)

يا مراد راکړه و مانه لامې بيايه له دنيا نه
(يوسف او زليخا، ۷۴مخ)

**نهالی:**

۱- توشک. ۲- بړستن. پښتو قاموسونو نالۍ د توشک په معنا اخيستی، خو د بړستن په معنا هم راغلی ده. (و گ، زړه پانگه)

لايق د خوشحالۍ شه نالايق د ملالۍ شه
پټ د عشق په نهالۍ شه په دوه کونو به ځان خوار کړې
يون په ځنگ له دی ضرر کړه (لتاړ، ۲۳۲ مخ)

**نهمت nahmát:**

نامت، ويلاړ، قصد، اراده.

وخت د ښکار دی که نهمت کړې د ايشتلو
مستی سترگی پروانه کا د تتلو (ج.فدوی)

**نهیل nhil:**

ناهیلی، نا امید، مایوس. قاموسنو د (ن) په فتحه اخیستی دی، په متونوکې د (ن) په سکون هم لیدل کیږی. پ. ر. ق د (کمزوری، ضعیف) معنا هم ورکړې ده.

د (ن) په سکون:

په وصال مې زړه تازه د هجر نهیل کړ
چې بې غم وي د ګل نه وي زیبایي (ګګیانی)
د دنیا له هوسونو څرنګ نهیل شوې
ای حمیده د خپل یار په غم مشغوله (حمید۳۱۳مخ)

**نی ne:**

باندې، د (باندې) مخفف بڼکاري. په ځینو کرلاني قبیلو کې تداول لري.

منکرانو هیڅ عمل ورنی ونه کړ
په غدیر څه نصیحت کاوه نصوح (قنبرعلی)
بې اوره وسوم سرې لمبې په مانې بلې شولې
طاقت مې نه شي د وجود غوښې مې تلې شولې
(اولسی سندرې، ۲ ټ، ۱۳۱مخ)
د ما د زړګی سره مامه سیځه په اور
د تا په تورو ربل نی یم تیر له سرو ماله

د تا په تور وربل نی زه اورپښتی یم په بند
په مینه دلیلی چې زه مجنون شومه څرګند
د تا په تش لیدونی به زه کله شم خوشحاله
د تا په تور وربل نی یم تیر له سرو ماله
(ولسی سندری، ۲ ټ، ۱۳٤مخ)

سپینه خوله خیرات که څه ثواب به په قیامت کوی
ولې سید کماله په لنډی نې ملامت کوی
(ولسی سندرې ،۱ ټ ۹۳مخ)

**یادونه:** دا د ښوی مشهور سید کمال نه، بلکه دځاځی میدان اوسیدونکی دی.

**نیاګنی nyāganə́y:**

د مور له پلوه خپلوان.

پلارګنی پدری خویش و اقربا باشد
نیاګنی شده خویشان ز جانب مادر
(نصاب الصبیان، ۷مخ)

**نیامن:**

حق خودی دغه و یه شیري زویه نیامنه
ته یې دری پلاری په ښی انډوی لکه ونه
(د مروتو کسرونه ۹۰مخ)

**نیایه nyāyá:**

ماما، نیایی، د مور ورور.

تره، نیایه، مشر وروز کسه

لکه پلار هسې دروند نسه (شرعه ۱٦۷ مخ)

**نیایی nyāyí:**

نیایه، ماما، د مور وروز. قاموسونو اخیستی دی.

انا است جده، تره یا اکا بود کاکا

نیایی خال، پسر زوی، لور چه؟ دختر (نصاب الصبیان، ٦مخ)

**نیخړی (نیکړی) ایستل:**

چټ پټ کول. نیخړی اصلاً هغه لانده اوړه دي چې د کوچو د ویلې کولو په وخت کې یې په غوړیو کې سره کوی او بیا یې خوري.

... ښه ده دروخېژم چې ښکته دې راګوزار کړم او نیخړی دې راوباسم! ته په چا پیښ شوی نه یې (انوار سهیلی ۳۷۲مخ)

د حسین په دیوان کې نیکړی راغلی:

نیکړی وباسې د سړی سم دې په هیڅ نه شی

مست هاتی نه ګوري دعشق خپل خړ تم وزور ته (حسین، ۲ ٥مخ)

**یادونه:** نیقړی لیکل شوی لکه څنګه چې (چکړی) د چقړی په فورم لیکل شوې دي.

**نیزوی nizə́way:**

د نیزاوبه، نیز، د سیلاب اوبه، د نیزخړه.

حب چې یو مخیز وی عاشق وړی د غم نیز وی

څه به ورانجا که مینتوب نه وی په هیر کې

(علیخان، ٥٥مخ)

**نیکال nikál:**

جبرائیل ویل سروره دیگر مه شه

هر یو ناز د شهزاد گانو (امامینو) په نیکال شو

د حضرت غمونه لا زیات شوه سیده!

په اندوه د جیگرگوشو د نیکال شـو (دسید حسین قلمی نسخه)

**نیلم:**

... د سوداگر لور سره د ټولو جواهراتو، لعلونو، نیلم، یاقوت، غرض دا د هرڅه سره حاضره شوه (انوار سهیلی ۴۳۳ مخ)

**نیخښ nexṣ:**

نشتر، نښتر، نښخ هم راغلی دی.

نجونو وچ موسه هوسونه

ستاسی په خـدا دي پردي کورونه

کړې به یې سترګې کاږه ګایونه

سترګې بم (به مو) کاږی په نیخښونه

(انګی ۵۴۶ مخ)

**نیمښوره nimṣorá:**

نیمایی، څه ناڅه، لږڅه. د (نیمایی نیمښوره) اصطلاح په ننګرهار کې ځای په ځای تداول لری.

... مور یې وویل چې هو! ز هم نیمښرره پرې خبره یم.

(م. هـ. طالب جان، ۱۱۷ مخ)



ACKU

**نیمکوره nimkora:**

څه ناڅه، نیمښوره، لږ څه.

آبداره د بحری مه کړه ډیره سپینه

نیمایی نیمکوره پرېږده پکې وینه (بازنامه ٤٤مخ)

**نیمکول nimkól:**

هیڅ تفریق د سود و زیان کولی نه شي

بدلوی په نیمکولو باندې املـــوک

(لتاړ، ٨٦مخ)

**نیوی nyawáy:**

میره زی (؟)

... داراشاه هم وتښ، شاهنواز خان چې د داراشاه نیوی و په هاتی کې سور ولاړ، پاتې شو. (ت. م. ٢٢٦مخ)

... سن د هجرت انه سوه نوی (٩٩٠) و چې خبر راغی چې میرزا محمد حکیم په عرضداشت د معصوم کابلی او معصوم فرنخودی چې د هرات و او په اغوا د فریدون چې نیوی د میرزا محمد حکیم و... میرزا حکیم اگر چه سکه ورور ددهٔ نه و، اما ده ته ترسکه وروره تیرو، ډیر ځله به میرزا حکیم بې ادبی وکړه اما ده نظر په صله رحمی تقصیرات به یې د ده درگذر کړه لکه حق د ورورۍ وي هغه رنگ ورورۍ او مهربانی به یې پرې وکړه. (ت. م. ٢٤٦مخ)

# و W

**واروپار تیرول:**

واروپار ختا کیدل= معنویات بایلل. واروپاروختا کیدل متداول دي خو واروپار تیرول تداول نه لري.

غم د ترکومی دی واروپار تیر کړي
دا چې ډوب په فکر لاړ لکه تصویر یم (خانگل خلیل، ۳۶مخ)

**واړه الا چي wāṛә́ alāčí:**

لاچی، ایل، هیل.

شوشمیر، خبربوا، هلبوا او هالبوا هم ورته وایی، قاقله صفاریې هم بولی پښتانه یې واړه الا چی بولی. (اختیارات بدیعی ۹۰۵مخ)

**وازکومي:**

ژوندی، هغه چې خوراک ته يې خوله وازه وي، خوړونکی.

| | |
|---|---|
| تر تا جـــر لـري د هقـــان | په خدای دير باور ، ايقان. |
| له ده نفعه رسی عـــامه | له هغه خاصه زرغـــامه |
| سړی څه چې کل وازکومی | رزق له سعی دده مـــومی |

(شرعه ، لومړی مخ)

**والول wālawә́l:**

بلبل د باغ په سروی عجب ناست ملاله وي
ورکه جــدايی شــه بلبــل ولې والــوي (پښتو غزل، شاه غريب)

**ويله:**

يو له بله، يو تر بله.

چې عاشق شوم بې ارامه و بله ښورم
مـــا ونه لـيده آرام په دل آرام کې (رخمت داوی)
څنی وخت سره راواخلی چړې توري
ترنا حــقه ويله وکاگـــوزارونه (التاړ، ۱٦۷مخ)

**ويله ته پسی:**

پرله پسې، مسلسل.

... حديث د پيغمبر دی، چې هره عورته چې د خپل ميړه اوه ورځی و بله ته پسې خدمت وکا چې ميړه يې له خدمته راضی شی...

(دستار نامه ٦٤مخ)

**وپار:**

۱ - رابطه، وفا، ۲ - روزگار. پښتو قاموس د (تجارتی معاملې) په معنا اخیستی دی.

څښتن ورک که بل وپار زما د سترګو
تل ژړا شــه سریکار زما د ســـترګو (التاړ، ۱۱۹ مخ)

په ښندل د سرمې سیر د وصل بیا موند
وپاری تل لـــه وپاره مـــومی حـــظ
(رحمان بابا نوې موندل شوې غزل)

په هغې لالچې مینې مبتلا شوم
چې له تنه پرې کوی وپار د روح (حمید ۷۲ مخ)

سرو لمبو ته ورګډ شوی الله یار دی
د ښاغلیو میړو تل داسې وپار دی (د مروتو کسرونه ۱۲٤ مخ)

زړګی چې مې شیار (شاعر) سو
شـــیار توب زمـــا و پارســـو (کسرونه ۱۲۵ مخ)

**وت wat:**

۱ - وتنه، علاقمندی، مینه ۲ - جمع، غونډ. (په زړه پانګه کې وتن، وتنه شنل شوې دي)

بیا ولیان دی د هـــر عـــصر — بهتر شـــوی نشـــته قـــصر
په خپل قدر په خپل وت دی — ولې دوی په تا قـــوت دي
(مناقب ۳۳ مخ)

وپیـــرووده په بـــــارونــه د شکـــــرو انبـــــارونــه

ځنې (یې) ووهـــل لالـــــنه دیوالــــونه لـــــوړو پلــــنه

میلمانه یې پرې صـوفیان کړه پرې یې وت مستان هاتیان کړه

(شرعه ۱۵ مخ)

**وټ wat:** وډ.

د غم کندویې مدام ډک وي د پیغور په دانو

چې موټې ډکه لکه کونډه کا د عشق له وټه (حسین ۷۷ مخ)

**وټی waṭáy:**

۱- ځونډی ۲- د ټوکر یا وریښمو ټټې چې د ډول له پاره د کمیس د پاسه ګنډل کیږي. (پښتو قاموس)

تور دې خالونه، تور پیکی، تور زلفان لړې

تور دې لونګ کشمیري...

چې تور وټی په ګریبانه باندې شمارې کړې

مستې هوړینګ لیلی

(ولسی سندری، ۲ ټ، ۱۸٤ مخ)

**وډر wodár:**

پټ، مخفي، مستور (د اوډر په لیک دود هم راغلی)

زما سیپویو ځان مووډر کړ

ماځا ن په لینـــګی زاپیی (ضعیفی) بدل کړ (انګی، ٤٤۸ مخ)

ږده سوه په خوانه ما وې کله به ښکاره سی ګرده ګوره

زما اروایې پوره زه یې څه کړم د بل میړه مزدوره

(فولکلوری سوغات ۵۰۱مخ)

**ورخستن warxəstán:**

تجمع، تولیدنه، ناسته پاسته. د ارزانی په قلمی نسخه کې (ورختن) دی چې غالباً سم نه دی ځکه چې هم په (مخزن الاسلام) او هم د میرحسین هروی په (نافع المسلمین) کې ورخستن دی. نافع المسلمین د (ذمیمه، حمیده، کبیره، صغیره...) په بحث کې لیکی:

یارانو زه یو کمینه یم

په دې خپلو ګناهونو شرمنده یم

هر مومن مې چې په نیکه دعا یادکا

ورخستن دی له نیکانو سره کیږی

( د کابل مجله، د ۱۳۶٦ کال دویمه ګڼه، د میرحسین هروی مقاله)

**یادونه:** زړه پانګه نور مثالونه هم لري.

**وړر warr̥:**

وارړه، مناسب، لایق. (په زړه پانګه کې وارړه او دا یوه کلمه ده)

په دوه لاسه دهقانی کا یو یې لور که بل یې یوم دی

دلو وخت نه ښکاریږي تر پاخه وړر د اوم دی

(واصل ۱۲۳ غزل)

**ورزل warzal:** الوتل.

زاغ وزغــــن دې په باغ کــې ورزی

چینجی مینجی خوری په ځانګو ګرځی (خ، رباعیات)

ګندګی چې پرته وی ګونګټ پری ګرځی

چې نه وی پاځــــی ځنــــی وورزی (خ. رباعیات)

موره میږی یو په زمکه ګرځـو | د نس له غمه وېله غــورځــو
ښه وو په زمکه بلاراسازه شی | چې پر پیدا کړو آسمان ته ورزو

(خ، رباعیات)

ویره کاله غــورکـمانی | په آسمان چې مرغه ورزی

(خ، متفرقه ۸۵٦مخ)

بیځایه ګرځو بیځایه ورزو | حرص مو پرشو په غرونو پرزو

(سکندرختهک)

که باد ورزی د مرده پې چــاره نه وي

د پرې کړې ځانګی ځه ښه په باران شی (واصل، ۱٤۳غزل)

بلبلان په قفس بند د صیاد وینم

تپوسان له خوشحالی په هوا ورزی (شیدا، ق.ن)

مه له غمه پرزه، مه له خوښی ورزه | (پښتو متلونه، ۳۰مخ)

**ورزېدل warzedál:** ښاییدل، وړتیا لرل.

د شرابو د منع کیدو د آیت په باب:

بیـــا یوه بله طـــــایفه

منع سوه له صحابه(د شرابو له څښلو څخه)

چې دا کار چې ... کـــیږي　　　د غمانځه تـــر ک نه ورزیږي

نور هـــم دا دی ســــزاوار　　　چې موږ ترک کړو دغه کار

(یاقوت السیر، ۳۹٤مخ)

**ورژل warźəl:**

۱ - قـیـمـه کـول ۲ - وریتـول، سوځـول. پـه لومړي مـعنا قـامـوسـونو اخیستی.

چې مدام مې په فراق سینه ورژنی

پیروی کړې په دا کار د شیطان ولې (گلزارروه، عصام)

**ورژون warźun:**

تشعشع، وړانگی خپرونه.

د معنا آفتاب خود رای دی　　　پسې نه رســـی گـامونه

یو عجبه روښـــتایی دی　　　نمرو ماه یې لـــه ورژونـه

(واصل، قطعه)

**ورشند warśánd:**

د پوزې تندوری.

هــر حیـوان چې له قطـاره سره نه ځـــی

تل یې کلک بدریش ختلی تروررشند دی

(واصل، ۱۱۳ غزل)

**ورغاڼی wargaṇay:**

خمیره. هغه لږ خمیره اوړه چې په کولپی کې د نورو وړو د خیمره کولو د پاره ساتل کیږي، په فارسي یې خیمرترش او خمیرمایه بولي. پښتو قاموس د هغو خمیره وړو په معنا اخیستی چې کوچ ورسره ګډوي او نوی زیږیدلی ماشوم پرې مالشوي.

نه یې بورڼه وي نه یې ورغاڼی

لعل و یاقوت شی کرم ته کاڼی (شیدا-۱۰۲مخ)

**ورګده wargada:**

چې تر لاندې د عمل تیزرو براق وي

په جنت به کړی هغه زلمی ورګــده ی

(الپوری، ۱۴۲مخ)

**ورندی:** وریدونکی.

د امید پتی به ستا وچ شی لتاړه

تل به نه وي ورندی باران د عمر (لتاړ ۶۲مخ)

**ورنډ wrənd:** رنډ (؟)

یو په زوره پرې کـــوي چې هله پاخــه

بل یې کلک ترځنګه کښینی په ورنډ دی

(واصل ۱۱۳غزل)

**وره wará:**

وریښت، وریدنه.

تا چې روپۍ کړی په جبین کې سورې
د نمرنه زياتی ورنه خېژی شـــوغلې
وریسې ستر ګې شـــوې زمـا په ورې
په مخ مې جــوړې شوې د وينـو ولې
(ولسي سندرې، ١ ټ- ٩٠١ مخ)

**وريدل waredə́l:**

... په منی په پسرلی چې هوا متعدله وي جلاب اخلی، فایده به یې ډیره وي، له رنځه له رنځوری به یې امان وی، شګفته طبیعت به وي، ښه به وریږي. (دستار نامه ٦٨ مخ)

**وريشه:**

حلوا (محشی) . پښتو قاموس وریښه د (مړی د جمعې شپې خیرات) په معنا اخیستی دی.

هغه چې مخ لري خــوږې وريشــې واخلي
په ويش چې سر شي برخې ښې ښې واخلي
هغه چې نه کـــــري په وريو ګــرځـي
هغه چې و کـــــري هغــه رشې واخلــي (خ، رباعيات، ٢٣٦مخ)

**وړ:**

میکروب ، وړ جن= میکروبی. قاموسونو اخیستی دی.

توری لاس به له تنې واخلی تنې وړجنه ده وړيه واخــلی
کمکی لیکی یم آزار به واخلی (انګی ٤٨٥مخ)

مامی له تنې مې لاس واخـــه　　　　تنې ورجنه ده ور به واخـــلې
بې وروره خور یم ازار به واخی　(انگی، ۴۹۷مخ)

نور اکثر مهـــاجران　　　　غریبان سوه مریضان
صدیق دلته سوتبجن　　　　هم بلال سوه یرورجن
(یاقوت السیر ۲۳۳مخ)

**ورتگ:**

... دوه کـارونه د قزاقـې لازمـه دي، یو ښـه اسونه بـل غـشی، د ښـو اسونو په زور، د غشیو په زور به لږ سواره هم مسخره عالم شی.

برگستان او ډیر سلاح په قزاقې کې نه بویه، یوه زغره، ډکه درسته، که کیجم ورتگ وی، گنه خالی آس بې تکلفه.　(دستارنامه ۱۴مخ)

**ورمند:**

مروند، د مروند مقلوب شکل دی.

زما د زړگی سره راشه فـرش دی پالـنگ
خیالی ورمند بالنبت که ولگوه ثنگ
(ولسي سندرې، ۲ ټ، ۱۳۵مخ)

**وره پره wṛə pṛə́:**

قضاوت، محـاکمـه. پښتو قـاموس د دواړو (ړ) په فـتح د (الزام او غیر الزام، ملامتی او نه ملامتی) په معناوو اخیستی دی.

دی پرگوې پرخور وگړی　　　　پیغامبر صاحب رد کړی
چې دا دواړه وژنـــی زړه　　　　وکــړه ځـــان سره وره پره
(شرعه ۵۶مخ)

حق گویي او ډیره طمعه کله اوسي یو ځای جمعه
چې ساتي د خلقو زړه هغه کړای نه شي وړه پړه
(شرعه ۱۸۲مخ)

**وړیدل waredə́l:**

غوړیدل.

ظالم عبدالقادر سره بیلتون کوي جګړه
بیلتون ورته قاضي شو ځکه شوه ګونه یې زیړه
تول تن مې د هجران غمونو وچ کړ لکه دړه
دلبر مې لکه ګل د پیغمبر ووړیده
(پټ ستوري، غلام قادر، ٦٦١مخ)

**وزروهل:**

اراده کول، تکل کول.

بې محرمه دې وزر نه وهي دا (ښځه) په سفر (شرعه ۱۵۹مخ)

**وزی wazáy:**

رګ. (وګ، زړه پانګه د ویرې کلمه)

مثانه= پوکنۍ مې باشد بول استمتیازي

ولې پوښتۍ= قبرغه، رګ وزی، زلف څنې دان

(نصاب الصبیان، ۱۰مخ)

**وژلل:**

وژل، مړه کول.

... ویی ویل واړه خپلې ارتینی دا رنګ پخپله ووژني، کافران په وژلل دارتینوسرشول. (ت. م. ١٥٤مخ)

... القصه په هغه صبا چې جیتا او ګوپا غازیانو ووژلل...

(ت. م. ١٥٦مخ)

... هرګاه چې اسلام شاه په تخت د سلطنت کښیناست اول قضا چې مخ ښکاره کړ وژلل د کیرات رای وو. (ت. م. ١٥٨مخ)

... تاج وخت غنیمت وګانه هغه دواړه سرداران یې ووژلل.

(ت. م. ١٩٥مخ)

... سپاهیان د سلطان په کلاورننوتل او کفار یې ډیر ووژلل.

(کلید افغانی، د سلطان محمود تاریخ ١٨١مخ)

... دا بشلیم عرض وکړ چې زمونږ په مذهب کې د بادشاه وژلل روانه دي. (کلید، سلطان محمود، ١٨٤مخ)

... اوشمعه مې ځکه ووژلله چې ما ویل که دده سترګی ووینم.

(کلید، سلطان محمود، ١٩٦مخ)

**وږسترګی:**

سترګ وږی، طامع، هغه چې سترګی یې وږې وي. قاموسونو اخیستی دی.

تا به نه وی اوریـدلی چـې یـو وار

و پریوتی سوداګـر د اوښ نه لانـدې

وې چې موږ به شي وږسترګی دنیا دار
یا په صبر یا د ګور په خــــاورو باندې
(کلید افغانی، ګنج پښتو، ۱۱۳مخ)

**وست wast:**

۱- متـاع، جنس، مال ۲- پیوستون، بندوبست سررشتـه. په لومړی معنا د حمید له اشعارو څخه څو بیلګی په زړه پانګه کې شته او د لتاړ په دیوان کې داسې راغلی دی:

دوست، دښمن معلوم د زړه په آئینه کړه
د عمل وســـت تری (نه) ســـاته خبردار (٥٤مخ)

په دویمه معنا:

چې له یار سره مې کړي دي وستونه
د رقیب خبر و وران کړه کـــل بندونه (ګلزار روه ، عبدل)

مومنان دی خپله تـولـه ګنی صافه، نه ختـولـه
چې ددوې له پیوستونه پیدا کیږي ښه وستونه

(شرعه ۷مخ)

**وښتی:** غورځول.

کمکی جلی مـــلالې ســـــترګې
دا توریـکی یې نری وښتی غورځوینه
(پښتولنډی- ۲۸۹مخ)

وروځــــــې لــــیندې بـــانه دې غـشـــي

یار خو دې گل ، کجک دې وښتې غورځوینه

(پښتو لنډۍ ۴٦۵مخ)

**وښ سرېدل:**

زړه (پر) پخیدل، دمه (پرې) کیدل.

... باری د سـرفـراز گل تنهـا کـه ونه چاوده، وښ یې سـاړه نه شـول، همیش په فساد اندیشی سرگرم و. (ت. م. ۴۷۵مخ)

**وگړی:**

خلک ، عالم، مخلوق. قاموسونو د (فرد ، نفر) په معنا اخیستی دی.

دا دې څه وکړل آســــمانه | په خپل کار دې کړم حیرانه

په وگړي دې رســوا کــړم | له ښادیو دې سوا کـــړم

(یوسف او زلیخا ، ۵٦مخ)

مایه لا کا تر دا خـــواره | په وگـــړي شرمســـاره

(یوسف او زلیخا ۷۷ مخ)

زه به څه مانه له یاره کړم وگړیه

نن رواج داشنایی واړه دغل شو ( هجری، ۱۳٦ مخ )

**ولچی walčé:**

د والله چې مخفف دی.

... دننه په حرم سرای کې گلمکی دا ناره واوریدله، دغسې یې راالا کړله چې ولچی یو پسات پیښ شوی دی.

(م. هـ، موسی خان او گلمکی ۱۲۵مخ)

... ملا عباس فکر وکړ ولچي رښتيا يې درته وويل سبا به اُمي پاتې يې د طالب جان خواخورا بده سوله .                (م. هـ ، ۲ټ، ٤مخ)

...ولې به داسې جک وهم، ولچي سړی مړ کی که ووايم.

(م. هـ. قطب خان او نازو ۹۲مخ)

... ولچي په خوله کې مې زيږي او به ودريږي کـه تا ته د شي اميـد وکړم= قسم است اگر در دهنم...                (پښتو اصطلاحات ۸٦مخ)

**وللwlal:**

لل، لوستل، ويل. قاموسونو (لل = ويل ، شاهدی، اذا کول) اخيستي دی.

... نقل دی چې شيخ نسک قدس الله سره العزيز په تيری کې پيدا شو، شيخ ابابکر په خوست کې و. سلام د ابابکر يې وله... حسن مشر ورور د شيخ نسک وه، شيخ ابابکر ته يې وويل چې ځواب تا د چا د سلام وله شيخ ابابکر ووی ځواب مې د شيخ نسک د سلام وله.

(ت. م. ۵۵۹مخ)

**ولنګ:**

انار. قاموسونو اخيستي دی.

چهار مغز بدان تو او غز به مثل اکور
ولنګ انار شد، ارغنج، آلوای پرفن    (نصاب الصبيان، ۲۰مخ)

**وله:**

وړله، ورته،

د ننګرهار په ځينو سيمو کې په (ورله، درله) کې (ر) حذفوي.

که د چا مهم پيدا شي  چې په مخه ولـه راشي
د دعا دې په لوستل شي  هر مهم به يې حاصل شي

(کيميای سعادت ۲۷مخ)

که سستي د چا ای ياره  په صورت کې شي بې شماره
بايد دې وله پخپله  دا دعا دې لس ځله
هره ورځ دې ولولينه  چې قضا پکې نه کړينه

(کيميای سعادت ۳۱مخ)

**ولی** walə́y:

ګلبانګ به څه کا د بلبلانو
زما ديوان دی باغ دولی (شيدا ۱۸٤مخ)

**ونجاله:**

چې يې حق داستا د نه وی پيژندلی
سرمايې د دين هغه کړي ونجالې (ګګيانی)

**ونډ** wand:

لويه وياله، کانال (محشی). اصل به يې بندوي.

نن به ويهوی د سر کيو وينو ونډ  (د مروتو کسرونه ۷۷مخ)

**ونډيمار** wanḍimā̆r:

د ونډې برخه لرونکی، د ګډې قصابۍ سهيم.

هډوپوست مې شول خوراک د رقيبانو
ونډيمار دې پريکوي مې بې پيونده (عليخان ۲۹مخ)

وندېمار به خود نن لاس رابانديږ سره کا

پای بند چې اوس په غولی د قصاب يم (بياض)

**ونکه wənáka:**

سره ښېنې، سورر رواش، طبی ښېنې. پښتو قاموس (ښېنې يو ډول رواش دی چې سور وری پانې لری، هم په باخه ډول او هم په اومه توګه خوړل کيږي). په معنا اخيستی دی. پ. ر. ق د (سری ښېنې، طبی ښېنې) په معنا اخيستی دی. دغه قاموس ښېنې په دوه ډوله ويشلی ده: ۱- سپينه ښېنې چې په فارسی رواش بلل کيږي. ۲- سره ښېنې (ونکه) چې په طبی کتابونو کې يې علمی نوم (rheum officirale Baill) دی. (د صيدنی روسی ترجمه ۴۷۹مخ)

دغه ويش له همدغه راتلونکی بيت نه هم ښکاری

که ظاهر ځان په لباس درواش نمايي

و عاقل ته په کار نه راځی ونکه (ج. فدوی)

**ونکی wənkə́y:**

لړی، سلسله. پښتو قاموس د (همزولی، همقد) په معنا د مذکر په فورم اخيستی دی.

... له ځانه سره وايی: کور دی خراب سه! په هغه شيطان وطن کې خو ګرده شيطانان دی، يو غم نه دی، هغه د زعفرانو رانيونکی، موچي، او هغه سړی چې د پلار د سترګې دعوايې په کړې ده تړوله يوه ونکۍ دي. (م. هـ، ۳ ټ، ۱۹۷مخ)

...شوډا کړو ویل: ویني صاحبه! ناحقه يې زه مسافر زهیرولم، دا
خلک پنځه سره يوه ونکې دي، عمري دغه پسادونه کوي.

(م.هـ. - . . ۲مخ)

**ونگ wang:**

هار، امیل. (محشی).

په غوږ کوڼ، په ستر گو ړوند په ژبه گونگ دي
چې په غـــاړه يې د يار د مینـــې ونگ دي

(مطیع الله پیره خیل ۷۵مخ)

د شهـې ســنگار به شي روزي د هـغو
چې په غاړه يې د شاه د لونگ ونگ دي

(مطبع الله پیره خیل ۱۷٦مخ)

**ویاړل:**

۱- فخر کول. ۲- گټل ۳- امید تړل ٤- مشغولیدل. په لومړۍ معنا
قاموسونو اخیستی دي.

نهالپور کې به يې غواړم دا دعـــوه به له ده ویـــاړم

(مناقب ۱۳٦مخ)

چاړه، تیکی له ما غواړي په دعـــوه راسره ویاړي

(مناقب ۱۳۸مخ)

مـــوافـــق له تـــوانه بـــویه بندگان خوشپوش، خوشبویه
چې محتاج خلق پرې ویـاړي تری زکات او خیرات غواړي

(شرعه ۳٦مخ)

لیونی د غم په غـولي | د ښادی سـندرې بولي
ځو دلي په خندا وياړي | به هوری هومره وژاړي

(شرعه ٦٩مخ)

هوښيار به ولـــې په هــوس وياړي
چې بيلــتون ياد کــا تل تل به ژاړي
يوه خوښي لري سل ســـل غمـــونه
سکندر احمق شو چې خوښی غواړي (سکندر ٤٠٣مخ)

**ویر wyár:**

خوند، وجد، حظ، لذت، مزه، ویرکول= خوند اخيستل.

چې همت مې نه کا وير په هسکولو
لکه موج نه کـړم بيم له پريوتلـو (شيدا ٢٥مخ)

لاړم تر مسجده نمونځ مــې وکــړ پگــه تره
سور شوم په سيلی، نورمې واچاوه په ويره (خ، متفرقه)

نيمه شپه په پالنگ راغلله دلبره
پري رويه، عنبر بويه، سيمينبره
د پايلو د شرې يې شرنگهار شو
زه له خوبه راپرتاب شومه په ويره (خ، غزلونه)

**وير wáyr:**

وران، ويجاړ. په (ويرانه) کې همدغه اساس دی.

نه به بيا زما له سيره | هوسی دروميی سره ويره (فراقنامه ٤٦مخ)

**ويره wyára:**

ډار، خوف. قاموسونو د (و) په کسره اخیستی دی.

هم يې شـــرم لاړ هـــم ويره     په نارو نارو شـــوه ســـره

(يوسف او زليخا، ۶۰مخ)

**ويړ wer:**

بې بها، ، بې قيمته، وړيا.

وينې به په ويړ د حسين توی کا بې دريغــه

سترگې دي دلبره ستا چاړه په لاس قصاب (حسين، ۳۷مخ)

**ويشتلی wiśtəláy:** سپين ويښته.

... دغه سپين مخ يې لکه زيړ زعفران داسې سو، هه! هه! څرډير کلونه تير سود، په سر کې يې ويشتلي پيدا سوه.

(م. هـ. ظريف او مابې ۶۰مخ)

– د سنک په ږيره کې اوس ويشتلي پيدا سوي دي = در ريش سنک اکنون موهای سفيد پيدا شده است.     (پښتو اصطلاحات، ۹۰ مخ)

**ويل wel:**

اعتدال، منځنی حالت. قاموسونو د (ارزان) په معنا اخيستی دی. عموماً د نرخ او قيمت سره راځي.

– اوس ښه دی غوړی په ويل کې دي = حالا خوبست نرخ روغن در حال اعتدال و متوسط است.     (پښتو اصطلاحات ۱۰۴مخ)

**ويل wyál:**

غوړېدلی، شگفته. په زره پانگه کې د (روڼ) په معنا اخيستل شوی دی.

دريم يار دده عثمـــان و　　　د حيا د شـــــرم کان و
هميشه لکه گـــل ويل و　　　په ښه خوی لکه عسل و

(يوسف او زليخا، ۱۶مخ)

**ويلړل welaṛə́l:**

ويلاړل، مرادول. (زره پانگه يې تفصيل لری. و گ: د ويلاړل کلمه)

ته تهمت په عاشق وايې　　　ولې ځــــان نه ويلــــړې

(احمد شاه بابا ۱۹۰مخ)

**ويندی wayendáy:**

وياند، نطاق، ويونکی.

تل چې پرې شيرين لذيذ ويل کوې لتاړه
خدای دې ويندی لره دا ژبه په دهان کې (لتاړ ۱۸۶مخ)

ACKU

# هـ H

**هاتنه:**

... امیرخان هم یو سرو پای ماتمی (د اشرف خان د مړینی) یوه هاتنه وماته راستول. (ت. م. ۴۸۷مخ)

**هاګی hāgəy:**

عنبرچه، د عنبرو هاګی، د زرو یا ګوهرو وړه جعبه چې عنبر پکې ځایوی او ښځې یې په غاړه کې اچوي. په فارسي یې عنبر چه او عنبر دان بولی.

... او قسم قسم یاقوت او لعلوله قیمتنا ک او حمیلونه د مرغلرو او هاګی د عنبرو او لوښی د سرو زرو او سپینو زرو ډ ک په خوشبویو... یې ورسره کړل. (کلید افغانی، د سلطان محمود تاریخ ۱۳۷مخ)

**هان:**

ښه! ښه! حتی. د تنبیه کلمه ده.

وایی هان! بوسه اخله، خو چې ورشم

بیا مې مـــنع د ابرو په اشـــارت کا (هجری ۲۶۳مخ)

... بازورته (زرکې ته) وویل چې هان ماته دې دروغژن ووایه او...

(کلید افغانی، گنج پښتو، ۱۰۶مخ)

... او دا ظاهره خبره ده چې بې له مقررې وظیفې نه څلور لکه روپۍ به یې (سلطان محمود) لا یقو لا یقو خلقو ته بخښلې او قسم قسم مهر بانگۍ به یې کولې او فایدې به یې هرچا ته رسولې. هان دا دوه څیزه که د بادشاه د بدنامۍ سبب وی نو وی به.

(کلید، د سلطان محمود تاریخ ۱۳۲مخ)

"شیخ صاحب وویل چې دا ټول دام دی مگر زه یې مارغه نه یم، هان ته را وړاندې شه چې دا ټول ستا د وړاندې خدای درویی دي.

(کلید، سلطان محمود، ۱۹۸مخ)

**هاڼ:**

سره ورته والی، تشابه. پ. ر. ی اخیستی دی.

... خیر هلکان ټوله همزولی دی، پر یوه هاڼ دی، پر یوه سلا گرځی.

(م. هـ. -٦مخ)

**هبه تبه habá taba:**

هغه دغه، یوه پلمه، بله پلمه.

... چې د اسدالله خان نه خبر شول ، سواره پیاده یې ولیدل ، په ده یې قابو ونه لیده نو تک تک یا هبه تبه یې وکړ. (ت. م. ٤٤٧مخ)

... دواړه لوریه لښکر سره جوړ ،... نږلي ، قریب نژدې ورغله ، سره ودرید ، د بارکو وغیره اولسی خلقو گومان هسې وچې د مونږ په دا هبه تبه ، تک تک پایی به اسدالله خان لاچې (د ځای نوم ) راته پرېږی یا به ځی درومی به . (ت. م. ٤٥٠مخ)

**یادونه:** لومړی ځای تک تک ، دویم ځای تک تک دی ، دویم سم ښکاری چې له تکنی سره لفظاً او معناً نژدې دی.

**هپ دپ:**

کوم ساعت به دې هپ دپ کاندي حسینه !
څو به دم پوکې د زلفو ښامار ته (حسین ٦٩مخ)

مخ او زلفو ډیر عالم سوی هپ دپ که
له یوه طرفه اور په بل ښامار شو (حسین، ١٩٦مخ)

هپ دپ کړی تور ښامار حرص بې دمه
دم ختلی ورته پروت وي خبر نه وي ( حسین ٤٥٨مخ)

**هتری hatarí:**

د تری لرونکی ، بدنی. قاموسونو (تره= بدن، تنه) او (اتره = پوستکی ، د بدن ، تنی بهرنۍ برخه ) په معناوو اخیستی دی دلته تري مطلب، ژوی ، حیوان، څاروی دی.

وچاړه ته نه تم کیږی زما دله
که ډنگر وي که چاغی وي هتري ( ج. فدوی)

**هتيار hatyā́r:**

وسله، سلاح، د جنگ سامان. ظفراللغات او پ. ر. ق اخيستی، په اردو کې هم تداول لري.

وخت نن د جنگريز دی په هتيارو وهه گوتې
زغره، خول سمبال کړه په دستارو وهه گوتې (لتاړ ۲۲۰مخ)

ښــــکلی بې ياره ورک شـــه    نر بې هـتياره ورک شـه
پوښ د بريشمو (اوريښمو) اصلی    بې دنيا داره ورک شــه

(پټ ستوری، سکندر۱۸۹مخ)

مرد چې بهادر نه وی په وسله به بهادر نه شی
ثلـــه محنـت د مــړنو په هتيــار بلــوسې    (الپوری ۱۰۹مخ)

**هډ اخيستل، هډ کول:**

بدي اخيستل، بدي کول، هډ ماتی کول.

... د اوريا خيلو ملکانو هم وويـل: کـه ونه جار وزی، مـوږ به ورځنی جدا شو، هډ به د ختيکو نه اخلی.    (ت. م. ٦۰۳ مخ)

... واړه راغله، راته يې وويل چې کـه هر څو لويه بدی ددوی نه وشوه باري ددوی په بدو نظر نه بويه... ورته مې وويـل: ښـه خبـر دده اما په دوه شرطه يو چې په صلح هډوونه کاندي نه پټ، نه څرگند...

(ت. م. ٤٦٧مخ)

**هډماتې:**

هډماتوونکی، مجازاً سخت.

د هجــران هــډماتې تبه مې جــامه شوه
زېړی رنگ ، زړې زعفران شو راته پیبن (حسین، ۲۳٤)

**هډو:**

فرضاً، احتمالاً.

... ده (بغ) ووی ولې به نه ژاړم زمــا خــوراک چینډ خــان وواوس رابانديې ددوی خوراک حرام شــو اول یې نیــولی نه شم ولې کــه هډو یې ونیسم نو خوړلی یې نه شم. (انوار سهیلی، ۲٤۸مخ)

... نو زه که هډو له تا سره پاتې شم، نو څه فایده ، یره ستا له قهره نه به بیغمه نه یم. (انوار ، ۳۲۱مخ)

... هره ورځ ته مرغــی نیسې ، یوه ورځ دې هډو مور لــه دوه مرغــی راکړې نو څه دنیا به ورانه شي. (انوار ۳۷۹مخ)

**هر hər:** له یوې مخې.

د بازونو هنر هسې اسان نه دی چې یې سړی کاله یوه هره
(خ، ق ۵۹۸ مخ)

**هر har:**

شور ، ځوږ ، غوغا (محشی).

د عــشق پــه کــار کــې یو هرگــډیږی
یا پکې قــهــر ، ســتــرگی ږدیږی
دا دواړه توکــه په عــشق کــې یاد دی
ســـړی ناحـــقه په بابا ډډیـــږی (خ، رباعیات، ۱۹۵مخ)

هراو:

دا ویل چې ظاهر کړه کمی به نه وه

که ددوی وینا و زړه ته وي هـــراو (هجری ۴۲۸مخ)

**هرگور hargór هرگوره:**

هرگوره، بالکل، مطلقاً . په پخوانیو متونو کې زیات د هرگوره په لیک دود راغلی دی چې پښتو قاموس د (البته ، ضرور، حتماً) په معناوو او پ. ر. ق د (۱- فوق العاده، ډیر زیات ۲- مطلقاً، بلکل .۳- حتماً، هرو مرو ٤- په هر صــورت ۵- په هیڅ صــورت، په هیڅ ترګـه.) په معناوه اخیستی دی. زما په فکر دغه کلمه یوازې د (مطلق او بالکل) معنا لري او بس.

دلته د هرگور او هرگوره مثالونه:

۱- عشق هرگور بده بلاوي

هغـــه زړه چې مبـــتلاوي (یوسف او زلیخا ، ۳٦مخ)

زلیخــــــاوې دا خــبرې هـــرگور دي له عقله لرې

(یوسف او زلیخا ، ۵۱مخ)

ژړه مې هرگور وله هجرانه افګار

شکر حق را کـــه باز آمــد یار (عبدالقادر ختک ۵۲مخ)

په دیدن به دی لا کله مشرف شـي

اشتیاق شو هرگوره ډیر د شایقانو (عبدالقادر ختک ۱٤٦مخ)

چــې بې تا پایـم بیل شـویه یـاره

ژوندون هرگور دی، په ما دشـواره (عبدالقادر ختک ۳۸۱مخ)

د کـــړونه دي دا دوه خـــبرې دواړه هرگور دی له عقله لـــرې
په نامرد زويه چې نغارې وهې بل په بدرنگه ناوې ســـندرې
(عبدالقادر ختک ۳۰۹مخ)

په قضا د حق راضی ورته تسليم و
هرگور ډير متحمل و ډير حلـــيم و (عبدالقادر ختک ٤۹۵مخ)
لور لره ستر د کـــور غنيمت گڼه هرگور (شرعه ۱۵۰مخ)
چې ايمان په دا (مرگ) لری هوس به څو کا
زه هرگور په دا خـــبره يم حـــيران (هجری، ۱۰۹مخ)
د هرگوره مثالونه:"
... هغه سواری هرگوره بې روخه (نامناسبه) شوه (ت. م. ۲۸۲مخ)
د فراق لمبو مې ننه لړمون وســـو
ارزوی مې شی هرگوره ستا وماته (عبدالقادر ختک ۱۵۸مخ)
لکه ته چې خدای هرگوره ښايسته کړې
هيڅوک نشته ستا په مثل په جهان کې (گلزار روه، صمد)
نن هرگـــوره په ساده لباس راغـــلی
د هرچا په ځان بلا قميص يې کور دی (واصل، ۱۱۷غزل)
شـــيطان هرگـــوره ښايسته روغ دی
چې يې بدرنگ بولی دا ووی دروغ دی (خ، رباعيات)
رقيبان راته هرگـــوره ديار ډير شـــول
يو سړی څه کا د ډيرو سپو په خوله کې (حميد. ۳۷۷مخ)

د وصال غنيمت هرگوره گرداوه شي

ددیدن ذخیره چا کښېښوه هوښیاره (واصل، ۵۳ غزل)

**يادونه:** د واصل په ورستي بیت کې د شعر تول حکم کوي چې دا کلمه هرگوره ده نه هرگور او ضمناً د هرگور مثالونه زيات د عبدالقادر خټک په کلام کې راغلي دي.

**هريسه:**

دا يو قسم خواږه دي چې د غنمو اوړه، غوښې او د شيدو نه تياريږي چې ډير خوږين وي او د کمزورتيا لرې کولو د پاره دا ښه ترين درمل دي.

په حديث کې ده ښاغلي هريسه سنت راغلي

په خوراک جبرئيل سپړي دی حضرت ته امر کړي

چې محکم پښت و زرغام شي بالا دست دشپې په قيام شي

هم لري هريسه خور د خلوېښتو مړو زور

(شرعه ۲۱ مخ)

**هرنگ harang:**

شکمن، متردد. قاموسونو (اړنگ) د (شک، تردد) په معنا اخيستی دی.

د پخته ریبار د درخاورې رانجه کا

زاهد خپله په خپل کارپورې هرنگ دی

(مطیع الله پیره خیل ۲۱۳ مخ)

**هزارګله:**

د يوه انځور نوم دی چې د هزارګلې تصوير به پکی و. (هزار ګلی= زره پانګه)

دا شال او کيمخواب چې قيمته بيه کيږي

پريکوڼ يې وکه صنم وديږي

لښتی یې لاجبري بل يې چکن هزار ګله ده

نن بيا په کـلی څه غلغله ده

(ولسي سندري، ١ ټ- ٢٣٠مخ)

**هشت و مشت hast-o- mast:**

چړچې او ميلی، انند، خوشحالی. پ، ر. ق د (١- خوشحالی، انند، ٢- نزاع، مناقشه،) په معناوو اخيستی دی. ما يوازې په لومړی معنا موندلی دی.

... خان او ماينې ته خدای زوی ورکړ، نوم يې ظريف په کښيښود، هی زالمه خوشحالی شوه، هشت ومشت شو چې خان ته خدای زوی ورکړ.

(م. هـ، ظريف او مابی، ٤٣مخ)

... مابنام يې قاضيان او مفتيان او وزيران راوغوښتله، ډوډی يې وخوړله، نکاح يې وروتړله، هشت و مشت دي، سازو نه دي او غزلې دي د طالبانو اتڼونه دي، تر سهاره پورې خوشحالی ده،

(م، هـ، طالب جان، او ګلبشره، ٢٠ مخ)

... نازو يې قطب خان ته په نکاح ورکړه، په دغه ورځ خورا هشت و

مشت جوړ سو... داسې ساز او سوبت او هشت و مشت یې جوړ کړی و...
(م ،هـ ، )

... سربیره پر دې چې خبر دې نه کړم پسونه دی لاهم وو ، هشت و مشت دې جوړ کړی و ، خوشحاله دې کوله...
(د. هـ. ، قطب خان او نازو ، ۹۸مخ)

**هلاهل halahál:**

وژونکی ، مهلک ، د زهرو صفت دی. ظفر اللغات د دویمې (هـ) په زیر اخیستی خو سم یې فتحه ده.

دواړه لب یې که خواږه دي نر شکرو
فراقت یې پر ما زهر هلاهـــل که (پیر محمد کاکړ)

**هلکه haláka:**

وړکتوب ، هلکوالی ، ماشوم توب.

په خلاف داهـــل جهـــلو      چې به دوی په ایمان بهلو
په هلکې لا وژلی لـــونه      د دنیا دعــــار له کــونه
(شرعه ۱٤۳مخ)

**هلکینه:**

هلکه ، ماشوم توب ، هلکتوب. پښتو قاموس د (هلکتوب ، ماشوم «طفل» ) په معناو اخیستی دی دویمه معنا یې سمه نه ښکاري.

که هلکینه که ځوانی ده که پیري ده
دا دري فعله په باطلو کارو مه شــه (ج. فدوی)

مشقت دې د سفر لیدلی نه دی

له هلکینې تر لوینې لا په کوریې (ج. فدوی)

**هنګ hang:**

تال، غاړه، آهنګ. (په هنګی، هنګهار، انګی، هینګی) کې همدغه ریښه ده.

د ضمیر په ساز کې نوی هنګ پیدا شو

شوی سندرې د فطرت په اتصال (غزونی ۳۲۵ مخ)

**هنیر hanér:**

چې غمازو رته زما خبرې وایی

آشنا غوږ ورته نږدې کالوی هنیردی

(پښتو غزل، غلام نبی ۷۷ مخ)

**هڼ hən:**

ملک خپل مه بوله نادانه

ملک به خپل کړې د ښنه وباسه له هڼه (احمد شاد بابا، ۲۱۸ مخ)

**هوا ګیرول:**

ځغلول، په منډو کول. وایی: (زلمی یې له کوره هوا ګیر کړ)

هسې هواګیر کړم جدایی له مراد ونی

لاړم په چغار لکه توتاله سروکی (یوسف او زلیخا)

**یادونه:** په دیوان کې «سروکی» چاپ شوی او په «ځانګه» تشریح شوی دی. سروکی د سر مصغر فورم ښکاری.

**هوده hwda:**

۱ - د فیل په شا پټهونځی، سایبان. ۲ - پټهونځی. په لومړی معنا پ. ر، ق او ظفر اللغات اخیستی دی.

... نور د لیرخان چې تیر کښبونه یې په هوده کی وو، ویې کینښ پری یې گوزار و کړله یوه غشیه فنا شو، نور یې خپل هاتی ورنژدې کړ. راوایې خیست په خپل هوده کې یې واچاوه. (ت. مرصع ۲۲٦مخ)

تر بچره (نوم) ترمکډه (نوم) نیازی تهول سوه

نیازی واړه راوتلی له هودې دي

(د مروتو کسرونه ۸۵٦مخ)

**هودی hoday:**

تفصیلات (محشی).

چې هودي د غم د زړه د بیان اخلی

مختورن غماز قلم شو په غم و چاود (علیخان ۳۲مخ)

**هور hor:**

معرا دې له‌ردا همال د هورکه

کوه و سم دی هورهمه د سگ د اورکه (هجری ۳۸۹مخ)

**هور hor:**

چې تانه وینم په کور کې | اور به پورې په درست کورکړم

که مې لاس په ځان رسیږي | ځان به هم تر بلاهور کړم

(خ، متفرقه ۸۰مخ)

**هور hor:**

ځاله، آشیانه. ظفراللغات او پ، ر، ق اخیستی.

یو یو هور دی چې شاهین ځنی الوزی

مښگیر ک، لگړ مگـړ له هوره هره (خ، غزلونه)

**هور hur:**

چې حـاکـم ورته بد نیت کا تنگ په ظلـم رعـیـت کا

دوی دې خدای ته ما تې یوسي په گـنـاه دې پښیمان اوسی

حال دې عـرض کا په غفـار په تـوبه پـه اسـتـغـفـار

د حـاکم بـه او بد هـور په هـر خـیر و کا ظـهور

(شرعه ۱۹۲مخ)

په هر کار چې څوک مشهور شی

په بلا بانـدې به هـور شـی (شرعه)

**هور hur:**

۱- گـواښ، تهـدید. ۲- هڅـه، کـوشش. ظفـراللغـات او پ. ر. ق د (یرغل، حمله) په معنی اخیستی.

په غوړیا شو څنو مې ایښی گلاب سور دی

په لار ده ځـم د جینکورا پسې هـور دی

(ولسي سندرې، ۱ټ، ۸۹مخ)

نه به بیا په غـاړه کښیږدم د ننـگ توره

نه به بیا په قوم کې کښېنم نه به هور کړم (خ، قصیدی ۵۶۳مخ)

که ســـړې سره تل ښه کـړې          که یې لږ کوتې خوږ زړه کړې
ښه دې واړه له زړه دور کـــا          توره واخلی په تا هُــــور کا
(فراقنامه، ۵۸مخ)

اوس ورځئ چې یک جلبې باندې هور کـړو
هسې مټ کړو چې میدان په مړیو پورکـړو (شهی او دلی۸۰۱مخ)

**هورته hurta:**

۱ – هله،هلته ۲ – ماورا، آخوا، زیات. (ر) په پښتو کې:
د ظرف له پاره داشاری الاصل او سوالیه ضمیرونو سره په مرکب ډول راځی، لکه (هورې، دورې، چیـرې، چیـرته ... ) او کله هم د (ر) په ځـای (ل) راځی، لکه (دلتـه، دلې، داله، هله، هلتـه) چې په لرغـونو آریایی ژبو کې د (ل- ر) د غږونو تبادله معموله وه.

ســـرو د هـــور ته دی روا          چې نه غـــاووې نه غـوغا
(خ، متفرقه ۸۷مخ)

چې اوبه شـــی په اور تلې          هـــور ته مـړې شي لمبې بلې
(فراقنامه، ۷۰مخ)

څه ځواب به هور ته کړې چې ځان پرې خلاص کړې
چې نکـــیر منکـــر به راشی لـــــه رحمـــانه (لتاړ، ۱۶۲مخ)
څه به وي تر دې په هور ته بله بې خوندي
بولی رقیبان ځان ته په مینه ماغـوندې (علیخان ۱۲۳مخ)
نه عشق گوښی په دیدن دی
لاترې هورته شـــنیدن دی (یوسف او زلیخ، ۶۸مخ)

له هغه په هــورته بل بخــتور نشــته

چې د يار د در په سپو کې شی حساب (حسين، ٤٦مخ)

دريغه وکړای هغه يار د بوسی ست

نشته بل له دې په هورته مــرحمت (حسين ٧٠مخ)

لاحاصله دولت سيند ته غورځول دی

وي اسراف د حد په هور ته ســخاوت (غزونی ٢١٢مخ)

يا نغمه نسيم کړه د حمزه د زړه ارمان په لب

هورته په ښتي کې وه سندره د دهقان په لب(غزونې ٢٣٨مخ)

... درومئ هورته به آرام وکړو، کهاران، پالکی به هم راشی، وړاندې په پالکی کې تله کيږي. (ت. م. ٤٥٤مخ)

**هوروتور** hur-o- tur:

گواښ وکينښ، تهديد چې کش وگيرور سره ملگری وی. په ننگرهار کې تداول لری. په چاپسې هورتور کول= گواښ وکينښ کول.

ميړنو سورو د جنگ په هوروتــور

کړه نيزه همسا په لاس کې د مفرور (شاه او گدا ١٩٠مخ)

**هوربنگ** hor bang:

په سپين رخسار دې ښايسته زلفې تارتار کړې

د گــل په رنگ لــيلی ...

چې تور وتي په گريبانه باندې شماری کــړی

مستې هوربنگ ليلی (ولسی سندرې ٢ ټ، ١٨٤مخ)

**هوکه húka:**

پەهیڅ دود بەدي بری پەنفس نەشی

ځو عاجز نەشی پەتندە یا پەهـــوکە (کریمداد)

**هوله:**

هڅه، منبود.

زړه محکم پەتوکل لـرە سکـــندره

پەدنیا پسې حرص و هولې مەکړه

کردگار د هر بندە د رزق ضامن دی

شرم وکړه خپل انبار دغلې مەکــړه (سکندر ختک، ۳۳۷مخ)

**هوهو hoho:**

خوشحالی، انج و منجتیا.

... او زړه بەراتەوي چې دا مـوبې همـتی دەچې تەخـو دې پەهو هو او خوشـحالیږ عـمـر تیروې او ستـا دوست دی پەځنگلە کـې یک یوازې عمر تیروي. (انوار سهیلی،۲٦۸مخ)

... عرض دا چې د موچي بشه هوهو وه او پەلویو خلقوکې حساب و. (انوار، ٤۲۸مخ)

**هیڅکاره:**

بیکاره چې د هیڅ کار نەوي.

کەد زویو مې لښکر دی هیڅکارە دی

لا ددوی لەغمەهسې تار پەتار شوم (خ، متفرقە ۸۷۵مخ)

اوس مې نور غمونه نه شته غم مې دا دی

چې اولاد مې خدای دا هسې هیڅکاره کړه (خ، متفرقه ، ۸۷٦مخ)

**هیر her:**

د (نسیان، فراموشي ، هیریدنی) په معنا . خو اصلاً یې معنا له یاده وتلی، فراموش (صفت) ده.

حمید مومند د وینی د ایستلو (فصد) په باب وایی:

د څټ ویني زړه اندهیر کا — یادداشت کم، غلبه هیر کا

(شرعه ۲۱۳مخ)

... څه وشو که خطایې ترینه وشوه ، ما ته په دې ملامته نه ده په دنیا کې د خطایي او هیر نه څوک خلاص دی؟ (انوار سهیلی، ۲۳۲مخ)

... ځکه چې انسان د هیر او غفلت نه خالی نه دی .

(انوار، ۳۳۳مخ)

**هیس his:**

دا گومان دی اغزن بوټی — جامه ژغوره له دې هیسه (کریمداد)

**هیل hil:**

هیله، توقع.

که هر څو نهیل یم له خپله ځانه

هیل مې مکړه د جیب نهیله (پیرمحمد کاکړ)

**هینځله henǰála:**

یو ډول بنکلې مرغاوی ده.

خوشحالخان د کلاپانې د مرغاویو په باب وايي:

مرغاوې په هر هر لور وي          سونا هم پکې لانور وي

په اخر راشي سرخ پرې          هم سيخ پرې هم سرخ سرې

ښکلې سترګې د هينځلې          لکه سترګې د ښې نجلې

(فراقنامه ۷٤ مخ)

**يادونه:** په لومړي بيت کې غالباً د «نور» په ځای (ډير) چاپ شوی چې قلمي تيروتنه ښکاري او د شعر قافيه يې خرابه کړې ده.

**هيوادی:**

خارجي، بهرنی، د لرې وطن، مسافر، پرديسی.

د هيواد کلمه په زړو متونو کې غالباً د لرې وطن، د بل وطن په معناوو او کله هم د وطن په معنی راغلې ده (زړه پاڼګه)

ځناور که درنده وو          خزنده که پرنده وو

واړه ده ته فريادي وو          د وطن که هيوادي وو (مناقب ۱٦۰ مخ)

دا (مرغی) راغلی فريادي ده

چې راغلې هيوادي ده (مناقب ۱٦۲ مخ)

زه فقير يم هيوادی نظر په ما کړه

روی د خدای دی په وصال مې سړه خوا کړه

(کليد افغاني، بهرام ۲۷۱ مخ)

ځی به مسافر د لویی لاری هيوادی

ځکه فاضل زيرمه د کچکول کا د کندونه (ګلزار روه - فاضل)

ACKU

اشتیاق د هیوادی آشنا غالب شــی
په خاطر مې لا ثقیل د هجر بار کړی (هجری ۲۲٤مخ)

بیا مې یاد د خپل وطن قدر په زړه شو
څوک عزت د مسافر هیوادی کاندی (سکندر ختک ۷۸مخ)

چې د زړه له درده تل ژاړم فریاد کړم
هغه تللی هیوادی آشنا رایاد کــړم (بیاض)

سرغــونی دی هیوادی طوطــیان راغــلــی
ستا د مخ په باغ کې ناست دی سرې منبوکې (بیاض)

هیوادی آشنا زما چې تر څنګه کښیناست
دا په ما باندې خدای کړی لوی کــرم دی (بیاض)

# ی Y

**یامښت yāmə́ṡ̌t:**

مستي، غورځنګ. (و ګ: زړه پانګه دیمیدل کلمه)

ای واصله! د معــنا سفر په ځـــای دی

که د ژرندې په دود کښینې له یامښته (واصل ١٤مخ)

**یادونه:** په چاپ کې د (ژرندې) په ځـای (ژوند) دی چې یقـیناً قلمی غلطی ده. مـجـهوله (ی) په زړو مـتـونو کې په کـسره افـاده کیـده او د (و-ر) ګرافیک توپیر ناڅیز دی.

**یامیدل yāmedə́l:**

یمل، یمیدل، مستیدل. (و ګ: په زړه پانګه کې یمل، یمیدل)

د لاهوت په قــراری کــې یکتـــنها وم

د وحدت په حجاب نغښتی پټ پیدا وم

د ماما حوا په غیږ کې بې دردمند کړم

بې طــاقته د بــابــا آدم په شـــــاوم

په کښتی کې مې له نوحه سره راز کــړ

یا مــیدلی د خلـــیل نبــی په وا وم

(واصل ۲۲ غزل)

**یادونه:** دلته (وا) لکه په ښوروا کې د خوراک معنا لري.

**یره yara:**

د تنبیه کلمه ده. په داسې مواردو کې: (یره احمد به چیرته تللی وي، یره زه به دا کار څنگه ترسره کړم...)

... نوزه که هډوله تاسره پاتې شم نو څه فایده، یره ستا له قهر نه به بې غمه نه یم. (انوار سهیلی ۳۲۱ مخ)

**یورند:**

وا هینگی دی د یورند، که پسرلی لونی شبتم

هر بو ثاثکی په شینکی آئینه ښکاري دارم (غزونی ۲٦٤ مخ)

**یوستی:**

په مخ دی یوستی کربلا خــاورو گـــردونه

ولـــې دې ژاړی زینـــیه

ماو ته وایه د مظلوم حسین حالونه

ولې دې ژاړې زینه

په مخ دی یوستی د یروغمو غمزده کړې یې

یا هم رنده کړې یې

په ښایسته سترګو دې وشو بارانونه

ولې دې ژاړې زینبه

درباندې یوستی کربلا مرګی لوتلې راغله

په نوویشتلی راغله

درباندې یوستی کربلا ملک غمجنې راغله

جامې ریمنې راغله

درباندې یوستی بیلتانه مرګ لوتلې راغله

په زړه پرارژلی راغله

(ولسي سندرې، ۱ ټ، ۲۵٤مخ)

**یادونه:** دغه کلمه په همدغه نوحه کې څو ځایه نور هم په همدغه فورم راغلې ده.

**یوورزی:**

یوازې، بیکسه.

څوک پوښتنه د حسین له درده نه کا

ربه مل شی د بیکسو، یووزریو (حسین)

# مأخذونه

ددغه قاموس لغات له لاندنيو كتابونو څخه اخيستل شوي دي:


۱ - د عبدالحميد مومند ديوان - د زلمي هيوادمل علمي پروژه - د ۱۳۶۳ ش كال د كابل چاپ، د افغانستان د علومو اكاډمۍ، د ژبو او ادبياتو مركز.

۲ - د عبدالحميد مومند ديوان، د بمبئ چ...، ۱۲۸۷ هـ ق كال.

۳ - د عبدالحميد مومند نيرنگ عشق، د پښتو ټولنې چاپ ۱۳٤۹ ش كال.

٤ - د عبدالحميد مومند د شاه او گدا قصه، د هميش خليل ترتيب، د پيښور چاپ ۱۹۵۷ م كال.

۵ - د عبدالحميد مومند شرعت الاسلام، د سرمحقق دوست شينواري په زيار د ۱۳٦٦ ش كال د كابل چاپ، د افغانستان د علومو اكاډمۍ د پښتو څېړنو بين المللي مركز.

٦ - پټه خزانه، محمد بن داود هوتک دوهم چاپ، كابل، د پوهنې د وزارت چاپ.

۷ - وركه خزانه، د هميش خليل په زيار، د پيښور چاپ، ۱۹٦۰ م كال.

٨- د خوشحال ختک رباعیات، د پوهاند رښتین په سریزه ۱۳٤۹ ش کال، کابل چاپ، پښتو ټولنه.
٩- د خوشحال ختک کلیات، د دوست محمد کامل له خوا، ۱۹۵۲ م کال، پیښور چاپ.
۱۰- د خوشحال ختک ارمغان، د سیدرسول رسا له خوا.
۱۱- د خوشحال ختک بازنامه، د زلمی هیوادمل په زیار، ۱۳٦۲ش کال، کابل چاپ، پښتو ټولنه.
۱۲- د خوشحال ختک دستارنامه، د پوهاند رښتین ترتیب ۱۳٤۵ش کال، کابل چاپ، پښتو ټولنه.
۱۳- د خوشحال ختک طبنامه، ۱۳٤۵ش کال، کابل چاپ.
۱٤- د خوشحال ختک فراقنامه، زلمی هیواد مل، ۱۳٦۳ ش کال، کابل حاپ، د کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی.
۱۵- : عبدالقادر ختک دیوان، د نورالله ولسپال په زیار، ۱۳٦۸ ش کال، کابل چاپ، د افغانستان د علومو اکاډمي.
۱٦- د عبدالقادر ختک گلدسته د ۱۹٦۱ م کال، د پیښور چاپ.
۱۷- د عبدالقادر ختک یوسف او زلیخا، ۱۳۱۵ هـ ق کال، د کابل د دار السلطنه چاپ.
۱۸- د اشرف خان هجری دیوان ،د همیش خلیل په زیار ،۱۹۵۸م کال، پیښور چاپ.
۱۹- د سکندر ختک دیوان، د دوست محمد کامل په زیار. ۱۹٦۲م کال د پیښور چاپ.
۲۰- د صدرخان ختک دلی او شهی ۱۹۵۸ م کال، د پیښور د پښتو اکاډمي چاپ.

۲۱- تاریخ مرصع، د افضل خان ختیک تألیف، د دوست محمد کامل په زیار، ۱۹۷٤ م کال، د پیښور چاپ.
۲۲- د کاظم خان شیدا دیوان، د همیش خلیل په زیار؛ ۱۹٦٥ م کال، پیښور چاپ.
۲۳- د کاظم خان شیدا دیوان، قلمی نسخه، په ۱۳۳٥ هـ ق کال کې لیکل شوې او د علومو اکاډمۍ په کتابتون کې خوندي ده.
۲٤- اختیارات بدیعی، قلمی پانې چې په (۱۱۳۰ق) کال کې د افضل خان ختیک په فرمایش ترجمه شوې دي او یوه قلمي نسخه یې چې په ۱۱۹۱ هـ ق کال د کاظم خان شیدا په فرمایش لیکل شوې اوس موجوده ده.
۲٥- خیر البیان، د ۱۳٥۳ ش کال، کابل چاپ.
۲٦- روښانی رساله، د دوست شینواری په زیار، ۱۳٥٥ ش کال، د کابل چاپ. پښتو ټولنه.
۲۷- د میرزا خان انصاری دیوان، د دوست شینواری په زیار، د ۱۳٥٤ ش کال د کابل چاپ، پښتو ټولنه.
۲۸- مخزن الاسلام، اخوند درویزه، ۱۳۲۹ هـ ق کال، د لاهور چاپ.
۲۹- د رحمان بابا دیوان، مرتب او مهتمم عارف غروال، د ۱۳٥٦ ش کال د کابل چاپ. پښتو ټولنه.
۳۰- د قنبر علی دیوان د همیش خلیل په زیار د ۱۹٦۰ م کال - د پیښور چاپ.
۳۱- د علی خان دیوان، د همیش خلیل په زیار، د ۱۹٦٥ م کال، د پیښور چاپ.
۳۲- د حسین دیوان د لنډیو سره، د همیش خلیل په زیار د ۱۹٥۸ م کال، د پیښور چاپ.

٣٣- د کریمداد دیوان، د ١٩٦٤ م کال، د پیښور چاپ.

٣٤- د حافظ الپوری دیوان، ١٣٥٩ هـ ق کال، د پیښور چاپ.

٣٥- د عبدالعظیم رانیزی دیوان، ١٩٥٩ م کال، د پیښور چاپ.

٣٦- د مصری خان گگیانی دیوان ١٩٥٩ م کال، د پیښور چاپ.

٣٧- د سعید ختیک دیوان، د همیش خلیل په زیار، ١٩٦٤ م کال، د پیښور چاپ.

٣٨- د احمد شاه بابا دیوان، ١٩٦٣ م کال، د پیښور چاپ.

٣٩- د میانعیم دیوان، ١٩٦٥ م کال، د پیښور چاپ.

٤٠- د واصل روښانی دیوان، د زلمی هیوادمل په زیار ١٣٦٥ ش کال، د کابل چاپ، پښتو ټولنه.

٤١- د دولت لوانی دیوان، د پوهاند رشاد په سریزه، ١٣٥٣ ش کال، د کابل چاپ، پښتو ټولنه.

٤٢- د پیر محمد کاکړ دیوان، ١٣٢٥ ش کال، د پښتو ټولنې چاپ

٤٣- د شمس الدین کاکړ دیوان، د ١٣٣٦ ش کال، د کابل چاپ.

٤٤- د ملالتاړ دیوان، د عبدالرحیم ځدراڼ په زیار، د ١٣٦٧ ش کال د کابل چاپ، د افغانستان د علومو اکاډمی.

٤٥- د مطیع الله پیره خیل دیوان، د ډاکټر اقبال فنا په زیار، د ١٩٨٦ م کال، د پیښور چاپ.

٤٦- د نورالدین چاربیتی، د نصرالله خان نصر په زیار، د پیښور چاپ.

٤٧- د صدیق طب، چاپی نسخه، د قاموسی برخی سره، ١٣٣٠ هـ ق کال د لاهور چاپ.

٤٨- طب دلیل العلیل، مولف معزالدین ختیک، د لیکلو کال ١١٧٧ هـ ق. د


ACKU

چاپ کال ۱۹۱۸ م لاهور.
٤٩- اسرارالعارفین، شیرمحمد هوتک، ۱۳۵۵ هـ ق کال، پېښور.
٥٠- درالمجالس افغانی، د اخوند عبدالکبیر تألیف، د ترتیب کال (۱۱۵۵ هـ ق) د لاهور اسلامیه مطبعې چاپ ۱۳۲۷ هـ ق.
٥١- د بابوجان لغمانی، قلمی نسخه، (د علومو اکاډمی کتابتون)
٥٢- د ملااختر بیاض قلمی نسخه، (د علومو اکاډمی کتابتون)
٥٣- د ګل او صنوبر قصه، طالب رشید، د لیکلو کال، ۱۱۹٤ هـ ق، د پېښور چاپ..
٥٤- د جانان فدوی د اشعارو دریم او څلورم توک، قلمی نسخه، (د علومو اکاډمی کتابتون)
٥٥- د رحست داوی لیلی او مجنون، قلمی نسخه، (د علومو اکاډمی کتابتون)
٥٦- ګلشن روه، د راورټي تالیف، ۱۸٦۰ م کال، د لندن چاپ.
٥٧- خلاصه کیدانی د څوکنو د میاعمر ترجمه، د ډیلی فیض عام، مطبع ۱۲۹۸ هـ ق کال.
٥٨- د خانګل خلیل څو شعرونه د زلمی هیوادمل په زیار، ۱۳٦۰ ش کال د علومو اکاډمی.
٥٩- پښتو متلونه، تاربرن، ۱۳٦۰ ش کال، کابل.
٦٠- انوار سهیلی، میا عبدالغفور، ۱۹٤۷ م کال، د پېښور چاپ.
٦١- د ابوالقاسم دیوان، ۱۹۸٦ م کال، پېښور.
٦٢- د زقوم قصه، ابراهیم، ۱۲۸۰ هـ ق کال، قلمی نسخه.
٦٣- اولسی سندرې لومړی توک، دزلمی هیوادمل، ۱۳٦۱ ش کال، کابل.
٦٤- اولسی سندرې دوهم توک، د زلمی هیواد مل، ۱۳٦٦ ش کال، کابل

٦٥- بیدیانی گلونه، د زلمی هیوادمل، ۱۳٦۲ ش کال، کابل، د افغانستان د علومو اکاډمی.
٦٦- د خلکو سندری، حبیب الله رفیع، ۱۳٤۹ش کال، کابل.
٦۷- د مست بابا منتخبات، د زلمی هیوادمل په زیار، ۱۳٦٤ ش کال، کابل، د علومو اکاډمی.
٦۸- غزونی، د حمزه شینواری، نهم چاپ. ۱۹۸٦ ع کال، پیښور.
٦۹- سلگی، حمزه شینواری، ۱۹۸۹ م کال، پیښور.
۷۰- د خیبرورمی، حمزه شینواری، ۱۳٤۷ش کال، کابل، پښتو ټولنه.
۷۱- مفرور، سیدرسول رسا، ۱۹٦۳ م کال، پیښور.
۷۲- د مروتو کسرونه، عبدالرحیم مجذوب مروت، ۱۹۵۹ م کال، پیښور.
۷۳- پټ ستوری، محمد افضل رضا، ۱۹۸٤ م کال، پیښور.
۷٤- نافع المسلمین، نورمحمد غلجی، د زلمی هیواد مل په زیار، ۱۳٦۳ ش کال، کابل.
۷۵- مناقب د فقیر جمیل بیک، د میان شمس الدین کاکا خیل تصنیف د ډاکتر راج ولی شاه خټک په زیار، پیښور.
۷٦- د پښتو اصطلاحات او محاوری، محمد گل نوری، ۱۳۲۰ ش کال، کابل. پښتو ټولنه.
۷۷- کلید افغانی، د پادری هیوز تالیف، دریم چاپ، ۱۳۵٦ ش کال. د کابل چاپ د اطلاعاتو او کلتور وزارت،
۷۸- نصاب الصبیان، د الحاج محمدعظیم عظیمی تالیف، ۱۳٦۲ ش کال. کابل د افغانستان د علومو اکاډمی.
۷۹- انگی، پښتو ادبی بورډ (سوغات) د سیال کاکړ، تالیف ۱۹۸۷ م کال کوټه.

۸۰- فولکلوری سوغات د سیال کاکړ تالیف، ۱۹۷۸ م کال، کوټه.

۸۱- زما ژوند او جد و جهد، د خان عبدالغفار خان تالیف، ۱۳٦۲ ش کال، د کابل چاپ.

۸۲- یاقوت السیر، لومړی ټوک، د محقق العلما عبدالحق خروټی تالیف، د زلمی هیواد مل په زیار، ۱۳٦۷ ش کال، کابل چاپ، د اسلامی علومو د څیړنو مرکز.

۸۳- کیمیای سعادت، د میا فقیرالله جلال آبادی، د زرین انځور په زیار ۱۳٦۷ ش کال، کابل د اسلامی علومو د څیړنو مرکز.

۸٤- پښتو لنډی، ۱۳٦ ش کال، کابل، د علومو اکاډمی.

۸۵- د خواجه محمد بنګښ دیوان، ۱۹٦۵ م کال، پیښور.

۸٦- د پښتو غزل. د افضل رضا تالیف د ۱۹۷۸ م کال چاپ، پښتو اکاډمی پېښور.

۸۷- ملی هنداره، محمد گل نوری، د ۱۳٦۳ ش کال د کابل چاپ.

۸۸- ارزانی، قلمی نسخه.

۸۹- د پښتونخوا د شعر هارو بهار، جیم. دار مستتر د حبیب الله رفیع په زیار ۱۳۵٦ ش کال، پښتو ټولنه.

۹۰- د یونس دیوان، د سر محقق عبدالله بختانی په زیار، ۱۳۵٦ ش کال، کابل چاپ.

۹۱- د بیدل دیوان، د همیش خلیل په زیار ۱۹۵۷ م کال، پیښور.

۹۲- د احمد ګدران دیوان، پیښور.

۹۳- د نجیب دیوان، ۱۹۷۲ م کال، پیښور.

۹٤- د سیدحسین د امامینو جنګنامه، قلمی نسخه، (د علومو اکاډمی کتابتون)

**یادونه:** دغه ځو نومونه په لنډ دول معرفي شوي:

۱- خ= خوشحال. ۲- پ. خ= پټه خزانه. ۳- و. ک= ورکه خزانه. ٤- دارزاني ق. ن. = د ارزاني قلمي نسخه. ٥- د سید حسین ق. ن= د سیدحسین قلمي نسخه. ٦- شرعه= شرعت الاسلام. ۷- پ. ت.= پټ ستوري، ۸- م. هـ= ملي هنداره. ۹- شیدا ق. ن= شیدا قلمي نسخه. ۱۰- اس. ۱ ټ.= اولسي سندري لومړی ټوک. ۱۱-ا. س ۲ټ= اولسي سندري دوهم ټوک. ۱۲- ت. م= تاریخ مرصع، ۱۳- کلید افغاني، گنج پښتو، کلید -گنج. ١٤- پ. ت. ق= پښتو، پښتو تشریحي قاموس. ۱٥- پ. ر. ق= پښتو روسي قاموس.

ددغه قاموس دلغاتو د تثبیت له پاره دغه آثار هم لټول شوي دي.


۱- فرهنگ عمید، محمد عمید، تهران، ۱۳٥۱ ش کال.

۲- د البیروني غوره آثار ځلورم ټوک په روسي ژبه، تاشکند ۱۹۷۳م کال.

۳- ظفراللغات، مولف سید بهادر شاه ظفر کاکا خیل، ۱۹۸۱ م کال، پېښور.

٤- پښتو- پښتو تشریحي قاموس، لومړی ټوک، ۱۳٥۸ ش کال، د افغانستان د علومو اکاډمي.

٥- د همدغه قاموس، دوهم ټوک، ۱۳٦۰ ش کال، د افغانستان د علومو اکاډمي.

٦- همدغه قاموس، دریم ټوک، ۱۳٦۱ش کال، د افغانستان د علومو اکاډمي.

۷- همدغه قاموس، څلورم ټوک، ۱۳٦٥ش کال، د افغانستان دعلومو اکاډمي.

۸- پښتو قاموس، دوهم ټوک، ۱۳۳۳ ش کال، پښتو ټولنه.


PROPERTY OF ACKU 7444



## د سر محقق دوست شینواری چاپ کتابونه

**الف: تالیفات:**

۱. سلگی (د اشعارو مجموعه) - پښتو ټولنه. ۱۳٤٦ ش.
۲. د افغانستان ژبې او توکمونه - پښتو ټولنه، ۱۳٥٤ ش.
۳. د پښتو د ولسی ادب لارې - د پښتو ټولنه ۱۳٥٦ ش.
٤. پښتانه کوچیان، لومړی ټوک - د پښتو څیړنو بین المللی مرکز، ۱۳٦۲ ش
٥. د ادب د تیوری اساسونه - دچاپ او څیړنو دولتی کمیټه، ۱۳٦٥ ش
٦. زړه پانګه لومړی ټوک (قاموس)، د پښتو څیړنو بین المللی مرکز ۱۳٦۳ ش
۷. د خوشحال هغه اشعار چې تر اوسه نه دی چاپ شوی. (څیړنه، قلمی)
دغه اشعار چې له قلمی نسخو څخه راټول شوی دی یوه برخه یې د خوشحال د کلیاتو په لومړی ټوک کې خپره شوې د ۱۳٥۹ ش کال د علومو اکاډمی چاپ.
۸. افغانستان په اویستا کې د نشراتو ریاست ۱۳٦۹ ش.
۹. په پښتو کې د طبی بوټو نومونه (ناچاپ)

**ب:** هغه آثار چې د مؤلف په اهتمام، تحلیل، تحشیه، مقدمه او له لغتنامو سره چاپ شوی دی.

۱ - د میرزا خان انصاری دیوان - پښتو ټولنه ۱۳٥٤ ش.
۲ - روښانی رساله، پښتو ټولنه ۱۳٥٥ ش.
۳ - د سکندر خټک لیلی او مجنون، پښتو ټولنه ۱۳٥۸ ش.
٤ - د صدیق دیوان، پښتو ټولنه، ۱۳٥۸ ش.
٥ - د علم رساله، د افغانستان د علومو اکاډمی ۱۳٦٤ ش.
٦ - اختیارات بدیعی (د علومو اکاډمی د ژبو او ادبیاتو په مرکز کې چاپ ته انتظار باسی)

د چاپ ځای: دانش کتاب پلورنځی، قصه خوانی، پېښور